د افغانستان اسلامي جمهوریت
د لوړو زده کړو وزارت
د سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د فقهې او قانون څانګه
د ماسترۍ دوره

# د ارتداد احکام

## د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره

د ماسترۍ د دورې څېړنیز بحث


څېړونکی: وحید الله
رهنما استاد: پوهندوی دوکتور نجیب الله "صالح" حفظه الله تعالی



کال: ۱۳۹۷ هـ ش

د افغانســتان اسـلامي جمهوريت
د لــوړو زده کړو وزارت
د ســــــلام پوهنتون
د شــرعياتو پوهنځی
د فقهې او قانون څـانګه
د ماســترۍ دوره
د ماســترۍ د دورې پای ليکنه

# د ارتداد احکام

## د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانينو له نظره

د ماسترۍ د د دورې څېړنيز بحث

څـــــېړونکی: وحـــيد الله
رهنما اســتاد: پوهندوی دوکتور نـجـيب الله "صالح" حفظه الله تعالی

کال: ۱۳۹۷ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

## د فقه او قانون څانګه

## د ماستری بورډ

# تــــصديق نـــامـــه

د فقه اوقانون د دریمی دوری څخه) د ID: Sh-msf-94-109 نمبر لرونکی(د زوی د سمیع الله د ښاغلی وحید الله ماستري دوری خپل پایلیک چې عنوان يې: د ارتداد احکام د اسلامی فقهی او دافغانستان د نافذه قوانینو له نظره دی، د پنجشنبې ورځ په ۱۳۹۷/۸/۱۷هـ ل نیټه يې په بریالیتوب سره دفاع کړاو د حکم پلاوي له نظره د 88 (نمرو په عدد) اتیا اتیا نمرو (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتی بریا غوښتونکي يو.

د حکم پلاوي د اعضاؤ لاسلیکونه:

| شمېره | داستاذ نوم | عضويت | لاسليک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور عبد الباري حمیدي | دحکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۲ | استاذ وزیر محمد سعیدي | د حکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۳ | دکتور نجیب الله صالح | لاربنود او دحکم پلاوي مشر | [signature] |

دماستری د بورډ آمر ____________ علمی مرستیال ____________

## د بحث لنډيز

دغه لکینه په لړلیک ، سریزې ، تمهید ، څلورو فصلونو او نتیجه ګیرۍ باندې مشتمله ده چې په هر فصل کې د موضوع اړوند مسائل راټول شوي دي او په جدا ګانه ډول په مباحثو او هر مبحث په اړوندو مطالبو او بالآخره هر مطلب په ځانګړو عنوانونو باندې ویشل شوی دی.

1. **تهمید**: څرنګه چې په دغه څېړنه کې د ارتداد احکام د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره څېړل شوي دي ، او ارتداد د شرعي حدودو څخه یو حد دی ، نو اړینه وګڼل شوه تر څو د تمهیدي خبرو په ترڅ کې لومړی شرعي حدودد په خلاصه شکل سره معرفي شي او بیا د ارتداد د حد ځای په شرعي حدودو کې څرګند شي.
2. **لومړی فصل**: لومړي فصل مو ارتداد پېژندنې ته ځانګړی کړی دی چې د ارتداد تعریف ، ارکان ، د صحت شرطونه او د ارتداد تاریخي سیر مو پکې بیان کړي دي.
3. **دویم فصل**: دویم فصل مو د ارتداد اسبابو ته ځانګړی کړی دی په کوم کې چې د ارتداد عقیدوي اسباب ، قولي اسباب ، د اعمالو اسباب ، او د شرعي اعمالو د ترک کولو اسباب ذکر شوي دي.
4. **دریم فصل**: دریم فصل مو د ارتداد احکامو ته ځانګړی کړی دی چې پکې د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره د ارتداد احکام بیان شوي دي.
5. **څلورم فصل**: څلورم فصل مو د ارتداد د سزا په هکله د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د شعار ورکوونکو د نیوکو ، انتقاداتو او نوموړو نیوکو او انتقاداتو ته د اسلام د مبارک دین لخوا عقلي او نقلي دلایل وړاندې کړي دي.
6. **خاتمه**: په خاتمه کې د بحث مهمې پایلې ذکر شوي دي.

او بالآخره دغه لیکنه مو د الله سُبحانهُ و تعالی ﷻ په توفیق سره پای ته ورسوله.

# مننلیک

له هر څه دمخه د الله سُبحانه و تعالی ﷻشکر اداء کوم ، چې ما ته یې په یوه علمي موضوع کې د لیکنې توفیق را کړو ، او بیا د خپلو والدینو څخه مننه کووم چې زه یې همېشه د علم زده کړې ته هڅولی یم ، همدارنګه د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت څخه مننډوی یم چې د هېواد په داخل کې یې د دغه هېواد بچیانو ته د لوړو زده کړو ، باالخصوص د ماسترۍ د دورې د زده کړې فهرست برابر کړی دی او افغانان د دې جوګه دي تر څو په خپل هېواد کې لوړې زده کړې تر سره کړي.

همدارنګه د سلام پوهنتون له اداري او رهبرۍ شورى څخه ډېره زیاته مننه کووم چې په دغسې حساسو شرایطو کې یې د وطن بچیانو ته د تعلیم او تعلم اکادمیک ماحول برابر کړی دی او د افغانستان د پاکې خاورې بچیان په سالمه ، وطن دوسته او دین دوسته روحیه د اسلام د مبارک دین د احکاماتو تر سیوري لاندې روزي او د افغانستان ټولنې ته په ساینس او تکنالوژۍ سمبال اشخاص وړاندې کوي ، تر څو مو هېواد د دغه موجوده ناورین څخه د سولې ، پرمختګ او سوکالۍ پر لور کوټلي ګامونه واخلي ، الله ﷻدې د سلام پوهنتون نور هم کامیاب او ځلانده لري ، واقعا چې د سلام پوهنتون د افغانستان د خلکو ویاړ دی.

همدارنګه د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي دټولو استادانو څخه مننډوی یم ، چې د ماسترۍ د منهجي دورې په جریان کې یې له ما څخه خپلې هر ډول مرستې ونه سپمولې او په ځانګړې ډول د خپل لارښود استاد محترم پوهندوی داکتر صاحب نجیب الله "صالح" څخه د زړه له کومې مننه کوم ، چې ما ته یې د دغه علمي څېړنې د تیزس په هکله لازمي او هر اړخیزې لارښوونې کړې دي او دلوی الله ﷻ څخه ورته په دنیا کې د سوکاله او خوشحاله ژوند، او په آخرت کې ورته د فردوس جنت غوښتونکی یم ، الله ﷻدې یې په هر میدان کې سرلوړي ، سرفرازه او ځلانده ولري.

په پای کې د ستر رب العزت څخه د نړۍ ټولو مسلمانانو ته باالخصوص د افغانستان مسلمان ولس ته د اتفاق ، اتحاد ، کامیابه او سوکاله ژوند غوښتونکی یم.

و من الله التوفیق

## اهداء (ډالۍ)

دغه اسـلامي او قانوني څېړنه که الله ﷻ ته قبول او منظور وي ، د خپل مرحوم پلا روح ته ، چې په خپل ژوند کې يې د اسلام د مبارک دين علم او پوهې ته هڅولی يم او زما د ظاهري او باطني تزکيې لپاره يې هر راز ستونزې ګاللې دي ، د اسلامي دعوت هغه لارويانو ته چې په خپله ژبه او قلم سره يې خلکو ته دين رسولی دی او د ديني علم د پانګې په بډاينه کې يې پوره ونډه اخيستې ده ، ټولو مؤمنانو ته چې د کائيناتو د ســــپېڅلي څښتن رحمن او رحيم الله تبارک تعالی ﷻ ، د رحمة للعالمين جناب مُحمدرسـول الله ﷺ ، د اســـلام د مقدس دين او د نړۍ د ټولو مســـلمانانو سره د زړه له کومي مينه او مُحبت لري ، خپلو ټولو مشايخو او استادانو ته چا چې ماته علمي لارښوونې کړي دي او د اسلام د مبارک دين په لور يې تشويق کړی يم ، په خورا عاجزۍ سره د زړه له کومي ډالۍ کووم.

# بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

قال الله تعالى:

﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾. د البقرې سورت ، ۲۱۷ آیت.

ژباړه: او له تاسې شخه چې هر څوک له دې دين شخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنيا او آخرت دواړو کې برباد او ضايع شي ، داسې خلک ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کې اوسيږي.

## د مطالبو لړلـــــيک


| ګڼه | عـنوان | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | ســــــــريزه | ۱ |
| ۲ | ○ د بحث اهداف | ۱ |
| ۳ | ○ د موضوع د غوراوي لامل ، اهميت او ضرورت | ۱ |
| ۴ | ○ د مسئلې طرح او د تحقيق اصلي سوالونه | ۵ |
| ۵ | ○ د موضوع احتمالي ، نظري او عملي فوايد | ۶ |
| ۶ | ○ د موضوع په تړاو له دې وړاندې ليکل شوې څېړنې او مقالې | ۶ |
| ۷ | ○ د ليکنې کړنلاره (مېتود) | ۶ |
| ۸ | ○ د موضوع د جوړښت پلان (خطة البحث) | ۸ |
| ۹ | تـمـهـيد | ۱۳ |
| ۱۰ | د موضوع اړوند اصطلاحاتو لنډه پېژندنه | ۱۶ |
| ۱۱ | آيا ارتداد حدي جرم دی که تعزيري؟ | ۲۰ |
| ۱۲ | لومړی فصل<br>په اسلامي فقه او د افغانستان په نافذه قوانينو کې د ارتداد پېژندنه<br>(د ارتداد تعريف، ارکان او شروط) | ۲۴ |
| ۱۳ | لومړی مبحث: د ارتداد پېژندنه | ۲۴ |
| ۱۴ | لومړی مطلب: د ارتداد تعريف | ۲۴ |
| ۱۵ | دويم مطلب: په اسلامي شريعت کې د ارتداد د کليمې استعمال | ۲۷ |
| ۱۶ | دريم مطلب: په اسلام کې د ارتداد تاريخي سير | ۳۳ |
| ۱۷ | دويم مبحث: د ارتداد ارکان | ۴۰ |
| ۱۸ | لومړی مطلب: د ارتداد عمومي ارکان | ۴۰ |
| ۱۹ | دويم مطلب: د ارتداد خصوصي ارکان | ۴۱ |
| ۲۰ | دريم مبحث: د ارتداد شرايط يا د صحت شرطونه | ۴۲ |
| ۲۱ | لومړی مطلب: اسلام | ۴۲ |
| ۲۲ | دويم مطلب: عقل | ۴۴ |
| ۲۳ | دريم مطلب: بلوغ | ۴۷ |
| ۲۴ | څلورم مطلب: اختيار | ۵۰ |
| ۲۵ | پنځم مطلب: د کفر اراده | ۵۲ |
| ۲۶ | شپږم مطلب: علم په حال او حکم | ۵۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | خلورم مبحث: د ارتداد د اثبات طریقه | ۵۵ |
| ۲۸ | لومړی مطلب: اقرار | ۵۵ |
| ۲۹ | دويم مطلب: شهود | ۵۶ |
| ۳۰ | قراین: | ۵۷ |
| ۳۱ | **دويم فـــصل**<br>**د ارتداد اســـباب**<br>**(هغه امور چې په هغه سره يو مســـلمان مُرتد کيږي)** | ۵۹ |
| ۳۲ | لومړی مبحث: ارتداد په عقيده کې | ۶۰ |
| ۳۳ | لومړی مطلب: د الله ﷻ څخه منکر کېدل | ۶۱ |
| ۳۴ | دويم مطلب: د الله ﷻ د ځينو صفاتو څخه منکر کېدل | ۶۴ |
| ۳۵ | دريم مطلب: د اتحاد او حلول عقيده ساتل يعني الله ﷻ او مخلوق يو ګڼل | ۶۶ |
| ۳۶ | خلورم مطلب: د تثليث عقيده لرل يا معبودان دري ګڼل | ۶۷ |
| ۳۷ | پنځم مطلب: الله ﷻ ته اجزاء ګڼل (لکه زوی و غيره) | ۶۸ |
| ۳۸ | شپږم مطلب: په رسولانو ايمان راوړلو کې عقيدتا نيمګړتيا ، چې ځنيې منل او ځينې نه منل: | ۶۹ |
| ۳۹ | اووم مطلب: نېکان خلک پيغمبران ، او پيغمبران يا ملايکې الله ګڼل: | ۷۲ |
| ۴۰ | اتم مطلب: د الله ﷻ منل او د پيغمبر نه منل يا د قرآن منل او د سنت نه منل ، او يا د دې برعکس عقيده اختيارول | ۷۳ |
| ۴۱ | نهم مطلب: د آخري نبي حضرت مُحمد رسـولُ الله ﷺ څخه انکار کول او يا يې خاتم النبيين نه منل | ۷۳ |
| ۴۲ | لسم مطلب: د انبياؤ د قطعي الدلالت او قطعي الثبوت معجزات سحر ګڼل او يا ورته کفر ويل | ۷۵ |
| ۴۳ | يوولسم مطلب: د قرآن کريم څخه انکار کول او يا د قرآن کريم د ځينو برخو څخه انکار کول | ۷۶ |
| ۴۴ | دولسم مطلب: د نازل شوو آسماني کتابونو له نزول څخه انکار کول | ۷۹ |
| ۴۵ | ديارلسم مطلب: د قيامت د ژوند څخه انکار کول | ۸۰ |
| ۴۶ | څوارلسم مطلب: مؤمنان او کفار په عقيده کې برابر ګڼل | ۸۳ |
| ۴۷ | پنځلسم مطلب: حلال حرام ګڼل او حرام حلال ګڼل | ۸۴ |
| ۴۸ | دويم مبحث: ارتداد په اقوالو کې | ۸۷ |
| ۴۹ | لومړی مطلب: الله ﷻ ته ښکنځل کول | ۸۷ |
| ۵۰ | دويم مطلب: د الله ﷻ په ربوبيت او نظام چلولو کې منفی بحثونه کول په دې ترتيب سره چې د الهي نظام نقص بيانوي | ۹۱ |
| ۵۱ | دريم مطلب: حضرت مُحَّد رسول الله ﷺ ته ښکنځل کول | ۹۲ |
| ۵۲ | څلورم مطلب: نورو انبيای کرامو ته ښکنځل کول | ۹۵ |
| ۵۳ | پنځم مطلب: په پيغمبرانو اعتراض کول | ۹۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۴ | شپږم مطلب: په قرآنکريم باندې اعتراض کول | ۱۰۰ |
| ۵۵ | اووم مطلب: له اسلام څخه بېزارتيا او يا له اسلام څخه خپله بېزارتيا اعلانول | ۱۰۱ |
| ۵۶ | اتم مطلب: د اسلام د مبارک دين پورې ملنډې وهل | ۱۰۲ |
| ۵۷ | نهم مطلب: مؤمنانو ته د کفر او الحاد بلنه ورکول | ۱۰۳ |
| ۵۸ | دريم مبحث: ارتداد په اعمالو او افعالو کې | ۱۰۴ |
| ۵۹ | لومړی مطلب: د قرآن کريم غورځول | ۱۰۴ |
| ۶۰ | دويم مطلب: سحر کول | ۱۰۵ |
| ۶۱ | دريم مطلب: غيرالله (بُت ، لمر ، سپوږمۍ ، ...... وغيره) ته سجده کول | ۱۰۶ |
| ۶۲ | څلورم مطلب: په حضرت مُحَمَّد ﷺ باندې د وحې د نزول خفګان کول | ۱۰۷ |
| ۶۳ | پنځم مطلب: د الله ﷻ له پيغمبر څخه مخ ګرځول | ۱۰۸ |
| ۶۴ | شپږم مطلب: د قرآنکريم په دعوت خفه کېدل او يا د قرآنکريم له اورېدلو څخه د خلکو منع کول | ۱۰۹ |
| ۶۵ | څلورم مبحث: ارتداد د شرعي عمل په انکار کې | ۱۱۰ |
| ۶۶ | لومړی مطلب: د لمانځه ترک کول په انکار سره | ۱۱۰ |
| ۶۷ | دويم مطلب: د روژې ترک کول په انکار سـره | ۱۱۵ |
| ۶۸ | دريم مطلب: د زکات ترک کول په انکار ســره | ۱۱۷ |
| ۶۹ | څلورم مطلب: د حج ترک کول په انکار ســـره | ۱۱۹ |
| ۷۰ | **دريم فـــصل**<br>**د ارتداد احـــــکام**<br>**په اســـــلامي فقه او د افغانســــــتان په نافذه قوانينو کې** | ۱۲۲ |
| ۷۱ | لومړی مبحث: په اســـلامي فقه کې د ارتداد احــکام | ۱۲۲ |
| ۷۲ | لومړی مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د نفس پورې اړه لري | ۱۲۲ |
| ۷۳ | مُرتد ته د مرګ سـزا ورکول | ۱۲۴ |
| ۷۴ | د مُرتد د سزا کيفيت | ۱۲۷ |
| ۷۵ | د مُرتدې ښځې د نفس حکم | ۱۲۹ |
| ۷۶ | دويم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د نکاح په امورو (احوال شخصي) پورې اړه لري | ۱۳۳ |
| ۷۷ | دريم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د ملکيت ، ميراث او دين يا قرض د امورو پورې اړه لري | ۱۳۵ |
| ۷۸ | الف: د مُرتد د ملکيت حکم | ۱۳۵ |
| ۷۹ | ب: د مُرتد د ميراث حکم | ۱۳۹ |
| ۸۰ | څلورم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اولاد پورې اړه لري | ۱۴۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۸۲ | پنځم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اجتماعي امورو پورې اړه لري | ۱۴۸ |
| ۸۳ | شپږم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اعمالو پورې اړه لري | ۱۴۹ |
| ۸۴ | اووم مطلب: د مُرتد د ذبیحې او حلالې حکم | ۱۵۱ |
| ۸۵ | دویم مبحث: د مُرتد د اســتـتابې (توبه ویســتلو) احــکام | ۱۵۲ |
| ۸۶ | لومړی مطلب: د مُرتد توبه کول او د استتابې حکم | ۱۵۲ |
| ۸۷ | دویم مطلب: د مُرتد د توبې ورکول کیفیت | ۱۶۵ |
| ۸۸ | دریم مطلب: د متکرر مُرتد د توبې حکم | ۱۶۷ |
| ۸۹ | د هغه چا حکم چې نبي کریم ﷺ ته ښکنځل وکړي | ۱۶۹ |
| ۹۰ | څلورم مطلب: د ارتداد په هکله د وسوسو حکم | ۱۷۰ |
| ۹۱ | آیا په وسوسو باندې انسان نیول کیږي او که نه؟ | ۱۷۰ |
| ۹۲ | دریم مبحث: د افغانستان په نافذه قوانینو کې د ارتداد احکام | ۱۷۱ |
| ۹۳ | لومړی مطلب: د افغانستان په اســاسي قانون کې د ارتداد احکام | ۱۷۱ |
| ۹۴ | دویم مطلب: د افغانســـتان د جـزا په قانون کې د ارتداد احکام | ۱۷۵ |
| ۹۵ | دریم مطلب: د افغانستان په نورو نافذه قوانینو کې د ارتداد احکام | ۱۷۶ |
| ۹۶ | څلورم مبحث: د مُرتد عقوبت | ۱۷۷ |
| ۹۷ | لومړی مطلب: د مُرتد دنیوي عقوبت | ۱۷۷ |
| ۹۸ | دویم مطلب: د مُرتد اخروي عقوبت | ۱۷۸ |
| ۹۹ | **څلورم فـــصل**<br>**د بشــر د حـقـوقو له نظره د مُرتد د ســزا په هکله تـبصره**<br>**د غـیر مســـلمو نیوکې او ځـوابونه** | ۱۷۹ |
| ۱۰۰ | لومړی مبحث: د بشــر حقوق ، د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اســلامي اعلامیې ته لنډه کتنه | ۱۸۰ |
| ۱۰۱ | لومړی مطلب: د بشر د حقوقو له نظره د مُرتد د سزا په هکله تبصره | ۱۸۰ |
| ۱۰۲ | دویم مطلب: د بشر د حقوقو تعریف | ۱۸۰ |
| ۱۰۳ | ○ د بشر د حقوقو تعریف د غرب له نظره | ۱۸۱ |
| ۱۰۴ | ○ د بشر د حقوقو تعریف د اسلام له نظره | ۱۸۱ |
| ۱۰۵ | دریم مطلب: د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې ته لنډه کتنه | ۱۸۱ |
| ۱۰۶ | څلورم مطلب: د بشر د حقوقو نړیوالې اسلامي اعلامیې ته لنډه کتنه | ۱۸۲ |
| ۱۰۷ | پنځم مطلب: د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ مشترک او اختلافي موارد | ۱۸۴ |
| ۱۰۸ | دویم مبحث: د ارتداد په هکله د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د غیر مسلمو | ۱۸۶ |

| | | |
|---|---|---|
| | نیوکي ، انتقادات او ځوابونه | |
| ۱۰۹ | لومړی مطلب: په اسلام کې د دین ازادي | ۱۸۸ |
| ۱۱۰ | اسلام د زړه له کومي منل د مسلمانېدو شرط دی | ۱۹۰ |
| ۱۱۱ | الله ﷻ انسان ته د دین په ټاکلو کې اسلام ته په داخلېدو کې آزادي ورکړې ده | ۱۹۱ |
| ۱۱۲ | له رسول الله ﷺ سره په مکه کې څرنګه فوځ ؤ؟ | ۱۹۱ |
| ۱۱۳ | **د غیر مسلمو نیوکه او انتقاد:** د ارتداد سزا کومه چې د اسلام لخوا مُرتد ته ورکول کیږي د عقیدې د آزادۍ خلاف ده حال دا چې د بشري حقوقو په نړیواله اعلامیه کې بشر آزاد دی چې هر دین ته اوړي اوښتی شي. | ۱۹۳ |
| ۱۱۴ | **د غیر مسلمو نیوکه او انتقاد:** په اسلام کې د مُرتد ، محسن زاني ، او قطاع الطریق سزا قتل ده ، د شرابو څکلو او قذف سزا ۸۰ درې ده ، کوم چې باید داسې نه وای. | ۱۹۴ |
| ۱۱۵ | دویم مطلب: په اسلام کې د بیان آزادي | ۱۹۵ |
| ۱۱۶ | **د غیر مسلمو نیوکه او انتقاد:** آیا په اسلام کې د بیان ازادي شته او که نه؟ او که شته نو سلمان رشدي ته ولې د مرګ سزا واورول شوه؟ | ۱۹۵ |
| ۱۱۷ | **د غیر مسلمو نیوکه او انتقاد:** په اسلام کې د بیان آزادي منحصره ده؟ | ۱۹۸ |
| ۱۱۸ | مؤمنان د الله ﷻ د امر تابع دي او الله ﷻ د مسلمانانو د وینې توېدل په ناحقه باندې حرام کړي دي | ۱۹۸ |
| ۱۱۹ | د بشري حقوقو د شعار ورکوونکو د انتقاداتو په اړه د اسلام د مبارک دین څخه نقلي دلایل | ۲۰۱ |
| ۱۲۰ | **خاتمه او د څېړنې مهمې پایلې** | ۲۰۳ |
| ۱۲۱ | **وړاندیزونه** | ۲۰۸ |
| ۱۲۲ | **د بحث اړوند ضمیمې** | ۲۰۹ |
| ۱۲۳ | ○ د بشر د حقوقو نړیواله اسلامي اعلامیه (Universal Islamic Declaration of Human Rights) | ۲۰۹ |
| ۱۲۱ | ○ د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه (Universal Declaration of Human Rights ) | ۲۲۱ |
| ۱۲۲ | **مأخذونه او لړلیکونه** | ۲۲۵ |
| ۱۲۳ | ○ د قرآن کریم د ایتونو لړلیک | ۲۲۶ |
| ۱۲۴ | ○ د نبوي احادیثو لړلیک | ۲۳۰ |
| ۱۲۵ | ○ د ژباړل شوو اعلامو لړلیک | ۲۳۲ |
| ۱۲۵ | ○ د مأخذونو لړلیک | ۲۳۳ |

# ســــــريزه

الحـــــمد لله رب العـــالمــين والصلاة والســـــــلام على ســــــيدنا محـــــــمد و على آله و صحبه اجمعين و بعد:

قال الله تعالى فى القرآن الكريم: ﴿ إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴾.[1]

و أيضا قال الله تعالى: ﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ .[2]

وَ عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ رضى الله تعالى عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [3] .

اما بعد: تر هر څه د مخه د الله رب العزت شکر اداء کووم چې ماته يې دا توفيق را عطاء کړو تر څو په يوه فقهي او قانوني موضوع باندې څېړنه وکړم ،د افغانســـتان د اســـلامی جمهوريت د لوړو زده کړو د وزارت د لايحې ســره سم د ماسـترۍ د پروګرام هر محصل مکلف دی ، چې د ماسترۍ د دورې په پای کې د مسـلک مطابق په يوه موضوع باندې علمي تحـقيق او څـېړنه تر سره کړي او يو علمي تيزس ترتيب کړي ، نو ما هم د ســـلام پوهنتون د اســــــلامي شـــريعت د فقهې او قانون د څانګې د ماسترۍ د پروګـرام مـطابق (د ارتداد احـکام د اسـلامي فقهې او د افغانســتان د نافذه قوانينو له نظره) تر عنوان لاندې موضوع د خپل علمي تحقيق د تيزس د ليکلو لپاره غوره کړه او د الله سُــبحانهُ و تعالى ﷻپه فضل او کرم سره مې دغه څېړنه تر سره کړه.

د ارتداد موضوع ډېره مهمه ده او د شـــرعي حدودو له جملې څخه يو هم ارتداد دی چې مُرتد ته اســلامي شـريعت د قتل سزا ټاکلې ده ، کوم چې به د دغه تحقيق او څېړنې په ترڅ کې په مفصل ډول سره واضح شي.

ارتداد يو ډېر غټ جُرم دی چې په اســلامي نظام کې خرابې پايلې لري او د ټولنې د ګډوډيو او بې اتفاقيو او حتی د اسلامي ټولنې نظم خرابوي چې د اسلامي نظام د ړنګېدو باعث ګرځي ، نو همدغه اصل او مهم والي ته په کتو سره ما هم دغه موضوع د خپل تحقيق او څېړنې لپاره انتخاب کړه. نن صبا د ديموکراســـۍ او بشـــر د حقوقو د تش په نامه شـــعار ورکوونکو لخوا د مُرتد د ســزا په هکله بې ځايه او بې بنسټه نيوکې او انتقادات کيږي چې مونږ د دوی نيوکې د دغه تحقيق په ترڅ کې په عقلي او نقلي دلايلو سره ځواب کړي دي او هڅه مو کړې ده چې د اوسني عصر د تقاضاؤ سره سم دوی ته معقول ځوابونه وړاندې کړو.

## د بحث اهداف:

1. د ارتداد د جرم په هکله خپلو ګرانو هيوادوالو ته هر اړخيزه معلومات وړاندې کول.

---

[1]: د آل عمران سورت: ۱۹ آيت

[2]: د البقرة سورت: ۲۱۷ آيت

[3]: صحيح البـــخاری: للامام أبي عـبدالله محمد بن اســـماعيل بن ابراهيم البخـاری ، المتوفى سنة ۲۵۶ ه ، کتاب اســـــتتابة المـــرتدين ، باب حُکم المُرتد والمُرتدة و اســـتتابتهم ، ج ۶ ، ص ۲۵۳۷ ، د حديث شمېره ۶۵۲۴

2. ځرنګه چې ارتداد یو له حدودي جرایمو څخه دی کوم چې د یوې اسلامي جامعې په زیان باندې تماميږي ، نو په همدې لحاظ مرتد شخص د قتل په سزا باندې محکوم کیږي ، نو له دغه مهمې موضوع څخه هم د افغانستان د اسلامي جمهوریت لوړپوړي دولتي چارواکي او هم د افغانستان عام وګړي په ښه شکل سره خبرول.
3. د هېواد لوستو وګړو ته د ارتداد په هکله په پښتو ژبه د یو هر اړخیز معلومات تحفه کول.
4. د بشر د حقوقو د تش په نامه شعارورکوونکو هغه نیوکو ته کوم چې دوی د ارتداد د سزا په هکله لري ، په عقلي او نقلي دلایلو سره ځوابونه ورکول.
5. د لوړو زده کړو د وزارت د لایحې سره سم د ماسترۍ د دورې په پای کې په یوه علمي موضوع باندې څېړنه او د تیزس لیکل.

## د موضوع د غوراوي لامل، اهمیت او ضرورت:

د دغه موضوع د غوراوي لامل ، اهمیت او ضرورت په لاندې ډول سره دی:

1. د بشریت په تاریخ کې دا ثابته شوې ده چې د انســانانو دنیوي او اخروي کامیابي د الله ﷻ د احکاماتو په تطبیق کې نغښتې ده او د ټول بشــریت لپاره نړیوال دین د اســلام مبارک دین دی ، کوم کې چې د انســانانو ګټې او مصلحتونه نغښتي دي ، د دغه مبارک دین د نورو بهترینو ځانګړتیاو سره سره یوه عمومي ځانګړتیا دا ده چې په تطبیق کې یې ټولې ښېګڼې دي چې هم د فرد او هم د ټولنې ګټې په نظر کې لري ، نو باید انسانان ټول دغه دین د خپل ژوندانه د آئین او تګلارې په توګه انتخاب کړي ، او هر هغه څوک چې یو ځل دغه دین ته داخل شي او د دغه دین ښېګڼې او فائدې وګوري ، نو که عاقل انسان وي ، باید د دغه مستفید دین څخه هېڅکله هم ونه ګرځي ، که دغه عاقل او مکلف انسان د اسلام د مبارک دین د داخلیدو څخه وروسته بیا د دغه دین څخه په شاه ګرځي ، کوم چې یو ارتدادي عمل دی او مرتکب یې مُرتد ګڼل کیږي ، نو هم به د ځان ، هم به د ټولنې او هم به د نړۍ د میلیاردونو مسلمانانو سره جفا کوي او خلک به په شک او شُبهه کې اچوي ، او حتی د اسلامي نظامونو د سست کېدلو او ړنګېدلو سبب ګرځي ، چې دغه مردود حرکت یې د اسلامي نظام پر ضد یو عمل ګڼل کیږي ، نو د اسلام مبارک دین داسې ارتدادي عمل ته هېڅکله هم اجازه نه ورکوي ، او مرتکب (مُرتد) ته یې د قتل سزا ټاکلې ده ، تر څو د ټولنې د مختل والي او د نظام د ګډوډۍ مخه ونیول شي ، نو ځکه مو دغه موضوع د تحقیق لپاره اختیار کړه تر څو هېوادوالو ته د ارتداد احـکام د اســلامي فقهې او د افغانســـتان د نافذه قوانینو له نظره بیان کړو.
2. ځرنګه چې ارتداد د شرعي حدودو څخه یو حد دی او د اسلامي نړۍ د خلیفه او حاکم ، او په اوسنیو حالاتو کې د اسلامي هېوادونو د ولسمشرانو د وظایفو څخه یوه وظیفه د شرعي حدودو تطبیق دی ، نو لازمه مو وبلله تر څو دغه موضوع د تحقیق لپاره غوره کړم ، تر څو هم زمونږ عام مسلمان ملت او هم هغه مسلمانان چې د

دولت په رأس کې قرار لري ، د ارتداد په هکله اړین معلومات ولري او دغه موضوع ته په جدي توګه پاملرنه وکړي.

3. د اسلام مقدس دین کوم چې په ټولو ادیانو کې غوره دین دی او د بشر د هدایت لپاره د څښتن تعالی ﷻ لخوا د آخري دین په توګه را نازل شوی دی ، چې پکې د انسانانو سیاسي ، اجتماعي ، اقتصادي او حقوقي مسائلو په اړه مکمل احکامات موجود دي ، نو لازمه مو وبلله ترڅو د دغه ښکلي دین څخه د مخ اړولو د جرم (ارتداد) په اړه علمي بحث وکړم.

4. د ارتداد موضوع ډېره مهمه ده او سنګینه سزا لري چې باید خلک بالخصوص زمونږ هېوادوال ترینه خبر شي ، اړینه ده چې د ټولنې ټول افراد پرې و پوهیږی تر څو هغه خلک چې په خپلو اقوالو ، افعالو او اعمالو کې بعضې اوقات ارتداد ته مخه کوي ، مخنیوی وکړي ، او د اسلامي شریعت د عمومی چهار چوکاټ په پام کې نیولو سره خپل اقوال ، افعال او اعمال اصلاح کړي ، د کومو څخه چې به په مفصل ډول سره په دغه بحث کې یادوونه وشي.

5. د اسلام دښمنانو همیشه کوښښ کړی دی تر څو مسلمانان په یوه او بله دسیسه باندې له خپل دین (اسلام) څخه واړوي او بې لارې یې کړي ، نو دغه دین هم داسې سست او ساده دین ندی چې ورسره خلک ټوقې او مسخرې وکړي ، او د نن څخه ۱۴۰۰ کاله پخوا یې داسې احکام وضع کړي دي چې د دین د دښمنانو ټول دسایس یې خنثی کړي دي ، دغه دین ته داخلېدل لومړی د هر انسان په خپله خوښه دي او په هېڅ چا باندې کوم جبر او زور نشته چې دغه دین قبول کړي ، خو که یو څوک یو ځل په خپله خوښه دغه دین ته داخل شو ، او د دغه دین تعهد یې وکړو ، نو بیا اجازه نه ورکوي چې له دغه دین څخه واوړي ، خپل تعهد مات کړي ، او په دغه ملي خیانت سره په ټولنه کې ګډوډي رامنځ ته کړي ، چې د دغه عمل مرتکب (مُرتد) ته د قتل سزا ورکوي ، اعمال یې ټول باطل او په آخرت کې ور ته د سخت عذاب اعلان کوي ، چې د دغه سزا په ټاکنه کې کوم چې ورته په اساس کې اسلام ټاکلې ده ، هېڅ څوک هم دا جرئت نه کوي چې یا په خپله مُرتد شي او یا هم نورو ته د ارتداد دعوت ورکړي ، نو لکه څرنګه چې دغه موضوع یوه مهمه او با ارزښته موضوع ده ، نو اړینه مو وبلله چې خپل بحث دغه موضوع ته ځانګړی کړم.

6. الله رب العزت ، د بشریت د لارښونې لپاره خپل وروستی منشور او کتاب قرآن عظیم الشان راولیږه ، تر څو انسانان د دې مقدس سماوی کتاب د احکامو او نصوصو سره سم د خپل ژوند او حیات ټولې چارې سمبالې کړي او د دنیا او آخرت سعادت او نیکمرغي ترلاسه کړي ، څرنګه چې انسان یو اجتماعی مخلوق دی او نشي کولای چې په انفرادی شکل سره ژوند وکړي نو الله سُبحانهُ و تعالی ﷻ د ټولنې د نظم لپاره د اسلام مبارک دین راولیږه او په قرآنکریم کی فرمائی چې: ﴿ إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴾.[1] ژباړه: بېشکه په نزد د الله ﷻ

---

[1] : د آل عمران سورت: ۱۹ آیت

باندې يواځينی دين اسلام دی ، نو اسلام يواځينی دين دی چې د انسانانو سر او مال ، دين ، نفس ، نسل او عقل ټول پکی خوندي دي ، نو که څوک د دغه برحقه دين څخه نورو منسوخو او يا منحرفو اديانو خواته مخه کوي ، نو د انساني عقل تقاضا هم همدا ده چې بايد له حق څخه ناحق ته او يا هم له ښه څخه خراب ته څوک مخه نکړي او که څوک له حق څخه ناحق ته او يا هم له ښه څخه بد ته مخه کوي نو دا به د دغه انسان ښکاره تيروتنه او غلطي وي ، لکه چې پورته مو د اسلام د مبارک دين يو څه فوايد ذکر کړل او د الله سُبحانهُ و تعالی ﷻ په نزد باندی يواځينی دين اسلام دی نو که څوک له دغه دين څخه بل دين ته ځی نو دغه عمل يی ارتداد بلل کيږي د کوم لپاره چې بايد شديده سزا موجوده وی او الحمد لله د کائناتو څښتن ورته د خپل رسول پواسطه د قتلولو سزا ټاکلې ده کومه چې به په دغه تحقيق کې لوستونکو ته په مستند شکل سره وړاندې شي.

7. څرنګه چې اکثره مسلمانان د ارتداد له موضوع او د مُرتد له سزا څخه ناخبره دي ، په کوم باندې چې بايد اسلامي اُمت پوه شي ، نو ځکه مې د ماسترۍ د دورې د تحقيق موضوع د ارتداد حد او په اسلامی فقه کی د ارتداد حکم ته ځانګړې کړه تر څو دغه موضوع په پوره ډول سره وڅېړم او لوستونکو ته يې وړاندې کړم.
8. څرنګه چې په دا وروستيو ديرشو کالو کې د يهودو او نصاراو لخوا د اسلام او مسلمانانو پر ضد پلانونو او دسايسو زور اخيستی دی چې له امله يې مسلمانان له رنګارنګ سياسي ، امنيتي ، اقتصادي او اجتماعي ستونزو سره مخامخ شوي دي ، نو د دغه ستونزو له امله زمونږ د ټولنې افراد اکثرا د ديني پوهې څخه وروسته پاتې شوي دي ، چې علمای کرام هم له دغه ستونزو څخه بهر ندي ، باالخصوص هغه علمای کرام چې د کتابونو د تأليف وړتيا هم د خپل علميت سره په څنګ کې لري ، نو د کتابونو د ليکلو لړۍ هم زمونږ په هېواد کې سُسته شوې ده چې د نورو کتابونو د تأليف د ستونزو با وجود د ارتداد په اړوند هم کوم خاص کتاب ندی تر سترګو شوی ، نو هڅه مو وکړه تر څو دغه خاليګاه د دغه تحقيق او څېړنې پواسطه ډکه کړو او خپلو ګرانو هېوادوالو ته ، او باالخصوص ديني قشر ته يې وړاندې کړو.
9. د نړۍ سياسي حالاتو ته په کتنه او د تاريخ په دغه حساسو شيبو کې ، په اوسني حالاتو کې د دغه موضوع څېړنې ته شديده اړتيا ده ترڅو زمونږ ټولنه د ارتداد په اړوند معلومات حاصل کړي او مهمه داده چې زمونږ د ټولنې افراد په دې باندې وپوهيږي چې د ارتداد قانوني سزا څه شی ده؟ د دغه سزا حکمت څه دی؟
10. د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې (Universal Declaration of Human Rights) ، د بشر د حقوقو د تش په نامه شعار ورکوونکو ، د ديموکراسۍ مدعيان او د اسلام دښمنان چې د ارتداد د سزا په هکله په اسلام او مسلمانانو باندې کومې بې بنسټه نيوکې او انتقادات کوي او د خلکو اذهان مغشوش کوي ، اړينه مو وبلله تر څو په دغه برخه کې يوه علمي څېړنه تر سره شي او دغه بې بنسټه نيوکو او انتقاداتو ته نقلي او عقلي دلايل وړاندې شي ، کوم ته چې د تاريخ په دغه حساسو شېبو کې شديده اړتيا ده.

## د مسئلې طرح او د تحقیق اصلي سوالونه:

په اوسني عصر کې بعضی اوقات د مطبوعاتو څخه د ارتداد راپورونه اوریدل کیږي کوم چې د مسلمانانو لپاره ډېر داغوونکي راپورونه دي او په نړیواله سطحه د مسلمانانو پاک احساسات د مُرتدینو په هکله په علني ډول سره هم تر سترګو کیږي کوم چې د ستایلو وړ دي.

اما کومې مهمې پوښتنې او سوالونه چې زمونږ د ټولنې د افرادو سره شتون لري او په دغه څېړنه کې ځواب شوي دي ، په لاندې ډول سره دي:

1. ارتداد څه شی دی ؟
2. د یو مُرتد شرعي سزا څه ده ؟
3. د افغانستان اساسي قانون او د جزاء قانون ورته څه سزا ټاکلې ده ؟
4. د ارتداد اسباب (په څه شي سره یو مسلمان مُرتد کیږي) کوم دي ؟
5. د ارتداد احکام څه دي ؟

د ارتداد د علتونو په هکله باید ووایم چې له بده مرغه د ارتداد د علتونو څخه یو هم د مسلمانانو ناخبرتیا له خپل مبارک دین (اسلام) څخه ده او بل علت یې هم د اسلام د دښمنانو ناوړه او ناسم تبلیغات دي چې بعضې وخت خلک د ارتداد خواته مخه کوي ، اما دا خبره واضح او روښانه ده چې الله ﷻ د اسلام په مبارک دین کی داسې احکام وضع کړي دي کوم چې د یو سالم عقل له تقاضاو سره سم دي او د سلیم عقل درلودونکی انسانان هم فکر کوي چې باید داسې وای او مکمل یې مني ، چې یو له هغو څخه هم د ارتداد حکم دی د کوم په هکله چې الله تبارک و تعالی ﷻ په قرآنکریم کی فرمایي:

﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ .[1]

ژباړه: له تاسې څخه چې هر څوک له دې دین څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنیا او آخرت دواړو کې برباد او ضایع شي ، داسې خلک ټول دوزخیان دي او تل به په دوزخ کې اوسیږي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایي: « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [2] .

ژباړه:چاچې دین (د اسلام دین) بدل کړو ، ویې وژنئ.

نو د همدغه مبارک آیت او حدیث شریف برکت دی چې د اسلام په تاریخ او باالخصوص په اوسنی عصر کی ارتداد ته مخه کمه ده ، او که وي هم ، هغه هم پټه او مخفي ده او ددغه ټاکل شوې سزا له کبله مُرتد نشي کولای چې په علني توګه ځان وښايي چې فلانکي د اسلام د مبارک او واقعي دین څخه نورو منحرفو ادیانو ته مخه کړې ده.

---

[1]: د البقرة سورت: ۲۱۷ آیت

[2]: صحیح البـــخاری: ، ج ۶، ص ۲۵۳۷ ، د حدیث شمېره ۶۵۲۴

خرنګه چې د ارتداد له علتونو څخه يو هم د مسلمانانو په الفاظو کې د بعضی کلماتو استعمال او يا هم په بعضی عقايدو کی ستونزی دی د کومو پواسطه چې يو مسلمان د اسلام د دين له دايری څخه ووځي ، زمونږ په ټولنه کې اکثرا خلک  په دې باندې نه پوهيږي چه دوی ارتداد کړی دی او يا د ارتداد سزا څه ده ، نو په همدغه اساس مو لازمه وبلله تر څو دا واضح کړو چې ارتداد څه شی دی ؟ د ارتداد حکم څه دی ؟ د مُرتد سزا څه شی ده ؟ ..... تر څو زمونږ مسلمان هېوادوال له ارتدادي عقايدو ، اقوالو او اعمالو څخه ځانونه وساتي.

## د موضوع احتمالي، نظري او عملي فوايد:

د دغه موضوع فوايد ډېر زيات دي ، خو په اوسني حالاتو کې يې په ټولنه کې لاندې فوايد د اهميت وړ دي:

1. د ارتداد د موضوع څخه د هېوادوالو خبرتيا.
2. د ارتدادي اقوالو ، اعمالو او عقايدو څخه د هېوادوالو ساتل.
3. د ارتداد په هکله يو جامع او هر اړخيزه بحث ترتيبول.
4. د هر شخص پواسطه د دغه بحث له لوستلو څخه وروسته ،  په خپل دين (اسلام) باندی مونګولو لګول.

## د موضوع په تړاو له دې وړاندې ليکل شوې څېړنې او مقالې:

که څه هم په دغه اړوند په عربي ژبه باندې يو څه ليکنې شوي دي ،  لکه په بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع کتاب کې چې امام علاء الدين أبی بکر بن مسعود الکاساني حنفي رحمة الله عليه د ردة موضوع څېړلې ،  په البحر الرائق کې علامه زين الدين مشهور په ابن نجيم هم د ارتداد موضوع بيان کړې ده ، په فتح القدير کې ابن همام د ارتداد د موضوع څخه يادونه کړې ده ، په الصارم المسلول علی شاتم الرسول کې ابن تيميه تقی الدين د ارتداد موضوع څېړلې ده او همدارنګه په فقه الموسوعات کې هم د ارتداد د موضوع په هکله ليکنه شوې ده ، کوم چې د عجمو (غير عربو) لپاره د پوره پوهې وړ نه دي او د هغو څخه د پام وړ علمي ګټه نشي پورته کولای او تر اوسه پورې په پښتو ژبه باندې داسې کومه ځانګړې ليکنه نده موجوده چې د ارتداد په هکله هر اړخيزه معلومات ولري او زمونږ افغاني ټولنې ته يې وړاندې کړي ، نو لازمه مې وبلله تر څو په دغه موضوع کې علمي تحقيق او څېړنه وکړم او خپلو مسلمانانو وروڼو باالخصوص د هېواد علمای کرامو ته يې د زړه له کومې ډالۍ کړم.

## د ليکنې کړنلاره (ميتود) :

دغه تحقيق او څېړنه کاملا يو علمي او اکادميک تحقيق او څېړنه ده چې په ليکلو کې مو لاندې کړنلاره غوره کړېده:

1. د اړونده مراجعو څخه څېړنيز موضوعات له مطالعې وروسته په چاڼيز ډول د پښتو ژبې په تعبير کې راغونډ کړای شوي دي ، يواځې تعريفونه په خپله اصلي بڼه راخيستل شوي دي.

2. د قرآن کریم  د نصوصو ژباړه مو د هېواد په کچه د قران کریم د معتبرې ژباړې څخه را اخیستې ده او د هر آیت لاندې مو د آیت ژباړه په پیوست شکل سره لیکلې ده.
3. د قرآن کریم د ایتونو سره د سورت نوم لیکل شوی او د آیت شماره هم ذکر شوې ده.
4. د کتاب الله (قرآنکریم)، د قرآن کریم د تفاسـیرو ، نبوي احادیثو ، فقهي او حقوقي کتابونو ، د افغانستان د نافذه قوانینو (اساسي قانون ، د جزاء قانون ، مدني قانون) او انترنت څخه مو پکې استفاده کړېده ، چې د کتاب الله حواله مو په قرآنکریم ، د سنتو حواله مو د احادیثو په تدوین شوو معتبرو کتابونو او د هر فقیه او مجتهد قول مو هغو ته منسوب کړي دي ،د نبوي احادیثو ژباړه مو هم د حدیث شریف سره ذکر کړې ده ، تر څو لوستونکي د دغه لیکنې څخه په ښه شکل سره مستفید شي.
5. د قرآن کریم آیتونه مو په ﴿ ﴾ شکل قوسونو کې لیکلي دي ، د نبوي احادیثو په هکله مو د رسول الله ﷺ ویناوې په « » قوسونو کې لیکلې دي ، د معتبرو دیني مراجعو څخه مو د فقهاؤ اقوال په متن کې روښانه ((Bold) کړي او د مغلقو کلماتو معنی مو په ( ) قوسونو کې لیکلي دي.
6. د دغه لیکنې په هر فصل ، مبحث ، مطلب او عنوان کې د فقهي او قانوني موضوعاتو د شتون په صورت کې مو لومړی فقهي برخه او بیا مو قانوني برخه څېړلې ده.
7. په څېړنه کې مو د فقهاؤ نظریات په ترتیب سره راخیستي دي ، په دې ډول چې لومړی مو پخوانیو اصلي فقهي مراجعو ته مراجعه کړې ده او بیا مو د معاصرو فقهاؤ نظریات یاد کړي دي.
8. د څېړنې اړوند په اختلافي مسائلو کې لومړی موضوع تر عنوان لاندې په ځانګړي ډول سره څرګنده شوې ، بیا د علماؤ نظریات او دلائلو ذکر شوې دي ، او تر خپله وسه مو راجح قول ذکر کړی دی.
9. په فقهي برخه کې کوښښ شوی چې د هر مذهب له اصلي او قوي مراجعو څخه استفاده وشي.
10. په لمن لیک (حاشیه) کې په لومړي ځل د مرجع بشپړه پېژندنه شوې او بیا وروسته یوازې د کتاب په نوم ، جلد او صفحه باندې اکتفاء ذکر شوې ده ، د څېړنې په پای کې هم د مصادرو او مراجعو ټولګه مفصلا ذکر شوې ده.
11. په پای کې د بحث غورچانې او پایلې ذکر شوي دي.
12. په دغه تحقیق کې چې د کومو آیتونو څخه یادوونه شوې ده ، هغه مو یو ځل بیا ټول په یو لیک لړ (د آیتونو لیک لړ) کې سره را ټول کړي دي.
13. په دغه تحقیق کې چې د کومو نبوي احادیثو ذکر راغلی دی ، هغه مو یو ځل بیا ټول په یو لیک لړ (د احادیثو لیک لړ) کې سره را ټول کړي دي.
14. په دغه تحقیق کې چې د کومو اعلامو ذکر راغلی دی ، هغه مو یو ځل بیا ټول په یو لیک لړ (د ژباړل شوو اعلامو لیک لړ) کې سره را ټول کړي دي.

### د موضوع د جوړښت پلان (خطة البحث) :

دغه لکینه په لړلیک ، ســـریزې ، تمـهـید ، څلورو فصلونو او د څېړنې مهمې پایلې (نتیجه ګیری یا د بحث غورچاڼ) باندې مشتمله ده چې په هر فصل کې د موضوع اړوند مسائل راټول شوي دي او په جدا ګانه ډول په مباحثو او هر مبحث په اړوندو مطالبو او عناوینو باندې ویشل شوی دی. په تمهید کې تمهیدي خبرې رانغښتل شوي دي ، لومړي فصل مو ارتداد پېژندنې ته ځانګړی کړی دی چې د ارتداد تعریف ، ارکان ، د صحت شرطونه او د ارتداد تاریخي سیر مو په خلص بیان کړي دي ، دویم فصل مو د ارتداد اسبابو ته ځانګړی کړی دی چې د ارتداد عقیدوي اسباب ، قولي اسباب ، د اعمالو اسباب ، او د شرعي اعمالو د ترک کولو اسباب ذکر کړي دي ، دریم فصل مو د ارتداد احکامو ته ځانګړی کړی دی چې پکې د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره د ارتداد احکام بیان کړي دي او څلورم فصل مو د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د تش په نامه د بشر د حقوقو د شعار ورکوونکو نیوکو ، انتقاداتو او د اسلام د مبار ک دین لخوا نوموړو نیوکو ته عقلي او نقلي دلایل وړاندې کړي دي . د دغه لیکنې د جوړښت مفصل پلان (خطة البحث) په لاندې ډول سره دی:

**ســـــــــریزه**

- د بحث اهداف
- د موضوع د غوراوي لامل ، اهمیت او ضرورت
- د مسئلې طرح او د تحقیق اصلي سوالونه
- د موضوع احتمالي ، نظري او عملي فواید
- د موضوع په تړاو له دې وړاندې لیکل شوې څېړنې او مقالې
- د لیکنې کړنلاره (مېتود)
- د موضوع د جوړښت پلان (خطة البحث)

**تـمـهـید**

د موضوع اړوند اصطلاحاتو لنډه پېژندنه

آیا ارتداد حدي جرم دی که تعزیري ؟

## لومړی فصل

## په اسلامي فقه او د افغانستان په نافذه قوانینو کې د ارتداد پېژندنه

## (د ارتداد تعریف، ارکان او شروط)

لومړی مبحث: د ارتداد پېژندنه

لومړی مطلب: د ارتداد تعریف

دویم مطلب: په اسلامي شریعت کې د ارتداد د کلیمې استعمال

دریم مطلب: په اسلام کې د ارتداد تاریخي سیر

دویم مبحث: د ارتداد ارکان
لومړی مطلب: د ارتداد عمومي ارکان
دویم مطلب: د ارتداد خصوصي ارکان
دریم مبحث: د ارتداد شرایط یا د صحت شرطونه
لومړی مطلب: اسلام
دویم مطلب: عقل
دریم مطلب: بلوغ
څلورم مطلب: اختیار
پنځم مطلب: د کفر اراده
شپږم مطلب: علم په حال او حکم
څلورم مبحث: د ارتداد د اثبات طریقه
لومړی مطلب: اقرار
دویم مطلب: شهود

## دویم فـــصل

## د ارتداد اســـباب

### (هغه امور چې په هغه سره یو مســـلمان مُرتد کیږي)

لومړی مبحث: ارتداد په عقیده کې
لومړی مطلب: د الله ﷻ څخه منکر کېدل
دویم مطلب: د الله ﷻ د ځینو صفاتو څخه منکر کېدل
دریم مطلب: د اتحاد او حلول عقیده ساتل یعنې الله ﷻ او مخلوق یو ګڼل
څلورم مطلب: د تثلیث عقیده لرل یا معبودان درې ګڼل
پنځم مطلب: الله ﷻ ته اجزاء ګڼل (لکه زوی و غیره)
شپږم مطلب: نېکان خلک پېغمبران او پیغمبران یا ملایکې الله ګڼل
اووم مطلب: د الله ﷻمنل او د پیغمبر نه منل یا د قرآن منل او د سنت نه منل ، او یا د دې برعکس عقیده
اتم مطلب: د آخري نبي حضرت مُحَمَّد الرسول الله ﷺ څخه انکار کول او یا یې خاتم النبیین نه منل
نهم مطلب: په رسولانو ایمان راوړلو کې عقیدتا نیمګړتیا ، چې ځنیې منل او ځینې نه منل
لسم مطلب: د انبیاؤ د قطعي الدلالت او قطعي الثبوت معجزات سحر ګڼل او یا ورته کفر ویل
یوولسم مطلب: د قرآن کریم څخه انکار کول او یا د قرآن کریم د ځینو برخو څخه انکار کول
دولسم مطلب: د نازل شوو آسماني کتابونو له نزول څخه انکار کول
دیارلسم مطلب: د قیامت د ژوند څخه انکار کول
څوارلسم مطلب: مؤمنان او کفار په عقیده کې برابر ګڼل
څوارلسم مطلب: مؤمنان او کفار په عقیده کې برابر ګڼل
پنځلسم مطلب: حلال حرام ګڼل او حرام حلال ګڼل

دويم مبحث: ارتداد په اقوالو کې

لومړی مطلب: الله ﷻ ته ښکنځل کول

دويم مطلب: د الله ﷻ په ربوبيت او نظام چلولو کې منفی بحثونه کول په دې ترتيب سره چې د الهي نظام نقص بيانوي

دريم مطلب: حضرت مُحَمَّد رسول الله ﷺ ته ښکنځل کول

څلورم مطلب: نورو انبيای کرامو ته ښکنځل کول

پنځم مطلب: په پيغمبرانو اعتراض کول

شپږم مطلب: په قرآنکريم باندې اعتراض کول

اووم مطلب: له اسلام څخه بېزارتيا او يا له اسلام څخه خپله بېزارتيا اعلانول

اتم مطلب: د اسلام د مبارک دين پورې ملنډې وهل

نهم مطلب: مؤمنانو ته د کفر او الحاد بلنهورکول

دريم مبحث: ارتداد په اعمالو او افعالو کې

لومړی مطلب: د قرآن کريم غورځول

دويم مطلب: سحر کول

دريم مطلب: غيرالله (بُت ، لمر ، سپوږمۍ ، ...... وغيره) ته سجده کول

څلورم مطلب: په حضرت مُحَمَّد ﷺ باندې د وحې د نزول خفګان کول

پنځم مطلب: د الله ﷻ له پيغمبر څخه مخ ګرځول

شپږم مطلب: د قرآنکريم په دعوت خفه کېدل او يا د قرآنکريم له اورېدلو څخه د خلکو منع کول

څلورم مبحث: ارتداد د شرعي عمل په انکار کې

لومړی مطلب: د لمانځه ترک کول په انکار سره

دويم مطلب: د روژې ترک کول په انکار سـره

دريم مطلب: د زکات ترک کول په انکار سـره

څلورم مطلب: د حج ترک کول په انکار سـره

## دريم فــصـل

## د ارتداد احـــکام

## په اســلامي فقه او د افغانســتان په نافذه قوانينو کې

لومړی مبحث: په اســلامي فقه کې د ارتداد احـکام

لومړی مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د نفس پورې اړه لري

مُرتد ته د مرګ سـزا ورکول او د سـزا کيفيت

د مُرتدې ښځې د نفس حکم

دويم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د نکاح په امورو (احوال شخصي) پورې اړه لري

دريم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د د ملکيت ، ميراث او دين يا قرض د امورو پورې اړه لري

دريم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د د ملکيت ، ميراث او دين يا قرض د امورو پورې اړه لري

الف: د مُرتد د ملکیت حکم
ب: د مُرتد د میراث حکم
څلورم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اولاد پورې اړه لري
پنځم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اجتماعي امورو پورې اړه لري
شپږم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اعمالو پورې اړه لري
اووم مطلب دویم مطلب: د مُرتد د توبې ورکول کیفیت: د مُرتد د ذبیحې او حلالې حکم
دویم مبحث: د مُرتد د اســتـتابې (توبه ویســتلو) احـکام
لومړی مطلب: د مُرتد توبه کول او د استتابې حکم
دویم مطلب: د مُرتد د توبې ورکول کیفیت
دریم مطلب: د متکرر مُرتد د توبې حکم
د هغه چا حکم چې نبي کریم ﷺ ته ښکنځل وکړي
څلورم مطلب: د ارتداد په هکله د وسوسو حکم
آیا په وسوسو باندې انسان نیول کیږي او که نه ؟
دریم مبحث: د افغانستان په نافذه قوانینو کې د ارتداد احکام
لومړی مطلب: د افغانستان په اســاسي قانون کې د ارتداد احکام
دویم مطلب: د افغانســـتان د جـزا په قانون کې د ارتداد احکام
دریم مطلب: د افغانستان په نورو نافذه قوانینو کې د ارتداد احکام
څلورم مبحث: د مُرتد عقوبت
لومړی مطلب: د مُرتد دنیوي عقوبت
دویم مطلب: د مُرتد اخروي عقوبت
**څلورم فــــصل**
**د بشـــر د حـقـوقو له نظره د مُرتد د ســزا په هکله تـبصره**
**د غـیر مســـلمو نیوکې او ځــوابونه**
لومړی مبحث: د بشـــر حـقوق ، د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اســلامي اعلامیې ته لنډه کتنه
لومړی مطلب: د بشر د حقوقو له نظره د مُرتد د سزا په هکله تبصره
دویم مطلب: د بشر د حقوقو تعریف
د بشر د حقوقو تعریف د غرب له نظره
د بشر د حقوقو تعریف د اسلام له نظره
دریم مطلب: د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې ته لنډه کتنه
څلورم مطلب: د بشر د حقوقو نړیوالې اسلامي اعلامیې ته لنډه کتنه
پنځم مطلب: د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ

مشترک او اختلافي موارد

دويم مبحث: د ارتداد په هکله د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې او د غير مسلمو نيوکې ، انتقادات او ځوابونه

لومړی مطلب: په اسلام کې د دين ازادي

اسلام د زړه له کومې منل د مسلمانېدو شرط دی

الله ﷻ انسان ته د دين په ټاکلو کې اسلام ته په داخلېدو کې آزادي ورکړې ده

له رسول الله ﷺ سره په مکه کې څرنګه فوځ ؤ ؟

**د غير مسلمو نيوکه او انتقاد:** د ارتداد سزا کومه چې د اسلام لخوا مُرتد ته ورکول کيږي د عقيدې د آزادئ خلاف ده حال دا چې د بشري حقوقو په نړيواله اعلاميه کې بشر آزاد دی چې هر دين ته اوړي اوښتی شي.

**ځواب:**

**د غير مسلمو نيوکه او انتقاد:** په اسلام کې د مُرتد ، محسن زاني ، او قطاع الطريق سزا قتل ده ، د شرابو څکلو او قذف سزا ۸۰ درې ده

**ځواب:**

دويم مطلب: په اسلام کې د بيان آزادي

**د غير مسلمو نيوکه او انتقاد:** آيا په اسلام کې د بيان ازادي شته او که نه ؟ او که شته نو سلمان رشدي ته ولې د مرګ سزا واورول شوه

**ځواب:**

**د غير مسلمو نيوکه او انتقاد:** په اسلام کې د بيان آزادي منحصره ده ؟

**ځواب:**

مؤمنان د الله ﷻ د امر تابع دي او الله ﷻ د مسلمانانو د وينې توئېدل په ناحقه باندې حرام کړي دي

د بشري حقوقو د شعار ورکوونکو د انتقاداتو په اړه د اسلام د مبارک دين څخه نقلي دلايل

**خاتمه او د څېړنې مهمې پايلې**

**وړانديزونه**

**مأخذونه او لړليکونه**

د قرآن کريم د آيتونو لړليک

د نبوي احاديثو لړليک

د ژباړل شوو اعلامو لړليک

د مأخذونو لړليک

# تمهـيد

د اسلام مقدس دين هغه نړيوال دين دی چې د ټولنې او فرد دواړو حقوق پکې خوندي دي ، ځرنګه چې انسان يو ټولنيز مخلوق دی او نشي کولای چې په يواځې ډول سره ژوند وکړي او د خپل ژوندانه ټولې اړتياوې په يواځې ډول سره پخپله پوره کړي ، نو اړينه ده تر څو د ټولنې د نورو وګړو سره په ټولنيز ډول سره ژوند وکړي ، په ټولنيز ژوندانه کې د دې امکانات شته دی چې د ټولنې قدرتمند وګړي په بې وزلو وګړو باندې ظلم وکړي او د ظلم د واقع کېدو په صورت کې بې وزله وګړي په ناخوښ ډول سره ژوند تېر کړي ، نو د ټولنيز ژوندانه لپاره يو نظم ته اړتيا ده ، او د دغه نظم لپاره اړينه ده تر څو داسې اصول او قواعد وضع شي تر څو يو وګړی په بل باندې ظلم ونکړي او د ټولو حقوق خوندي وي ، چې دغه موضوع ته د اسلام مبارک دين خاصه توجه کړې ده او د ټولنې د نظم لپاره يې اساسي کړښې او حدود ټاکلي دي او هر هغه څوک چې د ټولنې د نظم د خرابوالي او ګډوډۍ لپاره کوم عمل تر سره کړي ، د جامعې د نظم لپاره ورته ټاکلې سزا ورکوي ، تر څو په آينده کې نور خلک داسې اعمال تر سره نکړي او د خلکو سر ، مال ، دين ، نفس او عقل محفوظ وي ، د ظالمانو د منګولو څخه مظلومان خلاص کړي ، او انسانان وکولای شي چې په امن او ثبات کې په هوسا شکل سره خپل ژوند وکړي ، او د کوم مقصد لپاره چې انسانان پيدا شوي دي ، چې هغه د الله ﷻعبادت دی ، تر سره کړي ، او د دنيا او آخرت د نېکمرغيو څخه برخمند شي.

### د اسلامي شريعت له نظره عقوبات په درې ډوله دي:

1. حدود.
2. قصاص.
3. تعزيرات.

**الف: حدود**: د حد جمع ده او حد په لغت کې منع او د دوه شيانو تر منځ جداوالي ته وايي ، [1]

او په اصطلاح کې فقهاؤ د حد لپاره بېلا بيل تعريفات کړي دي ، چې مونږ يې دلته په لاندې اصطلاحي تعريفاتو باندې بسنه کوو: حد د فقهاؤ په اصطلاح کې **هو العقوبة المقدرة واجبة حقا لله تعالى عز شانه** [2] ژباړه: حد د هغه عقوبت څخه عبارت دی چې د شريعت لخوا ټاکل شوی وي او د الله تعالی ﷻحق شمېرل کيږي. يا په بل

١ : **لسان العرب**: للامام العلامة محمد بن مكرم بن منظور الأفريق المصري ، المتوفى سنة ٧١١ ه ق ، طبع دار الاحياء التراث العربى ، مؤسسة التاريخ العربى ، بيروت ، لبنان ، ج ٣ ، ص ٣٥

٢ : **بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع**: للامام علاء الدين أبى بكر بن سـعود الكاسـاني حنفى رحمة الله عليه المقلب بمُلک العلماء ، المتوفى سنة ٥٨٧ ه ق ، ج ٧ ، ص ٣٣ . **تشـريع الجنايي الاسلامى مقارنا باالقانون الوضعي**: عبدالقادر عودة ، المتوفى سنة ١٣٧٣ ه ق ، ناشر: دارالكتب العلمية ، ج ٣ ، ص ٣٧٥ . **فتح القدير ، شرح البداية**: مُحَمَّد بن علي بن مُحَمَّد الشوكاني: ج۴ ، ص ١١٣ . **المحلى**: على بن أحمد بن سعيد بن حزم الظاهري ابن حزم الظاهري ، المتوفى سنة ۴۵۶ ه ق ، ج ١١ ، ص ١١٨ . **الاقناع**: مُحَمَّد بن احمد الشربيني شمس الدين ، المتوفى سنة ٩٧٧ه ق ، ج ۴ ، ص ٢۴۴ . **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: للامام أبو مالک كمال بن السيد سالم ، ناشر ، المكتبة الرشيدية ، د چاپ کال ١۴٣۴ ه ق ، کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۵

عبارت: **الحد يطلق على العقوبات المقدرة شرعا** [1] ژباړه: د حد اطلاق په هغه عقوباتو باندې کیږي چې د شریعت لخوا ټاکل شوي وي ، البته دغه پورتنی تعریف د احنافو فقهاؤ لخوا د حد لپاره شوی دی. د حدودو سزا د اسلامي شریعت لخوا ټاکل شوې ده او د ټولنې حق دی ، چې هېڅ څوک په شمول د وخت د حاکم ، نشي کولای چې د حد مرتکب شخص ته ټاکلې سزا معاف او یا یې کمه او زیاته کړي.

**ب: قصاص**: په لغت کې مساوات او برابری ته وايي ،[2] او په اصطلاح کې د هغه عقوبت څخه عبارت دی چې د شریعت لخوا ټاکل شوی دی او د بنده ګانو حق پکې غالب دی او عفوه او صلح هم پکې راتلای شي.[3]

**ج: تعزیر**: په لغت کې ادب ته وايي ،[4] او په اصطلاح کې د هغه عقوبت څخه عبارت دی چې د شریعت لخوا مقدره نه وي یا په هغې کې حد نه وي ، او حقوق العباد پکې غالب وي. د وخت حاکم کولای شي چې تعزیري سزا کمه او زیاته کړي.[5]

څرنګه چې زمونږ د بحث موضوع ارتداد ته ځانګړې شوې ده او ارتداد یو له شرعي حدودو څخه دی ، او حد مو پورته تعریف کړو ، اوس د شرعي حدودو انواع په خلص شکل سره ذکر کوو.

**د احنافو فقهاؤ له نظره د اسلامي شریعت حدود ۵ دي:** [6]

1. د غلا حد
2. د زنا حد
3. د قذف حد
4. د شرابو حد
5. د حرابې (لار شکونې) حد

**د جمهورو فقهاؤ له نظره د اسلامي شریعت حدود ۷ دي:**

1. د غلا حد
2. د زنا حد
3. د قذف حد
4. د شرابو حد

---

۱ : **شرح الممتع على زاد المستقشع**: محـمد بن صـــالح بن مُحَمَّد العثيمين ، ناشر : دار ابن الجوزي ، لومړی چاپ ، ۱۴۲۲ ه ق ، ج ۳۸۹، ص ۵ . **الفقه الاسلامي و أدلته**: للاستاذ الدكتور وحبة الزحـيلى ، عضو المجامع الفقهية العالمية ، ناشر: مكتبة علوم اسلامية ، بشاور ، ج ۷، ص ۲۱۶.

۲ : **لسان العرب**: ج ۱۱، ص ۵۵۲

۳ : **الفقه الاسلامى و أدلته**: ج ۷، ص ۵۱۴ او ج ۷، ص ۲۱۶ . او د انټر نټ ویبپاڼه: تعزیر (فقه) /https://wikifeqh.ir

٤ : **لسان العرب**: ج ۴، ص ۵۶۱

٥ : **الفقه الاسلامى و أدلته**: ج ۷، ص ۵۱۴ او د انټر نټ ویبپاڼه: تعزیر (فقه) /https://wikifeqh.ir

٦ : **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**: زين الدين بن ابراهيم بن مُحَمَّد ابن نجيم الحنفى ، المتوفى سنة ۹۷۰ ه ، ناشر: دارالمعرفة ، بيروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۲۲ ه ق ، الناشر ، دارالمعرفة ، بيروت ، ج ۵، ص ۳

5. د حرابې (لارشکونې) حد
6. د ارتداد حد
7. د بغاوت حد

پورتني حدود هر یو خپل خاص حکمتونه لري کوم چې د جامعې په نظم کې ستر رول لوبوي او په لاندې ډول مو ترې په خلص ډول سره یادونه کړې ده:[1]

د غلا حد د انسانانو د مال د ساتنې او حفاظت پاره ټاکل شوی دی.[2]

د زنا حد د انسانانو د نسل د ساتنې او حفاظت لپاره ټاکل شوی دی.[3]

د قذف حد د پاک دامنو ښځو د او پاک دامنه سړو د بې ځایه تور یا بد نامۍ څخه د ساتنې او حفاظت لپاره ټاکل شوی دی.

د شرابو حد د انسانانو د عقل د ساتنې او حفاظت لپاره ټاکل شوی دی.

د حرابې (لارشکونې) حد د انسانانو د سر او مال د ساتنې او حفاظت لپاره ټاکل شوی دی.

د ارتداد حد د دین د ساتنې او حفاظت او د اسلامي نظام د تداوم لپاره ټاکل شوی دی.

دبغاوت حد د نظام د ټینګښت ، پیاوړتیا او حفاظت لپاره ټاکل شوی دی. او بغاوت د فقهاؤ له نظره د یو عادل او مسلمان امام په مقابل کې شورش او د هغه له اطاعت څخه خارجېدلو ته وایي [4]، چې د بغاوت په هکله فقاؤ ډېر ې زیاتې لیکنې کړې دي چې دلته یې وضاحت ته کومه اړتیا نه لیدل کیږي او په همدې باندې بسنه کوو.

څرنګه چې زمونږ د بحث موضوع د ارتداد حد دی ، نو غواړم چې د ارتداد د حد په هکله د موضوع د اړونده اصطلاحاتو د پېژندلو څخه وروسته مفصل بحث وکړم.

---

١ : **العناية**: ج ٥ ، ص ٢
٢ : **البناية**: ج ٨ ، ص ٣١٩
٣ : **البناية**: ج ٨ ، ص ٣١٩
٤ : **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**: باب البغاة ، ج ٥ ، ص ١٥٠ . او **رد المختار على الدر المختار** : شرح تنوير الأبصار فقه أبو حنيفة (حاشيه): ناشر: دارلفكر لطباعة والنشر ، بيروت ، ١٤٢١ هـ ، ج ١٦ ، ص ٣٧٤

## د موضوع اړوند اصطلاحاتو لنډه پېژندنه

**اجبار:** د یوه شخص له خوا د یو کار انجامول پر بل شخص باندې دی پرته له دې چې هغه شخص د دې کار په انجام کې قصد او اختیار ولري.[1]

**اجتهاد:** د مجتهد زیار ایستل دي چې د شرعي حکم د لاس ته راوړلو لپاره یې د شرعي دلایلو لپاره باسي.[٢]

**احضار:** د محکمې له خوا د لازمو توضیحاتو د وړاندې کولو لپاره د شخص یا اشخاصو راغوښتل دي.[٣]

**ارتداد یا ردة** : په لغت کې د یو شي څخه بېرته ګرځېدلو ، رجوع ، شاتګ ، او هغه لارې ته بېرته ګرځېدلو ته وایي چې له هغه ځایه راغلی وي ،[4] او د ارتداد اصطلاح د فقهاؤ لخوا په دې ډول سره تعریف شوې ده چې: د یو عاقل او بالغ مسلمان پواسطه د خپل دین (اسلام) څخه بل دین ته ګرځېدلو ته ارتداد وایي.[5] همدارنګه د حقوقو په کتابونو کې د ردة او ارتداد اصطلاح په دې ډول تعریف شوې ده چې: ردة هغه کلمات دي چې د هغې په استعمال سره یو شخص مُرتد شمېرل کیږي.[6] څرنګه چې زمونږ د بحث موضوع ارتداد دی ، نو غواړم چې په دغه هکله په خپل ځای کې مفصل بحث او څېړنه وکړم ، چې په دغه لیکنه کې به ورسته راشي.

**اساسي قانون:** د نورو ټولو قوانینو مور ده او هغه کلي او عام قواعد دي چې د یو مملکت د نظم په هکله ملت ارادې تمثل کړي او د ملت د استازو لخوا په لویه جرګه کې تصویب و د هېواد د لومړي شخص له لوري منظور شوی وي.[7]

**اصحابي:** د اصولینو له نظره هغه چا ته ویل کیږي چې نبي کریم ﷺ یې لیدلی وي ، ایمان یې پرې راوړی وي او دومره وخت یې ورسره تېر کړی وي چې په عرف کې پرې د ملګرتیا اطلاق کیږي.[8]

اصحابي د محدثینو له نظره هغه چا ته ویل کیږي چې نبي کریم ﷺ یې په ژوند کې د اسلام په حالت کې لیدلی و او د ایمان په حالت کې وفات شوی وي.

**اصلاح:** د عادلو او پوهو اشخاصو د اقدام او حسن نیت له لارې د منازعې حل ته ویل کیږي ، چې به معموله توګه د محکمې د توجیې او یا د خلکو د عرف او تعامل د غوښتنې په اساس له محکمې څخه بهر او یا هم د یوې خوا یا دواړو خواوو په غوښتنه صورت مومي.[٩]

---

١ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** د کابل پوهنتون ، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ، کال ١٣٨٧ ه ، ج ١ ، ص ۶

٢ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٧

٣ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٨

[٤] : **لسان العرب:** ج ۵ ، ص١٨۴ ؛ **القاموس الفقهي لغة و اصطلاحا:** لسعدي أبو حبيب ، المتوفی ١٣٩٧ ه ، دارالفکر د مطبعي چاپ ، کال ١۴٢۴ ه ق ، دمشق ، سوریه ، ج ١ ، ص ١۴٧ ؛ **الخرشي:** ابو عبد الله مُحَمَّد بن عبد الله الخرشي ، ١٣١٧ه). شرح على مختصر خليل (حاشية الخرشي) ناشر: بولاق. المطبعة الاميرية ، ج ٨ ، ص ۶٢ ؛ **المغني:** لأبي مُحَمَّد عبدالله بن احمد بن مُحَمَّد الشهير ابن قدامة المقدسي ، المتوفی سنة ۶٢٠ ه ق ، القاهرة ، مکتبة القاهرة ، ج ٨ ، ص ۵۴٠.

[۵] : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع:** ج ۶ ، ص ١٢۴ . او **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۵

٦ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** : ج ١ ، ص ١٨٠

٧ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ١٢

٨ : **الوجیز فی اصول الفقه:** دکتور عبدالکریم زیدان ، ناشر: مکتبه فاروقیه ، د چاپ کال ٢٠٠۴ م ، ج ١ ، ص ٢٠٧

٩ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ١ ، ص ١۶

**اقرار:** د محکمې په وړاندې په دې اړوند چې بل شخص پر ده باندې حق لري ، د یوه شخص اخبار دی.
**انکار:** د یو امر د نفې کولو ، نه منلو او د هغه له تکذیب څخه عبارت دی.[1]
**تائید:** عبارت د قبول او انشاء کولو د یوه متن او یا یوه شخص دي ، د نورو واک لورنکو اشخاصو یا مراجعو له خوا.[2]
**تعزیر:** هغه غیر معینې جزاګانې دي چې له یو عادي نصیحت څخه شروع کیږي او تر اعدامه پورې رسیږي او د دولت لخوا تطبیق کیږي .[3]
**حق الله:** له هغه حق څخه عبارت دی چې د ټولنې د ګټو پورې اړه لري او د هغه جزاګانې د ټولنې نه د فساد د دفع او امنیت د تحقق او د افرادو د سلامتیا په موخه وضع کیږي. یا حق الله (د ټولنې حق) هغه جرم دی چې تعقیب او څېړنه یې د شاکي د شکایت پورې اړوند نه وي او پر تېرېدلو یې د هغې تعقیب نه ودریږي.[4]
**حقوق:** د حق جمع ده او حق په دې ډول تعریفوو چې: **حق** عبارت له هغه صلاحیت ، سلطې ، امتیاز ، او اقتدار څخه دی چې یو شخص یې د نورو اشخاصو او اشیاوو په وړاندې لري او د قانون خوا حمایت کیږي .[5]
**حکم:** د قضائي هیئت تصمیم چې د محاکمې له بهیر څخه وروسته په ماهیت کې نیول کیږي او قاضي د قانون اراده په یوې تاکلې واقعه کې اعلانوي ، د افغانستان د تقنیني اسنادو د روحیې پر بنسټ د قاضي قضاوت دی .[6]
**حکومت:** له وزیرانو څخه جوړ شوی دی چې د جمهور رئیس تر اثر لاندې خپلې دندې تر سره کوي .[7]
**د Human Rights یا د بشر حقوق د اسلام له نظره:** د بشر حقوق د انسان د فطرت د برخاسته اصولو مجموعه ده چې الله ﷻ انسان ته ورکړي دي چې د هغې هدف په ټولنه کې د انساني کرامت ساتل او د اجتماعي عدالت تأمینول دي.
**د Human Rights یا د بشر حقوق د غرب له نظره:** د بشر حقوق هغه ټول امتیازات او اساسي حقوق دی چې ټول انسانان یې د انساولۍ له امله لري او حق یې دی چې ویې لري.
**دلیل:** هغه دی چې د هغه په وسطه علم په مطلوب حاصلیږي.[8]
**دین:** الشرع الالهی المتلقی عن طریق الوحی یا (الهی شرع ده چې د وحې له طریقه متلقي کیږي). یا دین له هغه حقوقو او یا تعهداتو څخه عبارت دی چې د هغه د موجبه اسبابو پر بنسټ شخص د هغه پر اداء مکلف وي .[9]
**سب:** یوه فقهي اصطلاح ده چې مقدساتو او انبیاؤ ته توهین او سپکاوي په کې وي.[10]
**سلف:** پر هغه شخص باندې اطلاق کیږي چې په پخوا زمانو کې موجود ؤ او یا یې اتفاق موندلی وي.[1]

---

١ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ١ ، ص ٢٣
٢ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٠
٣ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٥٨
٤ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٧٨
٥ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٧٥
٦ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٨٠
٧ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٨١
٨ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ١٢٩
٩: پورتنۍ مرجع: ج ١ ، ص ١٧٥
١٠ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع:** ج ٧، ص ١٧٩ . **الانصاف:** ج ۴ ، ص ١٨٥ . **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ١ ، ص ١٨٦

**سنت:** د اسلام د ستر پیغمبر حضرت مُحَمَّد رسول الله ﷺ فعل ، قول او تقریر ته وایي.[2]
**شاهد:** هغه شخص ته ویل کیږي چې د یو امر د وقوع او یا پر یو بل شخص باندې له یو حق د شتون څخه خبر وي او عند المطالبه د قضأ په مجلس کې هغه بیان کړي.[3]
**عقل:** هغه مدرکه او حاکمه قوه ده چې انسان د واقعیتونو او د افعالو په سرته رسولو کې رهبري کوي.[4]
**فسق:** د حق او عدالت له لارې څخه وتل او د شرعي امرونو پرېښودل دي.[5]
**فقه:** د شرعي او عملي مسایلو پوهېدل دي چې له تفصیلي دلیل څخه استنباط شوی وي.[٦]
**قاضي:** هغه شخص ته وایي چې قضائي انسلاک ولري او حکم صادروي.[٧]
**قانون:** په شکلي او ماهوي لحاظ باندې تعریف کیږي:

- **د قانون شکلي تعریف:** د افغانستان د اساسي قانون د حکم پر اساس د ملي شورا د دوړو مجلسونو مصوبه چې د جمهور رئیس له خوا توشېح او د عدلیې وزارت په رسمي جریده کې نشر شوی وي عبارت له قانون څخه دی .[8] او یا هم شکلي قانون په دې ډول سره تعریفوو چې **شکلي قانون:** هغه مجموعه قواعد دي چې د محاکمو محاکماتي اجراأت تنظیموي.
- **د قانون ماهوي تعریف:** عبارت له هغه صریحو او معقولو قواعدو څخه دي چې د حاکمه پلاوي له خوا ، د ټولنې د نظم د ساتنې او د وګړو د حقوقو د تأمین لپاره وضع کیږي او تطبیق یې جبر سره دی .[9]

**قتل:** په ارادي توګه د یو انسان پر ژوند د بل انسان لخ خوا تجاوز دی.[10]
**قرار:** هغه تصمیم دی چې د طرحه شوې موضوع په اړه د شکلي او محاکماتي اصولو له مخې د واکمنو مراجعو له خوا نیول کیږي .[11]
**قرینه:** د یو مجهول امر استنباطول دي له یو معلوم امر څخه.[12]
**قصاص:** د ژوندانه له ختمولو څخه عبارت دی او د حق العبد له حقوقو څخه دی چې په عمدي قتل کې د مقتول د ورثې لخوا تر سره کیږي.[13]
**قضاء:** عبارت د هغه حکم څخه ده چې د ځانګړو الفاظو او کلیمو سره په غوځ او مبرم ډول د قاضي په واسطه

---

١ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ١ ، ص ١٨٩
٢: **تیسیر الأصول الی قواعد الأصول و معاقد:** ج ١ ، ص ٢٧
٣ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ١ ، ص ١٩٣
٤: پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢١
٥: پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢٣
٦: پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢۴
٧: پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ، ٢٢٥
٨ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢٥
٩ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢٥
١٠ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢٨
١١ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٠
١٢ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢٨
١٣ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢٩

صادریږي .[1]

**قضاوت:** د حکم د اصدار او تنفیذ په اړه د قاضي د فعل څخه عبارت دی.[2]

**قیم:** هغه شخص ته وایي چې د واکمنې محکمې د حکم له مخې هغه ته یو امر یا امرونه ورسپارل شوي وي او د هغو په نظم او اداره کې مسئول وي .[3]

**مرتد:** هغه شخص چې د ارتداد عمل یې تر سره کړي وي او فقهاؤ په دې ډول تعریف کړی دی چې: المُرتد هو الراجع عن دین الاسلام الی الکفر یا مُرتد هغه څوک دی چې د اسلام د دین څخه کفر ته اووښتی وي.[4]

**مُرتکب:** هغه څوک چې د قانون پر خلاف عمل وکړي او د دې عمل لپاره په قانون کې جزا ء ټاکل شوي وي ، مُرتکب ګڼل کیږي.[5]

**ملي خیانت:** هغه قصدي عملونه دي چې د یوه هېواد تبعه ، د هېواد د حاکمیت ، صیانت ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي امنیت پر ضد د ورانکارۍ فعالیتونه سرته رسولي وي .[6]

**محکمه:** هغه ځای یا مجلس دی چې په هغه کې د قضایي هیئت له خوا دعوی څېړل کیږي.[7]

**محکوم:** هغه شخص ته ویل کیږي چې د قانون او د محکمې د حکم په اساس محکوم شوی وي.[8]

**مؤکل:** هغه شخص ته وایي چې بل شخص ته د یوه امر یا امرونو د تر سره کولو په اړه وکالت ورکوي.[9]

**نکاح:** نکح هغه عقد دی چې په دوامداره او استمراري ډول یو له بل څخه د ښځې او مېړه د استمتاع حلالېدل افاده کوي.[10]

**نکول:** له لوړې (یمین) څخه انکار کولو ته د محکمې په وړاندې ویل کیږي.[11]

**وصي:** هغه څوک دی چې د موصی لهُ لخوا د هغې د وصیتونو د ترسره کولو لپاره ټاکل کیږي.[12]

**وکیل:** هغه شخص چې د بل چا له خوا د وکالت د عقد له مخې د یوه امر او یا امرونو د تر سره کولو لپاره ګومارل شوی وي .[13]

**ولایت:** هغه واکمني ده چې شخص یې د شرعې او قانون سره سم د بل چا پر مال او ځان پیدا کوي .[14]

**ولي:** هغه شخص دی چې پر صغیر ماشوم یا غیر رشید باندې ولایت لري.[1]

---

١ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ١ ، ص ٢٢٩

٢ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٢٨

٣ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٣٣

٤ : **الفقه الاسلامی و أدلته:** حد الردة و احکام المرتدین ، ج ۶ ، ص ١٧٣

٥ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ١ ، ص ٢۶٠

٦ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٧٧

٧ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢۵٧

٨ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢۵٧

٩ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٨١

١٠ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٩٠

١١ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٩٠

١٢ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٩۴

١٣ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٩۵

١٤ : پورتنی مرجع: ج ١ ، ص ٢٩۵

## آیا ارتداد حـدي جرم دی او که تعــزيري ؟

دا چې آیا ارتداد د شرعي حدودو څخه يو حد دی او که تعزيری جرم دی ؟ په دغه هکله د فقهاؤ لخوا دوه مختلف نظريات وړاندې شوي دي کوم چې د دلايلو سره په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نيسو:

**لومړی: د ځينې معاصرو فقهاؤ لکه منير ادلبي نظريه:** دغه فقهاء وايي چې ارتداد د شرعي حدودو څخه ندی بلکې دا يو تعزيري جرم دی او مُرتد بايد تعزيرا مجازات او په سزا ورسيږي.

**د دغه نظريې د فقهاؤ دلايل:**

1. ټول حدي جرايم په استثنا د شرابو د حد څخه په قران کريم کې صراحتا بيان شوي دي او حتی هغه حدود چې سزا يې له قتل څخه په کمه اندازه کې دي لکه: جلد هم په قرآن کريم کې تصريح شوي دي ، اما د ارتداد په هکله کوم صراحت ندی موجود او دا خپله په دې باندې دلالت کوي چې ارتداد د شرعي حدودو څخه ندی.[2]
2. د ارتداد جرم نه تنها د قرآن کريم په يو آيت کې ذکر شوی دی بلکې د قرآن کريم په خو ايتونو کې ذکر شوی دی لکه: د سورة النساء ۱۳۸ آيت ، د سورة مُحَمَّد ۲۶ آيت ، د سورة مائدة ۵۵ آيت ، د سورة النحل ۱۰۷ آيت ، د سورة آل عمران ۹۰ آيت ، د سورة آل عمران ۱۴۵ آيت ، د سورة بقرة ۱۰۸ آيت ، او داسې نور چې ضمني او صريح شکل سره يې د ردة موضوع ته اشاره کړېده ، که الله ﷻ غوښتل نو په پورتنيو آيتونو کې به يې حد اقل په يو آيت کې د ارتداد حد مشخص کړی ؤ ، حال دا چې په پورته آيتونو کې په هيڅ يو کې هم د ارتداد د حد په هکله کومه تصريح نده شوې،[3] ،نو په دغه اساس باندې پوهيږو چې ارتداد د شرعي حدودو څخه نه دی بلکې مُرتد تعزيرتا مجازات کيږي.
3. له بلې خوا د ردة د حد ګڼلو روايات د قرآن کريم سره په تعارض کې دي او هر کله چې د قرآن کريم د نص سره کوم نور روايات په تعارض کې راشي نو د قرآن کريم حکم ته ترجيح ورکول کيږي.[4]
4. همدارنګه نور تاريخي واقعات هم موجود دی چې مُرتد واجب القتل ندی او شرعي حد نلري ، لکه چې د هغه تړون چې رسولُ الله ﷺ د مکې د مشرکينو سره کړی ؤ په دريمه ماده کې راغلي دي چې: د قريشو هر فرد که د خپل ولي او سرپرست له اجازې پرته وتښتي او مُحَمَّد ﷺ سره يو ځای شي ، بايد هغه بېرته هغوی ته وسپاري ، او هر کله چې که يو خوک د مُحَمَّد ﷺ له ډلې څخه وتښتی او قريشو سره يو ځای شي ، بېرته به ورته نه سپارل کيږي[5] ، دغه تړون کوم چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ په مبارکو لاسونو باندې

---

۱ : **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس:** ج ۱ ، ص ۲۹۵
۲ : **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۷
۳ : پورتنی مرجع: كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۸
۴ : **الاشباه والنظائر:** للشيخ زين العابدين بن ابراهيم بن نجيم ، المتوفى سنة ۹۷۰ ه ق ، ج ۱ ، ص ۷۵ ؛ ۸۷
۵ : **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۸

قبول شوی دی ، د ارتداد د حد د اجراء او تطبيق لپاره پکې کوم څه ندي ياد شوي او نه پکې کومه ضميمه په دغه هکله موجوده ده ، چې د ارتداد د حد اجراء يې د ستونزو سره مخامخ کړی دی ، که چېرته ارتداد د شرعي حدودو څخه ؤ نو رسولُ الله ﷺ به په هغه باندې ډېر تأکيد کړی وای او هېڅ کله به هم له هغه څخه نه تېرېدو ، حال دا چې په دغه معاهده کې د ارتداد د حد په هکله کوم ځای ندی موجود.

5. د عبد الله ابن أبي سرح قضيه هم د مُرتد په عدم مجازات باندې دلالت کوي ، عبدالله ابن أبي سرح چې د رسولُ الله ﷺ د وحي کاتب ؤ ،[1] مدعي شو او داسې ادعا يې وکړه چې ما باندې وحې نازل کيږی او بيا د اسلام د دين څخه واوښتو او د مشرکينو سره يو ځای شو ، تر دې چې د مکې د فتحې په ورځ باندې رسولُ الله ﷺ د هغه د قتل فرمان صادر کړو ، اما حضرت عثمان رضی اللّهُ تعالی عنهُ چې د هغه رضاعي ورور ؤ ، د رسولُ الله ﷺ څخه يې ورته امان وغوښتلو ، او رسولُ الله ﷺ هم هغه معاف کړو.[2] که ارتداد د حدودو څخه ؤ نو رسولُ الله ﷺ به عبدالله بن أبي سراح ته امان نه ورکولو حال دا چې رسولُ الله ﷺ به په حدودو کې کمترين رأفت او شفاعت نه منلو ، د مثال په ډول: کله چې اسامه بن زيد د هغې ښځې په هکله چې غلا يې کړې وه د حد د نه جاري کېدلو لپاره يې واسطه وکړه او د حد د معافی غوښتونکی شو ، رسولُ الله ﷺ وفرمايل: « أَتَشْفَعُ فِى حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ »؟ [3] ژباړه: آيا ته د الله ﷻ د حدودو څخه په حد کې شفاعت کوې؟ پس معلوميږي چې ارتداد د شرعي حدودو څخه ندی که نه نو رسولُ الله ﷺ به د حضرت عثمان رضی اللّهُ تعالی عنهُ شفاعت د عبد الله ابن أبي سرح په مورد کې هېڅکله هم نه ؤ قبول کړی.

دغه فقهاء داسې نظر لري چې کوم مُرتدين چې د اسلام په تاريخ کې په قتل باندې رسول شوي دي ، دوی ته د نفس ارتداد په مورد کې سزا نده ورکړل شوې بلکې دوی ته چې کومه د قتل سزا ورکړل شوې ده ، دا ورته په سبب د يوځای کېدلو د هغوی د اسلام د دښمنانو سره ورکړل شوې ده.

**دويم: د جمهورو علماؤ نظريه:** جمهور علماء وايي چې ارتداد د شرعي حدودو څخه يو حد دی او مُرتد بايد حدا مجازات شي او په سزا باندې ورسيږي.

---

١ : **تحفة الأشراف** بمعرفة الأطراف: جمال الدين أبو الحجاج يوسف بن عبدالرحمن المزی ، المتوفی سنة ٧٤٢ ه ، ناشر: دارالکتب لأيلامی و الدارالقييمة ، ج ٥ ، ص ١٧٦

٢: **اطراف الغرائب والافراد:** أبی الفضل مُحَمَّد بن طاهر المقدسی ، دارالکتب العلمية ، ج ٥ ، ص ٧٩ . **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ٤ ، ص ١٤٨

٣: **صحيح البخاري:** باب کراهية الشفاعة فی الحد ، ج ٦ ، ص ٢٤٩١ ، د حديث شمېره ٦٤٠٦ **صحيح مسلم:** للامام مسلم أبو الحسن بن الحجاج القشيري النيشاپوري ، المتوفی سنة ٢٦١ ه ق ، باب قطع السارق الشريف و غيره والنهی عن ، ج ٥ ، ص ١١٤ ، د حديث شمېره ٤٥٠٥ (په صحيح مسلم کې د حديث شريف مکمل متن په دې ډول سره دی: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِى سَرَقَتْ فَقَالُوا مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللَّهِ -ﷺ- فَقَالُوا وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلاَّ أُسَامَةُ حِبُّ رَسُولِ اللَّهِ -ﷺ-. فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- « أَتَشْفَعُ فِى حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ ». ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ فَقَالَ « أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا ». وَفِى حَدِيثِ ابْنِ رُمْحٍ « إِنَّمَا هَلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ »)

**د دغه نظريې د فقهاؤ ځواب:** دغه نظريه چې د جمهورو فقهاؤ ده ، په لاندې توګه پورته نظرياتو ته ځواب ورکوي او وايي چې ارتدد د شرعي حدودو له جملې څخه دی:

1. د قرآن کريم په نصوصو کې د ارتداد د دنيوي جزا د عدم تذکر يا نه يادولو څخه دا نتيجه نه شو اخيستلی چې ارتداد د شرعي حدودو څخه ندی ، داسې نور حدود هم شته چې جزا يې د قرآن کريم په نص کې نه ده ذکر شوې ، لکه: د شرابو حد چې د شراب څکونکی جزا په قرآن کريم کې نده ذکر شوې اما جمهور فقهاء د شرابو حد يو شرعي حد ګڼلی دی.[1]
2. کوم روايات چې د ارتداد د سزا په هکله په احاديثو کې ذکر شوي دي ، د قرآن کريم د نصوصو سره په تعارض کې ندي بلکې د قرانکريم سره په يو توافق کې واقع دي او د ارتداد د جريمې په کتنه او د قرآني نصوصو په رڼا کې ذکر شوي دي او هېڅ نوع تعارض پکې نه ليدل کيږي.[2]
3. کوم څه چې د رسولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَليْهِ وسَلَّمَ د تړون په دريمه ماده کې د مشرکينو سره ذکر کړی دي ، دقيقا معلوم ندی چې آيا دې تړون مخکې د ردة د جرم د حکم څخه صورت نيولی دی او که وروسته ، نو نشو کولای چې ردة د جرم څخه وباسو.[3]
4. د عبد الله ابن أبي سرح د معاف کولو قضيه او هغه هم د حضرت عثمان رضی اللهُ تعالی عنهُ په شفاعت باندې: دغه قضيې هغه وخت صورت نيولی دی چې عبد الله ابن أبي سرح استتابه کړې وه ، اسلام ته يې بېرته رجوع کړې وه او بېرته مسلمان شوی ؤ لکه څرنګه چې امام قرطبي دغه موضوع ته اشاره هم کړې ده [4] ، او دا طبيعي خبره ده چې توبه ويستل د ارتداد په اړوند د حد د تطبيق مانع ګرځي. په صحيح حديث کې د مُرتد سزا ذکر شوې ده کوم چې د قتل څخه عبارت ده ، عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ رضی الله تعالی عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَليْهِ وسَلَّمَ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [5] . ژباړه: د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې خپل دين (د اسلام دين) بدل کړو ، قتل يې کړئ.
5. د رسولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَليْهِ وسَلَّمَ په وخت کې په يوې مُرتدې ښځې باندې د ارتداد احکام جاري شوي دي.[6]

---

[1] : **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة**: كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۷

[2] : پورتنی مرجع: ج ۴ ، ص ۱۴۷

[3] : پورتنی مرجع: ج ۴ ، ص ۱۴۷

[4] : پورتنی مرجع: ج ۴ ، ص ۱۴۷

[5] : **صحيح البـــخاری**: ، ج ۶ ، ص ۲۵۳۷ ، د حديث شمېره ۶۵۲۴

[6] : له حضرت جابر رضی الله تعالی عنه د رسول الله ﷺ څخه دغه حديث شريف روايت کړی دی چې فرمايي: عن جابر رضی اللهُ تعالی عنهُ قال أَنَّ امْرَأَةً يُقَالُ لَهَا: أُمُّ مَرْوَانَ , ارْتَدَّتْ عَنْ الْإِسْلَامِ , فَبَلَغَ أَمْرُهَا إِلَى النَّبِيِّ ﷺ . فَأَمَرَ « أَنْ تُسْتَتَابَ , فَإِنْ تَابَتْ , وَإِلَّا قُتِلَتْ » ، ضعفه الباني فی لأرواء الغليل ۲۴۷۲ . **سنن دار القطني**: للامام شيخ الاسلام أبو الحسن علی بن عمر بن أحمد بن مهدی البغدادی ، المتوفی ۳۸۵ هـ. ، كتاب الحدود

**راجح قول :** پورته دواړو نظریاتو ته په پاملرنه او د جمهورو فقهاؤ مؤثق ، معتبر ، معقول او په زړه پورې دلایل ، او د ارتداد تاریخي سیر ته په نبوي عصر او د خلفای راشدینو په دوره کې په کتنه ، دا واضح کیږي چې ارتداد د شرعي حدودو له جملې څخه یو حد دی ، او مُرتد باید حدا مجازات شي. والله اعلم.

---

والديات ، ج ۳، ص ۱۱۸ ، د حدیث شمېره ۱۲۲ ؛ **سنن الكبرى للبيهقى**: للامام الحافظ العلامة أبوبكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسرو جردى البيهقي ، ناشر: مكتبة دارالباز ، مكة المكرمة ، المتوفى سنة ۴۵۸ ه ق ، د چاپ کال ۱۴۱۴ ه ق ، المتوفى سنة ۴۵۸ ه ق ، ، باب قتل من ارتد عن الاسلام ، ج ۸ ، ص ۲۰۳ ، د حدیث شمېره ۱۱۳۱۸

# لومړی فــصـل

## په اســـلامي فقه او د افغانســــتان په نافذه قوانينو کې د ارتداد پېژندنه

## (د ارتداد تعريف، ارکان، او شروط)

## لومړی مبحث: د ارتداد پېژندنه

### لومړی مطلب: د ارتداد تعريف:

**الف: د ارتداد لغوي معنی:** ارتداد او ردة په لغت کې د يو شي شخه بېرته ګرځېدلو ، رجوع ، شاتګ ، او هغه لارې ته بېرته ګرځېدلو ته وايي چې له هغه ځايه راغلی وي،[1] لکه چې الله ﷻ په قرآنکريم کې فرمايي:

﴿ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِكُمْ ﴾[2] ژباړه: او مه ګرځئ يا مه اوړئ په شاګانو خپلو ...

همدارنګه علامه ابن منظور[3] د ردة لغوي معنی داسې کوي چې:

**ردد: الرد: صرف الشئ و رجعه**[4]، يعني د يو شي شخه ګرځېدل او تېرېدل.

او د حضرت عايشې رضی اللهُ تعالی عنها په حديث کې راغلي دي چې: « مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ »[5]، چې پورته حديث شريف کې د رَدٌّ کلمه استعمال شوې ده چې د ګرځېدلو په معنی سره ده ، او په قرآن کريم کې داسې کې فرمايل شوي دي چې: ﴿وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ ﴾[6] يعني له تاسې شخه چې هر څوک له دې دين شخه واوړي ، او **الردة عن الاسلام** يعني د اسلام شخه وګرځي ، او **ارتد فلان عن دينه** يعني فلاني کفر اختيار کړو بعد له اسلام شخه.

**ب: د ارتداد اصطلاحي معنی:** فقهاؤ د ارتداد اصطلاحي تعريف په لاندې ډول سره کړی دی:

1. د اسلامي شريعت له نظره ارتداد عبارت دی له: د اسلام د دين پرېښودل او بيرته کفر ته ګرځېدل ، نو په همدې اساس ارتداد هغه مسلمان ته کارول کيږي چې له اسلام نه کفر ته وګرځي او کفر د خپل دين او

---

١: **لسان العرب**: ج ٥ ، ص١٨۴ ؛ **الخرشی**: ج ٨ ، ص ۶٢ ؛ **المغني**: ج ٨ ، ص ۵۴٠.

٢ : **د المائده سورت**: ٢١ آيت

٣: پوره نوم يې مُحَمَّد بن مكرم بن علي أبو الفضل جمال الدين ابن منظور الأفريقي المصري دی چې په علامة ابن منظور باندې شهرت لري ، په ۶٣٠ ه کې په مصر کې زيږېدلی دی ،نوموړی د لغت امام دی لسان العرب يې د مهمو تأليفاتو له جملې شخه دی ، چې د عربي ژبې د لغت په ډګر کې د پورته مقام شخه برخمند دی او ډېری علماء د کتابونو په تأليف کې د ديني موضوعاتو د لغوي معنی لپاره ترې استفاده کوي ، په قاهرة کې او طرابلس کې يې د قضاء دندې تر سره کړې دي ، نوموړی په ٧١١ ه ق کال کې وفات شوی دی. وګوره[الأعلام للزركلي ،ج ٧ ، ص ١٠٨ : خير الدين بن محمود بن مُحَمَّد بن على بن فارس الزركلي الدمشقي2002 م ، ناشر : دار العلم للملايين ، پنځلسم چاپ].

٤: **لسان العرب**: ج ٥ ، ص١٨۴

٥: **صحيح البخاری**: باب اذا اجتهد العامل او ألحاكم فأخطأ ، ج ۶ ، ص ٢۶٧۵ ، د حديث شمېره ٢۵۵٠ ؛ **صحيح مسلم**: باب نقض الأحكام الباطلة ورد محدثات ، ج ۵ ، ص ١٣٢ ، د حديث شمېره ۴۵٩٠

٦: **د البقرة سورت**: ٢١٧ آيت

ژوندانه د تګلارې په توګه غوره کړې.

2. علامه کاساني حنفي رحمة الله علیه[1] ارتداد په لاندې ډول تعریف کړی دی:

**الردة عبارة الرجوع عن الاسلام او قطع الاسلام.** [2] یعنې ردة عبارت دی له ګرځېدلو د اسلام څخه او یا قطع کولو د اسلام څخه.

3. او علامه قلیوبي رحمة الله علیه د ارتداد تعریف په دې ډول سره کوي چې:

**الردة هی قطع الاسلام بنیة الکفر او قول کفر او فعل کفر مکفر (سواء) فی القول (قال استهزاء او عنادا او اعتقادا).** [3]

ژباړه: ارتداد د اسلام سره د کفر په نیت علاقه قطع کول دي ، او یا د کفر کلیمة په خوله جاري کول دي ، او یا د کفر کار کول چې دی پرې کافر کیږي ، برابره خبره ده چې د کفر د کلمې وینا په مسخروي ، یا عنادي او یا عقیده وي شکل سره وي.

4. استاذ وهبة الزهیلی [4] د ردة معنی داسې کوي چې:

الردة: **الرجوع عن الشئ الی غیره ،** [5] یعنې د یو شي څخه ګرځېدل بل شي ته بغیر له هغه نه.

خو د شریعت له نظره د ردة معنی په ځانګړي ډول کفر ته ګرځېدل دي ، چې په اسلامي فقه کې هم ارتداد کفر ته د ګرځېدلو په معنی کارول کیږي.

5. سعدي ابو جیب د ارتداد اصطلاحي تعریف په داسې ډول سره کوي چې:

**الردة هی: قطع من یصح طلاقه الاسلام بکفر، عزما، أو قولاً أو فعلاً استهزاء کان ذالکُ أو عنادا، أو اعتقادا، کنفی وجود الله تعالی، أو نفی نبی، أو تکذیبه، أو جحد أمر مجمع علیه معلوم من الدین ضرورة بلا عذر، أو تردد فی کفرُ أو القاء مصحف بقاذورةُ أو سجود لمخلوق.** [6]

6. داکتر وهبة الزهیلی د ارتداد اصطلاحي تعریف په دې دول سره کړی دی:

---

١ : پوره نوم یې علاء الدین أبو بکر بن مسعود الکاساني الحنفي دی چې په ملك العلماء باندې شهرت لري ، د حلب د ښار اوسېدونکی ؤ او د احنافو د مشهورو علماؤ څخه دی ، بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع او السلطان المبین في أصول الدین یې مهمو تالیفاتو له جملې څخه دي ، په ۵۸۷ هـ کال کې په حلب کې وفات شوی دی. وګوره: [الأعلام للزرکلي ،ج ۲ ، ص ۷۰ : خیر الدین بن محمود بن مُحَمَّد بن علی بن فارس الزرکلي الدمشقي2002 م ، ناشر : دار العلم للملایین ، پنځلسم چاپ]

٢ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشــرایع**: ج ۷ ، ص ۱۳۴

٣ : **قلیوبی**: لشهاب الدین أحمد بن أحمد بن سلامة القلیوبي ، المتوفی سنة ۱۰۶۹ هـ ، ناشر: دارلفکر ، ۱۴۱۹ هـ ، ج ۴ ص ۱۷۴

٤ : پوره نوم یې دوکتور وحبة بن مصطفی زحیلي دی چې په ۱۳۹۲ م کال کې په دمشق کې زیږېدلی دی ، ابتدایي او ثانوي زده کړې یې په دمشق کې تر سره کړي دي ، د مصر د الازهر پوهنتون کې یې د شرعیاتو پوهنځی لوستی او بالآخره په الازهر کې د دوکتورا (Phd) تر کچې لوړې زده کړې تر سره کړي او د دمشق په پوهنتون کې یې د استاد په توګه دنده تر سره کړې ده ، الفقه الاسلامي و أدلته ، آثر الحرب فی الفقه الاسلامي ، تفسیر المینیر ، الوجیز فی اصول الفقه یې د مشهورو تألیفاتو څخه دي ، په دې نږدې وختونو کې په ۱۴۳۶ هـ ق کال کې وفات شوی دی. وګوره [الموسوعة العربیة العالمیة].

٥:**الفقه الاســلامي و ادلته**: الفصل السادس ، حد الردة و احـــکام لمُرتدین ، ج ۶، ص ۱۷۲

٦: **القاموس الفقهي لغتا و اصطلاحا**: ج ۱ ، ص ۱۴۷

**الرجوع عن دين الاسلام الى الكفر، سواء بالنية أو بالفعل المكفر أو بالقول، و سواء قال استهزاء أو عنادا او اعتقادا.** [1]

د اسلام د دين څخه کفر ته ګرځېدل دي ، برابره خبره ده چې دغه ګرځېدل يې په نيت ، صريح لفظ او يا کولو د داسې يو عمل چې متضمن د ارتداد وي ، او دا وينا په ټوکو يا قصدا او يا عقيدوي شکل سره وي.

7. علامه قليوبي ارتداد داسې تعريفوي چې: د اسلام څخه کفر ته ګرځېدلو ته ارتداد وايي.[2]

**د افغانســـتان په حقوقي سيســـتم کې ارتداد داسې تعريف شوی دی:** ارتداد د حدودي جرمونو له جملې څخه يو جرم دی چې مُرتکب يې له اسلام څخه کفر ته رجوع کوي.[3]

**پورته تعريفاتو ته په کتنه ارتداد په دې ډول سره تعريف کوو:** د يو عاقل او بالغ مسلمان په خپله خوښه بيدون له کوم جبر او اکراه څخه ، د اسلام د مقدس دين څخه ګرځېدلو او د هغه کافر کېدلو ته ارتداد وايي.

**د مُرتد تعريف:** مُرتد هغه کس ته ويل کيږي چې د ارتداد عمل يې تر سره کړی وي ، په دغه هکله فقهاؤ لاندې تعريفات څرګند کړي دي ، چې په مقايسوي ډول يې تر څېړنې لاندې نيسو او په آخره کې مُرتد په ښه شکل سره تعريفوو :

1. ابن قدامه حنبلي رحمة الله عليه [4] په خپل کتاب المغني کې مُرتد په دې ډول تعريفوي چې:

   **المُرتد هو الراجع عن دين الاسلام الى الكفر.** [5]

   ژباړه: مُرتد هغه څوک دی چې د اسلام څخه کفر ته واوړي.

2. استاد وهبة الزهيلي هم په عين الفاظو باندې مُرتد تعريف کوي چې:

   المُرتد: هو الراجع عن دين الاسلام الى الكفر.[6]

   ژباړه: مُرتد هغه څوک دی چې د اسلام څخه کفر ته وګرځي.

---

١: **الفقه الاســلامى و أدلته:** الفصل السادس ، حد الردة و احكام المُرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۷۲

٢ : **المغني:** ج ۸ ، ص ۵۴۰

٣ : **نظام حقوقي افغانســـتان:** دوکتور عبدالحی علمي ، عضو کميته بين المللي حقوقي: ج ۱ ، ص ۳۷۸

٤ : پوره نوم يې عبد الرحمن بن مُحَمَّد بن أحمد بن قدامة . أبو الفرج ، المقدسي دی ، په ۵۹۷ ه کې زيږېدلی دی ، نوموړی په خپل عصر کې يو لوی فقيه ، محدث او اصولي عالم ؤ چې په خپل وخت کې د حنبلي مذهب د علماؤ مشر هم ؤ او څه د پاسه ۱۲ کاله يې د قضاء دنده تر سره کړې ده ، " شرح المقنع " په لسو جلدونو کې او " تسهيل المطلب في تحصيل المذهب " يې د مشهورو تأليفاتو له جملې څخه دي. نوموړی په ۶۸۲ ه کې وفات شوی دی. وګوره [شذرات الذهب: ج ۶ ، ص ۳۷۶ ؛ الذيل على طبقات الحنابلة: ج 1 ، ص ۳۱۹ ؛ او معجم المؤلفين: ج ۵ ، ص ۳۶۹ ]

٥ : **المغني:** ج ۸ ، ص ۵۴۰ ؛ **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية:** للعلامة الهمام مولانا الشيخ نظام و جماعة من علماء الهند الاعلام وبهامشه فتاوى قاضيخان والفتاوى البرازية ، باب فی احكام المُرتدين ، ج ۲ ، ص ۲۵۳. او **کفري الفاظ او د هغو احکام:** مولانا مفتي عبدالشــکور قاســـمي ، ژباړه: ډاکتر کفايت الله وردک ، ج ۱ ، ص ۳۲.

٦ : **الفقه الاســـلامي و أدلته:** الفصل السادس ، حد الردة و احكام المُرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۷۳

يا په بل عبارت: المُرتد هو المكلف الذى يرجع عن الاسلام طوعا اما بتصريح بالكفر ، او بلفظ يقتضيه ، او بفعل يتضمنه.[1]

3. همدارنګه مولانا مفتي عبدالشكور قاسمي رحمة الله عليه مُرتد په دې ډول سره تعريف کړی دی چې: مُرتد هغه سړي يا ښځې ته وايي چې د اسلام د دين څخه وګرځي ، يعنې د ايمان او اسلام له ځلانده دايرې څخه ووځي او د کفر او شرک تپو تيارو ته ننوځي.[2]

پورته تعريفاتو ته په کتنه ، مُرتد په لاندې ډول تعريف کوو:

مُرتد هغه څوک دی چې د اسلام د مبارک دين څخه کوم بل دين يا کفر ته واوړي او کفر د خپلې تګلارې په توګه اختيار کړي.

## دويم مطلب: په اســلامي شــريعت کې د ارتداد د کلمې استعمال:

د ارتداد کلمه په کتاب الله (قران کريم) او نبوي احاديثو کې استعمال شوې ده چې مونږ ترې دلته مختصرا په دواړو شرعي مصاديرو کې فقط يادوونه کوو.

**الف: په کتاب الله (قرآنکريم) کې د ارتداد د کليمې استعمال:**

الله ﷻ د خپل سپېڅلي کلام قرآن عظيم الشان په څو آيتونو کې د ارتداد څخه يادونه شوې ده ، د کومو څخه چې مونږ دلته په مختصر ډول سره يادوونه کوو:

الله ﷻ فرمايي:

﴿يَسأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾[3]

ژباړه: خلک ستا څخه پوښتنه کوي چې (په حرامه مياشت کې جنګېدل څنګه دي؟)، ورته ووايه: په دې کې جنګ کول ډېر بد دي ، خو د الله ﷻ د لارې څخه د خلکو منع کول ، پر الله ﷻ باندې کافر کېدل ، د مسجد الحرام لاره د الله پالونکو پر مخ تړل او د حرم اوسېدونکي له هغه ځايه ايستل ، د الله ﷻ پر وړاندې له هغه څخه هم زيات بد کار دی ، او فتنه له وينې تويولو څخه لويه ګناه ده ، هغوی به ستاسې سره تل په جنګ اخته وي ، آن تر دې چې که يې وس ورسيږي ، نو تاسې به له دې دين څخه واړوي (او په دې ښه پوه شئ) له تاسې څخه چې هر څوک له دې دين څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنيا او آخرت دواړو کې برباد او

---

١: **الفقه الاســـلامي و أدلته**: الفصل السادس ، حد الردة و احكام المُرتدين ، ج ۶ ، ص ١٧٣

٢: **کفري الفاظ او د هغو حکمونه**: ج ١ ، ص ٣٢

٣: **د البقرة سورت** ، ٢١٧ آيت

ضایع شي ، داسې خلک ټول دوزخیان دي او تل به په دوزخ کې اوسیږي.
په پورته آیت شریف کې په **حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ** کې او **وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ** کې د ارتداد کلمه استعمال شوې ده.

همدارنګه الله ﷻ فرمايي:
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾[1]
ژباړه: ای هغه کسانو چې تاسې ایمان راوړی دی! که له تاسې څخه څوک له خپل دین څخه واوړي ، الله ﷻ به نور ډېر داسې خلک پیدا کړي چې الله ﷻ ته ګران وي او الله ﷻ هغوی ته ګران وي ، چې له مؤمنانو سره به نرمي کوي او پر کافرانو سختي ، چې د الله ﷻ په لار کې به جد و جهد وکړي او د هېڅ ملا ماتونکي له پېغور څخه ونه ویریږي ، دا د الله ﷻ فضل دی ، چاته یې چې خوښه شي ورکوي یې ، الله ﷻ د پراخه وسایلو څښتن او پر هر څه پوهیږي.
په پورته آیت شریف کې په **مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ** کې د ارتداد کلمه استعمال شوې ده.

په بل آیت شریف کې الله ﷻ فرمايي:
﴿إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ﴾[2]
ژباړه: بېشکه هغه کسان چې د هدایت له روښانه کېدلو څخه وروسته په شا وګرځېدل ، د هغو لپاره شیطان دغه کړنلاره آسانه کړې ده او د دروغجنو هیلو لړۍ یې د هغو لپاره اوږده کړې ده.
په پورته آیت شریف کې په **إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم** کې د ارتداد کلمه استعمال شوې ده.

همدارنګه الله ﷻ د قرآنکریم په بل آیت شریف کې هم د ارتداد څخه یادوونه کوي:
﴿قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا﴾[3]
ژباړه: موسی علیه السلام وویل : " مونږ خو د همدې په لټه کې ؤ ، نو هغوی دواړه په خپلو پلونو قدم په قدم په شا ستانه شول.
په پورته آیت شریف کې په **فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا** کې د ارتداد کلمه استعمال شوې ده.

---

۱ : **د المائدة سورت** ، ۵۴ آیت
۲ : **د مُحَمَّد سورت:** ۲۵ آیت
۳ : **د الکهف سورت:** ۶۴ آیت

د يعقوب عليه السلام د سترګو د ديد د بېرته راپيدا کېدلو په هکله الله ﷻ فرمايي:

﴿فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [1]

ژباړه: پس هر کله چې زيرى راوړونکى راغى ، هغه د يوسف عليه السلام کميس د يعقوب عليه السلام پر مخ وغوړاوه او په ناڅاپي ډول د هغه د سترګو ديد بېرته راغى ، په دې وخت کې هغه وويل: "ما تاسې ته نه ؤ ويلي چې زه د الله ﷻ د لوري په هغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهيږئ.

په پورته آيت شريف کې په **فَارْتَدَّ بَصِيرًا** کې د ارتداد کلمه استعمال شوې ده.

همدارنګه الله ﷻ فرمايي:

﴿قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُ قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ ﴾ [2]

ژباړه: د کوم سړي سره چې د کتاب يو علم ؤ ، هغه وويل: "زه ستا د بڼو له رپېدو څخه مخکې هغه درته راوړم" ، څنګه چې سليمان عليه السلام هغه تخت له خپل ځان سره اېښودل شوى وليدو ، ويې ويل: "دا زما د رب فضل دى چې هغه ما و ازمايي چې زه شکر کووم او که د هغه ناشکري کووم ، او څوک چې شکر کوي ، د هغه شکر پخپله د همغه لپاره ګټور دى ، او که څوک ناشکري وکړي ، نو زما رب بې نيازه او د سخا خاوند دى."

په پورته آيت شريف کې په **أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ** کې د ارتداد کلمه استعمال شوې ده.

په يو بل آيت کې هم الله ﷻ فرمايي:

﴿مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ﴾ [3]

ژباړه: سرونه نېغ نيونکي به په تېښته وي ، پورته لوري ته به شخ ګوري ، ځان ته به کتلى نشي ، او زړونه به يې الوزي.

په پورته آيت شريف کې په **لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ** کې د ارتداد کلمه استعمال شوې ده.

د ارتداد د عمل څخه الله ﷻ په لاندې آيتونو کې هم يادونه کړې ده ، که څه هم په دغه آيتونو کې د ارتداد کلمه په لغوي شکل سره نده استعمال شوى اما د ارتداد مفهوم پکې نغښتى دى او د هغه کسانو په هکله چې د ايمان څخه وروسته يې کفر اختيار کړى دى او د اسلام د مبارک څخه يې لاس اخيستى دى ، يادونه شوى ده:

الله ﷻ د ايمان څخه وروسته د کفر د اختيار کولو په هکله فرمايي:

---

۱ : **د يوسف سورت:** ۹۶ آيت

۲ : **د النمل سورت:** ۴۰ آيت

۳ : **د ابراهيم سورت:** ۴۳ آيت

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ﴾ [1]

ژباړه: بيشکه هغه کسانو چې له ايمان راوړلو څخه وروسته کفر غوره کړی دی ، بيا يې په خپل کفر کې پرمختګ کړی دی ، د هغو توبه به هم نه قبليږي ، او دا کسان پاخه ګمراهان (لار ورکي) دي (ځکه چې هم يې د الله ﷻ لاره ورکه کړې ده او هم يې د توبې لاره!).

په پورته آيت شريف کې په إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ کې يعنې هغه کسانو چې له ايمان راوړلو څخه وروسته کفر غوره کړی دی ، کې د ارتداد څخه يادوونه شوې ده ، ځکه چې له ايمان راوړلو څخه وروسته د کفر اختيارول يو ارتدادي عمل دی.

همدارنګه د قرآن کريم په بل آيت کې الله ﷻ فرمايي:

﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴾ [2]

ژباړه: په دغه ورځ به څه مخونه سپين او څه تور وي ، د چا چې مخونه تور وي (هغو ته به وويل شي چې) آيا د ايمان د نعمت له موندلو وروسته هم تاسې د کفر چلند غوره کړ؟ ښه ده نو ، اوس د نعمت د ناشکرۍ په بدله کې د عذاب خوند واخلئ.

په پورته آيت شريف کې په أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ کې يعنې د ايمان راوړلو څخه وروسته هم تاسې کافران کيږئ کې د ارتداد څخه يادوونه شوې ده.

همدارنګه الله ﷻ فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ﴾ [3]

ژباړه: بيشکه هغه کسانو چې ايمان راوړ ، بيا کافران شول ، بيا يې ايمان راوړ ، بيا کافران شول ، بيا په خپل کفر کې يې زيات پرمختګ وکړ ، نو الله ﷻ به هېڅکله هغو ته ببښنه ونکړي او نه به هېڅکله هغو ته سمه لار وښيي.

په پورته آيت شريف کې په إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا کې يعنې چاچې ايمان راوړی دی او بيا کافر شي ، کې او همدارنګه په ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا کې يعنې بيا ايمان راوړي او بيا کافر شي کې د ارتداد څخه يادوونه شوې ده.

د ارتداد په هکله الله ﷻ په يو بل آيت کې فرمايي:

﴿كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ وَجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

---

١ : د آل عمران سورت: ٩٠ آيت
٢ : د آل عمران سورت: ١٠۶ آيت
٣ : د النساء سورت: ١٣٧ آيت

الظَّالِمِينَ ﴾[1]

ژباړه: څنګه کېدای شي چې الله ﷻ هغه خلکو ته هدايت وکړي ، چې هغوی د ايمان د نعمت له موندلو څخه وروسته بيا کفر غوره کړ ؟ په داسې حال کې چې هغو په خپله پر دې خبره شاهدي ويلې ده ، چې دا پيغمبر په حقه دی او هغو ته روښانه نښې نښانې هم راغلي دي ، او الله ﷻ ظالمانو ته دسمې لارې هدايت او لارښوونه نه کوي.

په پورته آيت شريف کې په **كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ** کې د ايمان څخه وروسته د کفر اختيارولو کې د ارتداد څخه يادوونه شوې ده.

**ب: په احاديثو کې د ارتداد د کلمې استعمال:**

د رسولُ الله ﷺ په احاديثو کې هم د ارتداد په هکله يادوونه شوې ده چې دلته يې د بېلګې په توګه د ځينې احاديثو څخه يادوونه کوو:

همدارنګه حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه د رسولُ الله ﷺ څخه يو بل حديث شريف روايت کړی دی چې:

« لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلاَّ فِي إِحْدَى ثَلاَثٍ : رَجُلٌ زَنَى وَهُوَ مُحْصَنٌ فَرُجِمَ ، أَوْ رَجُلٌ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ ، أَوْ رَجُلٌ ارْتَدَّ بَعْدَ إِسْلاَمِهِ » [2]

ژباړه: د مسلمان وينه تويول درست ندی مګر په يو د دريو وجهو څخه: يو هغه سړی چې محصن (واده کړی وي) وي او زنا وکړي ، نو سنګسارولی به شي ، دويم هغه چې په ناحقه څوک قتل کړي (هغه به قصاص کې وژلی شي)، دريم هغه چې اسلام راوړلو نه پس مُرتد شي.

په دغه حديث شريف کې د **أَوْ رَجُلٌ ارْتَدَّ بَعْدَ إِسْلاَمِهِ** کې د ارتداد لفظ په صريح ډول سره استعمال شوی دی.

په يو بل حديث شريف کې هم حضرت عبدالله ابن عباس رضی اللّهُ تعالی عنهُ د رسولُ الله ﷺ څخه داسې روايت کړی دی چې:

أُسْرِيَ بِالنَّبِيِّ ﷺ إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ ، ثُمَّ جَاءَ مِنْ لَيْلَتِهِ فَحَدَّثَهُمْ بِمَسِيرِهِ وَبِعَلاَمَةِ بَيْتِ الْمَقْدِسِ وَبِعِيرِهِمْ ، فَقَالَ نَاسٌ : نَحْنُ لاَ نُصَدِّقُ مُحَمَّدًا ، فَارْتَدُّوا كُفَّارًا ، فَضَرَبَ اللَّهُ أَعْنَاقَهُمْ مَعَ أَبِي جَهْلٍ. [3]

ژباړه: رسولُ الله ﷺ د مکې مکرمې څخه بيت المقدس ته د شپې بوتلل شو بيا په شپه کې بېرته راغی خلکو ته يې

---

۱ : **د آل عمران سورت:** ۸۶ آيت

۲: **سنن ابن ماجه:** لأبي عبدالله محمد بن يزيد ابن ماجة القزويني ، المتوفى سنة ۲۷۵ ه ق ، ج ۲ ، ص ۸۴۷، د حديث شمېره: ۲۵۳۳ ؛ **مسند الصحابه فی الکتب التسعة:** باب مسند عثمان بن عفان ، ج ۳۶، ص ۲۵۴ ، د حديث شمېره ۲۵۳۳

۳: **السنن الکبری للنسائي:** حافظ أبی عبدالرحمن احمد بن شعيب بن علی ابن سنان النسائي ، المتوفی ۳۰۳ ه ق ج ۶، ص ۳۷۷، د حديث شمېره ۱۱۲۸۳ ، **مسند احمد بن حنبل:** لامام أبي عبدالله احمد بن مُحَمَّد بن حنبل حلال بن أسد ، المتوفی سنة ۲۴۱ ه ق ، باب مسند عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب ، ج ۱ ، ص ۳۷۴ ، د حديث شمېره ۳۵۴۶ ؛ (صححه الباني ، **الارواء الغليل** ، ج ۷، ص ۲۵۴) ؛ (رواه النسائي من حديث أبی زيد ثابت بن يزيد عن هلال و هو ابن خباب به و اسناده صحيح ، **الاسراء والمعراج** ، ج ۱ ، ص ۷۵)

د خپل تګ په هکله خبر ورکړ او د بیت المقدس نښې یې ورته بیان کړې او د دوی د تجارتي قافلې په هکله یې هم خبر ورکړ چې په فلاني ځای کې وه ، ځینو خلکو یې تصدیق وکړ او ځینې پرې منکر او مُرتدین وګرځېدل ، الله ﷻ د هغوی سرونه د ابوجهل په شمول په بدر کې پرې کړل.

په پورتني حدیث شریف کې د **فَارْتَدُّوا كُفَّارًا** په الفاظو سره د ارتداد څخه یادوونه شوې ده.

همدارنګه د فاطمة بنت قیس رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې:

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رضى اللّهُ تعالى عنها قَالَتْ: كُنْتُ عِنْدَ أَبِي عَمْرِو بْنِ حَفْصِ بْنِ الْمُغِيرَةِ ، وَكَانَ قَدْ طَلَّقَنِي تَطْلِيقَتَيْنِ ، ثُمَّ إِنَّهُ سَارَ مَعَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ إِلَى الْيَمَنِ حِينَ بَعَثَهُ رسولُ الله ﷺ إِلَيْهِ ، فَبَعَثَ إِلَيَّ بِتَطْلِيقَتِي الثَّالِثَةِ ، وَكَانَ صَاحِبَ أَمْرِهِ بِالْمَدِينَةِ عَيَّاشُ بْنُ أَبِي رَبِيعَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ ، قَالَتْ: فَقُلْتُ لَهُ: نَفَقَتِي وَسُكْنَايَ ، فَقَالَ: مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ نَفَقَةٍ وَلَا سُكْنَى ، إِلَّا أَنْ نَتَطَوَّلَ عَلَيْكِ مِنْ عِنْدِنَا بِمَعْرُوفٍ نَصْنَعُهُ ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: لَئِنْ لَمْ يَكُنْ لِي مَالِي بِهِ مِنْ حَاجَةٍ ، قَالَتْ: فَجِئْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ فَأَخْبَرْتُهُ خَبَرِي وَمَا قَالَ لِي عَيَّاشٌ فَقَالَ: « صَدَقَ ، لَيْسَ لَكِ عَلَيْهِمْ نَفَقَةٌ وَلَا سُكْنَى ، وَلَيْسَتْ لَهُ فِيكِ رِدَّةٌ ، وَعَلَيْكِ الْعِدَّةُ » فانتقلى الى ام شريك.[1]

ژباړه: د فاطمې بنت قیس رضی اللّهُ تعالی عنها څخه روایت دی چې وایي: رسولُ الله ﷺ فرمایلي دي چې تاله ستا په مېړه نوره نفقه او د اوسېدو ځای نشته او هغه لره تاته رجوع هم نشته ، پرتا عدت تېرول ضروري دي ، ته د ام شریک خواته لاړه شه او هلته عدت تېر کړه.

په پورته حدیث شریف کې د **وَلَيْسَتْ لَهُ فِيكِ رِدَّةٌ** په الفاظو کې د ردة څخه یادوونه شوې ده چې په دغه حدیث شریف کې ردة د بېرته ګرځېدلو یا رجوع په معنی سره راغلی دی.

همدارنګه د ارتداد د عمل څخه رسول الله ﷺ په لاندې احادیثو کې هم یادونه کړې ده ، که څه هم په دغه احادیثو کې د ارتداد کلمه په لغوي شکل سره نده استعمال شوی اما د ارتداد مفهوم پکې نغښتی دی او د هغه کسانو په هکله چې د ایمان څخه وروسته یې کفر اختیار کړی دی او د اسلام د مبارک څخه یې لاس اخیستی دی دی ، یادونه شوې ده:

عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ رضى الله تعالى عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » .[2]

ژباړه: د حضرت عبدالله ابن عباس رضی اللّهُ تعالی عنهُ څخه روایت دی چې رسولُ الله ﷺ فرمایلي دي څوک

---

١: **مسند احمد بن حنبل:** باب من حديث فاطمة بنت قيس أخت ضحاك بن قيس ، ج ۶ ، ص ۴۱۳ ، د حدیث شمېره ۲۷۳۷۴ ؛ **مسند الصحابه فی الکتب التسعه** ، باب عبادة بن قرظ ، ج ۴۹ ، ص ۱۹۱ ؛ **سنن الكبرى للبيهقي:** ج ۷ ، ص ۴۷۲ ، د حدیث شمېره ۱۵۴۹۳شمېره په همدغه مفهوم په تغیر د الفاظو سره هم حدیث شریف شتون لري. صححه شعيب الأرنوؤط ، مسند ، ج ۶ ، ص ۴۱۳ ، ناشر: مؤسسة قرطبه ، قاهرة ، مسند الامام أحمد بن حنبل ، ج ۶ ، الأحاديث مذيلة بأحكام ، شعيب الأرنوؤط عليها

[٢]: **صحيح البـــخارى:** ، ج ۶ ، ص ۲۵۳۷ ، د حدیث شمېره ۶۵۲۴

چې خپل دین (د اسلام دین) بدل کړي قتل يې کړی.
په پورتني حديث شريف کې د **مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ** په ذکر کولو سره د ارتداد څخه يادونه شوې ده.

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ هم د نبي کريم ﷺ څخه روايت کوي چې:
عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ابن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ:« لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُولُ اللَّهِ إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ الثَّيِّبُ الزَّانِ وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ ».[1]
ژباړه: د عبدالله ابن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روايت دی چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي چې د مسلمان وينه تويول حلال نشي ګڼلی مګر په يو د دريو شيانو لومړی دا چې د واده څښتن سړی زنا وکړي (نو رجم کيږي) بل دا چې يو بې ګناه شخص قصدا قتل کړي (نو قصاص کيږي) دريم چې خپل دين پريږدي او د مسلمانانو له ټولنې څخه جدا شي يعنې مُرتد شي (هغه به حدا وژلی شي).
په دغه حديث شريف کې په **وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ** کې د دين ترک کول ذکر شوي دي چې مفهوم ترېنه ارتداد دی ، يادونه شوې ده .
د قرآن کريم د پورته آيتونو او د نبوي ذکرو شوو احاديثو څخه دا په ډاګه څرګنديږي چې د ارتداد کلمه کومه نوې او له ځان څخه جوړه شوې کلمه نه ده ، بلکې د ارتداد کلمه د اسلامي شريعت په اصلي مصادريرو (کتاب الله او سنت الرسول) کې ذکر شوې ده او د اسلام په تاريخ کې د دغه ناوړه عمل (ارتداد) مرتکبينو (مُرتدينو) ته لازمه سزا ورکړل شوې ده د کومو څخه چې به په دغه تحقيق او څېړنه کې په مفصل ډول سره يادوونه وشي.

## دريم مطلب: په اسلام کې د ارتداد تاريخي سير:

که چېرته د اسلام تاريخ ته ځغلنده نظر واچوو نو دا به را جوته شي چې د اسلام له پيل څخه تر نني عصر پورې وخت ناوخت د مُرتدينو خبر رامنځ ته شوی او مُرتدينو ته ټاکل شوې سزا ورکړل شوې ده ، او د دغه ستر جرم کوم

۱: **صحـــيح البخـارى:** ج ۶ ، ص ۲۵۲۱ ، د حديث شمېره ۶۴۸۴ په همدغه مفهوم ســره مګر په تغير د الـفاظو په دې ترتيب چې: « لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْـــلِمٍ يَشْـــهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُـــولُ اللَّهِ إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ النَّفْسُ بِالنَّفْسِ و الثَّيِّبُ الزَّانِي و الْمُفَارِقُ لِدِينِهِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ » ؛ **صحـيح المسلم:** باب ماياباح به دم المسلم ، ج ۵ ، ص ۱۰۶ ، د حديث شمېره: ۴۴۶۸ ؛ **سنن ترمذی:** للامام ابو عيسی مُحَمَّد بن عيسى بن سورة السلمي الترمذي ، المتوفى ۲۰۵ هـ ق ، ج ۴ ، ص ۱۹ ، د حديث شمېره ۱۴۰۲ ؛ **الســنن الكبرى للبيـهقى:** كتاب المرتد ، باب قتل من ارتد عن الاسلام رجلا كان باب ما يستدل به على شرايط ، ج ۸ ، ص ۲۱۳ ، د حديث شمېره ۱۷۳۷۷ ؛ **مـسند احـمد بن حنبل:** باب مسند عبدالله ابن مســعود ، ج ۱ ، ص ۳۸۲ ، د حديث شمېره ۳۶۲۱ ؛ **الجمع بين الصحـــيحين البخـارى و مســلم:** مُحَمَّد بن فتوح الحميدي ، ناشر: دار ابن حزم ، لبنان ، بيروت ، دويم چاپ ، ۱۴۲۳ هـ ق ، باب المتفق عليه من مسند عبدالله ، ج ۱ ، ص ۱۱۶ ، د حديث شمېره ۲۴۶ ؛ **المسند الموضوع الجامعة لكتب العشرة:** للصهيب عبدالجبار ، مسكن مديـــنة المنورة ، ج ۱ ، ص ۳۲ ، د حديث شمېره: ۴ ؛ **بلوغ المرام من أدلة الأحكام:** لأحمد بن علي بن مُحَمَّد الكناني العسقلاني ، أبو الفضل شهاب الدين ابن حجر عسقلاني ، المتوفى سنة ۸۵۲ هـ ق ، كتاب الجنايات ، ج ۱ ، ص ۴۵۶ ، د حديث شمېره ۱۱۵۸ .

چې په مسلمانانو کې د شک او شُبهې سبب ګرځي او حتی د اسلامي نظام د سستېدلو او ړنګېدلو باعث ګرځي ، مخه نیول شوې ده ، د اسلام مقدس دین د ارتداد لپاره ډېره پر ځای سزا ټاکلې ده ، کوم چې د مُرتد قتل کېدل دي ، او په دې سره د اسلامي ټولنې ځخه دغه مکروب (مُرتد) له منځه وړل کیږي او په ټولنه کې د ګډوډیو ځخه مخنیوی کیږي ، چې مونږ به ترې وروسته د دغه تحقیق په جریان کې په تفصیل سره د الله ﷻ په فضل او کرم سره یادوونه وکړو.

د الله سُبحانهُ و تعالی ﷻ ټول اوامر له حکمتونو ځخه ډک دي په کوم کې چې په عام ډول د ټولو انسانانو او په خاص ډول د اسلامي ټولنې خیر او ښېګڼه نغښتې ده.

که چېرې ارتداد ته داسې سنګینه سزا (قتل) نه وه ټاکل شوې نو نن صبا چې د یهودیت او عیسویت پیروان د اسلام او مسلمانانو پر ضد باندې کومې دسیسې جوړوي ، زیاترو هغه خلکو به چې د اسلام د مبارک دین له حقایقو ځخه ناخبره دي ، نورو باطلو ادیانو ته مخه کړې وه ، اما خوشبختانه الحمدُ لله او ثُم الحمدُ لله چې د کائناتو ستر ځښتن ، مُرتدینو ته داسې سنګینه سزا ټاکلې ده چې هېڅ ځوک دا جرئت هم نشي کوولای چې د ارتداد خواته مخه کړي او له دغه برحقه دین ځخه باطلو ادیانو ته واوړي.

که چېرته د اسلام تارخ ته ځغلنده نظر وکړو ، نو د اسلام په تاریخ کې وخت په وخت مُرتدینو ته لازمې سزا ګانې ورکړل شوي دي چې مونږ یې دلته د بېلګې په ډول د یو ځو وا قعو ځخه یادوونه کوو:

**الف: په نبوي دور کې د ارتداد مسئله:**

د نبوت په عصر کې په مُرتدینو باندې د ارتداد حد جاري شوی دی او مُرتدینو ته د قتل سزا ورکړل شوې ده چې دلته یې مونږ یوه بېلګه ذکر کوو:

حضرت جابر رضی اللهُ تعالی عنهُ د نبي کریم ﷺ ځخه یو حدیث شریف روایت کوي چې:

أَنَّ امْرَأَةً يُقَالُ لَهَا: أُمُّ مَرْوَانَ , ارْتَدَّتْ عَنْ الْإِسْلَامِ , فَبَلَغَ أَمْرُهَا إِلَى النَّبِيِّ ﷺ ، فَأَمَرَ « أَنْ تُسْتَتَابَ , فَإِنْ تَابَتْ , وَإِلَّا قُتِلَتْ ».[1]

ژباړه: د حضرت جابر رضی الله تعالی عنه ځخه روایت دی چې د ام مروان په نوم یوه ښځه وه او مُرتده شوې وه ، رسولُ الله ﷺ ته خبر ورسېدو ، پس امر وکړ و او ویې فرمایل: چې توبه دې وباسي ، که توبه یې وویستله صحیح ده ، او که نه ، ویې وژنی.

هغې ښځې د اسلام له راوړلو ځخه انکار وکړو نو ووژل شوه.

---

١ : **سنن الدار القطني**: كتاب الحدود والديات ، ج ٣ ، ص ١١٨ ، د حديث شمېره ١٢٢ ؛ **سنن الكبرى للبيهقي**: باب قتل من ارتد عن الاسلام ، ج ٨ ، ص ٢٠٣ ، د حديث شمېره ١٧٣١٨. ضعفه الباني في لأرواء الغليل ٢٤٧٢ ؛ او په عين مفهوم په تغير د الفاظو سره هم همدغه حديث شريف په سنن الكبرى كې شتون لري: عَنْ جَابِرٍ : أَنَّ امْرَأَةً يُقَالُ لَهَا أُمُّ مَرْوَانَ ارْتَدَّتْ عَنِ الإِسْلاَمِ فَأَمَرَ النَّبِىُّ -ﷺ- أَنْ يُعْرَضَ عَلَيْهَا الإِسْلاَمُ فَإِنْ رَجَعَتْ وَإِلاَّ قُتِلَتْ.

**ب: د خلفای راشدینو په دور کې د ارتداد مسئله:**

د راشده خلیفه ګانو په دوره کې په مُرتدینو باندې حد جاري شوی دی ، چې مونږ دلته په مختصر ډول د هر خلیفه په دور کې د مُرتدینو د سزا څخه په لنډ دول سره یادوونه کوو.

**لومړی: د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ په دور کې:**

د لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د خلافت په دور کې هم په مُرتدینو باندې د ارتداد حد جاري شوی دی او په قتل باندې رسول شوې دي چې مونږ یې دلته د بېلګې په ډول باندې د ځینو څخه یادوونه کوو.

د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د مدینې منورې چاپېره قبائلو کې څه خلک له زکات څخه منکر شول یعنې د اسلام له له څلورم رکن څخه یې انکار وکړو او د خپلو مالونو فرض شوی زکات یې د اسلامي خلافت بیت المال ته نه سپارلو ، د اسلام لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د دوی په مقابل کې د جهاد د اعلان کړو او ویې فرمایل:

« هیهات هیهات مضی النبي ﷺ و انقطع الوحي و الله لأجاهدنهم ما استمسك السیف في یدي».[1]

ژباړه: افسوس دی چې نبی کریم ﷺ وفات شو او له آسمان څخه وحې قطع شوه زما دې په الله ﷻقسم وي چې د دې خلکو په خلاف به تر هغې جهاد ته دوام ورکووم تر څو چې زه په خپل لاس توره تینګولی شم.

1. د اسلام لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د زکات د منکرینو او مُرتدینو پرضد تر هغې جهاد وکړو تر څو چې هغوی اسلام ومانه.[2]

که څه هم حضرت عمر رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د وخت د باریکو حالاتو او نزاکت له امله لومړی د ابوبکر صدیق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د دغه نظر سره مخالفت وکړو ، خو بیا کله چې الله تبارک و تعالی ﷻد ده په زړه کې دا ځای کړو چې ابوبکر صدیق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ په حقه دی او د هغه موقف نظر ده ته صحیح دی ، نو ورسره یې مرسته وکړه او په یو اتفاق یې د مُرتدینو په خلاف په جهاد لاس پورې کړ او ډېری مُرتدین یې له تېغه تېر کړه او زیاتره یې بېرته مسلمانان شول.

2. د دغه جنګونو څخه د فارغېدلو وروسته ابوبکر صدیق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ خپل ټول قوتونه د خالد بن ولید تر مشرۍ لاندې د یمامې په طرف باندې د مسلمة الکذاب د مقابلې لپاره ولېږل چې د پیغمبرۍ مدعیان ؤ او د دې سره سره چې د پیغمبرۍ دعوه یې هم کړې وه ولې له خپل اذان څخه یې د اشهدُ ان

---

[1]: **تاریخ الخلـــــفاء:** جلال الدین عبدالرحمن ابن ابی بکر الســیوطی ، المتوفی سنة ۹۱۱ ه ، طبع مکـتـبة خیر کثیر ، جزء ۱ ، ص ۶۷. **جامع الحدیث:** أبو نعیم أحمد بن عبدالله بن أحمد بن اسحاق بن موسی بن مهرا الأصبهاني ، المتوفی سنة ۴۳۰ ه ق ، باب مسند أبی بکر ، ج ۲۵ ، ص ۲۴۴ ، د أبوبکر د حدیث شمېره ۲۷۹۰۴

[2]: **الاعتقاد والهدایة الی سبیل الرشاد علی مذهب السلف و أصحاب الحدیث:** لأحمد بن الحسین البیهقي ، ناشر: دارلآفاق الجدیدة ، بیروت لومړی چاپ ، ۱۴۰۱ ه ق کال ، ج ۱ ، ص ۳۴۴

مُحمدُ رسولُ الله کلمه نه وه لیرې کړې ، غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ او په ټوله یمامه کې یې نبوي بیرغ ښپانده او ورپاوه.[1]

3. بیا په ۱۲ه ق کال کې په بحرین کې څه خلک له اسلام څخه وګرځېدل او مُرتد شول چې ابوبکر صدیق رضی اللهُ تعالی عنهُ د حضرت علاء بن الخضرمي تر مشرۍ لاندې د اسلام لښکر د هغوی د سرکوبولو لپاره واستاوه ،[2] او د بحرین ګډوډي یې پای ته ورسوله.
4. همدارنګه په همدغه کال کې د حضرت عکرمه تر مشرۍ لاندې د اسلام لښکر د مُرتدینو مقابلې ته واستول شو تر څو مُرتدین له منځه یوسي.[3]
5. د ابی امیه تر مشرۍ لاندې د اسلام لښکر د اهل خیبر مُرتدینو مقابلې ته واستول شو تر څو مُرتدین له منځه یوسي.
6. همدارنګه د زیاد بن ابي لبید الانصاري تر مشرۍ لاندې د اسلام لښکر د مُرتدینو مقابلې ته واستول شو تر څو مُرتدین له منځه یوسي.[4]

چې دغه ټول پورته جنګونه د مُرتدینو په مقابل کې د صحابه کرامو په اجماع سره تر سره شول او ټول صحابه کرام په دې باندې متفق ؤ تر څو د مُرتدینو په مقابل کې جهاد وشي او مُرتدین له منځه یوړل شي.

**دویم: د حضرت عمر فاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ په دور کې:**

د دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ د خلافت په دور کې هم په مُرتدینو باندې د ارتداد حد جاري شوی دی او په قتل باندې رسول شوي دي چې مونږ یې دلته د بېلګې په ډول باندې د ځینې واقعو څخه یادوونه کوو.

1. حضرت عمرفاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ د مُرتدینو پر ضد جګړه کې د ابوبکر صدیق رضی اللهُ تعالی عنهُ ملګری ؤ.
2. یوه ورځ حضرت عبدالله بن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ یو ځل په عراق کې یوه مُرتده ډله ونیوله او د هغو د سزا په هکله یې حضرت عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ ته د هغوی د سزا په هکله یو لیک واستاوه ، حضرت عمر رضی الله عنه ورته په ځواب کې ولیکل:

« أَعْرِضْ عَلَيْهِمْ دِينَ الْحَقِّ , وَشَهَادَةَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ، فإن قبلوها ، فخل عنهم ، وإن لم يقبلوها ، فاقتلهم ».[5]

---

۱ : **تاریخ الطبری**: أبي جعفر مُحَمَّد ابن جرير الطبري ، المتوفی سنة ۳۱۰ ه ، طبع دارلکتب العربي سنة ۱۳۵۷ ه ق ، ج ۳ ، ص ۷۵ ؛ **الاعتقاد**: ج ۱ ، ص ۳۴۴ .
۲ : **تاریخ الخـلفاء**: ج ۱ ، ص ۷۶
۳ : **تاریخ الخـلفاء**: ج ۱ ، ص ۷۶
٤ : **تاریخ الخـلفاء**: ج ۱ ، صفحه ۷۶
۵: **سنن البیهقی الکبری**: ج ۸ ، ص ۲۰۱ ، د حدیث شمیره ۱۶۶۲۹ ؛ **کـنـز العمال فی سـنن الأقوال والأفعال**: للعـلاءالدین علی بن حسام

ژباړه: د حق دین او د شهادت کلمه ورته ورواندې کړه ، که یې قبول کړو نو خوشې یې کړه ، او که قبول یې نکړو نو قتل یې کړه.

3. علامه قاضي عیاض الاندلسي[1] په خپل کتاب الشفاء کې لیکلي دي چې حضرت عمر فاروق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د مُرتدینو په هکله خپلو مامورینو ته ویلي ؤ چې مُرتدین دې لومړۍ درې ورځې حبس (بندیان) کړي ، تر څو ورته د اسلام سپېڅلی دین تشریح شي ، که یې بېرته اسلام ته رجوع وکړه ښه تر ښه ، او که یې بېرته رجوع ونه کړه نو بیا یې قتل کړی.[2]

**دریم: د حضرت عثمان رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ په دور کې:**

د دریم خلیفه حضرت عثمان رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ په وخت کې هم په مُرتدینو باندې د ارتداد حد جاري شوی دی او په قتل باندې رسول شوې دي چې مونږ یې دلته د بېلګې په ډول باندې د ځینې واقعو څخه یادوونه کوو.

1. حضرت عثمان رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ به له مُرتد څخه درې ورځې د توبې غوښتنه کوله ، که مُرتد به یې غوښتنه نه قبلوله او توبه به یې نه ویستله ، نو د ارتداد حد به یې پرې جاري کولو او د قتل حکم به یې پرې کاوه.[3]
2. حضرت عثمان رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ ته یو مُرتد راوستل شو هغه ورنه درې کرتې د توبې غوښتنه وکړه کله چې هغه مُرتد د دریم ځل توبې کولو څخه انکاری شو نو فورا یې قتل کړو.[4]

**څلورم: د حضرت علی رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ په دور کې:**

د څلورم خلیفه حضرت علي رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د خلافت په دور کې هم په مُرتدینو باندې د ارتداد حد جاري شوی دی او په قتل باندې رسول شوې دي چې مونږ یې دلته د بېلګې په ډول باندې د ځینو څخه یادوونه کوو.

1. امام بخاري رحمة الله علیه د حضرت علی کرم الله وجههُ په هکله لیکلي دي چې ده ځنې داسې مُرتدین نیولي ؤ چې هغوی له اسلام بېرته قبلولو څخه انکار کړی ؤ ، نو هغوی ته یې د مرګ سزا ورکړېده.[1]

---

الدین المتقی الهندی البرهان فوري ، المتوفی سنة ۹۷۵ هـ ، طبع مکتبة التراث الاسلامی سنة ۱۳۹۰ هـ ، باب الارتداد و أحکامه ، ج ۱ ، ص ۳۱۳ ، د حدیث شمېره ۱۴۷۳ ، او په دغه هکله د أُمت اجماع هم موجوده ده ؛ **المفصل فی شرح حدیث من بدل دینه فاقتلوه:** لعلي بن نایف الشحود ، ج ۳ ، ص ۹۱ ؛ **جامع الحدیث:** باب مسند عثمان بن عفان ، ج ۲۹ ، ص ۴۱ ، د حدیث شمېره ۳۱۶۵۹ ؛ **مصنف عبدالرزاق:** لأبو بکر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحمیر الیماني الصنعاني ، باب فی الکفر بعد الایمان ، ج ۱۰ ، ص ۶۸ ، د حدیث شمېره ۱۸۷۰۷

[1] : پوره نوم یې: عیاض بن موسی بن عیاض بن عمرون الیحصبي السبتي ابو الفضل دی ، په (۴۷۶هـ) کې پیدا شوی او په (۵۴۴هـ) کې وفات شوی دی. د مغرب عالم او په خپل وخت کې د محدثینو امام وو ، په عربي ادب ، نسبونو او تاریخ کې یې ډېر مهارت درلود. د سبتة قاضي هم پاتې شوی او پیدایښت یې هم په سبته کې وو ، بیا د غرناطة قاضي مقرر شو او په مراکش کې د زهرو خوړلو له امله وفات شو. کتابونه یې: الشفاء بتعریف حقوق المصطفی ، الغنیة او داسې نور دي. (الاعلام للزرکلي ۹۹/۵).

۲: **الشفاء فی تعریف حقوق المصطفی:** لأبوالفضل عیاض بن موسی بن عیاض بن عمون الیحصبي السبتي ، المتوفی سنة ۵۴۴ هـ. ج ۱ ، ص ۱۵۰

۳: **کنز العمال فی سند الأقوال:** ج ۱ ، ص ۷۹

۴: **کنز العمال فی سند الأقوال** : ج ۱ ، صفحه ۷۹

2. همدارنګه ابو طفیل رضی اللهُ تعالی عنهُ فرمايي کوم لښکر چې حضرت علي کرم الله وجههُ د بني ناجيو مقابلې ته استولی ؤ ، زه هم په دغه لښکر کې تللی وم ، مونږ وليدل چې په هغو کې درې ډوله خلک ؤ ، ځني پخوا نصرانيان ؤ چې اسلام يې قبول کړی ؤ او پر اسلام ټينګ ولاړ ؤ ، دوهم هغه خلک ؤ چې پخپل پخواني نصرانيت ټينګ ولاړ ؤ او دريم هغه خلک ؤ چې اول يې اسلام قبول کړی ؤ او بيا يې بېرته له اسلام څخه مخ ګرځولی ؤ او مُرتد شوي ؤ ، چې دوی ته لومړی زمونږ مشر او امير اسلام وړاندې کړ ، هغوی يې له منلو څخه انکار وکړ ، نو بيا يې مونږ ته امر وکړو چې پرې حمله وکړو ، چې په نتيجه کې يې دوی ټول مړه کړل ، او بچيان يې ونيول او بنديان يې له ځان سره راوړل.[2]
3. همدارنګه عبدالملک بن عمير فرمايي چې زه يو ځل د حضرت علي کرم الله وجهه مجلس ته حاضر شوم ومې ليدل چې مستور بن قبيصه چې له اسلام څخه نصرانيت ته اوړيدلی ؤ او مُرتد شوی ؤ ، له ارتداد څخه يې توبه ونه ويستله ، حضرت علي کرم الله وجهه د هغه د سر د غوڅولو امر وکړ او له هغه څخه يې سر غوڅ کړو.

دا ؤ ، د اسلام د راشده خلفاؤ عمل چې د هغو په هکله نبي کريم ﷺ فرمايي:

« و عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين » .[3]

ژباړه: تاسو زما په سنتو او د راشده خلفاؤ پر طريقو ټينګ عمل وکړئ.

**ج: د خلفای راشدينو څخه وروسته دور کې د ارتداد مسئله:**

د راشده خليفه ګانو څخه وروسته هم د اسلام نورو پاچاهانو مُرتدينو ته د مرګ سزا ورکړې ده ، د کومو څخه چې د بېلګې په توګه د يو څو نمونو يادوونه کوو:

**د حضرت عبدالله بن زبير رضی اللهُ تعالی عنهُ په دور کې:** کله چې عبدالله بن زبير رضی اللهُ تعالی عنهُ د مکې حکمران ؤ ، مختار بن ابی عبيد الثقفي چې د نبوت دعوه کړې وه او مُرتد شوی ؤ ، د ارتداد په جرم باندې محکوم کړی ؤ.[4]

**د خالد قسري په دور کې:** خالد قسري په خپل دور کې جعد بن درهم مُرتد ته د مرګ سزا ورکړې وه.[5]

---

[1] : **تاريخ الخــلفاء:** ج ١ ، ص ٧٨

[2] : **تاريخ الخــلفاء:** ج ١ ، ص ٨١

[3] : **سنن ابن ماجه:** باب اتباع سنة الخلفاء الراشدين ، ج ١ ، ص ١٥ ؛ **المعجم الكبير:** لسليمان بن أحمد بن أيوب القاسم الطبرانى ، ج ١٨ ، ص ٢٤٨ ، د حديث شمېره ٦٢٢ ؛ لامام مالک بن أنس أبو عبدالله الأصبحي ، المتوفى ١٧٩ ه ق ، ج ٣ ، ص ، ٨٠ ؛ **المستدرك على الصحيحين:** مُحَمَّد بن عبدالله أبو عبدالله الحاكم النيسابوري ، كتاب العلم ، ج ١ ، ص ١٧٤ ، د حديث شمېره ٣٢٩ ؛ **شعب الإيمان-البيهقى:** لأبو بكر أحمد بن الحسين البيهقي ، فصل فى فضل الجماعة والألفة والكراهية ، ج ٦ ، ص ٦٧ ، د حديث شمېره ٧٥١٦. (صححه الباني فى **السلسلة الصحيحة المجلات كاملة: مُحَمَّد ناصر الدين الباني** ، ج ٦ ، ص ٢٣٤ ، د حديث شمېره ٣١٣٨)

٤: **فتح الباري شرح صحيح البخاري:** لأحمد بن علي ابن حجر ابو الفضل العسقلاني ، التوفى سنة ٨٥٢ ه ، ج ٦ ، ص . او **تاريخ الخلفاء:** ج ١ ، ص ٢١٤

٥ : **فتح الباري شرح صحيح البخاري:** ج ١٢ ، ص ٢٣٩

**د عبدالملک بن مروان په دور کې:** عبدالملک بن مروان په خپل دور کې حارث نومي يو سړي ته چې مُرتد شوی ؤ او د نبوت دعوی يې هم کړې وه د مرګ سزا ورکړې وه.[1]

**د خليفه ابو جعفر منصور په دور کې:** مشهور عباسي خليفه ابو جعفر منصور د خپل خلافت په دور کې د مُرتدينو هغه ډله چې مشر يې لومړی د مسلمانانو سره په عامه توګه او د اهل بيتو سره په خاصه توګه د محبت لرلو دعوی درلوده لومړی يې خلک پر ځان راټول کړل او بيا يې د پيغمبرۍ دعوه وکړه ، منصور د هغه پيروان ټول د مرګ په سزا محکوم کړل.[2]

**د خليفه مهدي په دور کې:** خليفه مهدي چې د منصور څخه وروسته په تخت کښيناست ، په خپله زمانه کې يې د پخوا څخه را پاتې ټولو مُرتدينو ته د مرګ سزا ورکړه او له تيغه يې تېر کړل.

**د عباسي خليفه معتصم با الله په دور کې:** خليفه معتصم باالله په خپل دور کې يو مُرتد ته چې ابن العزا قير نوميده د ارتداد په وجه د مرګ سزا ورکړې وه.

**د: په اوسني عصر کې د ارتداد مسئله:**

په اوسني عصر کې هم مونږ د دې شاهد يو چې مُرتدينو ته د اسلامي هېوادونو د قضايي او عدلي ارګانونو لخوا د مرګ سزا اورل شوي دي ، که څه هم په اوسنۍ نړۍ کې د ګوتو په شمير اسلامي هېوادونو کې شرعي حدود تطبيق کيږي او د اسلام دښمنان يهود او نصارا د بشر د حقوقو تر نامه لاندې شعارونو په واسطه په مسلمانو هېوادونو باندې نيوکې کوي چې د شريعت د حدودو په تطبيق کې د بشر حقوق نقض کيږی ، دا کيږي ، او دا کيږي ، او نه پريږدي چې اسلامي هېوادونه شرعي حدود په احسنه وجه باندې تطبيق کړي ، خو بيا هم په اوسني عصر کې مونږ د مُرتدينو د سزا شاهدان يو ، چې دلته ورڅخه د بېلګې په ډول يادوونه کوو:

1. **په هندوستان کې د سلمان رُشدي مُرتد کېدل:** سلمان رشدي هندی الأصل برتانوی ؤ ، کله چې سلمان رشدي و غوښتل چې د قرآن کريم بې احترامي وکړه ، او ويې ويل چې زه هم دغسې آيتونه جوړولی شم او بالآخره د الله ﷻ دغه سپيڅلي کلام (قرآن عظيم الشان) ته يې د شک په سترګه وکتل ، نو مُرتد شو ، د ايران ولسمشر د ۱۹۸۹ کال د فيبرورۍ په ۱۴ مه نېټه نوموړي سلمان رشدي ته د مرګ سزا اعلان کړه چې بايد اعدام شي [3] ، چې نوموړی د ارتداد د سزا څخه د نړۍ کوم کونج ته وتښتېد ، په دنيا کې ذليله شو او آخرت يې هم خراب او تباه دی او د الله ﷻ د سخت عذاب به ورپه برخه شي. نوموړی د مليارد هاؤ مسلمانانو څخه پټ ګرځي او نشي کولای چې خپل ځان ښکاره کړي او د ويرې او ذلت څخه ډکې شپې او ورځې تېروي ، له دغه ذلت او رسوايۍ څخه دې الله ﷻ هر مسلمان وساتي.

---

۱: **الشفاء فی تعريف حقوق المصطفی:** ج ۱ ، ص ۲۸

۲: **فتح الباري شرح صحيح البخاري:** ج ۱۲ ، ص ۲۳۹

۳: **د انترنت ويبپاڼه** Internet Website: ګوګل Google

2. **په افغانستان کې د عبدالرحمن پنجشيري مُرتد کېدل:** په دې آواخرو کې کله چې د افغانستان په اسلامي هېواد کې عبدالرحمن نومی کس کوم چې د پنجشېر د سيمي اوسېدونکی ؤ، د اسلام د مبارک دين څخه و عيسويت ته مخه کړه او مُرتد شو، [1] کله چې دغه خبره مطبوعاتو ښکاره کړه، نو د افغانستان مسلمان ملت خپل ديني احساسات د دغه کس په مقابل کې اظهار کړل او د دولت څخه يې د نوموړي د قتل غوښتنه وکړه، چې نوموړي د ارتداد د سزا څخه په ويره باندې ځان د ايتاليا سفارت ته وسپاره او مخکې له دې څخه چې نوموړی د اسلامي فقهې د احکامو په رڼاکې په سزا باندې ورسيږي، د عيسوي کليساؤ په واسطه باندې له افغانستان څخه عاجل و تښتېد، او ځان يې پټ کړ، حتی اوس هم دا نه ده معلومه چې نوموړی مُرتد د دنيا په کوم کونج کې پټ دی. هم يې دنيا خرابه شوه او هم يې آخرت خراب شو او هم يې په ځان باندې خپل آزاد ژوند او عزت کوم چې يې په اسلام کې درلود، تنګ کړ او نشي کولای چې ځان له وېرې او ترس څخه ښکاره کړي، نوموړی د نړۍ له مليارډهاؤ مسلمانانو څخه پټ ګرځي، خپله آزادي يې په ځان باندې پخپله سلبه کړه او د دنيا څخه به هم مردار او بې ايمانه ځي.

د ارتداد تاريخي سير ته په کتنه دا څرګنده شوه چې په نبوي عصر کې هم مُرتدينو ته سزا ورکړل شوې ده (د ارتداد حد پرې جاري شوی دی) او خلفای راشدينو هم مُرتدينو ته سزا ورکړې ده او د اسلامي خلافت پولې يې ټينګې کړې دي، او د وخت او زمان اسلامي حاکمانو هم په مُرتدينو باندې د ارتداد حد جاري کړی دی، نو د نبي کريم ﷺ د قول، فعل، او د خلفای راشدينو د عمل مطابق بايد د مسلمانانو حُکام هم مُرتدينو ته سزا ورکړي، او پرينږدي چې د دغه ملي خيانت په واسطه په مسلمانانو کې کومه شک او شُبهه را منځ ته شي او د مسلمانانو د نظام د ګډوډۍ باعث شي، او بالآخره د وخت حاکمان په ټولنه کې د نظم د ساتلو لپاره د اسلامي شريعت مطابق کوټلي ګامونه واخلي.

## دويم مبحث: د ارتداد ارکان

د ارتداد ارکان په دوه ډوله دي، يو د ارتداد عمومي ارکان دي کوم چې د ارتداد له شرعي، ادبي او مادی رکن څخه عبارت دی او شتون يې په هر جرم کې ضرور او اړين دی، او بل د ارتداد خصوصي ارکان دي کوم چې د جنايي هوډ او له اسلام څخه د ګرځېدلو څخه عبارت دی، چې په لاندې ډول توضيح کيږي:

### لومړی مطلب: د ارتداد عمومي ارکان:

د ارتداد عمومي ارکان درې دي کوم چې له شرعي، ادبي او مادی رکن څخه عبارت دي چې په لاندې ډول يې تر څېړنې لاندې نيسو:

---

[1]: د افغانستان مطبوعات او آزادې رسنۍ

1. **د ارتداد شرعي رکن:**

د ارتداد د شرعي رکن څخه هدف دا دی چې د اسـلامي شـریعت له نظره دا جرم د حدودي جرایمو څخه شمېرل کیږي ، د ارتداد د جرم د ارتکاب په صورت کې په مرتکب باندې د قتل سزا تشریع او قانوني ده. هېڅ څوک په شمول د رئیس الدولت دا حق نلري چې مُرتد ته د هغه د تعین شوي سزا (وژلو) معافي وکړي او یا یې کمه او زیاته کړي.

2. **د ارتداد ادبي رکن:**

د ارتداد د جریمې په تحقق کې له اسلام څخه ګرځېدل یا له اسلام څخه اوښتل یو ضروري او اړین امر شمېرل کیږي ، دا ځکه چې د ارتداد معنی دا ده چې وګړي وروسته له مسلمان کېدو څخه بېرته له اسلام څخه وګرځي او سرغړاوی وکړي چې د ارتداد جریمه یواځې د مسلمان څخه صورت نیسي ، په فتاوی عالمګیریه کې د دغه رکن په هکله وایي چې: و رکن الردة اجراء کلمة الکفر علی اللسان بعد وجود الایمان.[1]

له اسلام څخه ګرځېدل له بېلابېلو لارو څخه صورت نیسي له کومو څخه چې به په تفصیل سره یادوونه وشي.

3. **د ارتداد مادي رکن:**

عبارت د هغه رکن څخه دی چې د یو وګړي او یا له یوې ډلې څخه په بهري ظرف کې د عمل جامه وراغوندي ، بغیر له دې څخه شخص مُرتد ندی او د ارتداد د سزا وړ نه ګرځي.

## دویم مطلب: د ارتداد خصوصي ارکان:

د ارتداد خصوصي ارکان دوه دي چې یو یې جنایي هوډ دی او بل یې له اسلام څخه ګرځېدل دي ، چې په لاندې ډول توضیح کیږي:

1. **جنایي هوډ (مقصد):**

د ارتداد په جرم کې جنایي هوډ (مقصد) مهم رکن دی چې ارتداد کوونکی باید د جرم هوډ او قصد ولري ، که چېرته مجرم د جرم هوډ ونلري نو د دې امکان شته چې ارتداد کوونکی په شک او شبهه کې قرار ولري کوم چې د دین په تشریح کولو سره رفع کیږي ، فلهذا د ارتداد په جرم کې جنایي هوډ او مقصد یو له مهمو ارکانو د ارتداد څخه شمېرل کیږي.[2]

2. **له اسلام څخه ګرځېدل:**

شخص هغه وخت مُرتد کیږي چې د اسلام څخه وګرځي ، له نورو ادیانو څخه ګرځېدل د ارتداد په حد کې نه شمېرل کیږي ، یعنی د کفر د کلمې جاري کېدل دي په ژبه باندې وروسته د ایمان د وجود څخه ، ځکه چې د

---

۱: **الفتاوی العالمکیریة المعروفة بالفتاوی الهندیة:** باب فی احکام المُرتدین ، ج ۲ ، ص ۲۵۳
۲: **تشریع الجنائي الاسلامي مقارنا باالقانون الوضعي:** ج ۲ ، ص ۲۷۹

شريعت په عرف کې ردة عبارت د رجوع يا ګرځېدلو د ايمان څخه دی.

## دريم مبحث: د ارتداد شرايط يا د صحت شرطونه

ارتداد هغه وخت صحت مومي چې په ردت کې د ارتداد ټول شروط شتون پيداکړي ، د ارتدا د صحت شرطونه عبارت دي له: اسلام ، عقل ، بلوغ ، اختيار ، د کفر اراده او د ارتداد په هکله د ارتداد کوونکي له پوهې څخه ، يعني يو شخص نه مُرتد کيږي مګر هغه وخت چې مسلمان ، عاقل ، بالغ ، صاحب د اختيار وي ، د کفر يا ارتداد اراده ولري او د ارتدادي فعل ، قول او يا عقيدې په هکله پوهه ولري.

د موضوع د ښه وضاحت لپاره پورته شرطونه موږ هر يو په جلا مطالبو کې تر بحث او څېړنې لاندې نيسو.

### لومړی مطلب: اســلام:

د ارتداد د صحت له شرطونو څخه يو هم اسلام دی چې که يو مسلمان د اسلام له دين څخه بل دين ته واوړي او يا هم يو مسلمان له اسلام څخه منکر شي مُرتد بلل کيږي. که چېرې يو څوک له کوم بل دين څخه انکار وکړي او يا هم له کوم بل دين څخه (پرته له اسلام څخه) و کوم بل دين ته واوړي ، مُرتد نه دی ، دا ځکه چې د ارتداد د صحت له شروطو څخه يو هم اسلام دی.

الله ﷻ په قرآن کې فرمايي چې:

﴿وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾[1]

ژباړه: او له تاسې څخه چې هر څوک له دې دين څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنيا او آخرت دواړو کې برباد او ضايع شي ، داسې خلک ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کې اوسيږي.

که پورتنې آيت شريف ته وګورو په منکم (له تاسې څخه) کې خطاب د مؤمنانو دلې ته دی ، يعنې که له مؤمنانو څخه څوک له خپل دين (اسلام) څخه وګرځي مُرتد دی او د ارتداد احکام پرې جاري کيږي.

نو د ارتداد د صحت له شروطو څخه يو هم اسلام دی.

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول چې ارتداد عبارت له ګرځېدلو د يو شخص څخه دي د اسلام څخه و کفر ته ، نو که يو څوک له يو بل باطل يا منسوخ دين څخه کوم بل دين ته واوړی او يا يو باطل دين ترک کوي نو مُرتد نه ګڼل کيږي ، ځکه له باطل څخه باطل ته رجوع ته ارتداد نه ويل کيږي بلکې ارتداد عبارت له حق دين (اسلام) څخه و باطل دين (شرک ، کفر ، يهوديت ، نصرانيت ....) ته ګرځېدل او يا هم له اسلام څخه منکريدل دي.

الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

---

[1] : د البقرة سورت: ۲۱۷ آيت

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾[١]

ژباړه: او څوک چې له اسلام نه پرته بل دین وغواړي ، نو هیڅ کله د الله تعالی ﷻ په نزد نه قبلیږي ، او دا به په آخرت کې د زیان کارانو څخه وي .

همدارنګه د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهُ څخه روازت دی چې د اسلام ستر پیغمبر حضرت مُحمد رسول الله ﷺ فرمایي:

« مَنْ خَالَفَ دِينُهُ دِينَ الْمُسْلِمِينَ فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ ».[2]

ژباړه: د هر چاچې دین د اسلام څخه مخالف شو ، نو ګردن یې غوڅ کړی.

عبدالرحیم قشقري[3] په خپل کتاب فقه السنة کې د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه څخه یو قول را نقل کوي چې که چېرې یو یهودی له خپل دین څخه بل آسماني دین (فرضا نصرانیت) ته واوړي څه پروا نه کوي ، که په هغه دین کې پاتې کیږي او که خپل دین ته بېرته راګرځي ، مګر که له یو اوچت دین څخه ټیټ دین ته اوړي لکه یهودي یا نصراني چې مجوسیت یا زردشتیت ته اوړي نو په دې صورت کې دې ته په کار ده چې خپل دین یهودیت یا نصرانیت ته راوګرځي ، دا ځکه چې دا یو آسماني دین دی کوم چې د مجوسیت یا زردشتیت څخه لوړه درجه لري ، او باالعکس که یو مجوسي یا زردشتي یهودیت یا نصرانیت ته واوړي نو باید چې په هماغه دین پاتې شي ځکه چې دا له یو ټیټ دین څخه یو لوړ دین ته اوښتل دي.[4] خو دا خبره په ډاګه ده چې اسلام د ټولو ادیانو څخه لوړ دین دی او د الله ﷻ په نزد یواځینی دین د اسلام مبارک دین دی ، کوم چې په مخکې آیت شریف کې ذکر شو.

د اسلام مبارک دین یو جامع او کامل دین دی چې د ژوندانه ټول اړخونو ته شامل دی ، اسلام هم دین دی هم سیاست ، هم اقتصاد دی هم پېشرفت ، هم ثبات دی او هم امنیت ، هم قضا ده او هم عدالت ، هم عقیده ده هم احکام ، هم فردي روابط او هم اجتماعي روابط تنظیموي ، هر څوک چې داسې عقیده ولري ، په شریعت برابر وي او په ژبه د الله ﷻ د وحدانیت او د رسولُ الله ﷺ په رسالت باندې اقرار او په زړه تصدیق وکړي ، دا شخص مسلمان دی او سر او مال یې په امن دی ، د اسلام ستر پیغمبر حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ فرمایي:

---

١ : **د البقرة سورت:** ٨٥ آیت

٢: **سنن الکبری للبیهقی:** ج ٨ ، ص ١٣ ، د حدیث شمېره ١٥٥٩١ ؛ **کنز العمال فی سنن الأقوال والأفعال:** باب الفرع الثانی فی أحکام لایمان المتفرقه ، ج ١ ، ص ٩٧ ، د حدیث شمېره ٤٣٤ ؛ **مسند امام احمد بن حنبل:** ج ٢ ، ص ٣٩٧ ، د حدیث شمېره ٩١٤٦ ؛ **المعجم الکبیر:** ، ج ١١ ، ص ٢٤٢ ، د حدیث شمېره: ١١٦١٧ ؛

٣ : پوره نوم یې: سید سابق عبدالرحیم قشقري دی ، د ازهر پوهنتون له فارغانو څخه دی ، د حسن البناء سره یو ځای شوی او دزده کړیالی له وختو د اخوان المسلمین تنظیم غړی وو ، د اسطنها په کلي کې چې د منوفیة ولایت سیمه ده پیدا شوی دی ، لومړی به یې د اخوان المسلمین په اونیزه مجله کې لیکنې کولې ، د اوقافو وزارت لخوا د ثقافت مدیر هم ټاکل شوی ، په وروستیو کې د ام القری پوهنتون ته رانقل شو او په ١٤١٣هـ کې یې د ملک فیصل د اسلامي زده کړو نړیوال جائزه هم وګټله ، په ١٤٢٠هـ کې د یکشنبې په ورځ د ذوالقعدې میاشتې په ٢٣ نېټه د ٨٥ کلنۍ په عمر کې وفات شو ، چې مشهورې لیکنې یې: فقه السنة ، مصادر القوة في الاسلام ، الربا والبدیل او داسې نوري دي. (ویکیبیدیا الموسوعة الحرة).

٤ : النقد الصحیح لما اعترض من أحادیث المصابیح: بتحقیق الدکتور عبدالرحیم قشقری ، د چاپ کال ١٤٠٥ هـ ، ج ١ ، ص ١١٠٢٦

**فقه السنة:** السید الیاف الحافظ مُحَمَّد عبدالرحیم القارئ القشقری ، المتوفی ١٤١٠ هـ ،طبع دارالکتب العربی ، بیروت ، ج ٢ ، ص ٤٠٤

« من شهد أن لا اله الا اللهُ وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا و صَلَّى صَلاَتَنَا وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا فهو الْمُسْلِمُ له ما للمسلم و عليه ما على المسلم ».[1]

ژباړه: څوک چې شاهدي ورکړي چې نشته دی بل معبود برحق لایق د عبادت مګر یو الله ﷻ، او زمونږ قبلې ته ودرېږي ، او زمونږ په شان لمونځ وکړي ، او زمونږ حلاله وخوري ، نو دا شخص مسلمان دی ، ده لره ټول هغه حقوق او وجایب شته دی کوم چې د یو مسلمان لپاره دي او پر ده باندې هم ټول هغه حقوق او وجایب دي کوم چې پر یو مسلمان باندې شته دی.

چې د پورتني حدیث څخه منصور بن یونس[2] هم په خپل کتاب الأقناع کې په ورته الفاظو سره ذکر کړی دی او شرحه یې پرې ورکړې ده.

فلهذا د ارتداد د صحت له شرطونو څخه یو هم اسلام دی ، چې که یو مسلمان له اسلام څخه واوړي ارتداد صحت مومي او که یو څوک له کوم بل دین څخه واوړي نو ارتداد یې صحت نه مومي او د ارتداد احکام پرې نه جاري کیږي.

## دویم مطلب: عـقل:

د ارتداد د صحت له شروطو څه یو هم عقل دی ، د اسلامي اُمت ټول فقهاء په دې باندې متفق دي چې که یو عاقل مسلمان له اسلام څخه وګرځي او بل دین ته مخه کړی او یا هم له اسلام څخه منکر شي ، مُرتد ګڼل کیږي اما که یو څوک عقل ونلري او د اسلام څخه وګرځي نو په دغه صورت کې ارتداد نه واقع کیږي دا ځکه چې عقل د ردة لپاره شرط دی.[3]

په فتاوی عالمګیریه کې وایي: و شرائط صحتها العقل فلا تصح ردة المجنون و لاالصبی الذی لا یعقل.[4]

ژباړه: او له شرایطو د صحت د ردة څخه یو هم عقل دی چې د مجنون ، او صبي څوک چې عقل نلري ، ردة نه صحیح کیږي. په لیوني باندې د ارتداد احکام نه جاري کیږي او په دې باندې د ټولو فقهاؤ اتفاق دی.[5]

استاد داکتر وهبة الزهیلی وایي:

**الشرط الأول لصحة الردة هی العقل، فلا تصح ردة المجنون والصبی الذی لا یعقل، لأن العقل من شرائط**

---

١ : **صحیح البخاری:** باب فضل استقبال القبلة ، ج ١ ، ص ١٥٣ ، د حدیث شمېره ٣٨٥

٢ : پوره نوم یې: مُحَمَّد بن احمد الشربیني شمس الدین ، د شوافعو فقیه او مفسر دی ، د قاهرې اوسېدونکی دی ، په (٩٧٧هـ) کې وفات شوی ، مشهور کتابونه یې: السراج المنیر ، الاقناع في حل الفاظ ابي شجاع ، شرح شواهد القطر ، المغني المحتاج ، تقریرات علی المطول او مناسک الحج دي. (الاعلام ، ٦/ ٦).

٣: **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع:** ج ٧ ، ص ١٣٧ ؛ **الأم:** ج ۶ ، ص ۶۴۸ ؛ **الاقناع:** ج ۴ ، ص ٣٠١

٤: **الفتاوی العالمکیریة المعروفة بالفتاوی الهندیة:** باب فی أحکام المرتدین ، ج ٢ ، ص ٢٥٣

٥: **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع:** ج ٧ ، ص ١٣۴. او الأم: ج ۶ ، ص ۶۴۸. او الاقناع: ج ۴ ، ص ٣٠١. او **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ١٣۴

**الأهلية فی الاعتقادات و غيرها.** [1]

ژباړه: د ردة د صحت د شروطو څخه اول عقل دی ، پس د مجنون او د صبي چې عقل ونلري ردة صحيح ندی ، دا ځکه چې عقل په اعتقاداتو او نورو مسايلو کې د اهليت د شروطو څخه دی.

د اسلام د مبارک دين يو له خصوصياتو څخه دا دی چې انسانان د عقل د درلودلو په اساس د جرايمو په ترسره کولو کې مواخذه کوي ، کوچنی او مجنون کوم چې عقل نلري ، د اسلام په مبارک دين کې مرفوع القلم (معاف) دي ، کوم چې يو له بهترينو خصوصياتو د دغه مقدس دين څخه دي.

د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام مُحَمَّد رحمة الله عليه[2] په نزد باندې د عاقل صبي ردة صحيح دی ، اما د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د عاقل صبي ردة نه دی صحيح.[3]

د عقل په مورد کې مونږ د مجنون او د مست په مُرتد کېدلو باندې په مختصر ډول باندې بحث کوو:

**الف: د مجنون مُرتد کېدل:**

د مجنون مُرتد کېدل اعتبار نلري[4] ، د لاندې حديث شريف په دليل سره:

عَنْ عَلِيٍّ رضى الله تعالى عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ- قَالَ « رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ ».[5]

ژباړه: درې کسان مرفوع القلم دي ، ويده تر څو پورې چې راويښ شوی نه وي ، نابالغ ترڅو پورې چې بلوغ ته رسېدلی نه وي ، او مجنون يا ليونی تر څو پورې چې عاقل شوی نه وي.

همدارنګه د حضرت بي بي عايشة صديقه رضی اللهُ تعالی عنها څخه هم روايت دی چې:

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ- قَالَ « رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الْمُبْتَلَى حَتَّى

---

١: **الفقه الاسلامی و أدلته:** حد الردة و أحكام المُرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۷۴

[٢] : پوره نوم يې مُحَمَّد بن الحسن بن فرقد الشيباني دی ، په ۱۳۱ ه کې زيږېدلی دی او پرّ اصل کې د دمشق دی ، او پلار يې کوفې ته تللی دی او مُحَمَّد بن الحسن په واسط کې تولد شو ، د فقهې او اصولو امام ؤ ، د امام ابو حنيفه رحمةالله عليه په شاګردانو کې د امام ابو يوسف څخه وروسته دويم مخکښ شاګرد دی ، چې يو ښه مجتهد پاتې شوی دی ،د مشهورو تأليفاتو څخه يې "الجامع الكبير" ، "الجامع الصغير" ، "المبسوط" او "الزيادات" په حنفي مسلک کې دي ، او همدارنګه "كتاب الآثار" ، او "الأصل" يې د تأليفاتو د جملې څخه دي ، نوموړي د امام أبو حنيفة رحمة الله عليه علم په تصنيفاتو کې نشر کړو ، د قضاء د منصب دنده يې تر سره کړې ده او په ۱۸۹ ه کې وفات شو. وګوره [الأعلام للزركلي: ج ۶ ، ص ۳۰۹] او [موسوعة الفقهي: ج ۴۰ ، ص ۲۳]

[٣] **تحفة الفقهاء**: لعلاء الدين السمرقندي ، المتوفى سنة ۵۳۹ ه ، ج ۳ ، ص ۳۰۹ . پوره نوم يې مُحَمَّد بن احمد ابو منصور السمرقندي دی ، د احنافو فقيه دی ، د سمرقند اوسېدونکی وو ، په (۵۷۵ه) کې وفات شوی دی ، د کتابونو له جملې څخه يې: تحفة الفقهاء ده. دا د ابو بكر بن مسعود كاساني استاد وو او دا کتاب يې د بدائع الصنائع متن دی. (الاعلام للزركلي ۳۱۸/۵).

[٤] : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: ج ۷ ، ص ۱۳۴

٥ : **سنن أبي داؤد:** لأبو داؤد سـليمان بن الأشـعث بن شداد الازدي السجستاني ، المتوفى سنة ۲۷۵ ه ق ، ج ۴ ، ص ۲۴۵ ، د حديث شمېره ۴۴۰۵ ؛ **سنن الكبرى للبيهقى**: ج ۳ ، ص ۸۳ ، د حديث شمېره ۵۲۹۲ ؛ **مسند الصحابة فی الكتب التسعة**، باب مسند عبدالله ابن عباس ، ج ۳۱ ، ص ۶۵ ، د حديث شمېره ۵۹

يَبْرَأَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَكْبَرَ ».[1]

ژباړه: د ام المؤمنین حضرت عایشة صدیقه رضی اللهُ تعالی عنها شخه روایت دی چې رسولُ الله ﷺ فرمایلي دي: قلم پورته کړی شوی دی (معاف شوي دي) د دریو کسانو شخه: ویده تر څو چې پاڅېدلی نه وي ، ماشوم تر څو چې بالغ شوی نه وي ، او لیونی تر څو چې روغ شوی نه وي.

په پورته حدیث شریف کې لیونی (بې عقل) معاف ښودل شوی دی ، چې لیوني کسان د سزا شخه معاف دي ، په همدې ترتیب سره د ارتداد په موضوع کې هم عقل یو له شرطونو د صحیح کېدلو د ردة شخه دی ، په دې وجه د لیوني او ماشوم چې عقل ونلري مُرتد کېدل صحیح ندي ، ځکه چې عقل د اهلیت د شرائطو شخه یو شرط دی په ځانګړي توګه په اعتقادیاتو کې.

همدارنګه داکتر وهبة الزهیلي په اسلامي فقه کې وایي چې:

**فلا تصح ردة المجنون والصبى الذى لا يعقل لأن العقل من شرائط الأهلية فى الاعتقادات.** [2]

ژباړه: پس نه صحیح کیږي ردة د مجنون او د صبي هغه چې عقل نلري ، ځکه چې عقل د اهلیت د شرائطو شخه په اعتقاداتو کې یو شرط دی.

اما که چېرته یو شخص کله لیونی او کله په هوش وي په دغه هکله فقهاء لاندې نظریات لري:

که یو شخص د هوښیارتیا په حالت کې مُرتد شو ، نو د هغه ردة صحیح دی او د هغه ارتداد ته اعتبار ورکول کیږي او د ارتداد احکام پرې جاري کیږي.

که یو شخص د لیونتوب په حالت کې مُرتد شو ، نو ردة یې صحیح ندی او د هغه ارتداد ته اعتبار نه ورکول کیږي او د ارتداد احکام پرې نه جاري کیږي.

ځکه چې په دواړو حالاتو کې د ده یو حالت کې راګرځېدل د اسلام شخه صحیح دي او بل یې صحیح ندي.

او همدارنګه نشه چې د ده عقل یې بیولی وي نو استحسانا دده ردة نه دی صحیح. [3]

**او د استحسان دلیل دادی** چې احکام د کفر په کفر باندې بنا دي لکه څرنګه چې احکام د ایمان په ایمان باندې بنا دي او ایمان او کفر تصدیق ته راګرځي او تکذیب ته او اقرار خو په دواړو باندې دلیل دی او د نشه یې سړي چه عقل یې بیولی د ده اقرار په دروغو باندې دلالت نه کوي نو د ده اقرار صحیح ندی.[4]

او د نشې په حالت کې که ارتداد وکړي نو د قیاس له امله یې ردة په حق د احکامو کې صحیح دی.[5]

**او د قیاس دلیل دادی** چې احکام د ظاهرې ژبې اقرار باندې بنادي ، نه په هغه څه چې په زړه کې دی ، ځکه چه

---

١: **سنن أبي داؤد:** ج ٤ ، ص ٢٤٣ ، د حدیث شمېره: ٤٤٠٠ ؛ **كنز العمال فس سنن الأقوال والأفعال:** باب أحكام التوبة ، ج ٤ ، ص ٢٣٣ ، د حدیث شمېره ١٠٣٠٨

٢: **بدائع الصنائع:** ج ٧ ، ص ١٣٤. او **الفقه الاسلامى و أدلته:** حد الردة و احكام المُرتدين ، ج ٦ ، ص ١٧٤

٣: **تحفتة الفقهاء:** ج ٣ ، ص ٣٠٩

٤: **بدائع الصنائع:** ج ٣ ، ص ٩٩

٥: **تحفتة الفقهاء:** ج ٣ ، ص ٣٠٩

دا پټ دی په دې باندې هيڅ څوک نه خبرېږي.

### ب: د مست مُرتد کېدل:

د مست يا سکران د ارتداد په هکله د علماؤ تر منځ اختلاف نظر موجود دی:

- **د امام ابو حنيفه او په يو قول د امام شافعي، امام احمد بن حنبل او شيخ الاسلام له نظره:** د مست يا سکران مُرتد کېدل اعتبار نلري[1]، او دليل يې دا دی چې ارتداد د عقيدې پورې اړه لري او د نشې په حالت کې عقل زائل يا له منځ تللی وي او هغه څه چې وايي په هغه باندې معتقد نه وي، ځکه عقل زائل وي او مکلف ندی او عقل په مکلفيت کې شرط دی او دا له دغه حق څخه معدوم دی، نو ردة نه واقع کيږي.[2]
- **د امام شافعي له نظره:** د مست يا سکران مُرتد کېدل اعتبار لري[3]، او دليل يې دادی چې صحابه کرامو د قذف حد په سکران باندې تطبيق کړی دی او د سکران او ارتداد حکم د طلاق غوندې اعتبار لري، طلاق يې هم صحيح کيږي او ردة يې هم صحيح کيږي، ځکه چې دغه کس مکلف دی او د نشې په حالت کې ټول عقل نه زائل کيږي.[4]

## دريم مطلب: بلــوغ:

د بلوغ په هکله چې آيا بلوغ د ردة لپاره شرط دی او که نه؟ په دغه اړوند فقهاؤ خپل نظريات څرګند کړي دي چې د دغه حديث څخه وروسته يې تر څېړنې لاندې نيسو.

د حضرت علي رضی الله تعال عنهُ څخه روايت دی چې د اسلام ستر پيغمبر حضرت مُحمد رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

« رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ »[5].

---

[1]: **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة:** كتاب الحدود، ج ۴، ص ۱۳۴ ؛ **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ۷، ص ۱۳۴ ؛ **الأم:** ج ۶، ص ۱۴۸ ؛ **المبسوط:** لشمس الدين أبو بكر مُحَمَّد بن أبی سهل السرخسي، المتوفی سنة ۴۸۳ هـ ، ج ۱۰، ص ۱۲۳ ، **الانصاف:** ج ۱۰، ص ۳۳۱ ؛ حاشية **رد المختار على الدر المختار** شرح تنوير الأبصار فقه أبو حنيفة: ناشر: دارلفكر لطباعة والنشر، بيروت، ۱۴۲۱ هـ

۲: **الأم:** لأبو عبدالله مُحَمَّد بن إدريس الشافعي، المتوفی سنة ۲۰۴ هـ ق ، ج ۶، ص ۱۳۵ او ج ۶، ص ۱۴۸. او **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود، ج ۴** ، ص ۱۳۴

[3]: **الأم:** ، ج ۶، ص ۱۴۸

٤ : **المبسوط:** شمس الدين لأبی بكر مُحَمَّد بن أحمد السرخسي، المتوفی سنة ۴۸۳ هـ ق، ج ۱۰، ص ۱۲۳. او **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ۷، ص ۱۳۴. او الأم: ج ۶، ص ۱۴۸. او الانصاف: ج ۱۰، ص ۳۳۱. او المغني: ج ۸، ص ۵۶۳. او **كشاف القناع:** منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن ادريس البهوتی، المتوفی سنة ۱۰۵۱ هـ ق، ج ۶، ص ۱۷۷. او **شرح الممتع على زاد لامستقشع:** ج ۱۱، ص ۲۸۵. او **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود، ج ۴** ، ص ۱۳۴

۵ : **سنن أبي داؤد:** ج ۴، ص ۲۴۵، د حديث شمېره ۴۴۰۵ ؛ **سنن الكبرى للبيهقي:** باب من تجب عليه الصلوة، ج ۳، ص ۸۳، د حديث شمېره: ۴۸۸ ؛ صححه البانی فی ارواء الغليل، ج ۲، ص ۵ ؛ (**الثمر المستطاب:** مُحَمَّد ناصرالدين الباني، ناشر غراث للنشر، ج ۱، ص ۵۳ کې

ژباړه: درې کسان مرفوع القلم دي ، ویده تر څو پورې چې راویښ شوی نه وي ، نابالغ ترڅو پورې چې بلوغ ته رسېدلی نه وي ، لیونی تر څو پورې چې عاقل شوی نه وي.

همدارنګه د ابن عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه یو حدیث شریف روایت دی چې فرمايي:

عَرَضَنِی رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- يَوْمَ أُحُدٍ فِی الْقِتَالِ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَلَمْ يُجِزْنِی وَعَرَضَنِی يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَنِی.[1]

ژباړه: زه نبي کریم ﷺ په حضور کې د اُحد په ورځ کې حاضر شوم چې د څوارلس (۱۴) کالو په عمر وم ، نو ماته یې په جنګ کې د شاملېدو اجازه رانکړه ، او د خندق په غزا کې زه د پنځلس (۱۵) کالو په عمر وم ، نو بیا یې ماته اجازت راکړو.

د بلوغ په هکله چې آیا بلوغ د ردة لپاره شرط دی او که نه ؟ په دې هکله د فقهاؤ نظریات په لاندې ډول سره دي:

1. **لومړی نظریه: امام ابو حنیفه رحمة الله علیه** او **امام مُحَّد رحمة الله علیه** وايي چې بلوغ د ردة لپاره شرط نه دی نو د هغه نابالغ ماشوم چې عقل ولري د ده ردة هم صحیح دی.[2]

د امام ابو حنیفه ، امام مُحمد ، امام سرخسي حنفی[3] ، اسحاق[4] ، ابن ابی شیبه او ابو ایوب په نزد د ماشوم مُرتد کېدو ته استحسانا اعتبار ورکول کیږي.[5]

**د طرفینو [6] دلیل:** د طرفینو دلیل دادی چې لکه څرنګه چې د ماشوم ایمان صحیح دی نو ردة یې هم صحیح دی او دا ځکه چې ایمان او ردة بنا دي په وجود د ایمان او ردة حقیقي باندې ، ځکه چې ایمان او کفر حقیقي افعال دي او دا دواړه داسې افعال دي چې د زړه څخه بهر دي په منزلت د هغه افعالو چې د نورو اندامونو څخه شوي دي او اقرار چې د عقل څخه راوتی دا دلیل د موجود والي دی او دلته هم موجود شوی دی ، البته دا دواړه اګر

---

دغه حدیث صحیح ګڼلی دی).

۱ : **صحیح المسلم**: ج ۶ ، ص ۲۹ ، د حدیث شمېره ۴۹۴۴. **سنن الصغری للبیهقي**: للامام الحافظ العلامة أبوبكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسرو جردی البیهقي ، ناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة فی الهند ببلدة حيدرآباد ، لومړی چاپ ، ۱۳۴۴ هـ ق ، المتوفی سنة ۴۵۸ هـ ق باب من لا يجب عليه الجهاد و من عليه عند ، ج ۷ ، ص ۳۵۹ ، د حدیث شمېره ۲۷۸۴

۲ : **بدائع الصنائع**: ج ۷ ، ص ۱۳۴

۳ : پوره نوم یې: مُحَّد بن احمد بن ابي سهل شمس الائمة السرخسي الحنفي دی ، د احنافو د مشهورو فقهاؤ څخه دی ، نسبت یې سرخس ته کېږي چې په خراسان کې پخوانی کلی دی ، فقه او اصول فقه یې له شمس الائمة الحلواني څخه یاده کړې او بیا یې پکې لوړه مرتبه حاصله کړه ، ابن کمال باشا یې په مسائلو کې د مجتهدينو څه ګڼي ، نومونږی با عمله عالم وو ، مشهور کتاب یې المبسوط دی ، چې په فقه حنفي کې تر ټولو لوی کتاب دی ، د مختصر الطحاوي شرح لري او د مُحَّد بن الحسن په السير الكبير باندې یې هم شرح کړې ده ، په (۴۸۳هـ) کې وفات شوی دی. (الاعلام للزركلي ،۵/ ۳۱۵).

۴ : پوره نوم یې إسحاق بن راهوية بن إبراهيم بن مخلد دی ، په ۱۶۱ کال کې تولد شوی دی او د خراسان په سیمه کې د فقهي او احادیثو په علومو کې د خپل وخت تکړه عالم ؤ ، د ده په هکله خطیب بغدادي وايي چې فقهي پوهه ، د حدیثو علم ، د قرآن کریم حفظ ، صدق ، تقوی او پرهېزګاري په ده کې جمع شوي دي ، نوموړی په ۲۳۸ هـ کې په نیشاپور کې وفات شوی دی. وګوره [الاعلام للزركلي: ج ۸ ، ص ۱۷۲]

۵ : **صحیح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۳

۶ : **طرفین**: په اسلامي فقه کې چې کله د احنافو څخه امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام مُحَّد رحمة الله علیه په یوه موضوع کې په یو نظر وي ، او یا هم امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام ابو یوسف رحمة الله علیه په یوه موضوع کې په یو نظر وي ، دې ته طرفین وايي.

چې حقیقت موجود دی خو په ردة باندې به ماشوم نشي وژلی بلکې بندي کوي به یې چې بحث یې په خپل ځای کې راروان دی.

او دا ضرور نه ده چې هر ځای کې ردة راشي هلته به قتل وي ، وګوره که ښځه مُرتده شي دا به نشي قتل کولای ، سره له دې چې دلته ردة موجود دی.

د ماشوم اسلام صحیح دی ځکه چې حضرت علی کرم الله وجهه او حضرت زبیر دواړه د اتو کالو په عمر کې د اسلام په دین مشرف شوي دي او د حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ سره یې بیعت کړی دی او نبی کریم ﷺ د دوی بیعت ندی مسترد کړی ، البته احنافو په ماشوم د تمیز صفت شرط کړی دی او هغه دا چې ماشوم به په اسلام او کفر باندې پوهېدونکی وي چې اسلام څه معنی او کفر څه معنی یا اسلام څه شی دی او کفر څه شی دی.

د امام مالک رحمة الله علیه او د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه په نزد باندې هم د ماشوم ردة ته استحسانا اعتبار ورکول کیږي او د بلوغ څخه مخکې نه قتل کیږي.[1]

2. **دویمه نظریه: امام شافعي او امام ابو یوسف**[2] **رحمة الله علیه** وایي چې بلوغ د ردة لپاره شرط دی ، د نابالغ (صغیر) ردة نه صحیح کیږي ، ځکه چې ماشوم غیر مکلف دی.[3]

د امام شافعي او له احنافو څخه امام ابو یوسف او امام زفر په نزد: د ماشوم مُرتد کېدو ته اعتبار نه ورکول کیږي.

**د امام ابو یوسف رحمة الله علیه دلیل:** د ماشوم عقل په هغه تصرفاتو کې چې خالص ضرر وي دا په نشت حسابیږي په دې وجه د ده طلاق او عتاق نه صحیح کیږي او ردة هم خالص ضرر دی نو ردة یې نه دی صحیح ، او ایمان یې صحیح دی دا ځکه چې ایمان د خالصې د فائدې خبره ده.

**د امام شافعي رحمة الله علیه دلیل:** د رسولُ الله ﷺ حدیث شریف دی چې:

عَنْ عَلِيٍّ رضى الله تعالى عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ « رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ ».[4]

---

[1] : **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۳

[2]: پوره نوم یې یعقوب بن إبراهیم بن حبیب أبو یوسف دی ، په فقه کې د امام أبو حنیفة رحمة الله علیه تر ټولو شاګردانو لومړنی او مخکښ شاګرد ؤ ، د رشید د خلافت په دوره کې یې د قضاء دنده په غاړه درلوده ، لومړنی شخص ؤ چې د قاضي القضات په نوم یاد شو ، او داسې هم ویل کیږي چې لومړنی شخص ؤ چې د اصول فقهې په علم کې یې کتاب ولیکلو. د مشهورو تألیفاتو څخه یې" الخراج" ، " أدب القاضي " ، او " الجوامع " دي. وګوره [ الجواهر المضیة: ج ۱ ، ص ۲۲۰ او ۲۲۲ ؛ تاریخ بغداد: ج ۱۴ ، ص ۲۴۲ ؛ البدایة والنهایة: ج ۱۰ ، ص ۱۸۹ ] او [موسوعة الفقهي: ج ۱ ، ص ۸۳]

۳ : **بدائع الصنائع:** ج ۷ ، ص ۱۳۴. او **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۳ ، **الآم:** ج ۶ ، ص ۱۴۹ ؛ **الانصاف:** ج ۱۰ ، ص ۳۲۰ ؛ **المغني:** ج ۸ ، ص ۵۵۱

٤ : **سنن أبو داؤد:** ج ۴ ، ص ۲۴۵ ، د حدیث شمېره ۴۴۰۵ ؛ **السنن الکبری للبیهقي:** باب من تجب علیه الصلوة ، ج ۳ ، ص ۸۳ ، د حدیث شمېره ۵۲۹۲ ؛ او ام المؤمنین حضرت بي بي عایشة رضی الله تعالی عنه هم هدغه حدیث شریف روایت کړی دی چې په مسند د امام احمد بن حنبل کې ذکر شوی دی: **مسند امام احمد بن حنبل:** ج ۶ ، ص ۱۰۰ ، د حدیث شمېره: ۲۴۷۳۸ ؛ صححه البانی فی **الثمر المستطاب:** ج ۱ ، ص ۵۳ ؛ و (صححه فی **صحیح و ضعیف سنن أبی داؤد:** مُحَمَّد ناصر الدین البانی ، ج ۹ ، ص ۴۰۳)

نو هرکله چې دی مرفوع القلم وګرځېدو نو اسلام يې هم صحيح ندی او چې اسلام يې صحيح ندی نو که له هر بل دين څخه کوم بل دين ته (بيدون له اسلام څخه) رجوع کوي ارتداد نه شو.

نور علماء د دې ځواب داسې کوي چې د حديث شريف مطلب دادی چې د دوی ګناه نه ليکل کيږي ، نه دا چې دوی ته اجر ا ثواب نه ليکل کيږي ، په اسلام کې ورته اجر او ثواب ليکل کيږي لکه په لمانځه او حج او داسې نورو عباداتو کې.

د دويمې نظرې علمای کرام سربېره په پورتنيو دلايلو ، په لاندې احاديثو باندې هم استدلال کوي چې:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ عَرَضَنِى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَوْمَ أُحُدٍ فِى الْقِتَالِ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَلَمْ يُجِزْنِى وَعَرَضَنِى يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَنِى.[1]

ژباړه: د ابن عمر رضى الله تعالى عنهُ څخه روايت دی چې زه د نبي کريم ﷺ په حضور کې د اُحد په ورځ باندې حاضر شوم چې د څوارلس (۱۴) کالو په عمر وم ، نو ماته يې په جنګ کې د شاملېدو اجازه رانکړه ، او د خندق په غزا کې زه د پنځلس (۱۵) کالو په عمر وم ، نو بيا يې ماته اجازت راکړو.

حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِى شَيْبَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ نَافِعٌ حَدَّثْتُ بِهَذَا الْحَدِيثِ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَقَالَ إِنَّ هَذَا الْحَدُّ بَيْنَ الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ.[2]

نافع وايي چې دا حديث شريف مې عمر بن عبدالعزيز [3] ته بيان کړو ، هغه وويل چې عُمر د بالغ او د نابالغ په منځ کې حد دی.

**راجح قول:** که چېرته د فقهاؤ پورته نظرياتو او ذکر شوو نبوي احاديثو ته ځغلنده نظر واچوو نو دا را جوتيږي چې دويم نظر راجح دی.

**بنا په راجح قول:** که مُرتد د بلوغ سن ته نه وي رسېدلی ، د ارتداد حد پرې نه جاري کيږي او نه وژل کيږي.

## خلورم مطلب: اختيار:

اختيار هم د ردة د صحت له شرطونو څخه يو شرط دی يا په بل عبارت يو د شرائطو د صحت د ردة څخه هم

---

۱ : **صحيح مسلم:** باب بيان سن البلوغ ، ج ۶ ، ص ۲۹ ، د حديث شمېره ۴۹۴۴ ؛ **السنن الکبری للبيهقي:** باب لا يفرض واجبا الا لبالغ ، ج ۶ ، ص ۳۵۲ ، د حديث شمېره ۱۳۳۸۶ ؛ **معجم الکبير للطبراني:** د حديث شمېره ۴۴۳ ، **مسند طيالسي:** سليمان بن داؤد أبو داؤد الفارسي البصري الطيالسي ، من کبار حفاظ الحديث ، المتوفى سنة ۲۰۴ ه ق ، د حديث شمېره: ۱۹۷۰.

۲ : **سنن ابی داؤد:** ج ۴ ، ص ۲۴۶ ، د حديث شمېره: ۴۴۰۹

[۳] : پوره نوم يې عمر بن عبد العزيز بن مروان بن الحکم الأموي القرشي ، أبو حفص دی ، د امويانو د کورنۍ څخه دی ، په ۶۱ ه ق کال کې په مدينه منوره کې پيدا شوی دی ، عادل پاچاه او صالح خليفه ؤ ، ډېر خلک ورته د پنځم راشده خليفه لقب هم ورکوي او حتی په عمر ثاني (دويم عمر) باندې شهرت لري ، د خلافت دوره يې دوه نيم کاله وه چې په ۱۰۱ ه ق کال کې وفات شو او په عدالت او ښه سياست کې شهرت لري. وګوره [الاعلام للزرکلی: ج ۵ ، ص ۵۰]

خوښي ده. [1]

يو شخص هغه وخت مُرتد کيږي چې د اسلام څخه کفر ته په خپله خوښه او اختيار باندې رجوع وکړي ، که په چا باندې زور وکړای شي نو د ده ردة استحسانا صحيح کيږي په دې شرط چې زړه يې په ايمان باندې مطمئن نه وي. [2]
او قياس وايي د ده ردة دې د احکام دنيوي په اعتبار صحيح شي کوم چې به د دغه تحقيق د اکراه تر عنوان لاندې په راتلونکي کې ذکر شي.

**که چېرته يو څوک د کوم تهديد په صورت کې بيدون له خپل اختيار څخه د اسلام څخه واوړي نو دا به دوه حالته ولري:**

1. **يا به دغه اکراه او تهديد په قتل او يا د عضوې په قطع باندې وي** ، چې په دغه حالت کې د ارتداد د اختيار شرط له منځه ځي او شخص نه مُرتد کيږي ، چې د دغه ډول اکراه په هکله استاذ داکتر وهبة الزهيلي په اسلامي فقه کې داسې وايي:

**فلا تصح ردة المکره اتفاقا اذا کان قلبه مطمئنا بالايمان.** [3]

ژباړه: پس نه صحيح کيږي ردة د مکره په اتفاق د علماؤ سره کله چې د ده زړه په ايمان باندې مطمئن وي (يعنې صرف په ژبه باندې د کفر الفاظ د تامې اکراه په وجه سره ووايي او زړه يې په ايمان باندې مطمئن وي).

2. **او يا به هم تهديد په بندي کولو او يا کوم بل تعزير وي** ، چې په دغه حالت کې د ارتداد د اختيار شرط په مکمل ډول سره اکثرا له منځه نه ځي ، او کله چې اختيار له منځه لا نه ړلو ، نو شخص مُرتد کيږي.

د موضوع د روښانتيا لپاره غواړم چې د اکراه ډولونه په مختصر ډول سره توضيح کړم او هغه دا چې:

**اکراه يا جبر يا د خوښۍ له منځه تلل:** په دوه ډوله دی:

1. **تامه اکراه**: عبارت د هغه اکراه څخه ده چې د شخص اختيار پکې فاسد شي ، لکه د مثال په ډول يو څوک په وژلو او يا د يوې عضوې په قطع کولو باندې تهديد شي ، او ځينې علمای کرامو د سخت وهل وركولو تهديد چې د يو اندام تلف ته مفضي شي په تامه اکراه کې داخل کړی دی.
2. **ناقصه اکراه**: عبارت د هغه اکراه څخه ده چې د شخص اختيار پکې فاسد نه وي بلکې يواځې رضا پکې معدومه وي ، لکه د مثال په ډول يو څوک په بندي کولو او يا تعزير کولو باندې تهديد شي.

په پورته دواړو حالاتو کې که د شخص زړه په اسلام باندې مطمئن وي او د تهديد د پای ته رسېدلو څخه وروسته يې دوباره په اسلام باندې اقرار وکړو مُرتد نه شمېرل کيږي او په دغه هکله د اسلامي اُمت ټول فقهاء په يوه نظر

---

١ : **المبسوط**: ج ٢۴ ، ص ٣٨. او **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: ج ٧ ، ص ١٧٠-١٧۵. او **الأم**: ج ۶ ، ص ۶۵٢. او فتح الجليل: ج ۴ ، ص ۴٠٧. او **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ١٣۴

٢ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: ج ٧ ، ص ١٣۴

٣ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: ج ٧ ، ص ١٣۴. او **الفقه الاسلامی و أدلته**: فصل السادس ، حد الردة و احکام المُرتدين ، ج ۶ ، ص ١٧۵

دي[1] او په کتاب الله باندې استدلال کوي ، چې په دغه هکله الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾[2]

ژباړه: هر څوک چې په الله تعالی کافر شي وروسته له ايمان راوړلو څخه ، دی مُرتد دی ، مگر په هغه صورت کې مُرتد ندی ، چې د زور په اساس يې صورت موندلی وي او زړه يې په ايمان باندې ډاډه وي.

او که سينه يې کفر ته خلاصه کړې وي او عقيدتا يې کفر منلی وي مُرتد کيږي ، نو پر دوی باندې د الله تعالی غضب دی او د دوی لپاره لوی عذاب دی.

حضرت عبدالله ابن عباس رضی اللهُ تعالی عنهُ د دغه آيت شريف د شان نزول په باره کې داسې وايي چې دغه آيت شريف د عمار بن ياسر به باره کې نازل شوی دی.

کله چې کفارو ياسر رضی اللهُ تعالی عنهُ ، بلال رضی اللهُ تعالی عنهُ ، عمار رضی اللهُ تعالی عنهُ ، بي بي سميه رضی اللهُ تعالی عنها او صهيب رضی اللهُ تعالی عنهُ شکنجه کړل او بي بي سميه رضی اللهُ تعالی عنها او د ده خاوند حضرت ياسر رضی اللهُ تعالی عنهُ يې په بې رحمانه شکل سره په شهادت ورسول ، نو عمار رضی اللهُ تعالی عنهُ د کفارو د جبر او زور په سبب د کفر کلمه په ژبه باندې وويله ، هر کله چې د رسولُ الله ﷺ سره مخامخ شو ، نو دا واقعه يې ورته بيانه کړه ، نو رسولُ الله ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې زړه دې په کوم حالت کې ؤ؟ نو ده ورته وويل چې زړه مې په ايمان ډاده ؤ ، نو رسولُ الله ﷺ ورته وفرمائيل چې که بيا کفارو له تا سره داسې چلند کاوه ته هم ورسره په خوله سازش وکړه.[3]

علمای کرام ټول په دې باندې متفق دي چې که چېرې يو شخص د کفر د کلمې په ويلو سره مجبور شي ، او زړه يې په ايمان باندې مطمئن وي ، نوموړی شخص گنهکار ندی.

مگر که اهل حرب مُرتد چې بېرته يې اسلام ته رجوع کړې وي او بيا مُرتد شي ، د ارتداد احکام پرې تطبيق کيږي.

## پنځم مطلب: د کفر اراده:

د ارتداد د صحت د شروطو څخه يو هم د کفر اراده ده ، چې ارتداد کوونکی بايد د کفر اراده ولري ، که چېرې يو څوک په خپله ژبه باندې بغير له کوم قصد او ارادې څخه د کفر کلمات جاري کړي ، نو نه مُرتد کيږي ، دا ځکه چې نوموړی د ارتداد اراده نلري.[4]

په دغه اړوند باندې د هغه سړي قصه يو واضح دليل دی چې يو سړي په نبوي عصر کې غوښتل چې ووايي چې

[1]: صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۴
[2]: نحل سورت: ۱۰۶
[3]: فقه السنة: ج ۲ ، ص ۴۰۳
[4]: صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۵

اللَّهُمَّ أَنْتَ ربي وَ أَنَا عَبْدك ، مګر هغه په خطاء سره داسې وويل چې اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِى وَأَنَا رَبُّكَ ، [1] او سهوه شو ، چې په دغه حالت کې ارتداد واقع نه شو.

همدارنګه الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ [2]

ژباړه: هر څوک چې په الله تعالی کافر شي وروسته له ايمان راوړلو څخه ، دی مُرتد دی ، مګر په هغه صورت کې مُرتد ندی ، چې د زور په اساس يې صورت موندلی وي او زړه يې په ايمان باندې ډاده وي.

د قرآن کريم پورته آيت شريف او په نبوي عصر کې پورتني ذکر شوي مثال ته په کتو سره دا په څرګند ډول سره ويلای شو چې د ارتداد په هکله د کفر اراده يو مهم شرط دی.

## شپږم مطلب: علم په حال او حکم:

د ارتداد د صحت د شروطو څخه يو هم د مُرتد پوهه ده چې مرتد بايد په دې باندې وپوهيږي چې د ده دا قول يا فعل کفري او ارتدادي دی ، نو که دغه شرط (د مرتد پوهه په حال او حکم) پکې موجود نشي نو د کفر او ارتداد سبب هم نه موجوديږي ، او ارتداد نه واقع کيږي ، تر هغې چې يو نفر پوه شوی نه وي چې د ده دا قول يا فعل ارتدادي دی. [3]

په دغه هکله الله تعالی ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾ [4]

ژباړه: او هر هغه څوک چې مخالفت کوي له امر د رسول الله ﷺ وروسته له هغه نه چې سمه لاره ورته ښکاره شوه ، او پيروي وکړي د هغه لارې چې غير وي له مؤمنانو نه چې دين د اسلام دی ، نو پرې به ږدو دی مونږ په دنيا کې او وبه يې سپارو په هغه څيز چې ده غوره کړی دی چې کفر او ارتداد دی او داخل به کړو دی په قيامت کې په دوزخ کې او بد دی دا دوزخ له لحاظه د رجوع.

---

[1]: **صحيح البخارى**: د حديث شميره ۱۹۴۹ ؛ **صحيح مسلم**: باب فى الحض على التوبه والفرح بها ، ج ۸ ، ص ۹۳ ، د حديث شميره: ۷۱۳۶؛ د حديث شريف متن: عن أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ -وَهُوَ عَمُّهُ- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- « لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلاَةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتَى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِى ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِى وَأَنَا رَبُّكَ. أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ »

۲ : **د نحل سورت:** ۱۰۶

۳: **شرح الممتع على زاد المستقشع**: ج ۱۱ ، ص ۱۸۶- ۲۸۹. او **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود، ج ۴** ، ص ۱۳۵

٤ : **د نساء سورت:** ۱۱۵ آيت

همدارنګه الله ﷻ په بل آيت شريف کې فرمايي:

﴿ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ حَتَّى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَا يَتَّقُونَ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ [1]

ژباړه: او د الله تعالى ﷻ دا کړنلاره نه ده چې خلک له هدايت ورکولو څخه وروسته بېرته په ګمراهۍ کې اخته کړي ، تر څو پورې چې هغو ته په ډاګه څرګنده ونه ښيي ، چې هغوی بايد له کومو شيانو څخه ځان وژغوري. په حقيقت کې الله تعالى ﷻ د هر شي علم لري.

د قرآن کريم په بل آيت شريف کې هم الله ﷻ فرمايي چې:

﴿ مَنِ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا ﴾ [2]

ژباړه: هر هغه چا چې سمه لاره ونيوله ښکله چې سميرې دی په دغه لاره لپاره د ځآن خپل ، ځکه چې دا تګ په سمه لاره دې هم مطلب ته رسوي ، او هر څوک چې ګمراه شو پس ښکله چې همدا خبره ده چې ګمراه کيږي په خپل ځان باندې ، ځکه چې ګمراهي هم دی هلاک کوي ، او نه اخلي هېڅ بار اخيستونکي بار د ګناهونو د بل چا (لکه وليد بن مغيره به نورو کفارو ته ويل چې که تاسې زما تابعان وی نو ستاسې د ګناهونو بار به زه په ځان باندې اخلم) ، او نه يو مونږ عذاب ورکوونکي هېڅ طايفې لره تر هغه پورې چې راوليږو مونږ رسول (تر څو خلک د توحيد خبر کړي او عذر ورته ساز شي).

د قرآن کريم پورته مبارکو آيتونو ته که يو ځغلنده نظر وکړو نو د بشريت په تاريخ کې الله ﷻ لومړی انسانانو ته د خپلو پيغمبرانو په واسطه احکام بيان کړي دي تر څو خلک وپوهيږي ، او بيا يې نېکو انسانانو ته نعمتونه ورپه برخه کړي دي او هغو انسانانو چې د الله ﷻ د امر څخه نافرماني کړي ده ورته عذاب ورپه برخه کړی دی ؟

جهل او ناپوهي د ارتداد حکم ساقطوي او ردة نفی کوي ، پس علم په حال او حکم باندې يو له شروطو د ارتداد څخه دی.[3]

**آيا نارينتوب د ردة د شروطو څخه دی ؟**

نرتوب د ردة لپاره شرط نه دی ځکه د ښځې مُرتد کېدل هم صحيح دي ،[4] او په عصر نبوت کې د ام مروان په نوم يوه ښځه چې مُرتده شوې وه او توبه يې ونه ويستله ، په قتل سره ورسېده.

اوس دې موضوع ته کتنه کوو چې که ښځه مُرتده شي ، ده ته به څه سزا ورکول کيږي ؟ آيا دا به هم لکه د سړو

---

۱ : د التوبة سورت: ۱۱۵ آيت

۲ : د الأسراء سورت: ۱۵ آيت

۳: صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۶

۴ : بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع: ج ۷ ، ص ۱۳۴

غونډي وژل کيږي او که نه؟ په دې هکله د علماؤ تر منځ اختلاف نظر موجود دی کوم چې په لاندې ډول سره دی:

- د احنافو په نزد باندې: ښځه به نه وژل کيږي ، بلکې په اسلام باندې به مجبوروله شي.[1]
- د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد باندې: ښځه به هم لکه د سړو غونډې قتل کيږي[2] ، دا ځکه چې حديث شريف کې حکم عام دی او دا مسئله به په خپل ځای کې راشي.

## څلورم مبحث: د ارتداد د اثبات طريقه

ارتداد په اقرار او شاهدانو باندې ثابتيږي[3]، او قرائن په ارتداد کې عدلي او قضايي ارګانونه د ثبوت خواته نږدې کوي ، اما قرائن د ارتداد حد نه ثابتوي ، چې په لاندې ډول يې تر څېړنې لاندې نيسو:

### لومړی مطلب: اقرار

کله چې مُرتد په خپله ژبه په ځان باندې اقرار وکړي او د ارتداد اقوال ووايي نو ارتداد ثابتيږي او شخص مُرتد ګڼل کيږي.[4]

اقرار ته فقهاء سيد الأدلة وايي چې په قضايي محاکمو کې يوه موضوع/دعوی په اقرار باندې ثابتيږي ، هر وخت چې د ارتداد موضوع محاکمو ته ورشي چې فلاني د ارتداد جرم تر سره کړی دی ، نو محکمه مضنون شخص راغواړي او پوښتنه ترې کوي ، که چېرې مضنون شخص په خپل ځان باندې اقرار وکړو چې هو ما ارتداد کړی دی او دا دا ....... کليمات مې ويلي دي ، نو ردة يې ثابتيږي ، او مجرم شخص مُرتد ګڼل کيږي ، چې د مُرتد شخص څخه به د مسلمانانو حاکم د توبې غوښتنه کوي ، تر څو د خپل ارتداد څخه توبه وباسي ، کوم اشتباهات چې د اسلام د مبارک دين په هکله لري ، هغه ورته د علماؤ لخوا تشريح شي او شک او شُبهه يې ورکه شي او توبه وباسي ، که يې توبه وکړه نو خير دی ، او که توبه يې ونه کړه ، نو که د وژلو شروط پکې ؤ نو وژلی به شي.

---

[1] : بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع: ج ۷، ص ۱۳۴

۲ : بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع: ج ۶، ص ۱۱۸. الأم: ج ۶، ص۱۵۶، ۱۵۹ او الجامع الصغير: للامام محمد بن حسن الشيباني، المتوفی سنة ۱۸۹ هـ ق، ناشر: دار معرفة، بيروت ، ص ۲۵۱ او مختصر اختلاف العلماء: لأبي بكر أحمد بن علي الجصاص الرازي، المتوفی سنة ۳۷۰ هـ ق، ج ۳، ص ۴۷۱

[3] : الاشباه والنظائر: باب الردة، ج ۱، ص ۱۹۰

٤ : صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود، ج ۴، ص ۱۴۱

## دویم مطلب: شــهـود

د ارتداد د حد د اثبات بله لاره د شاهدانو ګواهی ورکول دي ، چې د شاهدانو په شهادت باندې ارتداد ثابتیږي [1] ، چې د شاهدانو د تعداد په هکله فقهاؤ بیلا بیل نظرونه ورکړي دي:

1. **جمهور فقهاء** (امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ، امام مالک رحمة الله علیه ، امام شافعي رحمة الله علیه) او امام اوزاعي رحمة الله علیه[2] وايي چې: ارتداد لکه د نورو ټولو حدودو په شان په دوه (۲) شاهدانو باندې ثابتیږي.
2. **صاحبین** (امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام مُحَمَّد رحمة الله علیه) وايي چې:

د زیادتره فقهاؤ په نزد باندې دا ضروري ده چې د ارتداد الفاظ د شاهدانو لخوا د قاضي په وړاندې بیان کړای شي تر څو د مُرتد د ردة ډول معلوم شي[3]، که ساب الرسول ؤ د زندیقیت حکم به پرې تطبیقولی شي او که نه نو د الفاظو او ویونکی او همدا راز د حالاتو په لیدو به قاضي ورباندې حکم جاري کوي.

3. **امام حسن بن زیاد** رحمة الله علیه وايي چې: د ارتداد د اثبات لپاره به لکه د زنا د شاهدانو په څېر څلور (۴) شاهدان په عدالت کې د قاضي په حضور کې وړاندې کیږي او ګواهي به ورکوي ، ځکه په دواړو کې د مرګ سزا ده نو پکار ده چې څلور (۴) شاهدان په ارتداد کې هم ګواهی ته وړاندې کړای شي.

**که چېرته د یو چا په ارتداد باندې شاهدان تیر شول، مګر پخپله هغه سړي د ارتداد څخه انکار وکړو:**

په دغه حالت کې فقهاء دوه نظره لري:

1. **د جمهورو فقهاؤ (امام ابو حنیفه رحمة الله علیه، امام شافعي رحمة الله علیه او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه) له نظره:** د هغه شخص قول معتبر دی ، او د شاهدانو قول ته اعتبار نه ورکول کیږي.[4]
2. **د شوافعو د ځنې علماؤ له نظره:** د هغه شخص قول تنها معتبر ندی بلکې دا شخص به د اسلام څخه پرته دنورو ټولو دینونو څخه خپل برأئت هم اعلانوي.[5]

که یو مسلمان ارتداد وکړي ( مرتد شي ) او شاهدان پرې د هغه د ارتداد شاهدي ورکړي او ارتداد پرې ثابت شي ، او بیا د خپل ارتدادي عمل یا قول څخه انکار وکړي ، نو د احنافو علماؤ له نظره په دغه صورت کې به د عادلو

---

۱: **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۱

[۲] : پوره نوم یې عبد الرحمن بن عمرو بن یُحْمِد الأوزاعي دی ، چې په ۸۸ هـ کې زیږېدلی دی ،د دمشق د اوزاع د قریې دی ، نوموړی د خپل عصر یو ښه إمام ، فقیه ، محدثاو مفسر تیر شوی دی ، خلیفه منصور ترې د غوښتنه وکړه چې د قضاء منصب ورته وسپاري ، خو ده ترې انکار وکړو ، د عمر په آخر وخت کې بیروت ته لاړو او په ۱۵۷ هـ کې هلته وفات شو. وګوره [البدایة والنهایة: ج ۱۰ ، ص ۱۱۵] او [موسوعة الفقهي: ج ۱ ، ص ۱۳۹]

۳: **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۲

٤: **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۲

٥: **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۲ ، **الاختیارات العلمیة:** ج ۱ ، ص ۴۰۵

شاهدانو قول نه تکذیب کیږي ، او لومړی به د مرتد څخه د توبې غوښتنه وشي او استحبابا دې ورته د اسلام د داخلېدو غوښتنه وشي[1] ، دا ځکه چې که کومه اشتباه یې وي هغه به لیرې شي[2] ، چې مخکې ته توبې څخه د مرتد قتل مکروه دی ، که یې توبه وویسته نو ښه تر ښه ، او که د توبې څخه یې انکار وکړو نو په دغه صورت کې به نه قتل کیږي ، [3] او د ارتداد نور ټول احکام به پرې لازم کیږي مگر قتل کیږي به نه.[4]

## قراین:

قراین عدلي او قضایي ارگانونه د جرایمو اثبات خواته نږدې کوي ، په اوسني عصر کې کوم کې چې د تکنالوژۍ پرمختللي وسایل موجود دي او دغه تکنالوژي ورځ تر بلې نوره هم د پرمختگ په حال کې ده ، د عصري وسایلو په واسطه اکثره جرایم په اثبات رسیږي ، څرنگه چې زمونږ د تحقیق موضوع د ارتداد د حد په اړه ده او فعلا د ارتداد د حد د اثبات په اړه څېړنه کوو ، نو په مجموعي ډول سره د ارتداد د حد د ثبوت لپاره قرائن هغه څه دي چې د ارتداد د حد په اثبات کې د عدلي او قضایي ارگانونو سره مرسته کوي. د ارتداد په حد کې قرائن عبارت د مُرتد د ارتداد د قول او عمل ثبت د تصویري او صوتي عصري وسایلو او تکنالوژۍ ، او د تحریري اسنادو پواسطه سره دی:

### الف: د تصویري او صوتي عصری تکنالوژۍ پواسطه:

**لومړی: د مُرتد لخوا د صوتي او تصویري تکنالوژۍ پواسطه د ده د ارتداد د وینا او عمل ثبت کېدل:**

که چېرته د مُرتد د ارتداد وینا او عمل خپله د مُرتد پواسطه په صوتي او تصویري شکل سره ثبت شي ، او بیا دغه وسایل محکمې ته لاس ته ور شي ، نو د ارتداد د حد د ثبوت لپاره ترې کار اخیستل کېدای شي.

**دویم: د خلکو لخوا د صوتي او تصویري تکنالوژۍ پواسطه د ده د ارتداد د وینا او عمل ثبت کېدل:**

که چېرته د مُرتد د ارتداد وینا او عمل د نورو خلکو پواسطه په شمول د مطبوعاتو او Media په صوتي او تصویري شکل سره ثبت شي ، یا ورڅخه کوم ویډیو او یا CD او یا د ټایپ کوم کست ثبت شي او بیا دغه وسایل محکمې ته وړاندې شي ، نو د ارتداد د حد د ثبوت لپاره ترې کار اخیستل کېدای شي.

### ب: د تحریري اسـنادو پواسـطه:

**لومړی: د تحریري اسنادو ثبت خپله د مُرتد پواسطه:**

که چېرته یو مُرتد خپل د ارتداد عمل په تحریري شکل سره د کوم کاغذ او یا نورو توکو پواسطه ولیکي ، د ارتداد په اثبات کې ترې کار اخیستل کېدای شي.

---

[1] : **رد المختار:** باب المرتد ، ج ۴ ، ص ۲۴۶

[2] : **کتاب السیر:** لعبدالغنی الغنیمی الدمشقی المیدانی ، الباب فی شرح الکتاب ، ج ۱ ، ص ۲۴۶

[3] : **رد المختار:** ج ۱۶ ، ص ۳۲۰ . او **تکملة حاشیة رد المختار:** ج ۲ ، ص ۳۲۱

[4] : **رد المختار:** ج ۱۶ ، ص ۳۲۰ . او **تکملة حاشیة رد المختار:** ج ۲ ، ص ۳۲۱

**دویم: د تحریري اسنادو ثبت د نورو خلکو پواسطه:**
که چېرته د یو مُرتد د ارتداد عمل په تحریري شکل سره د نورو خلکو لخوا د کوم کاغذ او یا نورو تحریري توکو پواسطه ولیکل شي ، او پکې د مُرتد د لاس نښه او یا د لاس ګوته ولګول شي او محکمې ته وړاندې شي ، د ارتداد په اثبات کې مرسته کوي.

**د ارتداد د ثبوت په هکله مهمه نکته:** قرائنو په هکله باید وویل شي چې د یو جرم په اثبات کې شته قرائن د عدلي او قضایي ارګانونو سره پوره مرسته کوي او حتی ثقه او کره قرائن یو جرم په اثبات رسوي ، اما څرنګه چې ارتداد د شرعي حدودو څخه یو حد دی ، او د شرعي حدودو په هکله د اسلام د ستر پېغمبر حضرت مُحمدُ رسولُ الله صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی چې فرمایي: « ادرءوا الحدود ماااستطعتم »[1] یعني څومره چې مو وسه رسیږي حدود کم کړی ، او که چېرته د یو شرعي حد په اثبات کې شک پیدا شي ، نو د حد تطبیق ساقطیږي ، فلهذا د ارتداد د حد په ثبوت کې قرائن نشي کولای چې حد ثابت کړي بلکې د حد په اثبات کې مرسته کولای شي ، او د ارتداد حد د مُرتد په اقرار او شهودو سره ثابتیږي ، که چېرته د قرائنو څخه داسې اسناد عدلي او قضایي ارګانونو ته لاس ته ورشي چې د مُرتد څخه کومه ویدیو هم ثبت شوي وي ، او مُرتد د خپل ارتداد څخه انکار وکړي چې ما ارتداد ندی کړی ، او یا دا زما آواز ندی ،....... نو د مُرتد اقرار ته پوره اعتبار ورکول کیږي او د ارتداد حد نه ثابتیږي.

---

[1]: **اعلاء السنن**: ج ۱۱ ، ص ۴۸۸ ، د حضرت بي بي عائشة صدیقة رضی الله تعالی عنها څخه روایت شوی دی او په عزیزي کې دا حدییث حسن دی

# دويم فصل

## د ارتداد اسباب

### (هغه امور چې په هغه سره مسلمان مُرتد کیږي)

ارتداد مختلف اسباب لري کوم چې مونږ دلته په څلورو ګروپونو کې ترتیب او تنظیم کړي دي چې عبارت دي له ، عقیدوي اسباب ، قولي اسباب ، فعلي یا اعمالي اسباب او د شرعي اعمالو د ترک کولو اسباب چې هر یو یې په جداګانه ډول سره تر بحث او څېړنې لاندې نیسو.

مخکې له دې څخه چې د ارتداد په اسبابو باندې بحث وکړو ، اړینه ده تر څو د اسلام په چوکاټ کې د داخلېدو ، او بیا هغه مؤمن به شیان ، په کومو باندې چې باید یو مسلمان عقیده ولري ، په مختصر ډول سره ذکر کړو.

کله چې یو انسان د اسلام چوکاټ ته داخلیږي نو تر هر څه د مخه باید د شهادت دغه کلمه په ژبه سره ووایي چې:

**لا اله الا اللهُ مُحمدُ رسولُ الله** (ژباړه: نشته دی لایق د عبادت مګر یو الله ﷻ او مُحَمَّد ﷺ د الله ﷻ رسول او استازی دی) او په زړه باندې د دې مبارکې کلمې تصدیق وکړي ، نو په اسلام کې به داخل شي.

په دغه کلمه کې دوه شهادتین دي: چې یو د توحید (د الله ﷻ واحد او لا شریک ګڼل) او بل د رسالت (مُحَمَّد صلی الله علیه وسلم د الله ﷻ رسول او استازی او خاتم النبیین دی) شهادت دی ، او بیا د توحید په برخه کې یو نفی (نشته لایق د عبادت یعني بغیر د الله ﷻ څخه نور ټول معبودان نفي کړي) او بل اثبات (یعني یو الله ﷻ د عبادت لایق دی) دی.

د ایمان په هکله امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه وایي:

**الایمان اقرار باللسان و تصدیق بالقلب** [1]

ژباړه: ایمان اقرار په ژبه او تصدیق په زړه دی.

هر کله چې یو څوک د شهادت کلمه په ژبه ووایي او په زړه باندې یې تصدیق کړي نو په اسلام کې داخلیږي.

چې د پورته کلمې د ویلو او تصدیق څخه وروسته باید د عقیدې د صحیح والي لپاره اووه مؤمن به شیان کوم چې په آمنت باالله کې ذکر شوي دي ، د هر مسلمان لپاره لازمي ده چې دا ووایي او پرې عقیده ولري ، په دغه هکله د اهل سنت والجماعة د فقهاؤ ستر امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په فقه اکبر کې داسې وایي:

**اصل التوحید و ما یصح الاعتقاد علیه یجب ان یقول آمنت باالله و ملا ئکته و کتبه ورسله والیوم الآخر والقدر خیره و شره من الله تعالی والبعث بعد الموت.** [2]

ژباړه: اصل د توحید او هغه څه چې د یو چا عقیده پرې صحیح کیږي لازمه ده چې ووایي چې ایمان مې راوړی دی

---

١: **الفقه الأکبر**: للامام الأعظم أبی حنیفة النعمان بن ثابت الکوفي ، المتوفی ١٥٠ ھ ، ج ١ ، ص ١٩

٢: **الفقه الأکبر**: ج ١ ، ص ١

په الله ﷻ باندې ، او په ملائکو د ده باندې ، او په کتابونو د ده باندې ، او په رسولانو د ده باندې ، او په ورځ د آخرت باندې ، او په اندازه د خير او شر باندې چې له طرفه د الله ﷻ دي ، او پس له مرګه ژوندون حق دی.

همدارنګه امام طحاوي رحمة الله عليه وايي:

**والايمان: هو الايمان بالله و ملئكته و كتبه و رسله واليوم الآخر والقدر خيره وشره من الله تعالى.** [1]

ژباړه: او هر چې ايمان دی: هغه ايمان په الله ﷻ، او په ملائکو د ده باندې ، او په کتابونو د ده باندې ، او په رسولانو د ده باندې ، او په ورځ د آخرت باندې ، او په اندازه د خير او شر باندې چې له طرفه د الله تعالى ﷻ دي.

نو که هر مسلمان د توحيد څخه شرک خواته مخه کړي ، يا د نبي کريم ﷺ د رسالت څخه انکار وکړي ، يا د پورته مؤمن به شيانو څخه يو يې هم ونه مني او يا د داسې نورو مهمو اعتقاداتو څخه انحراف وکړي او يا منکر شي ، ايمان يې نقض کيږي او د اسلام د چوکات څخه وځي ، او بالآخره په ارتداد کې داخليږي ، د کوم په هکله چې مونږ د دې تحقيق او څېړنې دغه فصل ځانګړې کړې دی ، او په مفصل ډول مو تر څېړنې لاندې نيولی دی.

## لومړی مبحث: ارتداد په عقيده کې

عبارت د هغه ارتداد څخه دی چې يو مسلمان په عقيدوي لحاظ سره ارتداد وکړي يا داسې عقيده اختيار کړي چې په هغه سره د اسلام له چوکاټ څخه وځي ، لکه د الله تعالى ﷻ د ذات ، اسماء او صفاتو څخه انکار وکړي ، يا د الله تعالى ﷻ سره شريک پيداکړي ، يا عقيده د عالم په بقاء ، يا عقيده د الله ﷻ په فناء ، او يا هم د حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ د نبوت څخه انکار وکړي ، يعنې په هغه څه باندې عقيده او باور درلودل چې د اسلامي عقيدې مخالف وي.

د عقيدوي ارتداد اسباب په لاندې مثالونو کې بيان شوي دي:

- د الله ﷻ څخه منکر کېدل
- د الله ﷻ د ځينو صفاتو څخه منکر کېدل
- د اتحاد او حلول عقيده ساتل يعنې الله ﷻ او مخلوق يو ګڼل
- د تثليث عقيده يا معبودان درې ګڼل (الله ﷻ، حضرت عيسى عليه السلام او بي بي مريم رضى اللهُ تعالى عنها)
- الله ﷻ ته اجزاء ګڼل (لکه زوی و غيره).
- نېکان خلک پېغمبران او ملايکې الله ګڼل.
- د الله ﷻ منل او د پيغمبر نه منل يا د قرآن منل او د سنت نه منل ، او يا د دې برعکس عقيده اختيارول

---

[1]: **العقيدة الطحاوية**: للامام ابي جعفر احمد بن مُحَمَّد الطحاوي الحنفى ، المتوفى ٣٢١ ه ، ج ١ ، ص ١٦

- د آخري نبي حضرت مُحمد رسول الله صلى اللهُ عليه وسلم څخه انکار کول او يا يې خاتم النبيين نه منل.
- په رسولانو ايمان راوړلو کې عقيدتا نيمګړتيا ، چې ځنيې منل او ځيني نه منل
- د انبياؤ د قطعی الدلالت او قطعی الثبوت معجزات سحر ګڼل او يا ورڅخه انکار کول
- د قرآن کريم څخه انکار کول او يا د قرآن کريم ځنې برخې منل او له ځنو څخه انکار کول
- د نازل شوو آسماني کتابونو له نزول څخه انکار کول
- د قيامت د ژوند څخه انکار کول
- مؤمنان او کفار په عقيده کې برابر ګڼل
- حلال حرام ګڼل او حرام حلال ګڼل

چې پورته ارتدادي عقايد مونږ هر يو په جلا مطالبو کې تر څېړنې لاندې نيسو:

## لومړی مطلب: د الله ﷻ څخه منکر کېدل:

که يو مسلمان د الله تعالی ﷻ د ربوبيت او يا الوهيت څخه انکار وکړي ، د اسلام له چوکاټ څخه وځي او مُرتد ګڼل کيږي ، چې په لاندې ډول دغه موضوع تر څېړنې لاندې نيسو:

**الف: د الله تعالی ﷻ د ربوبيت څخه انکار:** که يو مسلمان د الله تعالی ﷻ د ربوبيت څخه انکار وکړي ، مُرتد ګڼل کيږي [1] ، د ربوبيت څخه انکار کې لاندې عقايد شامل دي:

- د الله تعالی ﷻ د ذات څخه انکار کول.
- د الله تعالی ﷻ له ملکيته انکار کول.
- د مافوق الاسباب غوښتنو پوره کوونکی د الله ﷻ څخه بغير بل څوک ګڼل او يا په دغه امر کې د الله جل جلالهُ سره د بل چا شريکول.

مافوق الاسباب غوښتنې هغه دي چې هغه د انسان له وس او توان څخه پورته دي او الله ﷻ د هغې د کولو وس او توان انسان او يا کوم بل مخلوق ته ندی ورکړی ، لکه: باران کول ، اولاد ورکول ، شپه او ورځ راوستل ، رزق ورکول ، د دنيا د نظام چلول ، د ځمکو او اسمانونو تخليق ، د مرګ او ژوند ورکول ............... وغيره.

---

١: **الإيمان حقيقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة**: ج ١ ، ص ١٣٣ ، ١٣٦ او ١٤٠. **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه**: ج ١ ، ص ٢٤.؛ **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة**: ج ٤ ، ص ٣٣٦. او ؛ **الموسوعة الفقهية**: وزارت الاوقاف والشئون الاسلامية ، الكويت ، ج ٢٢ ، ص ١٨٣. **اسلامي عقيده**: پوهندوی مولوي مُحَمَّد شريف عثماني ، د ننګرهار پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي استاد ، ج ١ ، ص ٣٩٦.

- د مادې په تقديم باور درلودل.
- مخلوق ته د مطلق تصرف ، واکمنۍ او حاکميت ورکول.
- مخلوق ته د الله ﷻ د علم او حکمت په اندازه علم او پوهه ثابتول.

يو مخلوق هغومره علم لري څومره چې ورته الله ﷻ ورکړی وي ، لکه: کله چې الله ﷻ حضرت آدم عليه السلام پيدا کړو نو ورته يې نومونه وښودل ، بيا الله ﷻ ملائکو ته وفرمايل چې تاسې د دغه شيانو نومونه واخلئ ، نو ملايکو وويل چې مونږ ته علم نشته مګر هغه څه چې تا (الله ﷻ) مونږ ته راښودلي دي ، قرآنکريم په دغه هکله داسې شاهدي ورکوي:

﴿ وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَٰؤُلَاءِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ O قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴾ [1]

ژباړه: له هغه وروسته الله ﷻ آدم عليه السلام ته د ټولو شيانو نومونه وښودل ، بيا يې هغه پرښتو ته وړاندې کړل او ويې ويل: "که ستاسې دا ګومان صحيح وي (چې د خليفه په ټاکنه کې به نظم وران شي) نو د دې شيانو نومونه راته وواياست! " O هغوی عرض وکړ: "له نيمګړتيا څخه خو پاک يوازې ستا ذات دی ، مونږ خو صرف دومره پوهه لرو چې تا مونږ ته راکړې ده ، په حقيقت کې په هر څه پوهېدونکی او د حکمت خاوند يوازې همدا ته يې."

بل دا چې په علم غيب باندې يواځې او يواځې يو الله ﷻ پوهيږي ، لکه چې په دغه هکله د الله ﷻ سپېڅلی کلام داسې ګواهي ورکوي:

﴿ قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴾ [2]

ژباړه: دوی ته ووايه: په اسمانونو او ځمکه کې هېڅ څوک له الله ﷻ پرته د غيبو علم نلري او هغوی نه پوهيږي چې کله به راپاځول کيږي.

همدارنګه په بل آيت کې د علم غيب په هکله داسې فرمايل شوي دي:

﴿ قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ مَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴾ [۳]

ژباړه: ووايه: الله ﷻ د هغو د هستوګنې په موده ډېر ښه پوهيږي ، د اسمانونو او ځمکې ټول پټ حالات همغه ته معلوم دي ، د ځمکې او اسمان د مخلوقاتو هېڅ خبر اخيستونکی له هغه پرته نشته ، او هغه په خپل حکومت کې څوک نه شريکوي.

نو په علم غيب باندې يواځې او يواځې الله ﷻ پوهيږي او د نورو علمونو په هکله انسان او يا نورو مخلوقاتو ته دومره علم ثابت کېدای شي څومره چې ورته الله ﷻ ورکړی وي.

---

۱: **د البقرة سورت:** ۳۱ او ۳۲ آيتونه

۲: **د النمل سورت:** ۶۵ آيت

۳: **د الکهف سورت:** ۲۶ ايت

نو که څوک یو مخلوق یا یو انسان ته علم غیب ثابتوي چې فلانی علم غیب لري ، نو دغه کس په دغه عقیده باندې د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او ارتدادي عقیدې خواته مخه کوي.

**تبصره:** د قرآنکریم پورته آیتونو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان د الله تعالی ﷻ د ربوبیت څخه انکار وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

**ب: د الله تعالی ﷻ د الوهیت څخه انکار:** که یو مسلمان بغیر د یو الله ﷻ څخه بل څوک د عبادت لائق وګڼي ، دغه کس د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي.[1]

دا خبره ډېره واضح او ښکاره ده چې د عبادت لائق یواځې یو الله ﷻ دی ، هېڅ څوک بغیر د یو الله ﷻ څخه د عبادت وړ ندی ، د اسلام د مبارک دین د پنځو بناؤ څخه لومړنی بناء د طیبې کلمې ویل او په دغه باندې عقیده او عمل لرل دي ، چې: **لا اله الا الله مُحَمَّد رسول الله** یعني نشته دی لائق د عبادت مګر یو الله ﷻ او مُحَمَّد ﷺ د الله ﷻ رسول او استاذی دی ، نو مسلمان باید تر هر څه لومړی په دې عقیده وي چې د الوهیت او د عبادت لایق همدغه یو الله ﷻ دی ، چې په دغه هکله الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴾ [2]

ژباړه: او ستاسې خدای همدا یو خدای دی ، له هغه ډېر زیات مهربان ، پوره رحم کوونکي څخه پرته بل کوم خدای نشته.

الله تعالی ﷻ واحد او لا شریک ذات دی په دې ډول چې یواځې همدغه یو الله ﷻ د عبادت لائق ، په هر څه واکمن ، اختیارمند ، مُقتدر او د کامل تصرف خاوند دی ، د پښتو ژبې صوفي شاعر عبدالرحمن بابا د الله ﷻ د تمامو اختیاراتو او وحدانیت په هکله د شعر په ژبه داسې وایي:

ګوره هـــــسې کردګـار دی رب زما　　چې صاحب د کُل اختیار دی رب زما
همګي بزرګواران چې څوک يې وايي　　تر هـــمه ؤ بزرګـــــــوار دی رب زما
شریک نلري په خپله بادشـاهۍ کې　　بې شریکه شـــــــهریار دی رب زما
هسې نه چې واحدي يې ده له عجزه　　په واحد صورت بســـیار دی رب زما

(د عبدالرحمن بابا دیوان)[3]

یو مسلمان باید په دې عقیده وي چې د ټولو مخلوقاتو معبود یواځې او یواځې الله ﷻ دی ، او که چېرې یو مسلمان پرته د یو الله ﷻ څخه کوم بل څوک د عبادت لائق وګڼي ، نو دغه کس مُشرک کیږي او د اسلام له چوکاټ څخه

---

۱: **الإیمان حقیقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة:** ج ۱ ، ص ۱۳۳ او ۱۳۶ . **اسلامي عقیده:** ج ۱ ، ص ۳۹۷. او ؛ **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۳۶. او ؛ **الموسوعة الفقهیة:** ج ۲۲ ، ص ۱۸۳

۲: **د البقرة سورت:** ۱۶۳ آیت

۳ : **د عبدالرحمن بابا دیوان:** عبدالرحمن بابا رحمة الله علیه ، د پښتو ژبې صوفي او خوږ ژبی شاعر ، د وفات کال ۱۱۲۸ هـ ، ج ۱ ، ص ۵

خارجيږي ، نو كه توبه ونه باسي مُرتد ګڼل کيږي او د ارتداد احکام پرې جاري کيږي.

**تبصره:** د قرآن كريم پورته آيت ته په كتنه ، كه چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا كړي چې د الله ﷻ الوهيت يا ربوبيت ونه مني ، بيدون له كوم شنګه او ولې شخه نومورى كس د اسلام له چوكاټ شخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## دويم مطلب: د الله ﷻ د ځينو صفاتو شخه منكر كېدل:

كه يو مسلمان د الله ﷻ د صفاتو شخه له هر يو صفت شخه منكر شي ، د اسلام له چوكاټ شخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.[1]

د الله ﷻ اسم ذات يا ذاتي نوم (الله) دى او اسماء الحسنى يا نېک نومونه /صفتونه يې نهه نوي (۹۹) دي چې الله ﷻ په قران كريم كې فرمايي:

﴿ وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾[2]

ژباړه: الله ﷻ د غوره نومونو مستحق دى ، هغه په هماغه غوره نومونو سره وبلئ ، او هغه خلک پرېږدئ چې د هغه د نوم په اېښودلو كې له رښتينولۍ شخه مخ اړوي ، شه چې هغوى سرته رسوي د هغه بدله به ومومي.

د الله تعالى ﷻ صفتونه په دوه ډوله دي چې يو يې ذاتي صفتونه دي او بل يې فعلي صفتونه دي ، چې په دغه هكله امام ابو حنيفه رحمة الله عليه داسې وايي:

**لم يزل و لا يزال باسمائه و صفاته الذاتية والفعلية، اما الذاتية فالحياة والقدرة والعلم والكلام والسمع والبصر والارادة و اما الفعلية فالتخليق والترزيق والانشآء والابداع والصنع و غير ذالک من صفات الفعل لم يزل ولايزال بصفاته و اسمآئه ...... و من شک فيها فهو كافر بالله تعالى.**[3]

ژباړه: همېشه دى او همېشه به وي په نومونو او ذاتي صفتونو او فعلي صفتونو سره ، ذاتي صفتونه: ژوندون دى ، او قدرت دى ، او علم دى ، او خبرې كول دي ، او اورېدل دى ، او لېدل دي ، او اراده ده ، او فعلي صفتونه: پيداكول دي ، روزي وركول دي ، پيداكول دي او دوباره پيداكول دي ، او د اسې نور د فعلي صفتونو شخه ، همېشه دى او همېشه به وي په صفتونو او نومونو خپلو سره....... او شوک چې په دې كې شک كوي نو هغه كافر كيږي په الله ﷻ باندې.

الله تعالى ﷻ له ذاتي صفتونه دي كوم چې مونږ پورته ذكر كړل ، او ذاتي صفتونه هغه دى چې الله تعالى ﷻ د ده

---

۱: **الإيمان حقيقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة:** ج ۱ ، ص ۱۳۳ او ۱۳۶ ، **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ۱ ، ص ۲۴ ؛ **اسلامي عقيده:** ج ۱ ، ص ۳۹۷. او ؛ **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۳۶. او ؛ **الموسوعة الفقهية:** ج ۲۲، ص ۱۸۳.

۲: **د اعرف سورة:** ۱۸۰ آيت

۳: **الفقه الاكبر:** ج ۱ ، ص ۲ – ۳

به ضد باندې نه موصوفيږي ، لکه علم د الله تعالى ﷻ ذاتي صفت دی ، يعنې الله ﷻ عالم دی ، او د علم ضد جهل دی ، چې الله تعالى ﷻ پرې نه موصوفيږي ،

نو که هر څوک د الله تعالى ﷻ د صفتونو څخه انکار وکړي ، او يا يې د ذاتي صفتونو په ضد باندې موصوف کړي ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنزَلَ مِن قَبْلُ وَمَن يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴾ [1]

ژباړه: ای مؤمنانو! پر الله ﷻ او پر پيغمبر ﷺ او پر هغه کتاب ايمان راوړئ چې الله ﷻ پر خپل پيغمبر نازل کړيدی ، او پر هغه کتاب چې له دې څخه مخکې يې نازل کړی دی ، چا چې له الله ﷻ، د هغه له پرښتو ، د هغه له کتابونو ، د هغه له رسولانو او د آخرت له ورځې څخه انکار وکړ ، هغه په ګمراهۍ کې سرګردان ډېر ليرې لاړ.

که يو څوک الله ﷻ ته د کوم داسې صفت نسبت وکړي چې د هغه له شان سره وړ نه وي ، يا د الله ﷻ سپکاوی وکړي ، يا د هغه له ژمنو او وعيدونو څخه انکار وکړي ، يا د ناپوهۍ ، هېرېدنې ، بې وسۍ يا بلې کومې کمزورۍ نسبت الله ﷻ ته وکړي ، دا کس کافر کيږي. [2]

په دغه اړوند په ټولنه کې د مروجو ارتدادي عقايدو بېلګې:

يو سړي خپل دښمن ته وويل چې "زه د الله تعالى ﷻ په امر تاسره دا معامله کووم" ، دښمن ورته په ځواب کې وويل چې "زه د الله تعالى ﷻ حکم نه پېژنم" ، يا يې داسې وويل چې "دلته د الله تعالى ﷻ حکم نه چليږي" ، يا ورته ووايي چې "دلته خو د يو .... (يا بل غير الله ته د حکم کولو نسبت وکړي) حکم چليږي" ، په دغه شان عقايدو سره دا کس مُرتد کيږي ، دا ځکه چې الله تعالى ﷻ حاکم ذات دی او په هر ځای کې دالله تعالى ﷻ حکم چليږي ، او نوموړي د الله تعالى ﷻ له دغه صفت (حکم) څخه انکار وکړو ، نو مُر تد شو. [3]

که يو سړی د يو داسې شخص په اړه چې هېڅ کله ناروغه کيږي نه ، دا ووايي چې "له الله تعالى ﷻ څخه دا شخص هېر شوی دی" ، يا داسې ووايي چې "دا سړی د هغه کسانو له ډلې څخه دی کوم چې د الله تعالى ﷻ څخه هېر شوی دی" ، نو دا عقيده کفري ده ، او دا شخص په دغه عقيده باندې مُرتد شو. [4]

**تبصره:** د قرآنکريم پورته آيتونو او د امام أبو حنيفه رحمة الله عليه قول ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا کړي چې د الله ﷻ د ځينو صفاتو څخه عقيدتا منکر شي او انکار ترې وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

---

١: **د النساء سورت:** ١٣٦ آيت

٢: **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية:** باب في احكام المُرتدين ، ج ٢ ، ص ٢٥٨. کفري الفاظ او د هغو حکمونه ، ج ١ ، ص ٤٤

٣: **کفري الفاظ او د هغو حکمونه:** ج ١ ، ص ٤٥

٤ : **کفري الفاظ او د هغو حکمونه:** ج ١ ، ص ٤٦

**دريم مطلب: د اتحاد او حلول عقيده ساتل يعني الله ﷻ او مخلوق يو ګڼل:**

که چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا کړي چې الله ﷻ او مخلوق يو دی ، نو د داسې عقيدې په درلودلو باندې د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږی[1] ، په دغه دليل د کتاب الله باندې:

﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ . [2]

ژباړه: په تحقيق سره هغه کسان په يقيني توګه کافران شول چې ويل يې: همدا مسيح عليه السلام د مريم زوی ، الله دی ، په داسې حال کې چې مسيح عليه السلام ويلي ؤ: ای بني اسرائيلو! د الله ﷻ بندګي وکړئ ، چې هم زما رب دی او هم ستاسې ، چا چې له الله ﷻ سره څوک شريک وګڼلو ، الله ﷻ پر هغه جنت حرام کړی او د هغه استوګنځی دوزخ دی ، او د داسې ظالمانو هېڅ مرستندويان نشته.

د خالق او مخلوق د اتحاد او حلول د عقيدې په هکله امام ابو حنيفة رحمة الله عليه فرمايي:

**انه تعالى واحد من طريق انه لاشريک له لم يلد و لم يولد و لم يکن له کفوا احد لا يشبه شيئامن الاشيآء من خلقه و لا يشبهه شئ من خلقه.** [3]

ژباړه: او الله ﷻ يو دی په دې شان سره چې نشته دی شريک د ده سره ، نه له ده څخه څوک پيدا دي او نه دی له چانه پيدا دی او نشته ده لره سيال هېڅ څوک ، مشابه ندی هېڅ يو شی له اشياؤ د مخلوق د ده سره ، او نه د ده سره د ده له مخلوق څخه څوک مشابه دی.

د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د پورته متن په هکله ملا علی قاری د فقه اکبر په شرح کې وايي چې:

**لا يشبه شيئا من الأشيآء من خلقه.** [4]

او بيا ليکي چې نعيم بن حماد په شرح القونوي کې داسې ويلي دي چې: **من شبه الله بشئ من خلقه فقد کفر، و من انکر ما وصف الله به نفسه فقد کفر.** [5]

او اسحاق بن راهويه وايي چې: **من وصف الله فشبه صفاته بصفات أحد من خلق الله فهو کافر بالله العظيم.** [6]

همدارنګه امام ابو جعفر الطحاوي په خپل کتاب عقيدة الطحاوي کې داسې وايي چې:

**ان الله تعالى واحد لا شريک له و لا شيئ مثله.** [7]

ژباړه: الله ﷻ يو دی ، شريک نلري ، او د ده په مثل هېڅ شی نشته.

---

١: **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة**: ج ۴ ، ص ۳۳۶. او ؛ **الموسوعة الفقهية**: ج ۲۲ ، ص ۱۸۳.

٢: **د المائده سورت**: ۷۲ آيت

٣: **الفقه الأكبر**: ج ۱ ، ص ۱

٤: **شرح كتاب الفقه الأكبر**: للامام الهمام ناصر السنة و قامع البدعة الملا على القاري الحنيفى ، ج ۱ ، ص ۲۴

٥: **شرح كتاب الفقه الأكبر**: ج ۱ ، ص ۲۴

٦: **شرح كتاب الفقه الأكبر**: ج ۱ ، ص ۲۴

٧: **العقيدة الطحاوية**: للامام ابي جعفر احمد بن محمّد الطحاوي الحنفى ، المتوفى ۳۲۱ ه ق ، : ج ۱ ، ص ۶

نو که هر مسلمان د توحید پرځای د حلول عقیده خپله کړي ، د اسلام د چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

**تبصره:** د قرآن کریم پورته آیت شریف او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان د الله تعالی ﷻ او د هغه د مخلوق یا مخلوقاتو په اړوند د اتحاد او حلول عقیده پیدا کړي ، نو د داسې عقیدې په درلودلو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

## خلورم مطلب: د تثلیث عقیده یا معبودان درې ګڼل (الله ﷻ، عیسی علیه السلام او بي بي مریم رضی الله عنها):

الله ﷻواحد او لاشریک ذات دی ، که چېرته یو مسلمان د تثلیث عقیده پیدا کړي نو دا د اسلامي عقیدې د اساس مخالفه عقیده ده او په دغه عقیدې سره دا د اسلام د چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږی.[1]

د دغه شان عقیدې په هکله الله ﷻپه قرآن کریم کې فرمایي:

﴿ لَّقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَإِن لَّمْ يَنتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ . [2]

ژباړه: هغه خلک په یقیني توګه کافران شول چې ویې ویل: الله په دریو کې یو دی ، په داسې حال کې چې له یو الله پرته هېڅ کوم بل الله نشته ، که دا خلک له خپلو دغه ویناؤ څخه منع نشي ، نو له هغوی څخه چې هر څوک کافر شوي دي ، هغوی ته به دردناک عذاب ورکړل شي.

همدارنګه که چېرته بغیر له یو الله ﷻڅخه دوه خدایان شي ، نو دا نظام به ګډ وډ شي ، د مثال په ډول: یو خدای به وایی چې زه باران کووم او بل به وایي چې زه باران نه کووم ، یو به وایي چې زه شپه راولم او بل به وایي چې زه ورځ راولم ، یو به وایي چې زه لمر د شرق څخه راخیژووم او بل به وایي چې زه لمر د غرب لخوا څخه راخېژووم ، یو به وایي چې زه د څو ورځو لپاره لمر نه راخېژووم او بل به واي چې زه د څو ورځو لپاره مسلسل لمر په اسمان کې پورته پرېږدم او مخالفتونه به وي او انسانان /مخلوقات به په رنګا رنګ ستونزو کې را ګېر شي ، او دغه ښکلی او ښایسته نظم به له منځه لاړ شي ، انسانانو ته الله ﷻعقل ورکړی دی او د دې لپاره چې عاقلان له عقل څخه کار واخلي او د الله ﷻپه وحدانیت باندې پوره باور مند شي ، نو الله ﷻپخپله په قرآنکریم کې ورته لطف کوي او په دغه هکله داسې فرمایي:

﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ [3]

ژباړه: که چېرته شي په دغه ځمکه او آسمان کې دوه خدایان بغیر له یو الله ﷻڅخه ، نو دا نظام با فاسد او ګډوډ

---

۱: **الإیمان حقیقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة:** ج ۱ ، ص ۱۴۵. **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۳۶. **الاقتصاد فی أن یکون باالقول او الفعل:** مُحَمَّد بن احمد المعروف باالشیخ علیش. او ؛ **الموسوعة الفقهیة:** ج ۲۲ ، ص ۱۸۳.

۲: **د المائده سورت:** ۷۳ آیت

۳: **د الأنبیاء سورت:** ۲۲ ایت

شي ، پس پاکي ده الله ﷻ لره چې خاوند د عرش دی ، د هر هغه څه څخه چې دوی يې پرې متصف کوي.
د الله ﷻ د وحدانيت په هکله امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي چې:
**والله تعالى واحد انه لا شريک له لم يلد و لم يولد و لم يکن له کفوا احد.**[1]
ژباړه: او الله ﷻ يو دی پدې شان سره چې نشته شريک د ده سره ، نه له ده څخه څوک پيدا دی او نه دی له چا څخه پيدا دی او نشته ده لره سيال هيڅ څوک.
همدارنګه د الله تعالى ﷻ د وحدانيت په هکله امام أبي جعفر الطحاوي داسې وايي چې:
**ان الله تعالى واحد لا شريک له** [2] (ژباړه: بېشکه الله ﷻ يو دی او شريک نلري)
نو که هر مسلمان بغير د يو الله ﷻ څخه په بل چا باندې د الوهيت عقيده ولري ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.
**تبصره:** پورته آيتونو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان د الله ﷻ په اړوند د تثليث عقيده پيدا کړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## پنځم مطلب: الله ﷻ ته اجزاء ګڼل (لکه زوی و غيره):

الله ﷻ هغه ذات دی چې نه له چا پيدا دی او نه ترې څوک پيدا دي او نه د الله ﷻ په مثل څوک شته. که چېرته يو مسلمان الله ﷻ ته اجزاء وګڼي لکه زوی لور و غيره ، نو د داسې عقيدې په اختيارولو سره نوموړی کس مُرتد ګڼل کيږی.[3]
الله ﷻ د خپل وحدانيت او د اجزاؤ د رد په هکله په خپل سپېڅلي کلام کې داسې فرمايي:
﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ O اللَّهُ الصَّمَدُ O لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ O وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ O ﴾. [4]
ژباړه: ووايه چې الله ﷻ يو دی ، الله بې نيازه دی (الله چاته اړ ندی او ټول ده ته اړ دي)، نه هغه څوک زيږولی دی او نه هغه له چا څخه زيږول شوی دی ، او نشته ده لره سيال هېڅ څوک.
د قرآن کريم په پورته سورت کې پخپله الله ﷻ د خپل ځان په هکله فرمايلي دي چې الله ﷻ هغه ذات دی چې نه چاته محتاجه دی ، نه له چا څخه پيدا دی ، او نه ترې څوک پيدا دی او د الله ﷻ په مثال هېڅ څوک نشته دی.
او په بل آيت شريف کې الله ﷻ فرمايي:
﴿ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا ﴾ [1]

---

١: **الفقه الأكبر**: ج ١ ، ص ١
٢: **العقيدة الطحاوية**: ج ١ ، ص ۶ ؛ **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة**: ج ۴ ، ص ۳۳۶. او ؛ **الموسوعة الفقهية**: ج ۲۲ ، ص ۱۸۳.
٣: **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة**: ج ۴ ، ص ۳۳۶. او ؛ **الموسوعة الفقهية**: ج ۲۲ ، ص ۱۸۳.
٤: **د اخلاص سورت**: ۱- ۲-۳ او ۴ آيتونه

ژباړه: او ووايه ټوله ثنا او ستاينه د هغه الله ﷻلپاره ده چې هغه نه څوک په زوی توب سره نيولی دی ، نه ورسره په باچاهۍ کې څوک شريک دی ، او نه هغه بېوسی دی چې څوک د هغه ملاتړ وي ، او د هغه لويي بيان کړه ، کامله درجه لويي.

**تبصره:** د قرآن کريم  پورته آيتونو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا کړي چې الله ﷻ ته اجزا يعنې د زوی يا لور  د لرلو نسبت وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## شپږم مطلب: په رسولانو ايمان راوړلو کې عقيدتا نيمګړتيا، چې ځنيې منل او ځينې نه منل:

که چېرته يو مسلمان د الله ﷻ ځنې رسولان ومني او ځنې ونه مني نو هغه کس مُرتد ګڼل کيږی ، په دغه دليل د کتاب الله باندې:

﴿ آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴾ [2]

ژباړه: پيغمبر ﷺ  په هغه هدايت ايمان راوړی دی چې د هغه د رب لخوا پر هغه نازل شوی دی او څوک چې د دې پيغمبر ﷺ  منونکي دي ، هغوی هم دا هدايت د زړه په مينه منلی دی ، دوی ټولو الله ﷻ، د هغه پرښتې ، د هغه کتابونه او د هغه پيغمبران عليهم السلام منلي دي ، او د هغو وينا دا ده " مونږ د الله ﷻپه پيغمبرانو کې يو له بله توپير نه کوو ، مونږ حکم واورېدی او اطاعت مو ومانه ، زمونږ څښتنه! مونږ ستا څخه د ګناه د ښښنې غوښتونکي يو او همدا ستا لوري ته زمونږ درتګ دی".

الله ﷻخپل برګزيده بنده ګان (پيغمبران) په انسانانو کې غوره کړي دي او هغوی يې انسانانو ته د خپل پيغام رسولو لپاره راليږلي دي ، او خپلو پيغمبروانو ته يې  وحې راليږلې ده ، چې د دغه وظيفې لپاره يې مقربې ملائکې حضرت جبرائيل امين ته وظيفه ورکړې وه ، چې د الله ﷻله لوري د هغه پيغمرانو ته وحې راوړي ، د الله ﷻټول پيغمبران برحق دي او مونږ پرې د زړه له کومې ايمان لرو.

الله ﷻپه قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴾ [3]

ژباړه: (ای مسلمانانو!) ووایاست: مونږ ايمان په الله ﷻاو پر هغه (قرآن) راوړی دی چې مونږ ته راغلی دی او هغه چې ابراهيم عليه السلام ، اسماعيل عليه السلام ، اسحاق عليه السلام ، يعقوب عليه السلام ، او د يعقوب عليهالسلام ځوځات ته راغلی ؤ او هغه چې موسی عليه السلام ، عيسی عليه السلام او نورو ټولو پيغمبرانو ته د رب

---

۱ : د اسراء سورت: ۱۱۱ آيت

۲: د البقرة سورت: ۲۸۵ آيت

۳: د البقرة سورت: ۱۳۶ آيت

له لوري ورکړ شوي ۇ ، مونږ د هغو په منځ کې هېڅ توپير نه کوو او مونږ الله ﷻته سر ټيټوونکي يو.
پورته آيتونو ته په کتنه امام أبی جعفر الطحاوي په پيغمبرانو د ايمان په هکله وايي:
**لا نفرق بين احد من رسله و نصدقهم كلهم على ما جاءوا به.**[1]
ژباړه: مونږ د الله ﷻد رسولانو په منځ کې کوم فرق نه کوو او ټول تصديق کوو (ايمان پرې لرو) په هغه څه چې دوی پرې راوړنه کړې ده.
هم د دوی په پيغمبری ايمان لرو او هم په هغه اسماني کتابونو باندې چې پر دوی نازل شوي دي ، ايمان لرو.
مونږ مسلمانان په دې عقيده يو چې د الله تعالی ﷻټول پيغمبران بر حق دي او مونږ پرې ايمان لرو چې دا ټول د الله تعالی ﷻغوره بنده ګان دي ، او زمونږ محبوب پيغمبر حضرت مُحَمَّد ﷺ دی.
د الله تعالی ﷻټول پيغمبران برحق دي او د بشر د رهنما لپاره د الله تبارک و تعالی ﷻلخوا رالېږل شوي دي او د ټولو پيغمبرانو وظيفه د الله ﷻد وحدانيت ، عبادت ، او بندګی خواته د انسانانو رهنمايي وه ، او په پيغمبرانو کې هېڅ فرق نشته ، هو الله ﷻځينو پيغمبرانو ته په بغضې نورو باندې ډېر فضيلت ورکړی دی ، له بغضو سره يې کلام کړی دی او د ځينو يې درجات ډېر اوچته کړي دی ، او هر مسلمان ته ښايي چې د الله ﷻپه ټول پيغمبرانو باندې ايمان ولري او دا په خپله عقيده کې ځای کړي چې ټول پيغمران له صغيره او کبيره ګناهونو څخه پاک او معصوم دي.
الله ﷻپه قرآن کريم کې فرمايي:
﴿ تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِن بَعْدِهِم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلَٰكِنِ اخْتَلَفُوا فَمِنْهُم مَّنْ آمَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُوا وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴾[2]
ژباړه: دې پيغمبرانو ته (چې زمونږ له لوري د انسانانو د هدايت وظيفه ورسپارله شوې ده) مونږ يو پر بل باندې لوړتيا او فضيلت وربښلی دی ، له دوی څخه ځينې داسې ۇ چې الله ﷻپخپله ورسره خبرې کړې دي ، چا ته يې له نورو خواو درجې ورکړي دي ، او په پای کې مو عيسی د مريم زوی ته روښانه نشانې ور وبښلې او په سپېڅلی روح سره مو د هغه مرسته وکړه ، که د الله ﷻخوښه وای نو دا نه شوه کېدای چې له دې پيغمبرانو وروسته خلکو چې څرګندې نښې نښانې ورته راغلې ، په خپلو منځو کې جګړه کړې وای ، خو (الله ﷻدا نه غوښتل چې خلک په زوره له شخړو څخه منع کړي. له دې امله) هغوی يو له بل سره شخړې وکړې ، نو چا ايمان راوړ او چا د کفر لاره غوره کړه. هو ، که الله جلالهٔ غوښتلای نو هغوی به هېڅکله نه جنګېدل ، خو الله ﷻچې څه غواړي هغه کوي.
امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي:

---

۱: **العقيدة الطحاوي**: ج ۱ ، ص ۱۶
۲ : **د البقرة سورت**: ۲۵۳ آيت

**والانبياء عليهم الصلوة والسلام منزهون عن الصغائر والكبائر والكفر والقبائح و كانت منهم زلات و خطيات و مُحَمَّد عليه الصلوة والسلام حبيبه و عبده و رسوله و نبيه و صفيه و نقيه و لم يعبد الصنم و لم يشرك باالله تعالى طرفة عين و لم يرتكب صغيرة و لا كبيرة.** [1]

ژباړه: او پیغمبران علیهم الصلوة والسلام د صغیره او کبیره ګناهونو ، د کفر او بې حیا کارونو څخه پاک دي ، او له هغوی څخه لغزشونه او په خطائۍ سره کارونه شوي دي ، او مُحَمَّد ﷺ دوست د هغه دی ، او بنده د هغه دی ، او رسول او پیغمبر د هغه دی ، او غوره کړی دی الله ﷻدا (مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ ) ، او هېڅ کله یې هم عبادت ندی کړی د بُت او نه یې د سترګو د رپ په اندازه شرک کړی دی ، او نه یې چېرې کومه صغیره او کبیره ګناه کړې.

مونږ مسلمانان په دې عقیده یو چې د الله ﷻټول پیغمبران په حق دي او د الله ﷻغوره بنده ګان دي ، د دوی تر منځ فرق نشته او دوی ټول له ګناهونو څخه پاک دي ، دوی ټول د الله ﷻلخوا د بشر د رهنمايۍ لپاره رالیږل شوي دي ، او ځینو ته الله ﷻپه ځینې نورو باندې فضیلت ورکړی دی او ځینې له دوی نه هغه دي چې الله ﷻورسره خبرې کړې دي او د ځینو یې درجات بلند کړي دي.

که یو مسلمان داسې عقیده اختیار کړي چې ځینې پیغمبران و مني او ځینې ونه مني نو هغه د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

**تبصره:** د قرآنکریم پورته آیتونو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده پیدا کړي چې هغه انبیای کرام چې نومونه یې په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ذکر دي او نبویت یې ثابت دی ، ونه مني ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

## اووم مطلب: نېکان خلک پېغمبران، او پېغمبران یا ملایکې الله ګڼل:

که چېرته یو مسلمان نیکان خلک پیغمبران ، او پېغمران یا ملایکې الله وګڼي نو هغه کس مُرتد ګڼل کیږی ، [2] په دغه هکله الله سُبحانهُ و تعالی ﷻ په قرآن کریم کې فرمايي:

﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴾ [3]

ژباړه: او دوی د الله ﷻلپاره لوڼي ټاکي ، الله ﷻپاک دی! او د دوی لپاره هغه څه چې په خپله یې غواړي.

که هر مسلمان الله ﷻته اجزاء وګڼي (ځوی ، لور ، پلار ، مور..... وغیره) نو په دغه عقیده باندې د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

د اسلام مقدس دین کې د هر چا ځای او حدود معلوم دي ، مونږ باید له دغه حدوداتو څخه تیری ونکړو.

تر هر څه د مخه باید د الله تبارک و تعالی ﷻمقام عالیه او تصرف کامل و پېژنو او ورسره شرک ونکړو ، او هېڅ

---

۱: **الفقه الأكبر:** ج ۱ ، ص ۸ او ۹

۲ : **الإيمان حقيقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة:** ج ۱ ، ص ۱۳۶

۳: **د النحل سورت:** ۵۷ آیت

څوک ورسره نه په ذات ، نه په صفاتو ، نه په الوهيت او نه په ربوبيت کې شريک کړو ، بيا راځو د الله ﷻ مخلوقاتو ته چې په ټولو مخلوقاتو کې الله ﷻ انسان اشرف المخلوقات پيداکړی دی او په انسانانو کې يې برګزيده کسان خپل پيغمبران ګرځولي دي او په پيغمبرانو کې اولو العزمه پيغمبران ، او بيا په اولوالعزمه پيغمبرانو کې د جناب نبي کريم ﷺ درجه اوچته کړې ده ، بيا د پيغمبرانو پسې خلفای راشدين او بيا صحابه کرام او اوليای کرام دي ، بيا صالحين او د الله ﷻ نېکان بنده ګان دي ، مؤمنان دي او بيا مسلمانان دي. که چېرته يو څوک پورتنی چوکاټ مراعت کړي ، نو صحيح لاره به يې اختيار کړي وي ، او که چېرته څوک نېکان د پيغمبرانو د درجې څخه پورته کوي او يا هم العياذ بالله نېکانو ، صالحينو او يا پيغمبرانو ته د الوهيت مقام ورکوي ، او داسې نور وغېره ، غير اسلامي عقايد اختياروي ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

**تبصره:** د قرآن کريم پورته آيت ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا کړي چې نيکان خلک پيغمبران وګڼي ( کوم چې د ختم نبوت خلاف عقيده ده ، د نبوت د مدعيانو د دعوی تائيد دی او په مجموع کې غلطه عقيده هم ده)، او پيغمبران يا ملائکې الله وګڼي (کوم چې ښکاره او واضح شرک دی)، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## اتم مطلب: د الله ﷻ منل او د پيغمبر نه منل يا د قرآن منل او د سنت نه منل، او يا د دې برعکس عقيده اختيارول:

که چېرته يو مسلمان داسې عقيده اختيار کړي چې الله منم او پيغمبر نه منم او يا هم قرآن منم خو سنت نه منم او داسې نور ، نو هغه کس مُرتد ګڼل کيږي ،[1] په دغه دليل د کتاب الله باندې:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا O أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا .[2]

ژباړه: کوم خلک چې پر الله ﷻ او د هغه پر پيغمبرانو کافران کيږي ، او غواړي چې د الله ﷻ او د هغه د پيغمبرانو په منځ کې توپير وکړي ، او وايي چې مونږ به ځيني ومنو او ځيني به ونه منو ، او د کفر او ايمان په منځ کې د يوې لارې ايستلو اراده لري. همدوی ټول پاخه کافران دي او مونږ د داسې کافرانو لپاره هغه عذاب تيار کړی دی چې د هغو رسوا کوونکی او سپکوونکی به وي.

همدارنګه الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ

---

[1]: صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة: ج ۴ ، ص ۳۳۶. الموسوعة الفقهية: ج ۲۲ ، ص ۱۸۳

۲: د النساء سورت: ۱۵۰ او ۱۵۱ آيتونه

إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾ [1]

ژباړه: ای مؤمنانو ! د الله ﷻ، رسول الله ﷺ او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاونداد وي ، بیا که ستاسې تر منځ په کومه چاره کې شخړه پېښه شي ، نو هغه د الله ﷻاو رسول الله ﷺ لوري ته محوله (وړاندې) کړئ ، که تاسې په رښتیا سره پر الله ﷻاو د آخرت په ورځ ایمان لرئ ، همدا د کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده.

**تبصره:** د قرآن کریم پورتنیو آیتونو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده پیدا کړي چې الله ﷻ منم خو پیغمبر نه منم ، یا پیغمبر منو خو قران نه منم ......... ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

## نهم مطلب: د آخري نبي حضرت مُحمد رســـولُ الله ﷺ څخه انکار کول او یا یې خاتم النبیین نه منل:

یو مسلمان چې کله هم د اسلام چوکاټ ته داخلیږي نو تر هر څه د مخه به هغه د کلمه طیبه (لا اله الا الله مُحَمَّد الرسول الله) دوه شهادتین (یو د الله ﷻوحدانیت او بل د حضرت مُحمد رسول الله ﷺ رسالت) په ژبه باندې جاري ساتي او په زړه باندې به یې تصدیق کوي ، که چېرته یو مسلمان د کلمې د لومړي یا دویم جز څخه انکار وکړي دا عقیده یې ارتدادي ده ، چې د لومړي جز (توحید) په هکله مونږ مخکې د دلایلو په ذکر کولو سره یادوونه وکړه او د کلمې د دویم جز (رسالت) څخه انکار وکړي یعني د آخري نبي حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ څخه انکار وکړي نو هغه کس مُرتد ګڼل کیږی ، او په دغه هکله د اسلامي اُمت د سلفو او خلفو علماؤ اجماع هم موجوده ده [2]
په دغه دلیل د کتاب الله باندې:

﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴾ . [3]

ژباړه: (ای خلکو!) مُحَمَّد ﷺ ستاسې له نارینه ؤ څخه د هیچا پلار نه دی ، هغه خو د الله ﷻرسول او آخرنی او ورستنی نبي دی ، او الله ﷻ د هر شي علم لرونکی دی.

حضرت مُحَمَّد رسول الله ﷺ آخري نبي دی او تر ده ورسته تر قیامته پورې بل پیغمبر نه راځي ، که د حضرت مُحَمَّد رسول الله ﷺ څخه وروسته هر څوک د پیغمبرۍ دعوی کوي ، نو دغه کس کاذب او دروغژن دی ، دعوی یې باطله ده او مُرتد بلل کیږي.[4]

همدارنګه الله ﷻپه قرآن کریم کې فرمایي:

﴿ وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ ﴾ . [5]

---

۱: د النساء سورت: ۵۹ آیت
[۲] : التکفیر حکمه وضوابطه والغلو فیه: ج ۱ ، ص ۲۴. الارشاد الی صحیح الاعتقاد والرد علی اهل الشرک والالحاد: ج ۱ ، ص ۲۰۰
۳: د احزاب سورت: ۴۰ آیت
[۴] : التکفیر حکمه و ضوابطه والغلو فیه: ج ۱ ، ص ۲۴ ؛ صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة: ج ۴ ، ص ۳۳۷
۵ : د الرعد سورت: ۴۳ آیت

ژباړه: او [ای پیغمبره صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وسَلَّمَ ] دغه کافران وايي چې ته د خدای ﷻلېږل شوی پیغمبر نه یې ، ورته ووایه چې زما او ستاسې په منځ کې د الله ﷻشاهدي کافي ده او ورپسې د هر هغه چا شاهدي ده چې د اسماني کتاب علم ولري.

که یو څوک نبي کریم ﷺ دآخري نبي او پیغمبر په حیث و نه مني نوموړی کس مُرتد کیږي او په دې باندې د سلفو او خلفو د علمای کرامو اجماع هم ده.[1]

که یو مسلمان داسې عقیده خپله کړي چې ګواکې حضرت جبرائیل علیه السلام په وحې کې سهوه کړې ده چې حضرت مُحَمَّد رسول الله ﷺ ته یې وحې کړې ده ، نو د داسې عقیدې په اختیارولو سره نوموړی مُرتد کیږي او د اسلام له دایرې څخه خارجیږي.[2]

همدارنګه که یو مسلمان د غیرو (د نورو مخلوقاتو) حکم د رسول الله ﷺ له حکم څخه بهتر وګڼي ، نو په دغه عقیده باندې نوموړی مُرتد کیږي.[3]

د نبي کریم ﷺ په هکله امام ابو حنیفة رحمة الله علیه داسې وايي:

**و مُحَمَّد علیه الصلوة والسلام حبیبه و عبده ورسوله و نبیه و صفیه و نقیه ولم یعبد الصنم و لم یشرک بالله تعالی طرفة عین و لم یرتکب صغیرة و لا کبیرة .** [4]

ژباړه: او مُحَمَّد ﷺ د الله ﷻدوست دی ، او دهغه بنده دی ، او د هغه رسول دی ، او پیغمبر د هغه دی ، او غوره کړی یې دی ، او پاک دی او هیڅ کله یې د بت عبادت ندی کړی او نه یې د الله ﷻسره د سترګو د رپ په اندازه کوم شریک پیدا کړی دی او نه یې کومه صغیره او نه یې کومه کبیره ګناه کړې ده.

په دغه اړه امام طحاوي وايي:

**و أن مُحَمَّد صلی الله علیه وسلم عبده المصطفی و نبیه المجتبی و رسوله المرتضی، و أنه خاتم الأنبیاء و امام الأتقیاء و سید المرسلین و حبیب رب العالمین، و کل دعوی النبوة بعده فغی و هوی.** [5]

نو که یو مسلمان د حضرت مُحَمَّد ﷺ د پیغمبرۍ څخه انکار کوي ، د اسلام د چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي ، چې په دغه هکله د اسلامي اُمت د فقهاؤ اجماع هم موجوده ده.[6]

**تبصره:** د یو مسلمان لپاره د نبي کریم صلی الله عیه وسلم سره محبت د ایمان د تکمیلیدو خاص جزء دی چې یو مسلمان تر هغه کامل مؤمن نشي جوړېدلای تر څو چې حضرت مُحَمَّد صلی الله عیه وسلم د خپل ځان ، مور او پلار

---

[1] : **الارشاد الی صحیح الاعتقاد والرد علی اهل الشرک والالحاد:** ج ۱ ، ص ۲۰۰

[2] : **المخلص الفقهي:** لصالح بن فوزان بن عبد الله الفوزان ، باب فی حکم الردة ، ج ۲ ، ص ۵۶۸

[3] : **المخلص الفقهي:** باب فی حکم الردة ، ج ۲ ، ص ۵۶۸

٤: **الفقه الأکبر:** ج ۱ ، ص ۸

٥: **العقیدة الطحاویة:** ج ا ، ص ۸ او ۹

٦ : **الارشاد الی صحیح الاعتقاد والرد علی اهل الشرک والالحاد:** ج ۱ ، ص ۲۰۰

او ټولو څخه ډېر ګران نشي ، نو د قران کريم پورته آيتونو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا کړي چې حضرت محمّد ﷺ د خپل پيغمبر او آخري نبي په حيث ونه مني ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

**لسم مطلب: د انبياؤ د قطعی الدلالت او قطعی الثبوت معجزات سحر ګڼل او يا ورته کفر ويل:**

الله ﷻ خپلو پيغمبروانو ته د نبوت د اثبات لپاره معجزات ورکړي دي ، که چېرته يو مسلمان د پيغمبرانو د د هغه معجزاتو څخه انکار وکړي او يا يې سحر وګڼي ، کوم چې قطعي الثبوت او قطعی الدلالت معجزات دي ، نو د داسې عقيدې په درلودلو سره مُرتد ګڼل کيږی.

الله ﷻ په قرآن کريم کې داسې فرمايي:

﴿ إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَالِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِي وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ . [1]

ژباړه: هغه وخت (در په زړه کړه) چې کله الله ﷻ وفرمايي: ای د مريم زويه عيسی! زما هغه نعمت در ياد کړه چې پر تا او ستا پر مور مې پېرزو کړی ؤ ، ما په سپېڅلي روح سره ستا مرسته وکړه ، تا په زانکو کې هم له خلکو سره خبرې کولې او پاخه عمر ته په رسېدو هم ، ما تاته د کتاب ، حکمت ، تورات او انجيل ښوونه وکړه ، تا زما په حُکم له خټې څخه د مرغۍ جوسه جوړوله او په هغې کې دې پوکی کاوه او هغه زما په امر مرغۍ جوړېده ، تا مورزاده ړانده او پيس ناروغان زما په امر رغول ، تا مړي زما په امر ژوندي راويستل ، بيا چې کله ته بني اسرائيلو ته له څرګندو نښانو سره ورغلې ، نو ځوک چې د حق منکران ؤ هغوی ويل: دا نښانې له کوډ ګری څخه پرته نور څه ندي ، نو همدا ما ته له هغو څخه وژغورلې.

حضرت عيسی عليه السلام به د الله ﷻ په امر باندې مړي راژوندي کول ، ړانده به يې بينا کوول ، د فيس مرض لرونکی کس به يې د الله ﷻ په امر باندې روغاوه ، .... او داسې نور ، خو بني اسرائيلو به د عيسی عليه السلام معجزات سحر ګڼل.

نو که چېرته يو مسلمان د انبياؤ معجزات سحر وګڼي نو هغه کس د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږی.

همدارنګه الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

---

۱: د المائده سورت: ۱۱۰ آيت

﴿وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ وَلَئِن جِئْتَهُم بِآيَةٍ لَّيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ﴾ [1]
ژباړه: مونږ په دې قرآن کې خلک د راز راز مثالونو سره پوهولي دي ، ته که (هره) نښانه راوړې ، کومو خلکو چې له منلو څخه انکار کړی دی ، هغوی به همدا ووايي چې تاسې په باطل باندې ياست.

**تبصره:** د قرآنکريم پورته آيتونو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا کړي چې د انبياؤ هغه معجزات کوم چې قطعی الدلالت او قطعی الثبوت دي او په قرآنکريم او صحيح احاديثو کې ذکر شوي دي ، سحر وګڼي او يا ترې انکار وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## يوولسم مطلب: د قرآن کريم څخه انکار کول او يا د قرآن کريم ځنې برخې منل او له ځنو څخه انکار کول:

الله ﷻ مؤمنانو ته په قرآن کريم کې فرمايي چې: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾ [2] . ژباړه: ای مؤمنانو! تاسو په هر اړخيز ډول په اسلام کې ننوځئ ،) که چېرته يو مسلمان داسې عقيده اختيار کړي چې د قرآنکريم ځنې برخې ومني او ځنې برخې ونه مني ، نو هغه کس مُرتد ګڼل کيږی[3]، په دغه دليل د کتاب الله باندې:
﴿ ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾. [4]
ژباړه: بيا همدا تاسې ياست چې خپل ورونه وژنئ ، خپل ځنې ورونه بې کوره کوئ ، د ظلم او زياتي په کولو د هغو په خلاف ډلې جوړوئ ، او کله چې په جګړه کې ونيول شي ، ستاسې په لاس کې بنديان شي ، نو د هغو د خوشې کولو لپاره د فديې لارې برابروئ ، په داسې حال کې چې د کورونو څخه د هغو ويستل لا له سره پر تاسې حرام ؤ ، نو آيا تاسې د کتاب په يوه برخه ايمان راوړئ او په بله برخه يې کافران کيږئ؟ نو ستاسې څخه چې کوم خلک داسې وکړي ، د هغو سزا به له دې پرته نوره څه وي چې د دنيا په ژوند کې ذليل او خوار اوسيږي او په آخرت کې به د ډېر سخت عذاب په لوري وروګرځول شي؟ الله ﷻ ستاسې د دې کړنو څخه بې خبره نه دی.
کله چې يو انسان په اسلام کې داخل شي او مسلمان شي ، نو د مسلمان لپاره اړينه ده چې د اسلام ټول احکام په ځان باندې عملي کړي ، په دغه هکله د کائيناتو څښتن الله سُبحانهُ و تعالی ﷻ فرمايي:
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾. [5]

---

١: **د روم سورت:** ۵۸ آيت
٢ : **د البقرة سورت:** ٢٠٨ آيت
٣ : **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ١، ص ٢۴. **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** ج ۴، ص ٣٣٧ ؛ **ابن عابدين:** مُحَمَّد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الدمشقي ، المتوفى سنة ١٢۵٢ هـ ، ج ۴، ص ٢٢٢-٢٣٠. ؛ **الاقناع:** ج ۴، ص ٢٩٧ ؛ **المغني:** ج ٨، ص ۵۴٨.
٤ : **د البقرة سورت:** ٨۵ آيت
٥ : **د البقرة سورت** ، ٢٠٨ ايت

ژباړه: ای هغه کسانو چې تاسې ایمان راوړی دی ، په اسلام کې مکمل داخل شئ.

نو یو مسلمان باید په ټول قرآن کریم باندې د زړه له کومې ایمان ولري.

د اهل سنت والجماعت ستر امام ابو حنیفة رحمة الله علیه د قرآن کریم په هکله داسې وايي:

**والقرآن كلام الله تعالى فى المصاحف مكتوب و فى القلوب محفوظ و على الالسنة مقرو و على النبى عليه الصلوة والسلام منزل** [1]

ژباړه: او قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی په صحیفو کې لیکل شوی دی ، او په زړونو کې ساتل شوی دی ، او په ژبه لوستل شوی دی او په نبي کریم ﷺ باندې نازل شوی دی.

قرآن کریم د الله تعالی ﷻ کتاب دی چې د حضرت جبرائیل علیه السلام په واسطه په حضرت مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ باندې نازل شوی دی ، چې د دغه کتاب احکامات به تر قیامته پورې په مخ د ځمکه باندې جاري وي ، او د دغه کتاب حفاظت په خپله الله ﷻ کوي ، امام جعفر الطحاوي د قرآن کریم په هکله وايي:

**و ان القرآن كلام الله ، منه بدا بلا كيفية قولا، و أنزله على رسوله وحيا، و صدقه المؤمنون على ذالک حقا، و أيقنو أنه كلام الله تعالى بالحقيقة، ليس كمخلوق كلام البرية، فمن سمعه فزعم أنه كلام البشر فقر كفر، و قد ذمه الله تعالى وعابه و أوعده بسقر. علمنا و أيقنا أنه قول خالق البشر، و لا يشبه قول البشر.** [2]

نو که څوک له قرآن کریم څخه انکار وکړي او یا د قرآن کریم له یو آیت څخه انکار وکړي ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

لکه څرنګه چې پورته هم مونږ یادوونه وکړه چې قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی او که د دې دنیا ټول انسانان سره راجمع شي نو د قرآن کریم په مثل باندې یو سورت هم نشي جوړولای. د تسهیل الطحاوي مؤلف وايي:

**و من سمعه و قال انه كلام البشر فقد كفر و لا يشبهه كلام البشر.** [3]

ژباړه: چا چې د قران کریم په باره کې دا قول وکړو چې دا د بشر کلام دی ، هغه کافر شو ، او دا د بشر د کلام سره مشابه ندی.

که یو څوک داسې عقیده پیدا کړي چې قرآن کریم مخلوق وګڼي نو د اسلام له دایرې څخه خارجیږي او مُرتد کیږي.[4]

د قرآن کریم فصاحت او بلاغت په اعلی ترین معیار باندې دی د هغې په شان کلام کول د انسان او د ټولو مخلوقاتو د وس او توان څخه بهر دی ، لهذا د قرآنکریم د نازلېدو د زمانې څخه تر ننه پورې د دنیا ټول مخلوقات د

---

۱: **الفقه الأكبر:** ج ۱ ، ص ۳

۲ : **عقيدة الطحاوية:** ج ا ، ص ۹

۳ : **تسهيل الطحاوي شرح عقيدة الطحاوي:** مولانا مفتی احسان الله شائق ، د جامعة الرشید د عالیه درجې استاد او د دارالافتاء مشر ، ج ۱ ، ص ۸۹

٤ : **أعلام السنة المنشورة لاعتقاد الطائفة الناجية المنصورة:** حافظ بن أحمد الحكيمي ، باب حكم من قال بخلق القرآن ، ج ۱ ، ص ۱۰۷

دې د مثل راوړلو څخه عاجز دي او دا د انساني کلام سره مشابهت نه لري.
اوس که یو څوک داسې ووایي چې دا د انسان ، د نبي ، د فرښتې او یا د کوم مخلوق کلام دی ، یا د دغه قرآن څه برخه منم او څه برخه نه منم ، نو د اسلام د چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.[1]
**تبصره:** د قرآن کریم پورته آیتونو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده پیدا کړي چې د قرآن کریم ځنې برخې ومني او ځنې یې ونه مني ، حتی که د یو آیت شریف څخه هم انکار وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.
همدارنګه د قرآن کریم په اړوند بعضې نور داسې ارتدادي عقاید هم کله نا کله په هغو مسلمانانو کې پیدا کیږې چې په کفري هېوادونو کې اوسیږي او له دین څخه لیرې وي چې قرآن کریم ته د زړو قصو نسبت کوي چې دغه موضوع هم د یو کوچني عنوان لاندې تر څېړنې لاندې نیسو:
**قرآن کریم ته د زړو قصو نسبت کول:** د قرآن کریم د معجزاتو څخه یو اعجاز دا دی چې د قرآن کریم ټول احکامات تر قیامته پورې د هر عصر او زمان سره سمون خوري او کومې قصې چې په دې کتاب کې ذکر شوي دي ، د بشریت د پند اخیستلو لپاره راوړل شوي دي ، چې ډېر زیات حکمتونه لري او بشریت ته نېکې لارې ښه رهنمایي کوي ، او د انسانانو ستونزې حل کوي ، که چېرته یو مسلمان قرآن کریم ته په داسې شکل سره د فرسوده او زړو قصو او نسبت وکړي چې ګواکې دا دوی ته کوم پند او نصیحت نه دی او د دغه احکاماتو عملي کول دوی ته کومه نفع نشي رسولای ، نو هغه کس مُرتد ګڼل کیږی [2] ، په دغه دلیل د کتاب الله باندې:
﴿ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴾.[3]
ژباړه: له دوی څخه ځنې کسان داسې دي چې غوږ نیسي ، ستا خبرې اوري ، خو حال دادی چې مونږ د هغوی پر زړونو پردې اچولې دي چې د دې له امله هغوی پرې هېڅ نه پوهیږي او د هغو په غوږونو کې مو کونوالی پیدا کړی دی (چې د هر څه له اورېدو سره سره هم څه نه اوري)، هغوی که هر نښانه وګوري ایمان پرې نه راوړي ، آن تر دې چې کله هغوی تاته راشي شخړه در سره کوي ، نو له هغوی څخه چې کومو کسانو د انکار فیصله کړېده ، هغوی (د ټولو خبرو له اورېدو وروسته) همدا وايي چې دا له یوې زړې کیسې پرته نور څه نه دي.
د قرآن کریم له اوصافو څخه یو صفت دا دی چې قرآن کریم د هر عصر سره سمون خوري او ساینسي نړی چې نن ورځ څومره پرمختګونه کوي نو د قرآن کریم د مصداق او ثبوت په اړه پوهیږي او په خپلو تجاربو کې د دغه الهي کلام تصدیق کوي ، قرآن کریم هغه الهي کلام دی چې د هر عصر غوښتنې ځوابوي او تر قیامته پورې د انسانانو د

---

۱: **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۳۷. او؛ العدة: ج ۴ ، ص ۳۰۰
۲ : **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ۱ ، ص ۲۴. او **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۳۷. او **ابن عابدین:** ج ۴ ، ص ۲۲۲-۲۳۰. او **الاقناع:** ج ۴ ، ص ۲۹۷. او **المغني:** ج ۸ ، ص ۵۴۸.
۳ : **د الانعام سورت:** ۲۵ آیت

ستونزو د حل وسيله ، او په ټولنه کې د امن ، نظم ، او ثبات تضمينونکى دى.
**تبصره:** د قرآن کريم پورته آيت شريف ته په کتنه ، دغه موضوع د يو مسلمان د نيت پورې اړه لري ، که چېرته يو مسلمان قرآن کريم ته د پخوانيو قصو نسبت وکړي کوم چې د بشريت لپاره عبرت دی نو د داسې عقيدې په اختيارولو سره شخص نه مرتد کيږي ،اما که چېرې يو مسلمان قرآن کريم ته د زړو قصو نسبت په دې نيت سره کوي چې دا توبه نعوذ بالله فرسوده او زړې قصې دي او کوم پند او نصيحت پکې نشته چې عبرت ترې واخيستل شي ، بس هسې......... دي ، نو د داسې عقيدې په اختيارولو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## دولسم مطلب: د نازل شوو اســـماني کتابونو له نزول څخه انـکار کول:

که چېرته يو مسلمان د اسماني نازل شوو کتابونو (قرآن ، زبور ، انجيل ، تورات) د نزول څخه انکار وکړي نو هغه کس مُرتد ګڼل کيږى[1]، په دغه دليل د کتاب الله باندې:
﴿ وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴾.[2]
ژباړه: او هغه کسان چې پر هغه کتاب (قران) ايمان لري چې پر تا نازل شوى دى او کوم کتابونه چې ستا څخه مخکې نازل کړى شوي ۋ پر هغو ټولو ايمان راوړى او پر آخرت باور لري.
څلور اسماني کتابونه (تورات ، انجيل ، زبور او قرآن) او آسماني صحيفې کومې چې د الله تعالى ﷻ له لوري په پيغمبرانو باندې نازل شوي دي ،[3] بايد مسلمانان پرې ايمان ولري ، چې د قرآن کريم د نزول څخه مخکې درې اسماني کتابونه (تورات ، انجيل او زبور) او نورې صحيفې د الله ﷻله لخوا په پيغمبرانو باندې نازل شوي دي ، کوم چې د شرايع من قبلنا په نامه باندې يادېږي ، شرايع من قبلنا داسلامي شريعت له مصادرو څخه يو مصدر دى او د دغه مصادرو هغه احکام کوم چې د قرآن کريم سره په مخالفت کې ندي ، مونږ مسلمانان پرې عقيده لرو او د زړه له کومې يې عملي کوو.
د اسماني کتابونو په هکله بايد يو مسلمان داسې عقيده ولري چې: الله ﷻ د انسانانو د رهنمايۍ لپاره څلور کتابونه او سل صحيفې په پيغمبرانو باندې نازل کړي دي او بر حق دي چې آخري کتاب قرآن عظيم الشان دی ، چې د قران عظيم الشان په نازلېدو سره درې کتابونه او سل صحيفې منسوخ شوې ، او د پخوانې کتابونو (شرايع من قبلنا) هغه احکام چې د قرآن کريم سره په مخالفت کې ندي ، مونږ مسلمانان يې د زړه له کومې تطبيقوو.
امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي:

---

[1] : **الإيمان حقيقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة:** ج ۱ ، ص ۱۴۰ . **التکفير حکمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ۱ ، ص ۲۴.
۲: **د البقرة سورت:** ۴ آيت
۳: **تاريخ الأمم والملوک:** للمحمد بن جرير الطبري أبو جعفر ، ناشر: دارالکتب العلمية ، بيروت ، لومړى چاپ ، کال ۱۴۰۷ ه ق ، ج ۱ ، ص ۱۱۲

**لا نفرق بين احد من رسله و نصدقهم كلهم علی ما جاءوا به.** [1]

ژباړه: مونږ په منځ د رسولانو د الله ﷻ کې کوم فرق نه کوو او ټول تصديق کوو (ايمان پرې لرو) په هغه څه چې دوی پرې راوړنه کړې ده.

نو مونږ مسلمانان په دې عقيده يو چې ټول اسماني کتابونه او صحيفې د الله تبارک و تعالی ﷻ لخوا نازل شوي دي.

که يو مسلمان داسې عقيده اختيار کړي چې څلور آسماني کتابونه او سل صحيفې د الله ﷻ لخوا ندي نازل شوي ، نو د دغه کس عقيده ارتدادي عقيده ده. [2]

مونږ مسلمانان په دې عقيده او باور لرو چې تورات ، انجيل او زبور اسماني کتابونه دي او د الله ﷻ له لوري انسانانو ته د هدايت لپاره نازل شوي دي ،چې شرايع من قبلنا يا پخواني شريعتونه دي او هغه احکام يې چې د هغو تعديل او يا رد په قرآن کريم کې نه دی راغلی ، زمونږ لپاره برهان او دليل دی او مونږ مسلمانان يې په منلو/اجراء کولو باندې مکلف يو. دا چې وروسته بيا انسانانو پکې د ځان څخه انحراف او لاس وهنه کړې ده او څه شيان يې پکې له ځان څخه زيات و کم کړي دي ، دا بيا بيله خبره ده. او قرآن کريم بيا هغه اسماني کتاب دی چې په ده کې انسانان لاس وهنه نشي کولای او الله ﷻ پخپله د قرآن کريم حفاظت کوي.

لکه څرنګه چې پورته يادوونه وشوه چې مونږ مسلمانان په دې باور لرو چې تورات ، انجيل زبور او قرآن آسماني کتابونه دي کوم چې د الله ﷻ له لوري پيغمبرانو ته د بشر د هدايت لپاره را استول شوي دي.

**تبصره:** د قرآن کريم پورتني آيت او د فقهاؤ قول ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان داسې عقيده پيدا کړي چې څلور آسماني کتابونه او صحيفې د الله ﷻ لخوا ندي نازل شوي ، نو د دغه کس عقيده ارتدادي عقيده ده او د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

### دیارلسم مطلب: د قيامت د ژوند څخه انکار کول:

د قيامت ورځ حق ده او قيامت به قايميږي ، دا هغه ورځ ده چې انسانان به له مړينې وروسته د حساب او جزاء لپاره له قبرونو څخه راپاڅيږی او د الله ﷻ په وړاندې به ودريږي او د اعمالو محاسبه به صورت نيسي ، د قيامت ورځې ته د آخرت ورځ هم وايي دا ځکه چې له دې نه وروسته بله ورځ نشته او جنتيان به جنت او دوزخيان به دوزخ ته ځي ، د قيامت د ورځې د واقع کېدلو په هکله په قرآن کريم کې په ګڼ شمېر آيتونو کې تائيد شوی دی ، چې په دغه ورځ باندې باور درلودل د ايمان له ارکانو څخه دی ، نو که چېرته يو مسلمان د قيامت د ژوند څخه

---

[1]: **العقيدة الطحاوي** ، ج ۱ ، ص ۱۶

۲ : **الابطال النظرية الخلط بين دين الاسلام:** لأبوبکر بن عبد الله أبو زيد ، باب الايمان بالکتب المنزلة: ج ۱ ، ص ۸۹

انکار وکړي نو هغه کس مُرتد ګڼل کیږی[1] ، په دغه دلیل د کتاب الله باندې چې
چې دوی (مؤمنان) په آخرت باندې ایمان لري:
﴿وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ﴾ .[2]
ژباړه: او هغه کسان چې پر هغه کتاب (قران) ایمان لري چې پر تا نازل شوی دی او کوم کتابونه چې ستا څخه مخکې نازل کړی شوي ؤ پر هغو ټولو ایمان راوړی او پر آخرت باور لري.
انسانان به حتما الله ﷻته رجوع کوي او د دغه رجوع لپاره د آخرت ورځ ټاکل شوې ده
﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴾[3]
ژباړه: ایا تاسې انګیرلې وه چې مونږ بابېزه پیدا کړي یاست او زمونږ لوري ته ستاسې هېڅکله راګرځېدل نشته ؟"
بلکې ټول به د قیامت په ورځ باندې الله ﷻته رجوع کوي او ورګرځي به.
امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په فقه اکبر کې داسې وایي چې:
او د قیامت ورځ پنځوس زره کاله ده چې الله ﷻپه قرآن کریم کې فرمایي:
﴿ تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ﴾[4]
ژباړه: پرښتې او روح (جبرائیل علیه السلام) د هغه حضور ته په یوه داسې ورځ کې ورخېژي چې اندازه یې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله ده.
همدارنګه الله ﷻپه بل آیت شریف کې د قیامت د ورځې په هکله فرمایي:
﴿ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴾[5]
ژباړه: هغه له اسمانه تر ځمکې پورې د نړۍ چارې اداره کوي او د دې ادارې راپور پاس د هغه حضور ته په یوه داسې ورځ ورځي ، چې د هغې اندازه ستاسې د شمېر له مخې یو زر (۱۰۰۰) کاله ده.
د آخرت د ورځې ګڼ شمېر نومونه دي چې مشهور یې دادي:
یوم القیامة ، یوم الدین ، یوم الحساب ، یوم الخلود ، یوم الخروج ، یوم الفصل ، یوم الحسرة ، یوم الوعید ، یوم التغابن ، یوم التلاق ، یوم الازلفة ، الواقعة ، القرعة ، الساعة ، الغاشیة ، الصاخة ، الغاشیة ، الحاقة ، الطامة.
د قیامت ورځ حق ده او په دغه ورځ به حساب او کتاب کیږي چې مؤمنان به جنت ته داخلیږي او کافران به دوزخ ته داخلیږي ، او که یو مسلمان د جنت او دوزخ له موجودیت څخه انکار وکړی ، په داسې عقیدې اختیارولو سره

---

[1] : التکفیر حکمه و ضوابطه والغلو فیه: ج ۱ ، ص ۲۴
۲ : د البقرة سورت ، ۴ آیت
۳: د المؤمنون سورت ، ۱۱۵ آیت
٤ : د المعارج سورت ، ۴ آیت
٥ : د السجدة سورت ، ۵ آیت

دغه کس مُرتد کیږي.[1]
د قیامت د ورځې د حساب او کتاب په هکله امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په فقه اکبر کې داسې وایي:
**أن الله تعالی یحیی هذه النفوس بعد الموت یبعثهم یوما کان مقداره الف سنة للجزآء والثواب وأداء الحقوق.** [2]
ژباړه: بېشکه الله تعالی ﷻژوندي کوي دا نفسونه پس له مرګ څخه ، پورته به یې کړي په هغه ورځ چې اندازه د هغې زر کاله ده.
همدارنګه په فقه اکبر کې وایي:
**و وزن الأعمال بالمیزان یوم القیامة حق.**[3]
ژباړه: او د اعمالو تلل د قیامت په ورځ باندې حق دي.
د قیامت د ورځې راتګ حق دی او په دغه ورځ به حساب او کتاب کیږي ، د قیامت د ورځې د حساب او کتاب څخه وروسته به هر انسان د خپلو اعمالو جزا ویني ، چې مسلمانان به جنت ته او کافران به دوزخ ته داخلیږي.
امام الطحاوي وایي:
**و نؤمن بالبعث و جزاء الأعمال یوم القیامة.** [4]
ژباړه: او ایمان لرو په په بېرته راژوندي کېدولو او په جزاء د اعمالو باندې د قیامت په ورځ.
امام ابو حنیفیه رحمة الله علیه وایي:
**و اهل الجنة فی الجنة خالدون و اهل النار فی النار خالدون لقوله تعالی فی حق المؤمنین اولئک اصحب الجنة هم فیها خلدون و فی حق لکافرین اولئک اصحب النار هم فیها خلدون.**[5]
ژباړه: او جنتیان به په جنت کې همېشه وي او دوزخیان به په دوزخ کې همېشه وي ، دا قول د الله تعالی ﷻدی په حق د مؤمنانو کې ، دغه کسان ملګري د جنت دي دوی به په هغه کې همېشه وي ، او په حق د کافرانو کې فرمایي چې دغه کسان ملګري د دوزخ دي او دوی به په هغه کې همېشه وي.
نو که یو مسلمان د قیامت د ورځې څخه منکر شي ، د اسلام د چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد شمېرل کیږي.
**تبصره:** پورته آیت ، حدیث او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده پیدا کړي چې د قیامت ورځ نشته او یا د آخرت ژوند نشته ، نو د داسې عقیدې په درلودلو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.
په دغه اړوند په ټولنه کې د ارتدادي عقایدو ژوندۍ بېلګې:

---

[1]: **التکفیر حکمه و ضوابطه والغلو فیه:** ج ١ ، ص ٢٤.
٢: **الفقه الأکبر** ، ج ،١ ، ص ٢٨
٣: **الفقه الأکبر** ، ج ١ ، ص ١٢
٤: **العقیدة الطحاویة** ، ج ١ ، ص ١٩
٥: **الفقه الأکبر** ، ج ١ ، ص ٢٩

يو سړي بل سړي ته وويل چې ګناه مه کوه ، ځکه چې يوه بله دنيا هم شته ، چې هلته حساب او کتاب کيږي ، دې بل سړي ځواب ورکړ چې د هغې دنيا نه ښوک خبر دي ، هغه دنيا مونيا نشته ، نو د داسې عقيدې په درلودلو سره دا سړی مُرتد کيږي.[1]

يو سړي په بل ظلم او زياتی وکړ ، مظلوم وويل د قيامت ورځ آخر هم راتلونکې ده ، له دغه ورځې نه ووېرېږه ، ظالم ورته په ځواب کې وويل زه آخر او آخرت له سره پېژنم نه ، نو په دغه عقيده او وينا باندې دا سړی مُرتد شو.[2]

**ښوارلسم مطلب: مؤمنان او کفار په عقيده کې برابر ګڼل:**

الله ﷻ په مخلوقاتو کې انسان اشرف المخلوقات پيدا کړی دی او بيا يې په انسانانو کې مسلمانان په کافرانو باندې غوره ګرځولي دي ، او بيا په مسلمانانو کې د هغه مسلمان مقام لوړ دی ښوک چې تقوی او پرهېزګاري کوي.

که چېرته د مؤمنانو او کفارو مقام سره مقايسه کړو نو دا يوه واضح او ښکاره خبره ده چې د مؤمنانو مقام له کفارو څخه ډېر لوړ دی ، الله ﷻ مؤمنانو ته عزت ورکړی دی او په آخرت کې به ورته جنت او نعمتونه ورکوي ، حال دا چې کفار به په آخرت کې د جهنم اور ته داخليږي ، او هېڅ کله کفار د مؤمنانو مقام ته نشي رسېدلای او نه ورسره برابر کېدای شي ، الله ﷻ په دغه هکله په قران کريم کې فرمايي:

﴿ لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴾ [3]

ژباړه: دوزخ ته تلونکي او جنت ته تلونکي هېڅ کله يوشانته نشي کېدای ، همدا جنت ته تلونکي په اصل کې بريالي دي.

دا دنيا چې آباده ده نو د مسلمان له مخې آباده ده ، هر کله چې په مخ د ځمکه باندې يو مسلمان هم وي نو د دنيا نظام به مخ په وړاندې روان وي ، او چې هر کله په مخ د ځمکه باندې مسلمانان ختم شي او يو مسلمان هم په مخ د ځمکه باندې پاتې نشو ، نو قيامت به قايميږي.

لکه څرنګه چې پورته مونږ يادوونه وکړه چې الله تبارک و تعالی ﷻ مؤمنانو ته عزت ورکړی دی ، په دغه هکله الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي چې الله ﷻ لره عزت دی ، د ده رسول لره عزت دی او مؤمنانو لره عزت دی:

﴿ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ [4]

ژباړه: دوی وايي: "که مونږ بېرته ستانه شو ، نو ښوک چې د عزت خاوند دی (يعنې دوی خپله منافقان) هغه به ذليل (مهاجر) له هغه ځايه وباسي. " په داسې حال کې چې عزت خو د الله ﷻ، د هغه د پېغمبر او مؤمنانو لپاره

---

١: **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية** ، باب فى احكام المُرتدين ، ج ٢ ، ص ٢٧٤. كفري الفاظ او د هغو حكمونه ، ج ١ ، ص ٨٢

٢: **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية** ، باب فى احكام المُرتدين ، ج ٢ ، ص ٢٧٤. كفري الفاظ او د هغو حكمونه ، ج ١ ، ص ٨٢

٣: **د حشر سورت** ، ٢٠ آيت

٤ : **د المنافقون سورت** ، ٨ آيت

دی ، خو دغه منافقان نه پوهیږي.

نو هېڅ کله هم یو یهودي ، نصراني ، هندو ، کافر ، مشرک و غیره د یو مؤمن او مسلمان سره برابر ندي ، او د مسلمانانو مقام پرې هم په دنیا او هم آخرت کې پورته دی.

همدارنګه د تسهیل الحاوي مؤلف وایي:

یهود او نصارا اهل کتاب دي او د خپلې عقیدې تثلیث ، الوهیت مسیح ، او انکار رسالت مُحَمَّد ﷺ او نورو کفریه او شرکیه عقیدو په وجه کافران او مشرکان دي ، څوک چې هغوی په صحیح دین /مذهب ګڼي ، یا د هغوی په باره کې د جنتي کېدو یا د نه جهنمی کېدو عقیده لري ، او یا مؤمنان او مسلمانان د کفارو سره په عقیده کې برابر وګڼي نو هغه د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږی.[1]

**تبصره:** پورته آیتونو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده پیدا کړي چې یو مسلمان او یو غیر مسلمان په عقیده کې سره یو برابر دي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

## پنځلسم مطلب: حـلال حرام ګڼل او حـرام حـلال ګڼل:

یو مسلمان باید په دې عقیده ولري چې هر څه چې الله ﷻ حلال کړي دي هغه حلال دي او هر څه چې الله ﷻ حرام کړي دي هغه حرام دي ، الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴾ [2]

ژباړه:ای مؤمنانو ! کوم پاک شیان چې الله ﷻ ستاسې لپاره حلال کړي دي ، هغه مه حراموئ ، او له حد څخه تیرى مه کوئ ، تیري کوونکي د الله ﷻ ډېر بد ایسي.

که هر څوک په حلالو د حرامو او په حرامو د حلالو عقیده ولري ، نو د علماؤ په اتفاق سره په دغه عقیده باندې د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګنل کیږي ،[3] د مثال په ډول ، سحر حرام دی ، خو که څوک سحر حلال وګڼي دا عقیده یې ارتدادي ده ، یا شراب چې حرام شوي دي او حلال یې وګڼي ، همدارنګه الله ﷻ سود حرام کړی دی ، خو که څوک سود حلال وګڼي نو دغه عقیده یې ارتدادي عقیده ده او د داسې عقیدې په لرلو سده دغه کس مُرتد کیږي[4] ، همدغه مطلب په جلا مثالونو کې په دلایلو سره په لاندې ډول واضح کوو:

**الف: سـحر حـلال ګـڼل:**

سحر الله ﷻ حرام کړی دی ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده پیدا کړي چې سحر حلال وګڼي نو هغه کس مُرتد

---

۱ : **تسهيل الطحاوي شرح عقيدة الطحاوي** ، ج ۱ ، ص ۳۹

۲ : **د المائدة سورت:** ۸۷ آيت

۳ : **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ۱ ، ص ۲۴ . **الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** لامام عبدالله بن مُحَمَّد ، ج ۱ ، ص ۷۰ . **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۷ . **رسائل ابن حزم:** ج ۳ ، ص ۲۰۹. **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية:** ج ۲ ، ص ۲۷۲. او ؛ **كفري الفاظ او د هغو حكمونه:** ج ۱ ، ص ۷۶

٤ : **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۳۷.

ګڼل کیږی [1]، په دغه دلیل د کتاب الله باندې:

﴿ وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ . [2]

ژباړه: او په دې لړ کې یې د هغه شیانو پیروي وکړه ، چې شیطانانو د سلیمان علیه السلام د سلطنت د نوم په اخیستلو وړاندې کول ، په داسې حال کې چې سلیمان علیه السلام هېڅکله کافر شوی نه ؤ ، او د کفر مرتکبین خو هغه شیطانان ؤ چې خلکو ته یې کوډې ښودلې ، هغوی هغه څه تعقیبول چې په بابل کې په دوو فرښتو هارت او ماروت نازل شوي ؤ ، په داسې حال کې چې هغو (فرښتو) به چې هر کله چاته هغه ښودل ، نو لومړی به یې په ډاګه دا خبره ورته کووله: ګوره! که مونږ یواځې د ازمېښت لپاره یو ، نو مه کافر کیږه ، بیا هم دې خلکو له هغو څخه هغه څه زده کوول چې په هغو سره د مېړه او ښځې تر منځ بېلتون راولي ، ښکاره ده چې د الله ﷻ د اجازې پرته هغوی په دې وسیله هېڅ چا ته هم ضرر نشي رسولای ، خو له دې سره سره یې داسې څه زده کول چې په خپله د هغوی له پاره ګټور نه ، بلکې تاوان ؤ ، او هغوی ته ښه معلومه وه چې که څوک د دې شي خریدار شي ، د هغه لپاره په آخرت کې هېڅ ونډه نشته ، څومره ناکاره سودا ده چې د هغې په بدل کې هغوی خپل ځانونه خرڅ کړل ، کاشکې هغوی ورباندې پوهېدلای.

که یو مسلمان سحر کوي نو د ساحر حد د ارتداد حد دی.[3]

همدارنګه د ساحر په څنګ کې د کاهن کړنې هم په اسلام کې حرامې دي چې په هکله یې نبي کریم ﷺ فرمایي:

**و لا نصدق کاهنا و لا عرافا، و لا من یدعی شیئا یخالف الکتاب والسنة و اجماع الأمة.** [4]

ژباړه: مونږ د هېڅ کاهن او نجومي تصدیق نه کوو ، نه د هغه چا چې د یو داسې شي دعوه کوي چې د کتاب ، سنت او اجماع خلاف وي.

سحر د قرآن کریم په اصطلاح کې هر داسې عجیبه امر ته وایي چې په هغه باندې شیطان خوشحالیږي او د شیطان په مرسته حاصل شوی وي ، چې د شیطان د راضي کولو څو صورتونه دي: کله داسې منترونه اختیاروي چې په هغه کې د کفر او شرک کلمات وي او د شیطانانو تعریفونه شوي وي ، یا د ستورو عبادتونه کوي چې په هغه باندې شیطان خوشحالیږي.

په هر حال ، ساحر او کاهن دواړه د غیبو خبرونه وایي او سحر او کهانت حرام دي او د هغوی په خبرو باندې یقین

---

[1] : **التکفیر حکمه و ضوابطه والغلو فیه:** ج ۱ ، ص ۲۴

۲: **د البقرة سورت:** ۱۰۲ آیت

[3] : **الاقتصاد فی أن الکفر یکون بالقول او الفعل:** لمحمد بن احمد المعروف بالشیخ علیش ، ج ۱ ، ص ۹۶

٤: **تسهیل الحاوي شرح عقیدة الطحاوي:** مولانا مفتی احسان الله شائق ، ج ۱ ، ص ۲۳۲

کول کفر دی ، هغوی ته د ورتللو څخه ځان ژغورل لازمي دي.[1]
سحر موجودیت لري ، مګر د سحر کول حرام دي.
که چېرته یو مسلمان سحر حلال وګڼي نو هغه کس د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږی.

**ب: سود جایز ګڼل:**

الله تبارک و تعالی ﷻ بیع حلاله او سود حرام ګرځولی دی ، د سود څخه انسانانو ته ضررر رسیږي ، او په احتیاجمندو کسانو باندې ظلم کیږي ، نو په همدې اساس د ټولنې د عدم تضرر په اساس باندې د اسلام په مقدس دین کې سود حرام ګرځول شوی دی.

د سود د حرام والي په هکله الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَن جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَىٰ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾[2]

ژباړه: کوم خلک چې سود خوري ، د هغو حال به هغه چا غوندې وي چې پېریانو نیولی وي او پر دې حال د هغو د اخته کېدو دلیل دا دی چې وایي: "تجارت خو هم لکه د سود غوندی شی دی." ، په داسې حال کې چې الله ﷻ تجارت حلال او سود ناروا کړی دی ، نو چا ته چې د هغه د رب له لوري دا نصیحت ورسېدی او په راتلونکي کې یې د سود له خوړلو څخه ډډه وکړه ، نو څه چې یې مخکې خوړلي هغه خو یې خوړلي دي ، د هغه معامله له خدای سره ده ، او څوک چې له دې حکم څخه وروسته بیا هم همداسې کار کوي ، هغوی دوزخیان دي ، تل به په کې اوسیږي.

پورته الهي امر ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان سود جایز او حلال وګڼي نو د هغه کس عقیده د اسلام مخالفه ده او په دغه عقیده باندې د اسلام له چوکاټه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

**تبصره:** پورته آیت شریف ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده پیدا کړي چې سود حلال دی او حرام ندی ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

په دغه اړوند زمونږ په جامعه کې ځینې ارتدادي اقوال مروج دي د کومو څخه چې مونږ د بېلګې په ډول یادوونه کوو:

یو چاته وویل شو چې حلال مه خوره ، هغه په ځواب کې وویل چې ماته خو حرام مال ډېر ګران یا محبوب دی ، نو دغه کس په دغه وینا باندې مُرتد شو.[3]

همدارنګه که یو چا ته وویل شول چې ته یو حلال خوښوې او که دوه حرامه ، او هغه وویل چې هر یو مخکې

---

۱: تسهیل الحاوي شرح عقیدة الطحاوي ، ج ۱ ، ص ۲۳۳
۲: د البقرة د سورت: ۲۷۵ آیت
۳: کفري الفاظ او د هغو حکمونه ، ج ۱ ، ص ۷۷

راورسیږي ، یا هم ووایي چې ماته مال پکار دی ، حلال وي او که حرام ، نو په دغه عقیدې سره چې حرام مال جایز او حلال ګڼي ، شخص مُرتد کیږي.[1]

**تبصره:** د قرآن کریم پورتنیو آیاتو او د فقهاؤ قول ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان داسې عقیده اختیار کړې چې کوم شیان چې د اسلام په مبارک دین کې معلوم حرام دي (لکه زنا ، شراب ، غلا ، ..... و غیره) او حلال یې وګڼي او یا هم هغه شیان چې د اسلام په مبارک دین کې معلوم حلال دي (لکه بیع ، نکاح .... و غیره) او دا یې حرام وګڼي ، نو دداسې عقیدې په اختیارولو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.[2]

## دویم مبحث: ارتداد په اقوالو کې

عبارت د هغه ارتداد څخه دی چې د یو مسلمان څخه د کفر خبرې ووځي او کفري خبرې ووایي.

د قولي ارتداد اسباب په لاندې مثالونو کې بیان شوي دي:

- الله ﷻته ښکنځل کول
- د الله ﷻپه ربوبیت او نظام چلولو کې منفي بحثونه کول په دې ترتیب سره چې د الهي نظام او سیستم نقض بیانوي.
- حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ ته ښکنځل کول
- نورو انبیای کرامو ته ښکنځل کول
- په پیغمبرانو اعتراض کول
- په قرآن کریم باندې اعتراض کول
- له اسلام څخه خپله بېزارتیا اعلانول
- د اسلام مبارک دین پورې ملنډې وهل
- مؤمنانو ته د کفر او الحاد بلنه ورکول

چې پورته ارتدادي اقوال مونږ هر یو په جلا مطالبو کې تر څېړنې لاندې نیسو:

### لومړی مطلب: الله ﷻته ښـکـنځل کول:

د اسلامي اُمت ټول فقهاء په دې باندې متفق دي چې که یو څوک الله و تبارک و تعالی ﷻته په قصدي توګه ، یا

---

۱: **کفري الفاظ او د هغو حکمونه** ، ج ۱ ، ص ۷۷

۲: **کفري الفاظ او د هغو حکمونه** ، ج ۱ ، ص ۷۷

په شوخۍ سره او يا په استهزاء سره ښکنځلې وکړي ، نو بيدون له کومې استثناء څخه دغه کس مُرتد بلل کيږي.[1]
الله ﷻ په قرآن کريم کې داسې فرمايي:

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ O لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ إِنْ نَعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ مِنْكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ O [2]

ژباړه: که له دوی څخه پوښتنه وکړئ چې تاسې څه خبرې کولې ، نو سمدلاسه به ووايي چې موږ خو ټوکې ، مسخرې او ساعت تيري کول ، دوی ته ووايه: " آيا ستاسې مسخرې او ساعت تيري له الله ﷻ ، او د هغه له آيتونو او د هغه له پېغمبر سره ول ؟ " O اوس عذرونه مه کوئ ، تاسې له ايمان څخه وروسته کافران شوي ياست. " که موږ ستاسې څخه يوه ډله و بخښو هم ، نو بلې ډلې ته خو به موږ هرو مرو سزا ورکړو ، ځکه چې هغوی مجرمان دي. "

الله ﷻ هغه ذات دی چې ټول کائينات ، ځمکې ، اسمانونه او مخلوقات يې پيدا کړي دي او په ټولو باندې مطلق تصرف او واک لري او په يو کُن (شه) سره يې فنا کوي.

د نړۍ تاريخ دا ثابته کړې ده چې کومو کسانو چې د الله ﷻ په شان کې ګُستاخي کړې ده ، الله ﷻ هلاک کړي دي او حتی د ځنو يې نمونې تر قيامته پورې د انسانانو د عبرت لپاره پرې ايښې دي ، چې موږ دلته د موضوع د روښانتيا لپاره د يو څو کسانو څخه يادوونه کوو:

فرعون چې کله د الله ﷻ په شان کې ګُستاخي وکړه او بالآخره د خدايۍ دعوه يې وکړه نو الله ﷻ په رود نيل کې هلاک کړو او د هغه مجسمه تر ننه پورې په مصر کې د انسانانو د عبرت لپاره ايښودل شوې ده.

نمرود چې کله د الله ﷻ په شان کې ګُستاخي وکړه او حضرت ابراهيم عليه السلام ته يې وويل چې ته دې خپل رب ته ووايه چې زما سره خپل لښکر وجنګوي ، نو الله ﷻ ورته په غوږ کې يو ماشی (يو عادي مخلوق او کوچنی مخلوق) ور ننويستو او د ماشي په واسطه يې هلاک کړو.

قارون چې کله حضرت موسی عليه السلام ته وويل چې ماته دُعا وکړه چې مالدار شم ، نو حضرت موسی عليه السلام ورته دُعا وکړه او الله ﷻ قارون ته ډېرې خزانې ورکړې ، خو کله چې ورته د زکات امر وشو ، نو نوموړي انکار وکړو ، نو الله ﷻ د خزانو د کليګانو سره په ځمکه کې ننويستلو.

ثموديانو او عاديانو چې د الله ﷻ د امر څخه نافرماني وکړه ، نو هلاک شول.

---

١: **الإيمان حقيقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة:** ج ١ ، ص ١٣٣ ، ١٣٦ او ١٤٠. **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ١ ، ص ٢٤ . **اسعاف المؤمنين بنصرة خاتم المرسلين:** لمحمد بن صالح بن مُحَمَّد العثيمين ، المتوفى سنة ١٤٢١ ، ج ١ ، ص ١١٤ . او ج ١٤ ، ص ٤٢٣ . **الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** لامام عبدالله بن مُحَمَّد ، ج ١ ، ص ٧٠ او ٩٣. **الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** لامام اهل السنة أحمد بن حنبل ، ج ١ ، ص ٢٤ . **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة:** كتاب الحدود ، ج ٤ ، ص ١٣٧. او ؛ **الصارم المسلول:** شسيخ الاسلام ابن تيميه رحمة الله عليه ، طبع نشر السنة ملتان ، ج ١ ، ص ٥٥٠. او ؛ **المغني:** ج ٨ ، ص ٥٦٥ ، او ؛ **الخرشي:** ج ٨ ، ص ٧٤. او ؛ **نيل الأوطار:** مُحَمَّد بن علي بن مُحَمَّد بن عبدالله الشوكاني ، المتوفى سنة ١٢٥٠ ه ، ج ٨ ، ص ١٩٤.
[٢]: **د التوبه سورت:** ٦٥ او ٦٦ آيتونه

الله تبارک و تعالی ﷻکولای شي چې په خپل يو امر سره د دنيا ټول نظام ختم کړي ، يوه زره د زراتو هم د الله جل جلالهُ د امر څخه پرته ځان نشي خوځولای ، خلاصه دا چې که هر څومره هم د الله ﷻعظمت ، لويي او پاکي بيان کړو ، نو بيا هم کمه ده او دا کمپيوټر ، قلم ، کاغذ او مونږ ټرې عاجزه يو ، او د الله ﷻعظمت نه خلاصيږي او نه به خلاص شي.

که يو انسان د الله ﷻپه شان کې ګستاخي کوي نو د الله ﷻد ځمکې او آسمان څخه دې ووځي ، .... بلکې نشي کولای.

انسان خو ډېر عاجز مخلوق دی کوم چې د يوې تبې زور هم نلري ، حتی د خپل ځان واک ورسره نشته ، د خپل زړه د حرکاتو واک ورسره نشته ، نو الله ﷻانسانانو ته مُهلت (وخت) ورکړی دی او دې دنيا ته يې د امتحان لپاره راليږلي دي ، چې څوک نېک اعمال تر سره کوي او څوک بد.

که يو مسلمان الله ﷻته ښکنځل وکړي ، دا د الله ﷻپه شان کې عظيمه ګُستاخي ده او دغه شخص بيدون له کوم ولې يا څنګه څخه ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي. دا بايد په ډاګه شي که چېرته يو څوک الله رب العزت ته ښکنځل وکړي ، د ده دا عمل مسلمانانو ته قابل د زغم او تحمل ندی ، د الله ﷻعاشقان ډېر دي چې دغسې بې ادبي او ګُستاخي ورته په هېڅ صورت سره قابل د قبول ندي ، او دغه شخص کېدای شي چې د محکمې له حکم څخه بغير په قتل ورسيږي ، چې د دغه شان مُرتد وينه هدر ده ، لکه چې په نبوي عصر کې يوې ښځې نبي کريم ﷺ ته ښکنځل کول او په قتل ورسېدله او نبي کريم ﷺ د دغې ښځې وينه هدر و ګرځوله.

د حضرت ابن عباس رضى اللهُ تعالى عنهُ څخه يو حديث شريف روايت دی چې فرمايي:

عَنْ ابنُ عَبَّاسٍ أَنَّ أَعمَى كَانَتْ لَهُ أُمُّ وَلَدٍ تَشْتُمُ النَّبِىَّ ﷺ وَتقَعُ فِيهِ فَيَنْهَاهَا فَلاَ تَنْتَهِى وَيَزْجُرُهَا فَلاَ تَنْزَجِرُ قَالَ: فَلَمَّا كَانَتْ ذَاتَ لَيْلَةٍ جَعَلَتْ تَقَعُ فِى النَّبِىِّ ﷺ وَتَشْتِمُهُ فَأَخَذَ الْمِغْوَلَ فَوَضَعَهُ فِى بَطْنِهَا وَاتَّكَأَ عَلَيْهَا فَقَتَلَهَا فَوَقَعَ بَيْنَ رِجْلَيْهَا طِفْلٌ فَلَطَخَتْ مَا هُنَاكَ بِالدَّمِ فَلَمَّا أَصْبَحَ ذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَجَمَعَ النَّاسَ فَقَالَ « أَنْشُدُ اللَّهَ رَجُلاً فَعَلَ مَا فَعَلَ لِى عَلَيْهِ حَقٌّ إِلاَّ قَامَ ». فَقَامَ الأَعْمَى يَتَخَطَّى النَّاسَ وَهُوَ يَتَزَلْزَلُ حَتَّى قَعَدَ بَيْنَ يَدَىِ النَّبِىِّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا صَاحِبُهَا كَانَتْ تَشْتِمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَنْهَاهَا فَلاَ تَنْتَهِى وَأَزْجُرُهَا فَلاَ تَنْزَجِرُ وَلِى مِنْهَا ابْنَانِ مِثْلُ اللُّؤْلُؤَتَيْنِ وَكَانَتْ بِى رَفِيقَةً فَلَمَّا كَانَتِ الْبَارِحَةَ جَعَلَتْ تَشْتِمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَخَذْتُ الْمِغْوَلَ فَوَضَعْتُهُ فِى بَطْنِهَا وَاتَّكَأْتُ عَلَيْهَا حَتَّى قَتَلْتُهَا. فَقَالَ النَّبِىُّ ﷺ « أَلاَ اشْهَدُوا أَنَّ دَمَهَا هَدَرٌ ».[1]

ژباړه: د حضرت ابن عباس رضى اللهُ تعالى عنهُ څخه روايت دی چې د يو نابينا سړي يو ام ولده وينځه وه او د نبي کريم ﷺ بد به يې ويل او د نبي کريم ﷺ حجوه به يې بيانوله ، دغه نابينا کس به له دغه کار څخه منع کوله ، ليکن هغه به نه منع کېدله ، او هغه به رټله ، ليکن هغه به په هېڅ شان سره نه منل ، يوه شپه حسب معمول هغه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم بد ويل شروع کړل او ښکنځل يې کول ، نو دې نابينا کس چاړه

[1]: السنن أبي داؤد: باب الحكم فيمن سب النبى ﷺ ، ج ۴ ، ص ۲۲۶ ، د حديث شمېره: ۴۳۶۱

راواخيسته او د دې په خېټه کې يې کېښودله او چاړې ته يې زور ورکړلو او دا يې قتل کړه ، د دې ښځې د دواړو پښو په منځ کې بچی اوغورځېدلو او په وينو کې لت پت شو ، هر کله چې صبا شو نو د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د دې واقعې ذکر وشو ، نبي کريم ﷺ تمام خلق راجمع کړل او ويې فرمايل: چا چې دا کار کړی وي زه هغه ته په الله ﷻ قسم ورکوم او په خپل حق ورته قسم ورکوم کوم چې زما په ده باندې دی چې هغه دې پاڅي (اقرار دې وکړي) ، نابينا چې دا خبره واورېده نو اودرېدو او د خلقو په منځ کې په منډو منډو راغی او حاضر شو ، تر دې چې د نبي کريم ﷺ په وړاندې مخامخ کښيناستو او عرض يې وکړو ای د الله تعالی ﷻ رسوله ، زه هغه کس يم چا چې دا وينځه وژلې ده ، دې وينځې به تا ته ښکنځل کول او ستا بد به يې ويل ، ما به منع کوله خو نه منع کېدله ، او ما به دا رټله ليکن دې به نه منله ، او د دې د خېټې نه زما دوه د ملغلرو په شان ځامن دي او دا زما يوه ښه ملګرې وه ، تېره شپه دې وينځې تاته بد ويل شروع کړل او ستا حجوه يې بيانوله ، ما چاړه راواخيسته او د دې په خېټه کې مې کيښوده او په چاړه مې خپل وزن ورواچاوه تر دې چې قتل شوه ، نبي کريم ﷺ چې دا واورېدل نو ويې فرمايل: ای خلکو تاسې ګواه اوسئ چې د دې وينځې وينه عبث ده (يعنې د دې قصاص به نشي اخيستی).

نو چې د پېغمبر په ښکنځلو باندې يو څوک مرتد کيږي او وينه يې هدر ګرځي ، نو که الله ﷻ ته څوک ښکنځل وکړي ، نو په طريقه اولی سره مرتد کيږي او وينه يې هدر ګرځي.

**تـبصـره:** د قرآنکريم پورته آيت او د نبي کريم ﷺ پورتني حديث شريف ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان الله رب العزت ته ښکنځل وکړي ، نو بېدون له کوم چون او چرا (څنګه او ولې) څخه دغه کس د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

په دغه اړوند په ټولنه کې د ارتدادي اقوالو بېلګې:

يو کس ته وويل شي چې "ياره! ته خو د خپلې ښځې په پنجه کې نه يې راغلی" ، هغه ځواب ورکړي چې "د ښځو په پنجه کې الله تعالی ﷻ هم نه راځي ، زه يې ولې په پنجه کې راشم" ، په دغه قول او وينا سره دا کس مُرتد شو.[1]

که کوم شخص کومه ګناه کوله او بل سړي هغه وټوکه يا تنبيه يې کړ او ورته يې وويل چې "ته له خدايه نه ويريږې؟" او هغه ځواب ورکړ چې "نه" ، نو دغه د ګناه مرتکب سړی مُرتد شو ، ځکه چې په دغه خبره کې د تاويل ځای نشته. همدا راز چاته وويل شي چې "ته له الله تعالی ﷻ څخه نه ويريږې؟" او هغه د غوسې په حالت کې ځواب ورکړي چې "نه" ، نو دغه کس مُرتد کيږي.[2]

١: **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية:** باب فی احكام المُرتدين ، ج ٢ ، ص ٢٦٢. **کفري الفاظ او د هغو حکمونه:** ج ١ ، ص ٥١

٢: **کفري الفاظ او د هغو حکمونه:** ج ١ ، ص ٥١

**دويم مطلب: د الله ﷻ په ربوبيت او نظام چلولو کې منفي بحثونه کول په دې ترتيب سره چې د الهي نظام او سيستم نُقص بيانوي:**

که چېرته يو څوک د الله تبارک و تعالى ﷻ په ربوبيت او نظام چلولو کې منفي بحثونه کوي په دې ډول چې الهي نظام او سيستم ته نقص واردوي او يا خلک د الله ﷻ د ربوبيت او نظام چلولو په هکله شکمن کوي ، او يا بغير د الله ﷻ څخه کوم بل څوک او يا ځان د نظام واکمن يا رب بولي ، نو دغه کس مُرتد ګڼل کيږي.[1]

الله ﷻ د کائيناتو نظام ډېر په ښه ترتيب سره برابر او تنظيم کړی دی چې د کائيناتو له جملې څخه د شمسي نظام يو مخلوق هم لمر دی چې الله ﷻ يې د هرې ورځې په پيل کې له ختيځ څخه راپورته کوي او د ورځې په پای کې يې په لويديځ باندې ښکته کوي ، او ورځ پای ته رسيږي او شپه شروع کيږي ، او صبا يې بيه هم په همدې ترتيب سره راخيژوي او بېرته يې ښکته کوي چې يو منظم نظام دی او دا نظم ډېر ښه ښايسته برقراره دی او بل هېڅ څوک دا قدرت نلري ، چې په هکله يې الله ﷻ په قرآن کريم کې داسې فرمايي:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ .[2]

ژباړه: آيا ته د هغه چا (نمرود) په حال غور نه دی کړی چې هغه له ابراهيم عليه السلام سره جګړه کړې وه؟ په دې خبره جګړه چې د ابراهيم عليه السلام رب څوک دی ، او له دې امله چې هغه ته الله ﷻ حکومت ورکړی ؤ. کله چې ابراهيم عليه السلام وويل: زما رب هغه ذات دی چې د ژوند او مرګ واکمن دی ، نو دغه (نمرود) په ځواب کې وويل: ژوند او مرګ زما په واک کې دی ، ابراهيم عليه السلام وويل: ښه نو ، الله ﷻ لمر له ختيځ څخه راخېژوي ، ته هغه له لويديځ څخه راوخېژوه ، د دې په اورېدو د حق هغه منکر هک پک حېران پاتې شو ، خو الله ﷻ ظالمانو ته سمه لاره نه ښايي.

د الله تبارک و تعالى ﷻ نظام ډېر په ښه ډول سره مخ په وړاندې روان دی ، ټول سيارات او ستوري په خپلو خپلو مدارونو څرخيږي او لمر او سپوږمۍ هم تر معلومې نېټې پورې (د قيامت تر قايمېدو پورې) په خپل مسير کې حرکت کوي ، لمر له شرق څخه هره ورځ راخيژي او د ورځې په پای کې په غرب کې پريوزي ، او په منظم ډول سره شپه او ورځ يو د بل پسې راځي ، د مخلوقاتو د رزق ترتيب منظم دی ټول انسانان په شمول د کفارو او مسلمانانو د الله ﷻ رزق خوري ځکه چې الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو رب دی ، ټول ژوندي موجودات (حيوانات ، نباتات ، ....) اوبه څکې او دغه اوبه نه ختميږي ، آسمانونه بې ستنو ولاړ دي ، آسمانونه په ستورو خايسته شوي دي ، د نړۍ پر مخ په لويو دريابونو کې اوبه رواني دي او هېڅ چا د دې دنيا انتها معلومه نکړه او نه به يې انتها معلومه کړي ،

---

[1]: الإيمان حقيقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة: ج ١ ، ص ١٣٣ او ١٤٠ ؛ اسعاف المؤمنين بنصرة خاتم المرسلين: ج ١ ، ص ١١۴

[2]: د البقرة سورت: ٢٥٨ آيت

انسان يې د يو څاڅکي نطفې د يو سپرم څخه په ښه ښکلا او ښايسته صورت سره پيدا کړو ، قرآن کريم کې ارشاد دی:

﴿ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴾ [1]

ژباړه: بيا مو هغه څاڅکي (نطفه) ته د برغنډ (ترلي ويني) بڼه ورکړه ، بيا مو برغنډ د غوښې بوټی وګرځوله ، بيا مو بوټی هډوکي جوړ کړل ، بيا مو هډوکو ته غوښه ورواغوستله ، بيا مو هغه يو بل مخلوق جوړ کړ ، نو الله ﷻ ډېر زيات برکت ناک او تر ټولو پيداکوونکو ډېر ښه پيدا کوونکی دی.

که هر څومره د الله ﷻ د نظام صفت وکړو او د الله ﷻ نعمتونه ياد کړو ، نو مونږ يې تر يادولو څخه ناتوانه يو ، په همدې خبره د الله ﷻ سپېڅلی کلام ګواهي ورکوي:

﴿ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ [2]

ژباړه که تاسې د الله ﷻ د نعمتونو شمېرل وغواړئ ، نو نه يې شئ شمېرلای ، حقيقت دادی چې هغه ډېر ښښونکی او مهربان دی.

**تبصره:** د قرآن کريم پورتنيو آيتونو ته په کتنه ، که يو مسلمان د الله ﷻ په ربوبيت او نظام چلولو کې منفي بحثونه وکړي او الهي نظام او سيستم ته نقص واردوي او له ځان څخه جوړې شوې نيوکې کوي ، چې دا څنګه نظام دی ، دا ولې ورځ ده ، ولې شپه ده ، ولې لمر دی ، ولې سپوږمۍ ده ، ولې ژوند دی ، ولې مرګ دی ، ولې باران دی ، دا بايد داسې نه وای ، دا بايد کم وای ، دا بايد زيات وای ، او په الهي نظام کې اعتراضونه کوي چې فلان دی او بيس مدان دی ، نو دا رقم ويناوې بيهوده او عبث دي او د الله ﷻ په شان کې ګُستاخي ده او د الله ﷻ علميت او قدرت کامله ته په کمه/سپکه سترګه کتل دي ، چې په دغه شان منفي اقوالو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## دريم مطلب: حضرت مُـحـمد رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم ته ښـکنځل کول:

د اسلامي اُمت ټولو فقهاؤ په دې خبره باندې اتفاق کړی دی چې که يو څوک د حضرت مُحمد رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نسب ، القاب ، دين او خصلت ته ښکنځل وکړي او يا د هغه تکذيب ، تحقير ، او توهين وکړي مُرتد بلل کيږي او وينه يې هدر ده [3] ، د موضوع د ښه وضاحت لپاره د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم يو څو احاديث

---

۱: **د المؤمنون سورت:** ۱۴ آيت

۲ : **د النحل سورت:** ۱۸ آيت

۳ : **الإيمان حقيقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة:** ج ۱ ، ص ۱۳۳ ، ۱۳۶ او ۱۴۰. **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ۱ ، ص ۲۴ . **اسعاف المؤمنين بنصرة خاتم المرسلين:** ج ۱ ، ص ۱۱۴ . : ج ۱۴ ، ص ۴۲۳. **الدر المختار:** باب المرتد ، ج ۴ ، ص ۲۳۴. **الاشباه والنظائر:** باب الردة ، ج ۱ ، ص ۱۹۰ . **رد المختار:** ج ۱۶ ، ص ۲۸۲ او ۲۸۶. **الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** لامام عبدالله

د دليل په توګه بيانوو:

د حضرت علي کرم الله وجهه څخه روايت دی چې فرمايي:

عَنْ عَلِيٍّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ : أَنَّ يَهُودِيَّةً كَانَتْ تَشْتُمُ النَّبِىَّ ﷺ وَتَقَعُ فِيهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّى مَاتَتْ فَأَبْطَلَ رسول الله ﷺ دَمَهَا. [1]

ژباړه: د حضرت علی رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روايت دی چې فرمايي يو يهودۍ ښځې به نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته ښکنځل کول او د ده بد به يې ويل ، په دې خبره باندې يو کس د هغې ختې تاؤ کړو تر دې چې مړه شوه ، نبي کريم ﷺ د هغې وينه هدر وګرځوله.

همدارنګه د حضرت ابن عباس رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه يو حديث شريف روايت دی چې فرمايي:

عَنِ ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ أَعْمَى كَانَتْ لَهُ أُمُّ وَلَدٍ تَشْتُمُ النَّبِىَّ ﷺ وَتَقَعُ فِيهِ فَيَنْهَاهَا فَلاَ تَنْتَهِى وَيَزْجُرُهَا فَلاَ تَنْزَجِرُ قَالَ: فَلَمَّا كَانَتْ ذَاتَ لَيْلَةٍ جَعَلَتْ تَقَعُ فِى النَّبِىِّ ﷺ وَتَشْتِمُهُ فَأَخَذَ الْمِغْوَلَ فَوَضَعَهُ فِى بَطْنِهَا وَاتَّكَأَ عَلَيْهَا فَقَتَلَهَا فَوَقَعَ بَيْنَ رِجْلَيْهَا طِفْلٌ فَلَطَخَتْ مَا هُنَاكَ بِالدَّمِ فَلَمَّا أَصْبَحَ ذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَجَمَعَ النَّاسَ فَقَالَ « أَنْشُدُ اللَّهَ رَجُلاً فَعَلَ مَا فَعَلَ لِى عَلَيْهِ حَقٌّ إِلاَّ قَامَ ». فَقَامَ الأَعْمَى يَتَخَطَّى النَّاسَ وَهُوَ يَتَزَلْزَلُ حَتَّى قَعَدَ بَيْنَ يَدَىِ النَّبِىِّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا صَاحِبُهَا كَانَتْ تَشْتِمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَنْهَاهَا فَلاَ تَنْتَهِى وَأَزْجُرُهَا فَلاَ تَنْزَجِرُ وَلِى مِنْهَا ابْنَانِ مِثْلُ اللُّؤْلُؤَتَيْنِ وَكَانَتْ بِى رَفِيقَةً فَلَمَّا كَانَتِ الْبَارِحَةَ جَعَلَتْ تَشْتِمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَخَذْتُ الْمِغْوَلَ فَوَضَعْتُهُ فِى بَطْنِهَا وَاتَّكَأْتُ عَلَيْهَا حَتَّى قَتَلْتُهَا. فَقَالَ النَّبِىُّ ﷺ « أَلاَ اشْهَدُوا أَنَّ دَمَهَا هَدَرٌ ».[2]

ژباړه: د حضرت ابن عباس رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روايت دی چې د يو نابينا سړي يو ام ولده وينځه وه او د نبي کريم ﷺ بد به يې ويل او د نبي کريم ﷺ حجوه به يې بيانوله ، دغه نابينا کس به له دغه کار څخه منع کوله ، ليکن هغه به نه منع کېدله ، او هغه به رټله ، ليکن هغه به په هېڅ شان سره نه منل ، يوه شپه حسب معمول هغه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم بد ويل شروع کړل او ښکنځل يې کول ، نو دې نابينا کس چاړه راواخيسته او د دې په خېټه کې يې کېښودله او چاړې ته يې زورورکړلو او دا يې قتل کړه ، د دې ښځې د دواړو پښو په منځ کې بچی اوغورځېدلو او په وينو کې لت پت شو ، هر کله چې صبا شو نو د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د دې واقعې ذکر وشو ، نبي کريم ﷺ تمام خلق راجمع کړل او ويې فرمايل: چا چې دا کار کړی وي زه هغه ته په الله ﷻ قسم ورکوم او په خپل حق ورته قسم ورکوم کوم چې زما په ده باندې دی چې هغه دې پاڅي (اقرار دې

---

بن مُحَّد ، ج ۱ ، ص ۷۰ او ۹۳. **الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل**: منصور بن يونس البهوتى حنبلى. الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل: لامام اهل السنة أحمد بن حنبل ، ج ۱ ، ص ۲۴. **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۷. او ؛ **المغني**: ج ۸، ص ۵۶۵. او ؛ **الخرشى**: ج ۸ ، ص ۷۴. او ؛ **الصارم المسلول**: ج ۱ ، ص ۵۵۰. او ؛ **ابن عابدين**: ج ۴ ، ص ۲۳۲-۲۳۷. او ؛ **زاد المعاد**: ج ۳ ، ص ۲۱۴. او ؛ **نيل الاوطار**: ج ۸، ص ۱۹۴

۱ : **السنن ابي داؤد**: باب الحكم فيمن سب النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وسَلَّم ، د حديث شمېره: ۴۳۶۴. **سنن الكبرى للبيهقي**: د حديث شمېره: ۱۳۷۵۸

۲: **السنن ابي داؤد**: باب الحكم فيمن سب النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وسَلَّم ، د حديث شمېره: ۴۳۶۱

وکړي)، نابینا چې دا خبره واورېده نو اودرېدو او د خلقو په منځ کې په منډو منډو راغی او حاضر شو ، تر دې چې د نبي کریم ﷺ په وړاندې مخامخ کښیناستو او عرض یې وکړو ای د الله تعالی ﷻرسوله ، زه هغه کس یم چا چې دا وینځه وژلې ده ، دې وینځې به تا ته ښکنځل کول او ستا بد به یې ویل ، ما به منع کوله خو نه منع کېدله ، او ما به دا رټله لیکن دې به نه منله ، او د دې د خېټې نه زما دوه د ملغلرو په شان ځامن دي او دا زما یوه ښه ملګرې وه ، تېره شپه دې وینځې تاته بد ویل شروع کړل او ستا حجوه یې بیانوله ، ما چاړه راواخیسته او د دې په خېټه کې مې کیښوده او په چاړه مې خپل وزن ورواچاوه تر دې چې قتل شوه ، نبي کریم ﷺ چې دا واورېدل نو ویې فرمایل: ای خلکو تاسې ګواه اوسی، چې د دې وینځې وینه عبث ده (یعنې د دې قصاص به نشي اخیستی).

حنفي او مالکي علماء وایي چې که چېرې یو مسلمان نبي کریم ﷺ ته ښکنځل وکړي ، نو دغه کس حدا قتل کړي ، وینه یې هدر ده او توبه یې هم نه قبلیږي.[1]

د پورته احادیثو څخه دا په ډاګه څرګندیږي چې که هر څوک د جناب نبي کریم ﷺ په شان کې ګستاخي او بې ادبي وکړي هغه مباح الدم دی ، او د داسې کس د قتل په وجه قصاص او دیت نه لازمیږي ، پدغه مورد کې علامه ابن عابدین شامي په تنبیه الولاة والحکام علی شاتم خیر الأنام کې ، او شیخ الاسلام ابن تیمیه په الصارم المسلول کې پوره وضاحت کړی دی چې مونږ دلته همدومره کافي بولو.

که یو مسلمان رسولُ الله ﷺ ته ښکنځل وکړي ، یا د رسولُ الله ﷺ په شان کې مسخرې وکړي ، دا د رسولُ الله ﷺ په شان کې عظیمه ګُستاخي ده او دغه شخص بیدون له کوم ولې یا څنګه څخه ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي[2]. دا باید په ډاګه شي که چېرته یو څوک نبي کریم ﷺ ته ښکنځل وکړي ، د ده دا عمل مسلمانانو ته قابل د زغم او تحمل ندي ، د رسولُ الله ﷺ عاشقان ډېر دي چې دغسې بې ادبي او ګُستاخي ورته په هېڅ صورت سره قابل د قبول ندي ، او دغه شخص کېدای شي چې د محکمې له حکم څخه بغیر په قتل ورسیږي ، چې د دغه شان مُرتد وینه هدر ده ، لکه چې په نبوي عصر کې یوې ښځې نبي کریم ﷺ ته ښکنځل کول او په قتل ورسېدله او نبي کریم ﷺ د دغې ښځې وینه هدر و ګرځوله.

**تبصره:** پورته نبوي احادیثو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان سیدنا و وسید المؤمنین جناب مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ ته ښکنځل وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

زمونږ په ټولنه کې ځینې کفري الفاظ مروج دي په کومو سره چې یو کس مُرتد کیږي ، او د ټولنې افراد ترې باید جدا ځان وساتي ، د مثال په ډول:

یو سړي د خپل غلام د وهلو او ډبولو هوډو وکړ ، دغه سړي ته یو بل سړي وویل ، چې دا غلام مه وهه ، هغه ورته وویل ، ته خو ته یې ، چې مُحمد ﷺ هم راته ووایي ، له وهلو نه یې را څخه نشي خلاصولای او بې له وهلو یې نه

---

[1] : **حاشیه ابن عابدین:** مُحَمَّد أمین بن عمر بن عبدالعزیز الدمشقي ، مطلب مهم فی حکم ساب الانبیاء: ج ۴ ، ص ۲۳۳.

[2] : **التکفیر حکمه و ضوابطه والغلو فیه:** ج ۱ ، ص ۲۴

پرېږدم ، که د پېغمبر ځوی هم شي نو رانه نشي خلاصېدلای ، پېغمبر هم یو انسان ؤ او ته هم یو انسان یې او یو په بل باندې هېڅ برتري نلرئ ستا د پېغمبر داسې او داسې... ، په داسې اقوالو سره په دې سړي کفر لازم شو ، ځکه ده د پېغمبر ﷺ په شان کې عظیمه ګستاخي وکړه او غلط الفاظ یې استعمال کړل.

## څلورم مطلب: نورو انبیای کرامو ته ښکنځل کول:

د اهل سنت والجماعة ټول علمای کرام په دې متفق دي چې که یو څوک هغه انبیاؤ ته چې نبوت یې ثابت دی ، او دلیل د نبوت یې موجود دی ، ښکنځل وکړي ، مُرتد بلل کیږي.[1]

اما که یو څوک هغه انبیاؤ ته ښکنځل وکړي چې د نبوت لپاره یې قاطع دلیل موجود ندی ، نو تعزیرا ورته سزا ورکول کیږي.

د کائناتو ستر واکمن په خپل سپېڅلي کلام قران عظیم الشان کې فرمايي چې:

﴿ آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴾.[2]

ژباړه: پېغمبر ﷺ پر هغه ایمان هدایت راوړی دی چې د هغه د رب لخوا پر هغه نازل شوی دی او څوک چې د دې پېغمبر ﷺ منونکي دي ، هغو هم دا هدایت د زړه په مینه منلی دی ، دوی ټولو الله ﷻ، د هغه ملائکې ، د هغه کتابونه د هغه پېغمبران منلي دي ، او د هغو وینا دا ده چې مونږ د الله ﷻ په پېغمبرانو کې یو له بله توپیر نه کوو ، مونږ حکم واورېدو او اطاعت مو ومنلو ، زمونږ څښتنه: مونږ ستا څخه د خپلو ګناهونو د ښښنې غوښتونکي یو او همدا ستا لوري ته زمونږ درتګ دی.

په پورته آیت شریف کې دا ذکر شو چې د الله تعالی ﷻ د رسولانو تر منځ توپیر نشته ، هو د ځینو درجات پورته دي او ځینو د الله تعالی ﷻ سره کلام کړی دی او داسې نور ، مګر ټول د الله تعالی ﷻ رسولان او برګزیده بنده ګان دي او د الله تعالی ﷻ لخوا د بشر د هدایت لپاره رالیږل شوي دي ،

نو که یو څوک د الله تعالی ﷻ د هر رسول په شان کې ګستاخي وکړي او د پېغمبرانو شان ته سپکاوی وکړي ، ښکنځل ورته وکړي او یا یې بې ادبي وکړي ، د اسلام د چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

**که یو څوک خلفای راشیدینو ته ښکنځل وکړي، فاسق کیږي** او ګنهکار بلل کیږي چې تغذیرا باید مجازات شي ، کافر کیږي نه ، مګر پدې شرط چې توبه وباسي.د ابو برزه اسلمي رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ څخه روایت دی چې فرمايي:

---

۱: **شرح الممتع علی زاد المستقشع**: ج ۱۴ ، ص ۴۲۳. **الایمان بالکتب**: ج ۱ ، ص ۱۱. **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة**: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۸. او: قلیوبی: شهاب الدین أحمد بن أحمد بن سلامة القلیوبي ، المتوفی سنة ۱۰۶۹ ه ، ناشر: دارلفکر ، ۱۴۱۹ ه ج ۴ ، ص ۱۷۵ ؛ **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة**: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۷ ؛ **الصارم المسلول**: ج ۱ ، ص ۵۵۰. او ؛ **ابن عابدین**: ج ۴ ، ص ۲۳۲-۲۳۷. او ؛ **زاد المعاد**: ج ۳ ، ص ۲۱۴

۲ : **د البقرة سورت** ، ۲۸۵ آیت

عَنْ أَبِى بَرْزَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ أَبِى بَكْرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ فَتَغَيَّظَ عَلَى رَجُلٍ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ فَقُلْتُ تَأْذَنُ لِى يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَضْرِبُ عُنُقَهُ قَالَ فَأَذْهَبَتْ كَلِمَتِى غَضَبَهُ فَقَامَ فَدَخَلَ فَأَرْسَلَ إِلَىَّ فَقَالَ مَا الَّذِى قُلْتَ آنِفًا قُلْتُ ائْذَنْ لِى أَضْرِبْ عُنُقَهُ. قَالَ أَكُنْتَ فَاعِلاً لَوْ أَمَرْتُكَ قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ لاَ وَاللَّهِ مَا كَانَتْ لِبَشَرٍ بَعْدَ مُحَمَّدٍ ﷺ .[1]

ژباړه: د ابو برزه اسلمي رضی اللهُ تعالی عنهُ  شخه روایت دی چې فرمايي: زه د ابوبکر صدیق رضی اللهُ تعالی عنهُ سره ناست وم او هغه یو کس ته غصه شو او سخته غصه یې وکړه ما ورته وویل ، ای د الله ﷻد رسول صلی الله علیه وسلم  خلیفه ماته اجازت راکړه چې زه د ده څټ ووهم ، په دې خبره به د ده غوصه کمېدله ، تر دې چې پاڅېدو او دننه لاړو ، بیا یې زه وغوښتم او ویې فرمایل: تا اوس څه خبره کوله ؟ ما عرض وکړو ماته اجازت راکړه چې زه د ده څت ووهم ، صدیق اکبر رضی اللهُ تعالی عنهُ  وفرمایل: که چېرې ما تاته حکم کړی وی نو تا به رښتیا سره د ده څټ وهلو؟ ما عرض وکړو چې یقینا ما به د ده څټ وهلی ؤ، ابوبکر صدیق رضی اللهُ تعالی عنهُ وفرمایل: د نبي کریم ﷺ  نه پس دا مقام کوم کس ته ندی حاصل شوی.

د خلفای راشدینو په هکله امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په فقه اکبر کې وایي:

**افضل هذه الامة بعد نبینا مُحَمَّد صلی الله علیه وسلم ابو بکر الصدیق، ثم عمر، ثم عثمان، ثم علی رضوان الله علیهم اجمعین ، لقوله تعالی، والسابقون السابقون اولئک المقربون فی جنت النعیم، کل من سبق فهو افضل و یحبهم کل مؤمن تقی.**[2]

ژباړه: بېشکه افضل د دې اُمت بعد له حضرت مُحَمَّد ﷺ شخه ابو بکر دی ، بیا عمر دی ، بیا عثمان دی او بیا علی رضی اللهُ تعالی عنهُ  م دی ، الله ﷻدې له دوی ټولو شخه راضي شي ، له جهته د دې قول د الله تعالی ﷻچې فرمايي: رومبي تلوونکي ړومبي ساتونکي دي او دا کسان د الله ﷻد مقربینو (نږدې کسانو) شخه دي ، په جنتونو د نعمتونو کې به وي ، هر هغه چې ړومبي دي هغه بهتر دي او محبت لري د هغوی سره هر مؤمن پرهېزګاره.

دکتور مُحَمَّد صلاح الصاوي په خپل کتاب تهذیب شرح عقیدة الطحاویه کې وایي چې:

د نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو سره مینه ایمان او د هغوی سره بغض کول کفر دی ،[3] او وایي چې:

**و نحب اصحاب رسولُ الله صلی الله علیه وسلم  ولا نفرط فی حب احد منهم، ولا نتبرا من احد منهم، و نبغض من یبغضهم، و بغیر الخیر یذکرهم، و لا نذکرهم الا بخیر و نرا حبهم دینا و ایمانا و احسانا، و بغضهم کفرا و نفاقا و طغیانا.**[4]

ژباړه:  مونږ د رسولُ الله ﷺ له اصحابو سره مینه لرو ، نه له دوی شخه د یو کس په مینه کې زیاتی کوو او نه له دوی شخه له کوم یو نه ځان جلا کوو ، د دوی په کینه کینه کوو او شوک چې یې له خیر شخه پرته یادوی ، له

---

١ : **السنن أبی داؤد:** باب الحکم فیمن سب النبی ﷺ ، ج ۴ ، ص ۲۲۶ ، د حدیث شمېره ۴۳۶۵

٢ : **الفقه الأکبر:** ج ۱ ، ص ۲۴

٣: **تهذیب شرح عقیدة الطحاویه:** دکتور مُحَمَّد صلاح الصاوي ، ج ۱ ، ص ۴۵۶

٤: **تهذیب شرح عقیدة الطحاویه:** ج ۱ ، ص ۴۵۶

هغوی سره بغض کوو ، مونږ یې یواځې په خیر سره یادوو ، د دوی مینه دین ، ایمان او احسان دی ، او له دوی سره کینه کول کفر ، منافقت او طغیان دی.

همدارنګه امام طحاوي د خلفای راشدینو د خلافت په هکله داسې وایي:

**و نثبت الخلافة بعد رسولُ الله صلى الله عليه وسلم أولا لأبي بكر الصديق رضى اللهُ تعالى عنهُ، تفضيلا له و تقديما على جميع الأمة، ثم لعمر بن الخطاب رضى اللهُ تعالى عنهُ، ثم لعثمان بن عفان رضى اللهُ تعالى عنهُ، ثم لعلى بن أبى طالب رضى اللهُ تعالى عنهُ، و هم الخلفاء الراشدون، والأئمة المهتدون الذين قضوا بالحق و كانو به يعدلون.** [1]

مونږ په دې ایمان او باور لرو چې په دغه اُمت کې تر ټولو لومړی اوچت مقام نبي کریم ﷺ د څلور یارانو (د خلفای راشدینو) دی ، په ترتیب د خلافت سره چې لومړی حضرت ابوبکر صدیق رضی اللهُ تعالی عنهُ ، بیا حضرت عمر فاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ ، بیا حضرت عثمان بن عفان رضی اللهُ تعالی عنهُ او بیا حضرت علي کرم الله وجهه دی او بیا عشرة مبشرة دي.

همدارنګه د عشرة مبشرة په هکله وایي چې:

**و أن العشرة الذين سماهم رسولُ الله صلى الله عليه وسلم و بشرهم بالجنة، نشهدلهم بالجنة، على ما شهد لهم رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ، و قوله الحق، و هم لبو بكر، و عمر، و عثمان، و على، و طلحة، و الزبيرو و سعد، و سعيد، و عبدالرحمن بن عوف، و لبو عبيدة بن الجراح، و هو أمين هذه الأمة رضى الله عنهم أجمعين.** [2]

نو که هر څوک د نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو او بالخصوص خلفای راشدینو او عشرة مبشرة ؤ په شان کې بې ادبي او ګُستاخي وکړي ، ایمان یې په خطر کې کېږي ، او د بې ادبۍ او ګُستاخۍ ، او بد نیتۍ په نظر کې نیولو سره یې ایمان په خطر کې لویږي.

**که یو څوک د نبي کریم صلى الله عليه وسلم ازواج مطهراتو ته ښکنځل وکړي نو فاسق کیږي:** جمهور علماء وایي چې که یو څوک حضرت بي بي عایشة صدیقة رضی اللهُ تعالی عنها او یا نورو امهات المؤمنینو ته ښکنځل وکړي نو فاسق کیږي او که چېرې څوک و دوی ته یا حضرت بي بي عایشة صدیقه رضی اللهُ تعالی عنها ته العیاذ باالله د زنا نسبت کوي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد بلل کیږي. د حضرت بي بي عایشې صدیقې رضی اللهُ تعالی عنها د پاکوالي په هکله الله ﷻ د قرآن عظیم الشان په سورة نور کې آیتونه نازل کړي دي چې دا بي بي پاکه ده ، او هر کله چې الله ﷻ د یو چا پاکوالی په خپل سپېڅلي کلام کې وفرمایي نو دا ډېره اوچته مرتبه ده او هر څوک چې د قرآن کریم آیتونه نه مني نو بیا خو په صورت اولی سره د اسلام له دایرې څخه وځي او مُرتد کیږي.

---

۱: **العقيدة الطحاوية:** ج ۱ ، ص ۲۱

۲: **العقيدة الطحاوية:** ج ۱ ، ص ۲۱ او ۲۲

د نبي کريم ﷺ ازواج مطهرات د مؤمنانو مورګانې او پاکې بيبيانې دي ، او دا زمونږ د مسلمانانو عقيده ده.
امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په دغه هکله داسې وايي:

**و عائشة رضی اللهُ تعالی عنها افضل نسآء العالمين بعد خديجة الكبرى و هی ام المؤمنين و مطهرة من القذف.**[1]

ژباړه: او حضرت بي بي عايشة رضی اللهُ تعالی عنها بهتره د ښځو د عالم ده پس له خديجة الكبرى رضی اللهُ تعالی عنها څخه ، او دا مور د مؤمنانو ده ، او له تهمت څخه پاکه ده.

نو که هر څوک د نبي کريم ﷺ ازواج مطهراتو ته ښکنځل وکړي او بې احترامي يې وکړي ، دا د هغه کينه او حسد د نبي کريم ﷺ سره دی ، دا د هغه کينه د اسلام سره ده ، دا د هغه کينه د مسلمانانو سره ده ، او دا د نبي کريم ﷺ په شان کې ګستاخي او بې ادبي ده ، او څوک چې د نبي کريم ﷺ په شان کې ګستاخي وکړي ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.[2]

**تـبصـره**: پورته آيت ، حديث او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان هغه انبياؤ ته چې نبوت يې ثابت دی ، او ورته ښکنځل وکړي ، نو داسې مثال لري چې نبي کريم ﷺ ته يې ښکنځل کړي وي چې په دغه ښکنځلو کولو سره نوموړی په اتفاق د علماؤ سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي ، اما د هغه انبياؤ په هکله چې نبوت يې ثابت ندی ، او ورته ښکنځل وکړي ، نو په دغه شان ښکنځلو سره نوموړی نه قتل کيږي ، بلکې تعزيرتا مجازات کيږي .[3]

## پنځم مطلب: په پيغمبرانو اعتراض کول:

که چېرته يو څوک د الله ﷻ په پيغمبرانو باندې هر نوع اعتراض کوي نو هغه کس مُرتد ګڼل کيږی ، د اهل سنت والجماعة مؤمنانو دا عقيده ده چې انبياء کرام ټول معصوم دي ، او هيڅ چا ته دا اجازه نشته چې څوک د انبياؤ په شان کې ګستاخي وکړي او په هغوی باندې کوم اعتراض وکړي ، که هر څوک په انبياؤ باندې هر نوع اعتراض او يا نيوکه وکړي مُرتد ګڼل کيږي ، چې دغه موضوع مونږ په لاندنې ډول تر څېړنې لاندې نيسو ، الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ وَمَن يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴾ .[4]

ژباړه: آيا تاسې غواړئ چې له خپل پيغمبر څخه هغه شان پوښتنې او غوښتنې وکړئ لکه څنګه چې له دې څخه

---

۱ : **الفقه الأكبر** ، ج ۱ ، ص ۲۹

۲: **المحلی**: ج ۱۱ ، ص ۵۰۶ ؛ **ابن عابدين**: ج ۴ ، ص ۲۳۷ ؛ **الاقناع**: ج ۴ ، ص ۲۹۹ ؛ **الخرشي**: ج ۸ ، ص ۷۴ ، **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۸.

۳: **قليوبى**: ج ۴ ، ص ۱۷۵ ؛ **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: كتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۳۷

۴ : **د البقرة سورت** ، ۱۰۸ آيت

مخکې له موسی علیه السلام ښخه شوې وې ؟ په داسې حال کې څوک چې د ایمان رویه د کفر په چار چلند بدله کړي ، هغه له سمې لارې ښخه واوښت.

او ټول انبیاء د صغیره او کبیره ګناهونو ښخه پاک او معصوم دي ، امام ابو حنیفه رحمة الله علیه وایي:

**والانبیاء علیهم الصلوة والسلام منزهون عن الصغائر والکبائر والکفر والقبائح.** [1]

ژباړه: او پیغمبران علیهم الصلوة والسلام ټول د صغیره او کبیره ګناهونو ښخه ، او له کفر او بې حیا کارونو ښخه پاک دي .

لکه څرنګه مو چې مو پورته هم یادوونه وکړه چې زمونږ د اهل سنت والجماعت دا عقیده ده چې انبیای کرام ټول معصوم او له ګناه ښخه پاک دي ، او کومې نیمې کوچنۍ سهوې که هم له دوی ښخه شوي دي ، هغه اجتهادي سهوې دي او بیا هم د دغه اجتهادي سهوو لپاره دغه مبارکانو له الله ﷻ ښخه عفوه او بخښنه غوښتې ده ، د مثال په ډول: کله چې ابوالبشر حضرت آدم علیه السلام جنت ته داخل شو ، نو الله ربُ العزت ورته وفرمایل چې ولا تقربا هذه الشجرة فتکونا من الظالمین ، [2] ژباړه: او مه نږدې کیږه دغه ونې (د غنم) ته ، که چېرته نږدې شوې دغه ونې ته ، نو ته به د زیانکارانو له جملې ښخه شې.

الله سُبحانهُ و تعالی ﷻ ورته امر وکړ چې ته د غنمو دانه مه خوره ، نو شیطان حضرت آدم علیه السلام ته څو څله راغلو چې ته د غنمو دانه وخوره ، مګر حضرت آدم علیه السلام د شیطان خبره ونه منله او د الله تعالی جل جلالهُ د امر تبعداري یې وکړه ، په آخر کې شیطان ورته وویل چې آی آدم علیه السلامه ، تاته خو داسې امر شوی دی چې دې ونې ته مه نږدې کېږه یعنې فقط همدې یوې د غنمو ونې ته مه نږدې کېږه ، نورو د غنمو ونو ته خو نږدې شه ، نو په دغه ځای کې حضرت آدم علیه السلام اجتهادا سهوه شو او دغه یوې ونې ته نږدې نه شو او نورو د غنمو ونو ته نږدې شو او د غنمو دانه یې په اجتهادي سهوه باندې وخوړله ، او بیا یې د الله ﷻ ښخه په دغه کلماتو سره عفوه وغوښتله چې: ﴿ربنا ظلمنا انفسنا و ان لم تغفرلنا و ترحمنا لنکونن من الخسرین﴾ [3]

ژباړه: یا ربه زمونږ ، مونږ په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی ، که چېرته ته مونږ ته مغفرت ونکړې او پر مونږ باندې رحم ونکړې ، نو شو به مونږ له زیانکارانو ښخه.

نو الله ربُ العزت هم ورته عفوه وکړه ، چې به دغه هکله قرآن کریم داسې ګواهي ورکوي:

﴿ فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴾ [4]

ژباړه: زده کړې آدم علیه السلام له خپل رب ښخه یو څو کلمې ، پس قبوله کړه رب توبه د ده ، ببشکه الله ﷻ توبه قبلوونکی او مهربان ذات دی.

---

١ : **الفقه الأکبر** ، ج ١ ، ص ٨ او ٩ ؛ **شرح کتاب فقه الأکبر** : ج ١ ، ص ٨٩

[٢] : **د البقرة سورت** ، ٣٥ آیت

[٣] : **د اعراف سورت** ، ٢٣ آیت

٤: **د البقرة سورت**: ٣٧ آیت

همدارنګه کله چې کفار په میله باندې وتلي ؤ او حضرت ابراهیم علیه السلام د دوی بُتخانې ته ورننوت او ټول بُتان یې مات کړل او تبر یې د غټ بُت په غاړه کې واچولو ، نو کله چې کفار د خپلې مېلې څخه بېرته راستانه شول نو پوښتنه یې وکړه چې دا د دوی بُتان چا مات کړي دي؟ نو حضرت ابراهیم علیه السلام ورته وویل چې دا خو ستاسو دغه غټ بُت مات کړي دي او په غاړه کې یې تبر هم دی ، نو کفارو وویل چې دا بُتان خو له خپل ځایه خوځېدلای هم نه شي ده څنګه دا مات کړي دي ، نو حضرت ابراهیم علیه السلام ورته وویل چې دا بُتان چې له خپله ځایه هم نشي خوځېدلای او نه خبرې کولای شي او نه تاسې ته نفع او ضرر رسولای شي ، نو تاسې ولې د بُتانو عبادت کوئ؟ چې دلته د حضرت ابراهیم علیه السلام هم همدا مطلب ؤ چې دوی (کفار) لږ متوجه شي چې بُت خو هېڅ هم نشي کولای او بالآخره د بُتانو د عبادت څخه لاس په سر شي او د یو الله ﷻ و عبادت ته مخه کړي ، چې دلته هم حضرت ابراهیم علیه السلام که العیاذ باالله دروغ هم ویلي وي نو د کفارو د عبرت لپاره یې وویل تر څو هغوی بُت پرستي ونکړي ، چې دلته هم د حضرت ابراهیم علیه السلام دغه وینا اجتهادې سهوه ده ، او د الله ﷻ څخه یې معافي غوښتې ده او الله ﷻ ورته عفوه کړې ده او خپل خلیل یې ګرځولی دی. داوې ډېرې کوچنۍ کوچنې اجتهادي سهوې چې انبیاي کرامو د همدغه کوچنیو کوچنیو اجتهادي سهوو لپاره د الله ربُ العزت څخه په ډېره عاجزۍ سره عفوه غوښتې ده ، او الله ﷻ هم دوی ته عفوه کړې ده ، وګوره چې قرآن کریم د حضرت آدم علیه السلام په عفوه او بخښنه باندې ګواهي ورکړې ده.

نن صبا خو خلک په رنګا رنګ فتنو ، دسیسو ، جرایمو او حتی ډله ییزه قتلونو کې ښکېل دي او د نړۍ امن او ثبات ته یې اور اچولی دی او هره ورځ په دنیا کې په سلهاؤ حتی په زرونو بې ګناه انسانان وژل کیږي ، خو بیا هم حسنات الابرار سیئات المقربین دی ، انبیای کرام چې د الله ﷻ نږدې او مُقرب بنده ګان دي ، دوی ته کوچنۍ اجتهادي سهوې هم ډېرې غټې ښکارېدې او هغه یې هم د ټول عمر په جریان کې یو ځل کړې ده ، په بارها او بارها د الله ﷻ له دربار څخه عفوه غوښتې ده او الهي ربُ العزت ذات هم دوی له خپل دربار څخه نه دي نا اُمیده کړي او ورته یې عفوه کړې ده او خپل نور انعامات یې هم پرې لورېلي دي.

**تـبـصـره**: د قرآنکریم پورته آیتونو او د فقهاؤ قول ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان په کوم پیغمبر باندې اعتراض وکړي چې ده پېغمبر ولې داسې وکړل او یا یې ولې یې داسې ونه کړل ، نو دا اعتراضات یې د انبیاؤ په شان کې عظیمه ګستاخي ، بې دیني او ارتداد دی ، په کوم باندې چې د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

## شپږم مطلب: په قرآنکریم باندې اعتراض کول:

که چېرته یو څوک په قرآنکریم باندې او یا د قرآن کریم په یو آیت باندې اعتراض او یا ورڅخه انکار وکړي یا یې نیمګړی وګڼي نو هغه کس مُرتد ګڼل کیږي ،[1] په دغه دلیل د کتاب الله باندې:

---

[1]: . **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة**: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۳۳۷. او ؛ **الفتاوی العالمکیریة المعروفة بالفتاوی الهندیة** ،

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ ﴾ .[1]

ژباړه: هو الله ﷻ له دې څخه هېڅکله شرم نه کوي چې د ماشي يا له دې څخه هم د کوم زيات حقير شي مثال راوړي ، کوم خلک چې د حقې خبرې منونکي دي ، هغوی د دې مثال په ليدو پوهيږي چې دا حق دی ، چې د هغو د رب لخوا راغلی دی ، او څوک چې کافران دي ، نو هغوی د دې مثال په اورېدو وايي : په داسې مثال راوړلو سره د الله ﷻاراده څه ده ؟ په دې شان الله ﷻپه همدې يوه خبره ډېر خلک په ګمراهۍ کې اخته کوي او ډېرو ته سمه لار ښايي ، او په ګمراهۍ کې هغه کسان اخته کوي چې فاسقان دي.

که هر مسلمان د قرآن کريم په کوم آيت باندې اعتراض وکړي ګمراه او فاسق ګرځي ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.[2]

**تبصره:** د قرآنکريم پورته آيت شريف ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان د قرآن کريم په کوم آيت او يا حتی په يوه کلمه باندې هم اعتراض وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

د قرآن کريم په اړوند په ټولنه کې ځينې کفري الفاظ مروج دي چې د هغې په استعمال سره يو کس مُرتد کيږي او د داسې الفاظو د استعمال څخه بايد جدا ځان وساتل شي ، د مثال په ډول:

يو کس بل ته ووايي ، تا له قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ څخه ځرمن وښکله ، يا يې دا ووايي: تا الم نشرح لک صدرک له ګريوان څخه ونيوله ، نو په دغه الفاظو سره دغه کس مُرتد کيږي.[3]

## اووم مطلب: له اسلام څخه خپله بېزارتيا اعلانول:

که يو مسلمان له اسلام څخه خپله بېزارتيا اعلان کړي او په خپله ژبه باندې اقرار وکړي چې زه اسلام نه منم او يا ووايي چې اسلام يو باطل دين دی نو دغه شخص د اسلام څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.[4]

دې کې هېڅ شک نشته.

په دغه اړوند په ټولنه کې د مروجو ارتدادي اقوالو بېلګې:

که يو څوک داسې ووايي چې اسلام او کفر يو دی ، نو دا کس مُرتد شو.[5] دا ځکه چې دی د اسلام څخه بېزاره دی

---

باب فی احکام المُرتدين ، ج ۲ ، ص ۲۶۶. او ؛ **کفري الفاظ او د هغو حکمونه** ، ج ۱ ، ص ۶۳ ؛ **العقيدة:** ج ۴ ، ص ۳۰۰

۱ : **د البقرة سورت** ، ۲۶ آيت

[۲] **اتحاف الجماعة بما جاء فی الفتن والملاحم:** محمود بن عبد الله التويجري ، ناشر: موقع رسالة الاسلام http://www.resaltalislam.org ، باب فصل فی الردة: ج ۳ ، ص ۲۶۲

۳: **الفتاوی العالمکيرية المعروفة بالفتاوی الهندية** ، باب فی احکام المُرتدين ، ج ۲ ، ص۲۶۷. **کفري الفاظ او د هغو حکمونه** ، ج ۱ ، ص ۶۳

[٤] : **التکفير حکمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ۱ ، ص ۲۴ . **الاقتصاد فی أن الکفر يکون بالقول او الفعل:** ج ۱ ، ص ۷۶. **الاحکام لابن حزم:** علی بن أحمد بن سعيد بن حزم الظاهري ، ج ۱ ، ص ۵۸

۵: **الفتاوی العالمکيرية المعروفة بالفتاوی الهندية:** باب فی احکام المُرتدين ، ج ۲ ، ص ۲۵۷. **کفري الفاظ او د هغو حکمونه:** ج ۱ ، ص ۴۱

او کفر او اسلام ورته یو شان دی ، حال دا چې د اسلام د مبارک دین منزلت او مقام ډېر لوړ دی او د الله ﷻ په نزد باندې یواځینی دین اسلام دی.

**تبصره:** که چېرته یو مسلمان د اسلام د مبارک دین څخه خپله بېزارتیا اعلان کړي ، او ووایي چې نور زه مسلمان نه یم ، نو په حقیقت کې دا دا معنی لري چې نور نوموړی له اسلام څخه بېزاره دی او نور اسلام هېڅ نه مني ، نو بېدون له کوم شک او شُبهې څخه نوموړی د اسلام څخه خارجیږي نو د دغه بېزارتیا په اعلانولو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

### اتم مطلب: د اسلام د مبارک دین پورې ملنډې وهل:

که یو څوک یو مسلمان د اسلام په مبارک دین پورې ملنډې و وهي او د اسلام په دین باندې مسخرې وکړي او یا د اسلام مبارک دین ته ښکنځل وکړي نو نوموړی کس په دغه عمل سره د اسلام له داېرې څخه وځي او مُرتد کیږي.[1]

په دغه اړوند الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَمَا أُنذِرُوا هُزُوًا ﴾ .[2]

ژباړه: او مونږ پیغمبران له دې کار څخه پرته د کوم بل غرض لپاره نه لېږو چې د زیرې ورکولو او اخطار ورکول دنده سرته ورسوي ، خو د کافرانو حال دا دی چې د باطل وسله یې را اخیستې ، د حق د ټیټ ساري خودلو هڅه کوي ، او هغوی زمونږ آیتونه او اخطارونه چې ورکړل شول ، توکې ګڼلي دي.

**تبصره:** د قرآن کریم پورته آیت ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان د اسلام په مبارک دین پورې ملنډې ووهي او مسخرې پرې وکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

په دغه اړوند په ټولنه کې د مروجو ارتدادي اقوالو بېلګې:

یو کس بل ته وویل چې زه مسلمان یم ، بل کس ورته په څواب کې وویل چې په تا دې هم لعنت وي او ستا په مسلمانۍ دې هم لعنت وي ، نو دا سړی مُرتد شو.[3]

یو کافر اسلام ومانه نو یو مسلمان هغه ته وویل چې تا په خپل دین کې څه بدي لیدلې وه؟ چې تا اسلام قبول کړو؟ نو د دې خبرې ویلو والا مُرتد شو.[4]

---

١: **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه:** ج ١ ، ص ٢٤ . **المخلص الفقهي:** باب فی حكم الردة ، ج ٢ ، ص ٥٦٨ ؛ **اسعاف المؤمنين بنصرة خاتم المرسلين:** ج ١ ، ص ١١٤ . **الاقتصاد في أن الكفر يكون بالقول او الفعل:** لسليمان بن مُحَّد بن عمر البجيرمي ، ج ١ ، ص ٨٣ . **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة:** ج ٤ ، ص ٣٤١ . او ؛ **ابن عابدين:** ج ٤ ، ص ٢٢٢ .

٢ : **د الكهف سورت:** ٥٦ آیت

٣: **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية:** باب فی احكام المُرتدين ، ج ٢ ، ص ٢٥٧ . کفري الفاظ او د هغو حکمونه ، ج ١ ، ص ٤٣

٤: **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية:** باب فی احكام المُرتدين ، ج ٢ ، ص ٢٥٧ . کفري الفاظ او د هغو حکمونه ، ج ١ ، ص ٤٤

همدارنګه که یو کس ووايي چې زه د اسلام صفت نه پېژنم ، نو دا کس مُرتد شو.[1]

او یا هم که یو څوک ووايي چې دا دومره روژې تر کومه؟ زماه خو يې زړه خولې ته راووست ، نو د دې سړي دا خبره ارتدادي ده او دا کس مُرتد کيږي.[2]

که يو چا يو څوک وواهه ، هغې مظلوم ورته وويل چې ته مسلمان نه يې ، هغې په ځواب کې ورته وويل چې هو زه مسلمان نه يم ، نو دې سړي چې د مسلمانېدو څخه خپله بېزارتيا وښودله ، مُرتد شو.[3]

## نهم مطلب: مؤمنانو ته د کفر او الحاد بلنه ورکول:

که چېرته يو څوک مؤمنانو ته د کفر بلنه ورکوي نو نوموړی شخص مُرتد ګڼل کيږي او که د خپل دغه قول او فعل څخه توبه ونه باسي ، د عدم استتابې په صورت کې پرې د ارتداد احکام جاري کيږي.

﴿ وَقَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِي أُنزِلَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوا آخِرَهُ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ O وَلَا تُؤْمِنُوا إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ قُلْ إِنَّ الْهُدَىٰ هُدَى اللَّهِ أَن يُؤْتَىٰ أَحَدٌ مِّثْلَ مَا أُوتِيتُمْ أَوْ يُحَاجُّوكُمْ عِندَ رَبِّكُمْ قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ [4]

ژباړه: له اهل کتابو څخه يوه ډله وايي چې د دې پيغمبر پر منونکيو چې څه نازل شوي دي ، پر هغه سهار ايمان راوړئ او ماښام ورڅخه انکار وکړئ ، ښايي پر دې دسيسه له خپل ايمان څخه واوړي. (دغه راز دا خلک په خپلو کې سره وايي چې) د هېڅ چا خبره مه منئ چې ستاسې په دين نه وي. [اې پيغمبره!] دوی ته ووايه: "په اصل کې خو هدايت د الله ﷻ هدايت دی او دا د هغه ورکړه ده چې يو چا ته هماغه څه (فضيلت) ورکړل شي چې يو وخت تاسې ته درکړل شوي ؤل. يا دا چې نورو (مسلمانانو ته) تاسې د پروردګار حضور ته د وړاندې کېدو لپاره ستاسې پر خلاف قوي دليل په لاس ورشي." — [اې پيغمبره!] دوی ته ووايه: "فضل او لورونه د الله ﷻ په واک کې ده ، چا ته يې چې خوښه شي ورکوي يې. هغه د پراخ نظر څښتن دی او په هر څه پوهيږي.

**تبصره**: د قرآنکريم پورته آيت ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان نور مسلمانان د کفر او الحاد خواته تشويق او دعوت کړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي ، دا ځکه چې که يو مسلمان نور مسلمانان د کفر او الحاد خواته دعوت کوي دا داسې معنی لري چې نوموړی د کفر داعي يا خپل ايمان پلورلی دی او يا د زړه له صدق څخه ورته کفر او الحاد نسبت و اسلام ته غوره دی ، او هر چا ته چې کفر له اسلام له څخه غوره وي نو هغه مسلمان کېدای نشي او که مسلمان وي نو له اسلام څخه خارجيږي. بله دا چې د کفر خواته د خلکو دعوت کول پخپله د اسلام ضد عمل دی کوم چې هېڅ کله هم د يو مسلمان سره نا ښاييږي او دا د اسلام په حق کې د يو

---

١ : **الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية**: باب فى احكام المُرتدين ، ج ٢ ، ص ٢٥٧. کفري الفاظ او د هغو حکمونه ، ج ١ ، ص ٤٢

٢: **کفري الفاظ او د هغو حکمونه**: ج ١ ، ص ٧١

٣: **کفري الفاظ او د هغو حکمونه**: ج ١ ، ص ٩١

٤ : **د آل عمران سورت**: ٧٢ او ٧٣ آيتونه

مسلماان څرګنده جفا او يو خلاف اسلامي عمل دی.

## دريم مبحث: ارتداد په اعمالو او افعالو کې

د هغه ارتداد څخه عبارت دی چې يو مسلمان يو حرام عمل په دې اعتقاد تر سره کړي چې دا عمل په اسلام کې حلال دی.

د فعلي يا عملي ارتداد اسباب په لاندې مثالونو کې بيان شوي دي:

- د قرآن کريم غورځول
- سحر او جادو کول
- غير الله ته (لمر ، سپوږمۍ ، ...... وغيره ته) سجده کول
- په حضرت مُحَمَّد ﷺ باندې د وحې د نزول خفګان کول
- د الله ﷻله پيغمبر څخه مخ ګرځول
- د قرآنکريم په دعوت خفه کېدل او يا د قرآنکريم له اورېدلو څخه د خلکو منع کول

چې پورته ارتدادي اقوال مونږ هر يو په جلا مطالبو کې تر څېړنې لاندې نيسو:

### لومړی مطلب: د قرآن کريم غورځول:

د فقهاؤ په اتفاق سره په دې کې هېڅ کوم اختلاف نشته چې که چېرته يو څوک قرآن کريم په يو خراب ځای کې وغورځوي نو د ده دا عمل يو ارتدادي عمل دی او په دغه کړنه باندې دا کس د اسلام څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږی ، [1] دا ځکه چې يو خو د ده دا عمل د قرآن کريم ستره بې ادبي ده او بل د قرآن کريم د مصحف غورځول د الله ﷻد کلام نه منل دي.

امام مالک رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چې که يو څوک د قرآن کريم يو څه برخه په يو خراب ځای کې وغورځوي او که مکمل مصحف د قرآن کريم په يو خراب ځای کې وغورځوي ، نو په دغه عمل سره د اسلام د چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.[2]

**تبصره:** د فقهاؤ پورته اقوالو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان د سپېڅلي قرآن کريم مصحف په يو خراب يا ګنده ځای کې وغورځوي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

---

١ : **التکفير حکمه و ضوابطه والغلو فيه**: ج ١ ، ص ٢٤ . **ابن عابدين**: ج ۴ ، ص ٢٢٢. او ؛ **الخرشی**: ج ٨ ، ص ۶٢. او ؛ **کفاية الخيار**: ج ٢ ، ص ٢٠١. او ؛ **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ١٣٩.
٢: **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة**: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ١٣٩.

## دویم مطلب: سـحر کول:

د اسلام د مبارک دین له نظره د سحر کول حرام دی ، په پخوا زمانو کې به سحر ډېر رایج ؤ مگر الحمد لله په اوسني عصر کې کوم چې د ساینس او تکنالوژۍ عصر دی ، او د اسلام رڼا د نړۍ هر گُنج ته رسېدلې ده ، او په خلکو کې دیني پوهه زیاته شوې ده چې په دې سره د سحر او جادو کولو کچه راټیټه شوې ده.

د سحر او جادو په هکله الله ﷻپه قران کریم کې فرمایي:

﴿ وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴾. [1]

ژباړه: او په دې لړ کې یې د هغه شیانو پیروي وکړه ، چې شیطانانو د سلیمان علیه السلام د سلطنت د نوم په اخیستلو وړاندې کول ، په داسې حال کې چې سلیمان علیه السلام هېڅکله کافر شوی نه ؤ ، او د کفر مرتکبین خو هغه شیطانان ؤ چې خلکو ته یې کوډې ښودلې ، هغوی هغه څه تعقیبول چې په بابل کې په دوو فرښتو هارت او ماروت نازل شوي ؤ ، په داسې حال کې چې هغو (فرښتو) به چې هر کله چاته هغه ښودل ، نو لومړی به یې په ډاگه دا خبره ورته کووله: گوره! که مونږ یواځې د ازمېښت لپاره یو ، نو مه کافر کیږه ، بیا هم دې خلکو له هغو څخه هغه څه زده کوول چې په هغو سره د مېړه او ښځې تر منځ بېلتون راولي ، ښکاره ده چې د الله ﷻد اجازې پرته هغوی په دې وسیله هېڅ چا ته هم ضرر نشي رسولای ، خو له دې سره سره یې داسې څه زده کول چې په خپله د هغوی له پاره گټور نه ، بلکې تاوان ؤ ، او هغوی ته ښه معلومه وه چې که څوک د دې شي خریدار شي ، د هغه لپاره په آخرت کې هېڅ ونډه نشته ، څومره ناکاره سودا ده چې د هغې په بدل کې هغوی خپل ځانونه خرڅ کړل ، کاشکې هغوی ورباندې پوهېدلای.

همدارنگه د ساحر په څنگ کې د کاهن کړنې هم په اسلام کې حرامې دي چې په دغه هکله اسلامي عقیده مسلمانانو ته داسې لارښوونه کوي:

**و لا نصدق کاهنا و لا عرافا، و لا من یدعی شیئا یخالف الکتاب والسنة و اجماع الأمة.** [2]

ژباړه: مونږ د هېڅ کاهن او نجومي تصدیق نه کوو ، نه د هغه چا چې د یو داسې شي دعوه کوي چې د کتاب ، سنت او اجماع خلاف وي.

---

۱: **د البقرة سورت:** ۱۰۲ آیت

۲: **اصول الدین:** جمال الدین احمد بن مُحَمَّد بن محمود بن سعید ، الناشر: دار البشائر الاسلامیة ، بیروت ، لومړی چاپ ، ج ۱ ، ص ۲۰۷ ؛ **العقیدة الطحاویة:** ج ۱ ، ص ۶۰ ؛ **شرح العقیدة الطحاویة:** للخالد بن عبدالله بن مُحَمَّد المصلح ، ج ۸ ، ص ۲۱ ؛ **تسهیل الحاوي شرح عقیدة الطحاوي:** ج ۱ ، ص ۲۳۲

په سحر باندې شیطان خوشحالیږي او د شیطان په مرسته حاصل کیږي ، چې د شیطان د راضي کولو ځو صورتونه دي: کله داسې منترونه اختیاروي چې په هغه کې د کفر او شرک کلمات وي او د شیطانانو تعریفونه شوي وي ، یا د ستورو عبادتونه کوي چې په هغه باندې شیطان خوشحالیږي ، په هر حال ، ساحر او کاهن دواړه د غیبو خبرونه وایي او سحر او کهانت حرام دي او د هغوی په خبرو باندې یقین کول کفر دی ، هغوی ته د ورتللو څخه ځان ژغورل لازمي دي.[1]

سحر موجودیت لري مګر د سحر کول حرام دي.

په صحیح فقه السنة کې د سحر په اړه داسې راغلي دي چې:

**و أما جمهور الفقهاء من الحنفية و الشافعية، والحنابلة فذهبو الى أن السحر من كبائر الذنوب و هو من سبع الموبقات، و منه ما يكون كفرا و منه ما لا يكون كفرا بل معصية كبيرة فان كان فيه قول أو نص يقتضى الكفر فهو كفر و الا فلا** [2].

**ژباړه**: د احنافو ، شوافعو او حنابله فقهاؤ له نظره سحر د اووه غټو ګناهونو له جملې څخه دی ، ځنې یې د کفر سبب کیږي او ځینې یې د کفر سبب نه کیږي بلکې کفر ته نږدې کیږي او په څنګ کې یې کبیره ګناه ده ، که چېرې پکې کوم قول او یا نص د کفر د سبب کېدو موجود وي نو د دغه ډول سحر په کولو سره شخص کافر کیږي .[3]

**تبصره**: د قرآنکریم پورته آیت شریف او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه سحر کول یو حرام عمل دی او د ارتداد په هکله باید وویل شي چې که چېرته یو مسلمان داسې سحر او جادو کوي چې د دغه سحر او جادو په کړنه باندې د قرآن کریم او یا احادیثو نص موجود وي چې شخص پرې د اسلام له چوکاټ څخه خارج شي نو دغه کس مُرتد کیږي[4] او که چېرې پکې کوم قول او یا نص د کفر د سبب کېدو موجود نه وي نو د دغه ډول سحر په کولو سره شخص نه کافر کیږي بلکې ګنهګار کیږي.

### دریم مطلب: غیرالله ته (بُت، لمر، سپوږمي، ..... و غیره ته) سجده کول:

که چېرته یو مسلمان بغیر د یو الله ﷻ څخه کوم بل چاته ، په شمول د لمر او سپوږمۍ ، سجده وکړي ، نو په اتفاق

---

١: **تسهيل الحاوي شرح عقيدة الطحاوي**: ج ١ ، ص ٢٣٣

٢: **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود، ج ٤** ، ص ١٤١. او ؛ **فتح البارى**: ج ١٠ ، ص ٢٣٥. او ؛ **نيل الأوطار**: ج ٧ ، ص ٢٠٩.

٣: **التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه**: ج ١ ، ص ٢٤ . **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح المذاهب الأئمة**: ج ٤ ، ص ٣٣٩. او ؛ **فتح البارى**: ج ١٠ ، ص ٢٣٥. او ؛ نيل الأوطار: ج ٧ ، ص ٢٠٩

٤ : **الاقتصاد فى أن الكفر يكون باالقول او الفعل**: شيخ احمد بن ابراهيم بن عيسى السديرى ، ج ١ ، ص ١٠١. اعانة المستفيد بشرح كتاب التوحيد: ج ٢ ، ص ١٤١

د فقهاؤ سره نوموړی په دغه عمل باندې مُرتد ګڼل کیږي.[1]

الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمايي:

﴿ان الله لا يغفر أن يشرک به شيأ و يغفر ما دون ذالک ﴾ [2]

ژباړه: بېشکه الله ﷻ شرک نه بښي ، او بغیر له دې څخه نور ټول شيان بښي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمايي:

عَنْ أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ النَّبِيِّ ( ﷺ ) : « اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ » ، قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، وَمَا هُنَّ ؟ قَالَ « الشِّرْكُ بِاللَّهِ ، وَالسِّحْرُ ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِى حَرَّمَ اللَّهُ إِلا بِالْحَقِّ ، وَأَكْلُ الرِّبَا ، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ ، وَالتَّوَلِّى يَوْمَ الزَّحْفِ ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلاتِ » [3]

په پورته حدیث شریف کې نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې تاسې د اوو لویو ګناهونو څخه ځان وساتئ چې یو پکې د الله ﷻ سر شرک کول دي ، او که هر مسلمان بغير د يو الله ﷻ څخه کوم بل چا (بُت ، لمر ، سپوږمۍ و غیره) ته سجده وکړي شرک اکبر یې وکړو او چې دا یو بدترین عمل دی او په دې سره د اسلام څخه ووځي.

**تبصره:** پورته آیت او حدیث ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان بُت ، لمر ، سپوږمۍ و غیره وغیره ته سجده وکړي ، نو د دغه شرکي عمل په تر سره کولو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

### څلورم مطلب: په حضرت مُحَمَّد صلی الله علیه وسلم باندې د وحې د نزول خفګان کول:

که چېرته یو څوک د اسلام د ستر پیغمبر حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ د وحې په نزول باندې خفه شي نو دا دا معنی چې نوموړی د زړه له کومې نبي کریم ﷺ نه مني ، چې په دغه عمل سره نوموړی کس مُرتد ګڼل کیږی[4] ، په دغه دلیل د کتاب الله باندې:

﴿ مَّا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾ . [5]

ژباړه: هغو خلکو چې د حق له منلو څخه انکار کړی دی ، که له اهل کتابو څخه وي او که له مشرکانو څخه وي ،

---

[1]: **فتح الباری:** ج ۱۰ ، ص ۲۳۵ ؛ **نیل الأوطار:** ج ۷ ، ص ۲۰۹ ؛ **ابن عابدین:** ج ۳ ، ص ۲۹۵ ؛ **الانصاف:** ج ۱۰ ، ص ۳۴۹ ؛ **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة:** ج ۴ ، ص ۳۳۹

۲ : **د نساء سورت:** ۴۸ آیت

[3]: **صحیح البخاری:** ج ۳ ، ص ۱۰۱۷ ، د حدیث شمېره: ۲۶۱۵ او ج ۶ ، ص ۲۵۱۵ ، د حدیث شمېره ۶۴۶۵ : او په **صحیح مسلم** او سنن أبی داؤد کې همدغه حدیث په تغیر د الفاظو سره: ج ۱ ، ص ۶۴ ، د حدیث شمېره ۲۷۲ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -ﷺ- قَالَ « اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ ». قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا هُنَّ قَالَ « الشِّرْكُ بِاللَّهِ وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِى حَرَّمَ اللَّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ وَأَكْلُ الرِّبَا وَالتَّوَلِّى يَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلاَتِ الْمُؤْمِنَاتِ ». **سنن أبی داؤد:** ج ۳ ، ص ۷۴ ، د حدیث شمېره: ۲۸۷۶

[4]: **المخلص الفقهي:** باب فی حکم ردة ، ج ۲ ، ص ۱۰۸

۵: **د البقرة سورت** ، ۱۰۵ آیت

هېڅکله دا نه خوښوي چې ستاسې د رب له خوا دې تاسې ته څه ښېګڼه راشي ، خو د الله ﷻ چې هر چاته خوښه شي ، د خپل رحمت لپاره يې غوره کوي او هغه د لوی فضل خاوند دی.

دا يادووني وړ ده چې ځينې باطلې فرقې چې ځان اسلام ته منسوب ګڼي ، د اسلام په ستر پېغمبر حضرت مُحَمَّد ﷺ باندې د وحې د نزول په هکله خفګان لري ، او العياذ بالله دوی وايي چې جبرائيل عليه السلام سهوه شو او وحې يې حضرت علی کرم الله وجههُ باندې نازل شوې وه...... ، چې د دوی دغه ادعا بې بنسټه ده او کاملا د جناب سيدنا مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ په شان کې غټه ګُستاخي ده او مطلق کفر دی ، نو که هر څوک ځان اسلام ته منسوب ګڼي او بيا دغه شان غلط خفګان کوي ، دغه شخص د اسلام له چوکاټه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.[1]

**تبصره:** د قرآنکريم پورته آيت ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان په نبي کريم ﷺ باندې د وحې د نزول خفګان ښکاره کړي نو په دغه عمل سره نوموړی د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## پنځم مطلب: د الله ﷻ له پېغمبر څخه مخ ګرځول:

که چېرته يو څوک د الله ﷻ له پېغمبر څخه مخ ګرځوي او پېغمبر نه مني نو هغه کس مُرتد ګڼل کيږی ، په دغه دليل د کتاب الله باندې:

﴿فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ﴾ [2]

ژباړه: اوس که دوی مخ اړوي ، نو ورته ووايه: "زه تاسې له همغسې يو ناڅاپي رالويدونکي عذاب څخه ويروم ، لکه چې پر عاديانو او ثموديانو باندې نازل شوی ؤ."

همدارنګه الله ﷻ په قرآنکريم کې د رسول الله ﷺ په اطاعت او فرمانبرداری باندې امر کوي او فرمايي:

﴿يا آيها الذين آمنوا اطيعو الله و اطيعو الرسول﴾ [٣]

ژباړه: ای مؤمنانو تاسو د الله ﷻ اطاعت وکړئ او د رسول الله ﷺ اطاعت وکړئ.

همدارنګه رسول الله ﷺ په يو حديث شريف کې فرمايي:

« من اطاعني فقد اطاع الله و من عصاني فقد عصى الله » [4]

ژباړه: چاچې زما اطاعت وکړو په حقيقت کې هغه د الله ﷻ اطاعت وکړو او هر چا چې زما څخه سرکشي وکړه په حقيقت کې هغه د الله ﷻ څخه سرکشي وکړه.

---

[١]: **المخلص الفقهي:** باب فی حکم ردة ، ج ٢ ، ص ١٠٨

[٢]: **د فصلت سورت ،** ١٣ آيت

[٣]: **د نساء سورت:** ٥٩ آيت

[٤]: **المستدرک علی الصحيحين:** مُحَمَّد بن عبدالله أبو عبدالله الحاكم النيسابوري ، ج ٣ ، ص ١٣٠ ، د حديث شمېره ٤٦١٧ . (صححه الباني فی **الجامع الصغير و زيادته:** ج ١ ، ص ١٠٩٩ ، د حديث شمېره ٦٠٤٤ ، شيخ ألباني دغه حديث صحيح ګڼلی دی)

تبصره: د قرآنکریم پورته آیتونو او د نبي کریم ﷺ حدیث شریف ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان د اسلام د ستر پیغمبر حضرت مُحَمَّد ﷺ څخه سرکشي وکړي یا مخ ترې وګرځوي او ویې نه مني ، نو په دغه عمل سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي.

**شپږم مطلب: د قرآنکریم په دعوت خفه کېدل او یا د قرآن کریم له اورېدلو څخه د خلکو منع کول:**

مخکې له دې چې په پورته مطلب باندې خبرېنه پیل کړو ، غواړم چې لومړی په دغه اړوند د قرآن کریم آیتونه ذکر کړم ، کوم چې په لاندې ډول سره دي:

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنكَرَ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ النَّارُ وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴾.[1]

ژباړه: او کله چې دوی ته زمونږ روښانه او څرګند آیتونه تلاوت شي ، نو ته ګورې چې د حق د منکرانو بڼې الوزي او داسې بریښي چې همدا اوس به پر هغو کسانو باندې ورټوپ کړي چې دوی ته زمونږ آیتونه اوروي ، دوی ته ووایه چې زه تاسې ته دروښایم چې له دې څخه زیاد بدتر شي څه دی ؟ او! الله ﷻد هغه کسانو په برخه کې د هغه وعده کړېده چې د حق له منلو څخه انکار وکړي ، او هغه ډېر ناکاره هستوګنځی دی.

هېڅ څوک دا حق نلري چې مسلمانان د قرآن کریم له اورېدلو څخه منع کړي ، او که دا کار یو عاقل او بالغ مسلمان کوي نو په دغه عمل سره د ده د دین خطره ده.

الله ﷻ د قرآن کریم د اورېدلو په هکله په قرآن کریم کې فرمايي:

﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴾ [2]

ژباړه: او دغه د حق منکران وايي: "دغه قرآن هېڅکله مه اورئ او (کله چې دا واورول شي)، نو په ده کې خلل واچوئ ، ښايي چې په دې توګه تاسې برلاسي شئ."

**تبصره:** د قرآن کریم پورتنیو آیتونو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان د قرآن کریم له اورېدلو څخه خلک عموما منع کوي چې دا قرآن څه کوئ چې تاسې یې اورئ ، دا کومه فایده نلري ، .....، د قرآن کریم د قرائت خلل واقع شئ ، نو د داسې عمل په اجراء کولو سره د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کیږي ، اما که چېرته یو څوک په دې ډول یو څوک د قرآن کریم له اورېدلو څخه منع کوي ، چې دلته یې مه اوره ، هلته یې واوره ، یا دلته قرآن مه زده کوه ، هلته یې زده کړه ، یا د ده آواز مه اوره ، د دغه بل قاري صاحب آوراز واوره ، نو تبعا په دغه شان عمل سره نه مرتد کیږي ، بلکې دا یوه نظریه او خوښه ده کوم چې عموما د قرآن کریم په منع کولو کې نه ده.

---

۱: **د الحج سورت** ، ۷۲ آیت

۲: **د فصلت سورت** ، ۲۶ آیت

## څلورم مبحث: ارتداد د شرعي عمل په انکار کې

د هغه ارتداد څخه عبارت دی چې یو مسلمان د یوې اسلامي فریضې د سرته رسولو څخه انکارا ډډه وکړي ، او ترې منکر شي په دې ډول چې د هغه نه سرته رسول حلال عمل ګڼي او هغه اسلامي فریضه نه اداء کوي..

د ردة هغه مثالونه چې د شرعي اعمالو په ترک کولو سره را منځ ته کیږي عبارت دي له:

- د لمونځ ترک کول په انکار سره
- د روژې ترک کول په انکار سره
- د زکات ترک کول په انکار سره
- د حج ترک کول په انکار سره

چې پورته ارتدادي کړنې مونږ هر یو په جلا مطالبو کې تر څېړنې لاندې نیسو:

### لومړی مطلب: د لمونځ ترک کول په انکار سره:

د اسلامي أُمت ټول فقهاء په دې باندې متفق دي چې که چېرته یو مسلمان په انکار سره لمونځ ترک کړي ، او وایي چې زه هېڅ لمونځ نه منم او فرض لمونځ د انکار له مخې قصدا نه کوي نو دغه عمل یې ارتدادي عمل دی او نوموړی شخص مُرتد ګڼل کیږي[1] ، دا ځکه چې لمونځ د اسلام د پنځو بناؤ څخه یوه بناء ده کوم چې په هر عاقل ، بالغ او مکلف مسلمان باندې په ورځ کې پنځه ځل فرض دی.

که یو څوک لمونځ په انکار سره ترک کړي نو د داسې لمانځه د ترک کوونکي په هکله فقهاؤ لاندې اقوال ذکر کړي دي:

- د امام ابو حنیفه او امام مالک له نظره: نوموړی کس نه قتل کیږي ، بلکې حبس کیږي او په محبس کې بندي کیږي او ادبا او تعزیرتا وهل کیږي ، تر څو لمونځ وکړي.[2]
- د امام شافعي له نظره: نوموړی کس قتل کیږي په ترک د لمانځ سره ، نه په کفر سره ، وینه یې مباح ده او واجب القتل دی.[3]
- د امام احمد بن حنبل او اسحق بن راهویه له نظره: نوموړی کس کافر او مرتد کیږي او د ارتداد احکام پرې جاري کیږي.[4]

---

١ : **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة**: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۱. او: **المغني**: ج ۸ ، ص ۵۴۷. او ؛ **ابن عابدین**: ج ۱ ، ص ۳۵۲. او ؛ **الانصاف**: ج ۱ ، ص ۴۰۱. او **رفع الحاجب عن مختصر ابن الحاجب**: لتاج الدین أبي النصر عبد الوهاب بن علي بن عبد الکافي السبکي ، ج ۲ ، ص ۲۶۹. **أقوال ذوی العرفان فی أن لعمال الجوارح**: ج ۱ ، ص ۱۸. فتاوا الغدی: باب المرتد ، ج ۲ ، ص ۶۹۲

٢ : **الحاوی الکبیر الماوردي**: لعلامة أبو الحسن علي بن مُحَمَّد بن حبیب الماوردی ، مستوی باب حکم فی تارک ، ج ۲ ، ص ۱۱۹۲

٣ : الحاوی الکبیر الماوردي: مستوی باب حکم فی تارک ، ج ۲ ، ص ۱۱۹۲

٤ : الحاوی الکبیر الماوردي: مستوی باب حکم المرتد ، ج ۱۳ ، ص ۳۵۳

لمونځ د شرعي نصوصو په رڼا کې فرض عين دی ، که څوک ورڅخه انکار کوي کافر کیږي او که څوک يې د تنبلۍ ، سستۍ او لټۍ په اساس نه اداء کوي ، فاسق او سخت ګنهګار ګڼل کیږي.

د لمانځه فرضيت عمومي دی ، لمونځ د نورو عباداتو په څېر ندی چې پر ځينو اشخاصو فرض وي او په ځينو فرض نه وي لکه حج او زکات چې يواځې پر شتمنو او بډايه خلکو په ټاکلو وختونو کې فرض دی ، او يا روژه چې په کال کې يوه مياشت پر هغه چا لازمه ده چې توانی يې ولري ، خو د لمانځه لپاره دغه شرطونه نشته بلکې له ايمان راوړلو څخه وروسته لمونځ په هر مسلمان عاقل او بالغ باندې نر وي او که ښځه ، شتمن وي او که غريب ، روغ وي او که ناروغ ، مقيم وي او که مسافر ، حتی که د جګړې په ميدان کې هم وي فرض دی البته د اداء کولو کيفيت يې د حالاتو او ظروفو سره سم توپير لري.

د لمانځه د فرضيت او مؤمنانو ته د لمانځه په اداء کولو باندې په قرآنکريم کې ګڼ شمېر آيتونه دي ، چې مونږ تري دلته د بېلګې په توګه يادوونه کوو ، لکه چې الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾ [1]

ژباړه: او لمونځ قايم کړئ ، زکات ورکړئ او رکوع وکړئ سره د رکوع کوونکو!.

همدارنګه الله ﷻ د قرآنکريم په بل آيت کې د لمانځه په اداء کولو باندې امر کوي او فرمايي:

﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ [2]

ژباړه: او لمونځ قايم کړئ ، زکات ورکړئ او د پيغمبر اطاعت وکړئ ، تر څو چې پر تاسې رحم وکړای شي.

د کتاب الله څخه علاوه ، ګڼ شمېر نبوي احاديث هم د لمانځه په فرضيت باندې موجود دي چې مونږ تري د بېلګې په ډول يادوونه کوو:

لمونځ د دين د اساساتو څخه يو اساس دی چې د دين ستن هم بلل کيږي ، په دغه هکله رسول الله ﷺ فرمايي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى اللّهُ تعالى عنهُ قَالَ رسول الله صَلَّى الله عَليْهِ وسَلَّمَ : عُرَى الإِسْلاَمِ وَقَوَاعِدُ الدِّينِ ثَلاَثَةٌ عَلَيْهِنَّ أُسِّسَ الإِسْلاَمُ مَنْ تَرَكَ مِنْهُنَّ وَاحِدَةً فَهُوَ بِهَا كَافِرٌ حَلاَلُ الدَّمِ : شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَالصَّلاَةُ الْمَكْتُوبَةُ وَصَوْمُ رَمَضَانَ. [3]

ژباړه: د اسلام بنياد او اساس په درې شيانو ولاړ دی ، هر چا چې له دې څخه يو پرېښودو کافر دی او وينه تويول يې روا دي ، د لا اله الا الله د کلمې ګواهي کول ، فرض لمونځ ، او د رمضان د مياشتې روژه.

د قيامت په ورځ به تر هر څه د مخه د لمانځه په اړه پوښتنه کيږي ، که لمونځ درست وي نو د ژوند ټولې چارې به يې درستې وي او که په لمانځه کې يې نقصان او کوتاهي وي نو د ژوند ټولې چارې به يې په نقصان کې وي ، رسول

---

١: **د البقرة سورت** ، ۴۳ آيت

٢: **د النور سورت**: ۵۶ آيت

٣: **مسند ابي يعلى**: لأحـمد بن علي بن المثنى التميمى الموصلى ، حافظ من علماء الحديث ، المتوفى ۳۰۷ هـ ، باب اول من مسـند ابن عباس ، ج ۴ ، ص ۲۳۶ ، د حديث شمېره ۲۳۴۹ ؛ **صحيح ابن حبان**: مُحَمَّد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي: د حديث شمېره ۱۴۶۷.

الله الله ﷺ فرمايلي دي:

عَنْ مَالِكٍ ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ ، أَنَّهُ قَالَ : بَلَغَنِي أَنَّ أَوَّلَ مَا يُنْظَرُ فِيهِ مِنْ عَمَلِ الْعَبْدِ الصَّلاَةُ ، فَإِنْ قُبِلَتْ مِنْهُ ، نُظِرَ فِيمَا بَقِيَ مِنْ عَمَلِهِ ، وَإِنْ لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ ، لَمْ يُنْظَرْ فِي شَيْءٍ مِنْ عَمَلِهِ. [1]

ژباړه: د قيامت په ورځ به د انسان په ټولو اعمالو کې تر هر څه لومړی لمونځ ته کتل کيږي ، که لمونځ درست وي او د الله ﷻ لخوا ومنل شي ، نو بيا به يې نور اعمال هم کتل کيږي ، او که لمونځ يې په سمه توګه نه وي تر سره کړی ، نورو کارونو ته به يې هېڅ نظر ونشي.

راشده خليفه ګانو به خپلو مامورينو ته لارښوونه کوله چې د لمانځه اداء کولو ته پوره پاملرنه وکړي ، د عبدالله ابن عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ آزاد شوی غلام مالک بن نافع رضی اللهُ تعالی عنهُ روايت کوي چې:

أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ كَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ : إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِى الصَّلاَةُ ، مَنْ حَفِظَهَا أَوْ حَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا أَضْيَعُ. [2]

ژباړه: حضرت عمر بن الخطاب رضی اللهُ تعالی عنهُ خپلو مامورينو ته وليکل چې پوه شئ: زما په نزد ستاسې تر ټولو مهم کار لمونځ دی چا چې په پوره اهتمام سره اداء کړ او نور يې هم دې کار ته وهڅول نو د خپل دين حفاظت او ساتنه يې وکړه او چا چې ضايع کړ ، نو بيا خو هغه د دين د نورو څانګو په طريق اولی سره ضايع کوونکي دي.

په اسلام کې د لمانځه اهميت او فضيلت ډېر زيات دی او د اسلامي شريعت په نصوصو کې د هغه چا په اړه چې لمونځ بيخی نه اداء کوي او يا پکې سستي کوي زيات شمېر وعيدونه او عذابونه ذکر شوي دي چې د هغې له جملې څخه ځيني يې په لاندې توګه ذکر کوو:

أ) **د کافر او مؤمن تر منځ حقيقي توپير په لمانځه سره ښودل شوی دی** ، په دغه هکله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضی اللهُ تعالی عنهُ ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: " بَيْنَ الرَّجُلِ ، وَبَيْنَ الشِّرْكِ أَوِ الْكُفْرِ ، تَرْكُ الصَّلَاةِ ". [3]

ژباړه: د حضرت جابر رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روايت دی چې ما له رسولُ الله ﷺ څخه اورېدلي دي: د سړي او کفر تر منځ توپير يواځې د لمانځه په پرېښودو کې دی.

**ب) په لمانځه کې سستي د منافقت نښه ده:**

---

١: **الموطا:** لامام مالک بن أنس أبو عبدالله الأصبحي ، المتوفى ١٧٩ هـ ، کتاب الاقضية باب القضاء فيمن ارتد عن الاسلام ، ج ٢ ، ص ٤٥ ، د حديث شمېره ٥٩٨ او باب جامع الصلاة ، ج ٢ ، ص ٢٤٣ ؛ **مسند الصحابه فی الکتب التسعة:** ج ٥٢ ، ص ٢٠٨

٢: **سنن الکبری للبيهقي:** ج ١ ، ص ٤٤٥ ، د حديث شمېره ٢١٨٤ ؛ **جامع الحديث:** باب مسند عمر بن الخطاب ، ج ٢٦ ، ص ١٩٥ ؛ **کنز العمال فی سنن الأقوال والأفعال:** ج ٢ ، ص ٤

٣: **مسند امام احمد بن حنبل:** باب مسند جابر بن عبدالله ، ج ٢٣ ، ص ٣٦٥ ، د حديث شمېره ١٥١٨٣

الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَىٰ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ [1]

ژباړه: دا منافقان له الله ﷻ سره د غولونې کار کوي ، په حقيقت کې الله ﷻ هغوی په غولېدنه کې غورځولي دي ، کله چې دوی لمانځه ته پاڅيږي نو يواځې خلکو ته د ځان ښوونې لپاره مړ ژواندي پاڅيږي او خدای ډېر لږ يادوي.

**ج) د لمونځ پرېښودونکي ناکاره حشر:**

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو بن العاص ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَقَالَ : مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ بُرْهَانٌ وَلاَ نُورٌ وَلاَ نَجَاةٌ ، وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَهَامَانَ وَفِرْعَوْنَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ. [2]

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی اللهُ تعالی عنهُ[3] څخه روايت دی چې يوه ورځ رسولُ الله ﷺ د لمانځه يادوونه وکړه ، ويې فرمايل: څوک چې په دوامداره توګه د لمانځه محافظت او ساتنه کوي نو د قيامت په ورځ به رڼايي د هغه سره مل وي ، د نجات لپاره به دليل او برهان ولري او څوک چې ترې بې پروايي کوي نو هېڅ ډول رڼا او د نجات دليل به ونه لري د قيامت په ورځ به يې راپورته کېدل د قارون ، فرعون ، هامان او ابی بن خلف سره وي.

دغه پورته ذکر شوي خلک د کفر مشهور مشران وو او هر مسلمان يې پېژني.

امام ابن قيم رحمة الله عليه فرمايي: که يو سړی د مال په محبت کې تر دې حده ډوب وي چې لمونځ يې له ياده وتلی وي نو د قيامت په ورځ به د هغه راپورته کېدل د قارون سره وي ، او که د لمانځه پرېښودل يې د قدرت او پادشاهۍ په خاطر وي نو د قيامت په ورځ به د هغه راپورتل کېدل د فرعون سره وي ، او که د لمانځا پرېښودل يې د وزارت ، رياست او يا بل ماموريت په خاطر وي نو د قيامت په ورځ به د هغه راپورته کېدل د هامان سره وي ، او که څوک د تجارت او کار او بار په خاطر لمونځ پرېږدي نو د قيامت په ورځ به د ابي بن خلف سره راپورته کيږي.

**د) قصدا د لمانځه پرېښودونکی کافر دی:**

لمونځ يو فرض عين عبادت دی او که چېرې يو مسلمان دغه شرعي عمل په قصد او انکار سره ترک کړي ، کافر

---

1: **د النساء سورت**: ۱۴۲ آيت

۲: **صحيح ابن حنان**: باب الوعيد علی ترک الصلوة ، ج ۴ ، ص ۳۲۹ ، د حديث شمېره ۱۴۶۷ ؛ **موارد الظمان الی زوائد ابن حبان**: نورالدين علي بن أبي بکر بن سليمان الهيثمي ، المتوفی ۸۰۷ ھ ، باب فيمن حافظ علی الصلاة و من ترکها ، ج ۱ ، ص ۸۷ ، د حديث شمېره ۲۵۴

[3]: پوره نوم يې عمرو بن العاص بن وائل ، أبو عبد الله ، السهمي القرشي دی ، په ۵۰ ھ ق کال کې زيږېدلی ، د مصر فاتح ؤ او د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د خلافت په دور کې د اسلامي لښکر مشر ؤ ، او همدارنګه د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه له خوا د مصر او فلسطين د والي په حيث ليږل شوی ؤ ، ۳۹ حديثونه په کتابونو کې له ده څخه روايت شوي دي ، په ۴۳ ھ کال کې وفات شوی دی. وګوره: [الاعلام للزرکلي: ج ۵ ، ص ۲۴۸] او موسوعة الفقهي [ ج ۱۵ ، ص ۱۵۳]

کيږي[1] ، په همدغه هکله رسولُ الله ﷺ فرمايي:

عن عبد الله بن بريدة عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة ، فمن تركها فقد كفر.[2]

ژباړه: زمونږ او د دوی تر منځ معاهده په لمانځه سره ده ، چا چې لمونځ پرېښودو يقينا کافر شو.

**هـ) قصدا د لمانځ پريښودونکي وژل روا دي:**

د حضرت عبدالله ابن عباس رضی اللهُ تعالی عنهُ شخه روايت دی چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللهُ تعالی عنهُ قَالَ رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : عُرَى الإِسْلاَمِ وَقَوَاعِدُ الدِّينِ ثَلاَثَةٌ عَلَيْهِنَّ أُسِّسَ الإِسْلاَمُ مَنْ تَرَكَ مِنْهُنَّ وَاحِدَةً فَهُوَ بِهَا كَافِرٌ حَلاَلُ الدَّمِ : شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَالصَّلاَةُ الْمَكْتُوبَةُ وَصَوْمُ رَمَضَانَ ، و فی رواية من ترك منهن واحدة كافر بالله ولا تقبل منه صرف ولا عدل و قد حل دمه و ماله.[3]

ژباړه: د اسلام اساسات او د دين بنسټونه درې دي چې د اسلام ستنې ګڼل کيږي ، هر چا چې له دغه دريو شخه يو هم پرېښود کافر دی او وينه تويول يې جايز دي ، د لا اله الا الله ګواهي ، فرض لمونځ ، او د رمضان د مياشتې روژه ، او په يو بل روايت کې راغلي دي چې هر چا چې له هغونه يو هم پرېښود کافر دی ، هېڅ فرضي او نفلي عبادت يې قبول نه دی ، وينه او مال يې حلال دی.

د جمهورو فقهاؤ (امام ابو حنيفه ، امام مالک او امام شافعي رحمهم الله عليهم) په نزد باندې د سستۍ او غفلت په وجه باندې د لمانځه تارک کافر کيږي نه ، بلکې فاسق کيږي ، توبه به وباسي او که توبه ونه باسي ، د امام مالک رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه په نزد يې وژل روا دي ، البته هر څوک يې وژلی نشي ، بلکې امام او قاضي به يې د وژلو پرېکړه کوي ، امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي چې وژل يې روا نه دي ، بلکې تعزير او بند يې جزا ده ، تر څو چې لمونځ اداء کړي.

په کومو احاديثو کې چې د کافر کېدو امر راغلی دی د هغه چا په اړه دی چې د لمانځه شخه انکار وکړي او يا يې پرېښودل روا وګڼي.

له ذکر شوو مبارکو احاديثو شخه معلوميږي چې که هر څوک لمونځ په قصد او انکار سره ترک کړي او نه يې کوي ، چې دا عمل (لمونځ) مې نه خوخيږي او نه يې کووم ، يا زه دا عمل (لمونځ) نه منم او نه يې کووم ، يا .......... او نه يې کووم ، او لمونځ د قصد او انکار له مخې نه کوي ، د اسلام د چوکاټ شخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

د پام وړ نقطه: دا خبره د يادوولو وړ ده چې که چېرې يو مسلمان د بعضې عذرونو له مخې لمونځ نه اداء کوي مګر

---

[1] : فتاوی الغدی: باب المرتد ، ج ۲ ، ص ۶۹۲

۲: **سنن الترمذي**: باب ترک الصلاة ، ج ۵ ، ص ۱۳ ، د حديث شمېره ۲۶۲۱ ؛ **سنن ابن ماجه**: باب ما جاء فيمن ترک الصلاة ، ج ۱ ، ص ۳۴۲ ، د حديث شمېره ۱۰۷۹ ؛ **سنن النسائي الكبرى**: باب الحكم فی تارک الصلاة و ذکر الاختلاف فيه ، ج ۱ ، ص ۱۴۵ ، د حديث شمېره ۱۴۵

۳: **مسند احمد بن حنبل**: باب حديث بريدة الأسلمى رضى الله تعالى عنه ، ج ۵ ، ص ۳۴۶ ، د حديث شمېره ؛ **مسند أبي يعلى**: باب أول مسند ابن عباس ، ج ۴ ، ص ۲۳۶ ، د حديث شمېره ۲۳۴۹

په دې باور وي چې لمونځ فرض دی او د لټۍ ، تنبلۍ ، سستۍ او غفلت له مخې لمونځ نه اداء کوي ، او ځان ملامت ګڼي ، او یا ترې ځینې اوقاتو کې لمونځ قضا کېږي او بیا قضایي کوي او یا ترې بعضې اوقات لمونځ ترک کېږي ، او د همېشه لپاره لمونځ نه ترک کوي ، بلکې کله نا کله لمونځ اداء کوي ، او یا په پنځو لمونځونو کې څلور لمونځونه اداء کوي او یو ترې قضا/ترک کېږي...... او داسې نور ، نو په دغه صورت کې بیا نوموړی شخص نه مُرتد کېږي ، بلکې ګنهګار او عاصي ګڼل کېږي.

**تبصره:** د قرآن کریم پورته ذکر شوو آیتونو ، نبوي احادیثو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته یو مسلمان په انکار سره لمونځ ترک کړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجیږي او مُرتد ګڼل کېږي.

## دویم مطلب: د روژې ترک کول په انکار سره:

که چېرته یو څوک په قصد او انکار سره روژه وخوري نو ده په حقیقت کې یو ارتدادي عمل تر سره کړ دا ځکه چې روژه د اسلام د پنځو بناؤ څخه یوه بناء ده کوم چې په هر عاقل ، بالغ او مکلف مسلمان باندې په کال کې یوه میاشت فرض ده ، په پخوانیو اُمتونو باندې هم روژه فرض وه او په مونږ باندې هم فرض ده.

د اسلامي اُمت ټول فقهاء په دې باندې متفق دي چې که چېرته یو مسلمان په انکار سره بیدون له کوم شرعي عذر څخه ، فرضي روژه و نه نیسي ، او وایي چې زه هېڅ روژه نه منم او فرضي روژه د انکار له مخې نه نیسي ، نو دغه عمل یې ارتدادي عمل دی او نوموړی شخص مُرتد ګڼل کېږي [1] ، دا ځکه چې روژه د اسلام د پنځو بناؤ څخه یوه بناء ده کوم چې په هر عاقل ، بالغ او مکلف مسلمان باندې په کال کې یوه میاشت فرض ده.

روژه چې په عربي ژبه کې ورته صیام ویل کېږي لغوي معنی یې امساک یعنې بندېدل یا منع کېدل دي او په اصطلاح کې د نیت په درلودلو سره د سهار له راختلو څخه تر ماښامه له خوراک ، څښاک او جنسي اړیکو څخه د ځان ساتل دي.[2]

روژه د شرعي نصوصو په رڼا کې فرض عین ده ، که څوک ورڅخه انکار کوي کافر کېږي او که څوک یې د تنبلۍ ، سستۍ او لټۍ په اساس نه نیسي ، فاسق او سخت ګنهګار ګڼل کېږي.

د روژې د فرضیت او مؤمنانو ته د روژې په میاشت کې د روژې په نیولو باندې په قرآنکریم کې ګڼ شمېر آیتونه دي ، چې مونږ ترې دلته د بېلګې په توګه یادوونه کوو ، لکه چې الله ﷻ فرمایي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ [3]

---

١ : **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة:** کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۱۴۱. او: **المغني:** ج ۸ ، ص ۵۴۷. او ؛ **ابن عابدین:** ج ۱ ، ص ۳۵۲. او ؛ **الانصاف:** ج ۱ ، ص ۴۰۱. **رفع الحاجب عن مختصر ابن الحاجب:** ج ۲ ، ص ۲۶۹. **أقوال ذوی العرفان فی أن لعمال الجوارح:** ج ۱ ، ص ۱۸. او **فتاوا الغدی:** باب المرتد ، ج ۲ ، ص ۶۹۲

۲: **فتح القدیر ، شرح البدایة:** ج ۲ ، ص ۲۳۴

۳: **د البقرة سورت:** ۱۸۳ آیت

ژباړه: ای مؤمنانو! پر تاسې روژې فرض کړای شوې ، لکه چې ستاسې څخه د مخکيني پيغمبرانو پر پيروانو فرض کړای شوې وې ، د دې لپاره چې په تاسې کې د پرهېزګارۍ صفت پيدا شي.

همدارنګه په ګڼ شمېر احاديثو کې هم د روژې په هکله يادوونه شوې ده چې مونږ دلته د بېلګې په توګه يو څو احاديث ذکر کوو:

رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُــولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ تَعَالَى مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ ، يَتْرُكُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَشَهْوَتَهُ مِنْ أَجْلِي ، الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا.[1]

ژباړه: د حضرت ابو هريرة رضى اللهُ تعالى عنهُ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: په هغه ذات مې دې قسم وي چې د مُحَمَّد ﷺ روح د هغه په لاس کې دى ، د روژه دار د خولې بوى الله ﷻته د مشکو له بوى څخه زيات خوښ دى ، روژه دار خوراک او څښاک نه کوي ، روژه زما لپاره ده او زه يې اجر ورکووم ، او د يوې نيکۍ په مقابل کې لس چنده اجر او ثواب دى.

همدارنګه نبي کريم ﷺ فرمايي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى اللهُ تعالى عنهُ قَالَ رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : عُرَى الإِسْلاَمِ وَقَوَاعِدُ الدِّينِ ثَلاَثَةٌ عَلَيْهِنَّ أُسِّسَ الإِسْلاَمُ مَنْ تَرَكَ مِنْهُنَّ وَاحِدَةً فَهُوَ بِهَا كَافِرٌ حَلاَلُ الدَّمِ : شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَالصَّلاَةُ الْمَكْتُوبَةُ وَصَوْمُ رَمَضَانَ ، و فى رواية من ترک منهن واحدة کافر بالله ولا تقبل منه صرف ولا عدل و قد حل دمه و ماله.[2]

ژباړه: د اسلام بنياد او اساس په درې شيانو ولاړ دى ، هر چا چې له دې څخه يو پرېښودو کافر دى او وينه تويول يې روا دي ، د لا اله الا الله د کلمې ګواهي کول ، فرض لمونځ ، او د رمضان د مياشتې روژه.

همدارنګه رسولُ الله ﷺ فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ ، وَلاَ مَرَضٍ لَمْ يَقْضِهِ صِيَامُ الدَّهْرِ وَإِنْ صَامَهُ.[3]

ژباړه: چا چې د رمضان يوه روژه هم پرته له هغه رخصتيو چې الله ﷻلخوا ورکړل شوي وي او پرته له کومه مرضه وخوړه ، که بيا ټول عمر روژې ونيسي ، د دغې يوې روژې ثوابونو ته نشي رسېدلاى.

امام ذهبي رحمة الله عليه په دې هکله داسې وايي: ټول مؤمنان په دې باوي دي چې: چا د رمضان د مياشتې

---

١: **صحيح البخاري**: کتاب فضل الصوم ، ج ٢ ، ص ٦٧٠ ، د حديث شمېره: ١٧٩٥. **صحيح المسلم**: باب حفظ اللسان الصائم ، د حديث شمېره: ١١٥١ ؛ او همدغه مفهوم په تغير د الفاظو سره په يو بل حديث ١٨٩٤ د صحيح البخاري کې داسې بيانيږي چې عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُــولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ وَإِنْ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ يَتْرُكُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَشَهْوَتَهُ مِنْ أَجْلِي الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا.

٢: **مسند ابي يعلى**: باب اول مسند ابن عباس رضى الله تعالى عنه ، ج ٤ ، ص ٢٣٦ ، د حديث شمېره ٢٣٤٩ ؛ **کنز العمال فى سنن الأقوال والأفعال**: باب فى حقيقة الايمان ، ج ١ ، ص ٢٨

٣: **صحيح البخاري**: باب اذا جامع فى رمضان ، ج ٢ ، ص ٦٨٢ ، د حديث شمېره ٢٩ ، او ج ٤ ، ص ٦٨ ، د حديث شمېره ؛ **سنن أبي داؤد**: د حديث شمېره ٢٣٩٨. **سنن ابن ماجه**: د حديث شمېره: ١٦٧٢. **مسند امام احمد**: د حديث شمېره: ٩٠١٤.

روژې له ضرورت او عذر پرته ونه نیولې ، له زنا او شراب خورۍ څخه يې هم بد عمل تر سره کړ ، بلکې مؤمنان يې په اسلام کې هم شک کوي او د زنديق ګمان پرې کوي ، [1] که يو کافر زينديقيت وکړي په خپل حالت پرېښودل کيږي ځکه چې کفر يو ملت واحد دی ، او که چېرته يو مسلمان زنديقيت وکړي نو لومړی بايد نوموړی له خپل زنديقيت څخه توبه وباسي او که چېرته توبه ونه باسي نو د عدم استتابې په صورت کې په قتل سره رسيږي.[2]
پس که هر مسلمان فرضي روژه په قصد او انکار سره ونه نيسي او دغه شرعي عمل ترک او د الله ﷻد امر مخالفت وکړي ، نو د اسلام د چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي. [3]
مهمه نکته: که چېرې يو مسلمان د لټۍ او تنبلۍ له مخې فرضي روژه و نه نيسي (روژه وخوري) او د روژې په فرضيت باندې باور ولري ، نو دغه کس نه مُرتد کيږي ، او ۶۰ ورځې به پرله پسې د يوې روژې د قضاء لپاره روژې نيسي.
**تبصره:** د قرآن کريم پورته آيتونو ، نبوي احاديثو او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان په انکار سره روژه ونه نيسي نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

## دريم مطلب: د زکات ترک کول په انکار سره:

زکات د اسلام د مبارک دين د پنځو بناؤ څخه يوه بناء ده چې په هر عاقل ، بالغ او مکلف مسلمان باندې چې د نصاب څښتن وي په کال کې يو ځل فرض دی تر څو د خپل مال زکات مستحقو غريبانو ته ورکړي او دغه الهي فريضه تر سره کړي ، د اسلامي اُمت ټولو فقهاء بيدون له کوم اختلاف څخه په دې باندې متفق دي چې که چېرته په يو مسلمان باندې زکات پرې فرض شوی وي (مالداره وي يعنې د نصاب څښتن وي) ، او د انکار او عناد له مخې د خپل مال زکات ورنکړي ، د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي [4] ،
کله چې يو مسلمان مرتد شي نو د احنافو په نزد ورباندې زکات نشته ،[5] ځکه چې اسلام دزکات د وجوب لپاره شرط دی او مرتد خو له اسلام څخه وتلی دی او بله دا چې زکات عبادت دی او په کافر باندې عبادت نشته ، زکات يواځې په مسلمانانو باندې فرض دی ، او مرتد خو د اسلام د دين د چوکاټ څخه وتلی دی.[6] اما د شوافعو له نظره

---

١: **فقه السنة**: ج ١ ، ص ٣٨٤
[٢] : غمز عيون البصائر: ج ٢ ، ص ١٩٢
٣: **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود، ج ۴** ، ص ١۶٠ ؛ او **المغني**: ج ٨ ، ص ۵۴٧. او ؛ ابن عابدين: ج ١ ، ص ٣۵٢. او ؛ الانصاف: ج ١ ، ص ۴٠١.
٤ : **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: كتاب الحدود، ج ۴** ، ص ١۴١. او: **المغني**: ج ٨ ، ص ۵۴٧. او ج ٢ ، ص ۴٣۴. او ؛ **ابن عابدين**: ج ١ ، ص ٣۵٢. او ؛ **الانصاف**: ج ١ ، ص ۴٠١.
[٥] : **الشرح الكبير**: شمس الدين أبى الفرج عبدالرحمن بن الشيخ لالمام العامل الزاهد أبى عمر مُحَمَّد بن أحمد بن قدامة المقدسي ، ج ٢ ، ص ۴۴۶ . **المغني**: ج ٢ ، ص ۶٣٩
[٦] : **بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع**: باب شرائط الفرضية ، ج ٢ ، ص ۴

په مرتد باندې زکات شته ، که یو مسلمان مرتد شي او نوموړی بېرته مسلمان شي او که بېرته مسلمان نشي ، نو واجب دی چې زکات ورکړي.[1]

له زکات څخه د انکار په صورت کې د مرتد لپاره دوه اختیاره دي: یا به توبه وباسي او یا به قتل کیږي ،[2] د کوم څخه چې به د همدغه تحقیق په راتلونکي فصلو نو کې په تفصیل سره یادوونه وشي.

زکات د شرعي نصوصو په رڼا کې په مالداره مسلمان باندې (چې د زکات نصاب یې پوره کړی وي) په کال کې یو ځل فرض عین دی ، تر څو د خپل مال زکات اداء کړي او مستحقو کسانو ته یې ورکړي ، که څوک ورڅخه انکار کوي د اسلام له دایرې څخه خارجیږي ، اما که یو څوک (مسلمان) زکات مني چې دا فرض دی او د بُخُل ، تنبلۍ ، سستۍ او لټۍ په اساس د خپل مال زکات نه اداء کوي ، نو په دې صورت نوموړی نه مرتد کیږي ، بلکې فاسق او سخت ګنهکار ګڼل کیږي.

په قرآن کریم کې ۳۲ ځلې د زکات د لفظ څخه یادوونه شوې ده ، چې مونږ ترې دلته د بېلګې په توګه یادوونه کوو:

﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾[3]

ژباړه: او لمونځ قایم کړئ ، زکات ورکړئ او کوم خلک چې ماته سر ټیټوي ، تاسې هم له هغو سره ټیټ شئ!.

همدارنګه الله ﷻ د مؤمنانو د صفت په هکله فرمایي چې مؤمنان هغه څوک دي چې ......... ، او د خپلو مالونو زکات ورکوي ، ......... په مؤمنون سورت کې دغه یادوونه شوې ده:

﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ O الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ O وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ O وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ O وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ O ﴾[4]

ژباړه: په باوري ډول مؤمنانو بری موندلی دی ، هغه (کسان) چې په خپلو لمونځونو کې عاجزي غوره کوي ، او هغه (کسان) چې له عبثو او ناکاره کړنو څخه مخ اړوونکي دي ، او هغه (کسان) چې د زکات په کړنچارې عمل کوي ، او هغه (کسان) چې د خپلو شرم ځایونو ساتنه کوي.

همدارنګه په نبوي احادیثو کې هم مالداره مسلمانان د زکات په اداء کولو باندې مکلف شوي دي تر څو د خپل مال زکات ورکړي ، او دغه الهي فریضه د زړه له خلاصه اداء کړي ، د اسلام ستر پیغمبر حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ فرمایي:

عن عبدالله ابن عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ   قال: قال رسول الله صَلَّی الله عَلیْهِ وسَلَّمَ : بنی الاسلام علی خمس

---

١: **شرح اعانة الطالبین علی حل الفاظ فتح المعین لشرح قرة العین بهمات الدین:** للأبي بكر ابن السيد مُحَمَّد شطا الدمياطی ، الناشر: دارالفكر للطباعة و النشر والتوضيع ، بيرت ، باب الزكات ، ج ٢ ، ص ١٤٩

٢: **المغني:** ج ٢ ، ص ٤٣٤

٣: **د البقرة سورت** ، ٤٣ آیت

٤: **د المؤمنون سورت** ، ١ ، ٢ ، ٣ ، ۴ او٥ آیتونه

شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ و أن مُحَّمد رسول الله ، و اقام الصلاة ، ايتاء الزكاة ، والحج وَصَوْمُ رَمَضَانَ.[1]

ژباړه: د حضرت عبدالله ابن عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: اسلام په پنځو شيانو باندې بناء دی: د لا اله الا الله مُحَّمد رسول الله د کلمې ګواهي ورکول ، د فرض لمونځ اداء کول ، د زکات اداء کول ، حج د بيت الله او د رمضان د مياشتې روژه.

د اسلام مقدس دين هم د فرد او هم د ټولنې ګټې مد نظر نيولي دي او د ټولنې د نظم او عدالت لپاره يې مقررات وضع کړی دي ، زکات يوې ټولنې ته زيات فايده مند دی او د ټولنې د مالداره خلکو د مال څخه يوه اندازه غريبانو ته ورکول کيږي چې د دغه فريضې په اداء کولو سره په جامعه کې برابري او عدالت رامنځ ته کيږي او هم د مالدارو او غريبو تر منځ محبت او صميميت زياتيږي او د ټولنې افراد خپل ورځنی ژوند په ډېره ښه توګه مخ په وړاندې باندې وړي.

د اسلام لومړي خليفه حضرت ابوبکر صديق رضی اللهُ تعالی عنهُ د زکات د منکرينو په مقابل کې جهاد اعلان کړو او تر هغه يې د هغوی په مقابل کې جهاد وکړو تر څو چې دوی بېرته د زکات ورکولو ته تن کېښود او دوباره مسلمانان شول ، حضرت ابوبکر صديق رضی اللهُ تعالی عنهُ وفرمايل:

هيهات هيهات مضى النبي صلى الله عليه و سلم و انقطع الوحي و الله لأجاهدنهم ما استمسك السيف في يدي.[2]

ژباړه: افسوس دی چې نبی کريم ﷺ وفات شو او له آسمان څخه وحې قطع شوه زما دې په الله ﷻقسم وي چې د دې خلکو په خلاف به تر هغې جهاد ته دوام ورکووم تر څو چې زه په خپل لاس توره تينګولی شم.

تبصره: د قرآن کريم پورته ذکر شوو آيتونو ، نبوي احاديثو او د ابوبکر صديق رضی الله تعالی عنه عمل کوم چې يې د زکات د منکريون پر ضد تر سره کړو ، او د فقهاؤ اقوالو ته په کتنه ، که چېرته يو مسلمان په انکار سره زکات ترک کړي او زکات ورنکړي ، نو د اسلام له چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي.

### څلورم مطلب: د حج ترک کول په انکار سره:

که چېرته يو څوک په قصد او انکار سره حج ترک کړي ، نو دغه عمل يې ارتدادي عمل ګڼل کيږي دا ځکه چې حج د اسلام د پنځو بناؤ څخه يوه بناء ده کوم چې په هر عاقل ، بالغ ، مکلف او مالداره مسلمان باندې په ټول عمر کې يو ځل فرض دی.

حج په لغت کې قصد او ارادې ته وايي او د اسلامي شريعت په اصطلاح کې د کعبې شريفې زيارت کول دي تر څو هغه عبادات تر سره شي چې په دغه ځای کې په مخصوص وخت کې مطلوب دي لکه طواف د بيت الله ، په عرفات درېدل ، او داسې نور مناسک چې د الهي حکم د عملي کېدو او د هغه د رضا سبب ګرځي.

---

۱: **صحيح البخاري**: باب الايمان و قول النبی ﷺ ، ج ۱ ، ص ۱۲ ، د حديث شمېره ۸ ؛ **صحيح مسلم**: باب قول النبی ﷺ علی خمس ، ج ۱ ، ص ۳۴ ، د حديث شمېره ۱۲۲

۲: **تاريخ الخلفاء**: ج ۱ ، ص ۶۷.

حج د شرعي نصوصو په رڼا کې په مالداره مسلمان باندې (چې د بيت الله شريف د تللو وس او توان ولري) په ټول عُمر کې يو ځل فرض عين دی ، تر څو د بيت الله شريف حج اداء کړي ، که څوک ورڅخه انکار کوي مرتد او کيږي [1] ، او که څوک د بُخُل ، تنبلۍ ، سستۍ او لټۍ په اساس د حج فريضه نه اداء کوي ، فاسق او سخت ګنهکار ګڼل کيږي.

د حج د فرضيت په قرآنکريم واضح او څرګند دی ، چې الله ﷻ مؤمنانو ته د حج په اداء کولو باندې امر کوي او فرمايي:

﴿ فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴾ [2]

ژباړه: په هغه کې څرګندې نښانې دي ، د ابراهيم عليه السلام د درېدو د عبادت ځای دی ، او هغه ته چې څوک ننوځي په امن شو ، پر خلکو د الله ﷻ دا حق (فرض) دی چې که څوک هغه کور ته د رسېدو وس ولري ، د هغه حج دې وکړي ، او که څوک د دې فرمان د عملی کېدلو څخه انکار وکړي ، نو هغه دې په دې پوه وي چې الله ﷻ له ټولو نړيوالو څخه بې نيازه دی.

ګڼ شمېر نبوي احاديث هم د حج د اداء کولو په هکله موجود دي چې مونږ ترې د بېلګې په ډول يادوونه کوو:

عن عبدالله ابن عمر رضى اللهُ تعالى عنهُ قال: قال رسول الله صَلَّى الله عَليْهِ وسَلَّمَ : بنى الاسلام على خمس شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ و أن مُحَمَّد رسول الله ، و اقام الصلاة ، ايتاء الزكاة ، والحج وَصَوْمُ رَمَضَانَ. [3]

ژباړه: د حضرت عبدالله ابن عمر رضى اللهُ تعالى عنهُ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: اسلام په پنځو شيانو باندې بناء دی: د لا اله الا الله مُحَمَّد رسول الله د کلمې ګواهي ورکول ، د فرض لمونځ اداء کول ، د زکات اداء کول ، حج د بيت الله او د رمضان د مياشتې روژه.

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ خَطَبَنَا رسولُ الله ﷺ فَقَالَ « أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ فَحُجُّوا ». فَقَالَ رَجُلٌ أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَسَكَتَ حَتَّى قَالَهَا ثَلاَثًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ « لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ ثُمَّ قَالَ ذَرُونِى مَا تَرَكْتُكُمْ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلاَفِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَىْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَىْءٍ فَدَعُوهُ ». [4]

ژباړه: د حضرت ابو هريرة رضى اللهُ تعالى عنهُ څخه روايت دی چې مونږ ته رسولُ الله ﷺ په خطاب کې وفرمايل: ای خلکو! الله ﷻ پر تاسې حج فرض کړی دی ، نو حجونه اداء کړئ ، يو سړي وويل: يا رسولُ الله ﷺ ! آيا هر کال

---

[1] : **الدر المختار**: ناشر دارد الكفكر ، بيروت ، ج ۲ ، ص ۷۵

۲: **د آل عمران سورت**: ۹۷ آيت

۳: **صحيح البخاري**: ج ۱ ، ص ۱۲ ، د حديث شمېره ۸ ؛ **صحيح مسلم**: ج ۱ ، ص ۳۴ ، د حديث شمېره ۱۲۲

٤: **صحيح المسلم**: باب فرض الحج مرة فى عمر ، ج ۴ ، ص ۱۰۲ ، د حديث شمېره: ۳۳۲۱ ؛ **مسند صحابة فى الكتب التسعة**: باب مسند أبى هريرة ، ج ۵ ، ص ۱۴

به يې اداء کوو؟ نبي کريم ﷺ چپ شو تر دې چې سړي خپله خبره درې ځله تکرار کړه ، بيا وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل: که مې ويلای وای چې هو: نو هر کال به پر تاسې لازم شوی ؤ او بيا به تاسې نشوای تر سره کولای ، بيا يې وفرمايل: ما چې څه پرېښودل د هغې په اړه بيا بيا پوښتنې مه کوئ ، مخکيني قومونه له همدې کبله هلاک شول چې له خپلو پيغمبرانو څخه يې هم مخالفت کاوه او هم يې زياتې پوښتنې کولې ، په څه مې چې درته امر کاوه هغه کوئ ، او له کوم کار څخه چې مې منع کولئ ، هغه پرېږدئ.

**د توان درلودلو سره سره د حج د نه کولو حکم:**

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ « مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلاَ عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا وَذَلِكَ أَنَّ اللَّهَ يَقُولُ فِى كِتَابِهِ (وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً [1]) ». [2]

ژباړه: حضرت حارث رضی اللهُ تعالی عنهُ له حضرت علی رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روايت کوي چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي ديک څوک چې د حج د توښې او بيت الله ته د رسېدو وسيله او توان ولري او بيا هم حج ته لاړ نشي ، بيا نو مسلمان نه مري ، خوښه يې چې يهودي مري او که نصراني.

تبصره: د قرآن کريم پورته ذکر شوو آيتونو او نبوي احاديثو ته په کتنه ، که چېرته په يو مسلمان باندې حج فرض شي او دغه مسلمان حج په قصد او انکار سره ترک کړي او نه يې اداء کوي ، چې دا عمل (حج) مې نه خوخيږي او نه يې کووم ، يا زه دا عمل (حج) نه منم او نه يې کووم ، يا .......... او نه يې کووم ، او حج د قصد او انکار له مخې ترک کوي ، په اتفاق د فقهاؤ د اسلام د چوکاټ څخه خارجيږي او مُرتد ګڼل کيږي [3].

د پام وړ نقطه: دا خبره د يادوولو وړ ده چې که چېرې يو مسلمان حج د بعضي عذرونو له مخې نه اداء کوي مګر په دې باور وي چې حج فرض دی او د لټۍ او تنبلۍ له مخې حج نه اداء کوي ، او ځان مقصر ګڼي ، او يا يې اوس نه اداء کوي مګر د اداء کولو نيت يې لري چې زه يې په اينده کال کې يا دومره کاله ورسته اداء کووم ، نو په دغه صورت کې بيا نه مُرتد کيږي ، بلکې ګنهکار ، عاصي او مقصر ګڼل کيږي.

---

۱ : **د آل عمران سورت**: ۹۷ آيت

۲: **سنن الترمذی**: باب التغليظ فی ترک الحج ، ج ۳ ، ص ۱۷۶ ، د حديث شمېره ۸۱۷ ؛ (قال الشيخ البانی هذا حديث غريب ، **الجامع الصغير و زيادته**: مُحَمَّد ناصر الدين البانی ، الناشر: المکتب الاسلامي ، ج ۱ ، ص ۱۲۶۴ ، د حديث شمېره ۵۸۶۰)

۳: **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة: کتاب الحدود، ج ۴** ، ص ۱۴۱. او: المغني: ج ۸، ص ۵۴۷. او ؛ ابن عابدين: ج ۱ ، ص ۳۵۲. او ؛ الانصاف: ج ۱ ، ص ۴۰۱.

# دريم فـــصل

## د ارتداد احـــكام

### لومړی مبحث: په اسـلامي فقه کې د ارتداد احـکام

په اسلامي فقه کې د ارتداد لپاره ډېر زيات احکام دي چې مونږ ئې د الله ﷻ په توفيق سره ذکر کوو ، ځيني د دغه احکامو د مُرتد نفس پورې اړه لري ، ځيني يې د ملکيت پورې ، ځيني يې د تصرفاتو پورې ، ځيني يې د اولاد پورې ، ځيني يې د نکاح د امورو پورې ، ځيني يې د مال او ميراث پورې ، ځيني يې د اجتماعی امورو او ځيني يې د مُرتد د اعمالو پورې اړه لري چې مونږ د هر يو څخه انشاء الله په تفصيل سره يادوونه کوو:

**لومړی مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د نفس پورې اړه لري:**

ارتداد له هغه خطرناکو جرايمو څخه شمېرل کيږي چې د يو انسان ټول مخکيني نيک اعمال باطلوي او په آخرت کې ورته سخت عذاب ورکول کيږي او په دنيا کې ورته سخته سزا کومه چې د قتل څخه عبارت ده ، ورکول کيږي.

**د ارتداد سـزا: په اسلامي فقه کې ارتداد درې ډوله سزا لري**، لومړنی سزا يې اصلي سزا ده کوم چې د مُرتد د قتل کولو څخه عبارت ده[1] ، دويمه سزا يې بدلي سزا ده کوم چې د مُرتد تعزير دی ، او دريمه سزا يې تبعي سزا ده کومه چې مُرتد ته ورکول کيږي ، چې مونږ دلته د مُرتد هره سزا په جلا عنوانونو کې تر څېړنې لاندې نيسو:

**الف: د ارتداد اصلي سزا (قتل):**

د اسلامي شريعت له نظره د ارتداد د جرم اصلي سزا قتل دی ، د کوم په هکله چې د اسلام ستر پېغمبر جناب نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې:

عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [2]

ژباړه: د حضرت ابن عباس رضی اللّهُ تعالی عنهُ څخه روايت دی چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي: چاچې دين (د اسلام دين) بدل کړو دا ووژنی.

اود مرتد (نارينه) په قتل باندې د صحابه کرامو اجماع هم شوې ده. [3]

که يو مسلمان خپل دين (اسلام) پرېږدي او ارتداد وکړي او بيا په خپل کفر/ارتداد باندې تر مرګه پورې پاينبت وښايي ، ټول نيک اعمال چې يې تر سره کړي دي باطل دي او له پايلو څخه يې بې برخې کيږي ، نو هم له اخروي پېرزوينو څخه او هم د هغه حقوقو څخه چې مسلمانان ترې په دې دنيا کې برخه من دي بې برخې پاتې کيږي ، د

---

[1] : **اعانة المستفيد بشرح كتاب التوحيد**: ج ٣ ، ص ٢٣٤ ، او **الاقتصاد فی أن الكفر يكون بالقول او الفعل**: للامام احمد بن حنبل ، ج ١ ، ص ٢٤

[2]: **صحيح البـــخاری**: ، ج ۶ ، ص ٢٥٣٧ ، د حديث شمېره ۶٥٢۴

[3] : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: ج ۶ ، ص ١١٨

اسلام مبارک دین سربېره د آخرت له اور څخه ، مُرتد ته په دنيا کې ببړنۍ سزا ټاکلې ده ، کومه چې د قتل سزا ده تر څو تولنه له دغه مکروب څخه خلاصه شي او مسلمانان په شک او شُبهه کې واقع نکړي بلکې د ارتداد د عمل په تر سره کولو سره مُرتد و وژل شي.

د مُرتد د قتل په هکله فقهاؤ لاندې نظريات ورکړي دي:

- **د احناف فقهاؤ له نظره:**
  - که چېرته مُرتد نر وي نو واجب القتل دی او په قتل باندې رسيږي ، اما که مُرتده ښځه وي حبس (بندي) کيږي.[1]
- **د جمهورو فقهاؤ له نظره:**
  - **امام مالک رحمة الله عليه:** مُرتد واجب القتل دی او په قتل سره رسيږي ، امام مالک رحمة الله عليه د ارتداد په هکله د نارينه او ښځينه تر منځ کوم فرق نه کوي او وايي چې په ارتدادي عمل سره مطلقا نر او ښځه تول وژل کيږي.[2]
  - **امام شافعي رحمة الله عليه:** مُرتد نر وي او که ښځه که چېرته توبه ونکړي ، واجب القتل دی او وژل کيږي.[3]
  - **امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه:** هم د ارتداد حد قتل ښودلی دی او په دغه هکله په اجماع باندې هم استدلال کوي.[4]
- **د ځينې معاصرو فقهاؤ له نظره:**
  - د ځينې معاصرو فقهاؤ له نظره چې په دغه ډله کې مُحَمَّد منير ادلبي هم شامل دی: د دوی له نظره د ارتداد سزا تعزيري ده او مُرتد تعزيرتا مجازات کيږي.

**د مُرتد د نفس پورې اړوند احکام:** د مرتد د نفس پورې اړوندو احکامو څخه مو پورته په خلص ډول سره يادونه وکړه اما څرنګه چې دغه موضوع خورا مهمه ده غواړم چې په مفصل ډول ترې يادونه وکړم ، کوم چې په لاندې ډول سره دي:

**الف: د مُرتد د وينې مباح والی:** د مُرتد وينه مباح ده ، که دا مُرتد سړی ؤ ، اصيل وي او که غلام وي مباح الدم

---

١: **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احکام المرتدين ، ج ۶، ص ۱۱۹

[2]: **الفقه المالکی:** ج ۱ ، ص ۴۳ . **البيان والتحصيل والشرح والتوحيد ولتعليل لمسائل المستخرجه:** أبو وليد مُحَمَّد بن أحمد بن رشد القرطبی ، المتوفی سنة ۴۵۰ ه دارالغرب الاسلامی ، بيروت ، لبنان ، د چاپ کال ۱۴۰۸ ه ، ج ۱۶ ، ص ۳۹۲. **اختلاف الفقهاء:** مُحَمَّد بن جرير بن يزيد بن کثير بن غالب الآملي ، أبو جعفر الطبري ، المتوفی سنة ۳۱۰ ه ، ج ۱ ، ص ۲۷۱

[3]: **الأم:** ج ۱ ، ص ۲۵۷

[4]: **الشرح الکبير:** ج ۱۰ ، ص ۷۴.

دی یعنې په مُرتد کېدو سره د ده وینه مباح ګرځي.[1]

په دغه هکله مو د رسولُ الله ﷺ حدیث مخکې ذکر کړو ، همدا رنګه ځنې کسان چې د رسولُ الله ﷺ د وفات څخه وروسته مُرتد شول ، صحابه کرامو د دوی د وژلو په هکله اجماع وکړه او د اسلام لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی اللهُ تعالی عنهُ د دوی په ضد د جهاد اعلان وکړ او ټول یې له تېغه تېر کړل او په قتل یې ورسول.

په اسلامي شریعت کې مُرتد ته د مرګ سزا ورکول کیږي ، لیکن اسلامي شریعت دغه سزا ته څه شروط ټاکلي دي ، کوم چې باید په ترتیب سره د ردة په موضوع کې یو په بل پسې ځای وموميي یعنې لومړی باید د مُرتد ارتداد ثبوت شي ، بیا تریې د توبې غوښتنه وشي ، بیا پرې د مُرتد حکم وشي او بالآخره په مُرتد باندې د ارتداد احکام جاري شي او مُرتد ته سزا ورکړل شي ، نو په همدغه اساس د ارتداد د احکامو د جاري کولو لپاره باید لومړی د مُرتد ارتداد په ثبوت سره ورسیږي ، بیا د مُرتد څخه د توبې غوښتنه وشي او د عدم استتابې په صورت کې بیا مُرتد ته د مرګ سزا ورکول کیږي یعنې پر مرتد باندې حد تطبیقیږي.

د ارتداد ثبوت مو مخکې مفصلا ذکر کړو چې ارتداد په اقرار او شهودو باندې په اثبات رسیږي ، نو دلته ورته بیا کومه اړتیا نشته چې دغه موضوع دوباره ذکر شي.

د استتابې (توبه کول) او د توبې د حکم لپاره هم په دغه څېرنه کې جدا بحث ځانګړی شوی دی کوم چې به په خپل ځای کې بیان شي ، اوس راځو د مُرتد سزا ته.

## مُرتد ته د مرګ سزا ورکول:

هر کله چې د یو مُرتد ارتداد په ثبوت باندې ورسیږي او مُرتد له خپل ارتداد څخه توبه ونه باسي ، نو نوموړي ته د ارتداد د احکامو مطابق سزا ورکول کیږي کوم چې په لاندې ډول سره ده:

په اسلامي شریعت او د افغانستان په نافذه قوانینو کې نارینه مُرتد ته جدا سزا (قتل) او ښځینه مُرتدې ته جدا سزا (حبس) ټاکل شوې ده ، د اسلام مبارک دین د ښځو د حقوقو په هکله پوره پاملرنه کړې ده او د دغه مقدس دین په احکاماتو کې داسې حالتونه هم راځي چې نسبت و نارینه ؤ ته یې ښځو ته زیات حقوق ورکړي دي چې یو هم د ارتداد حالت دی ، چې که نارینه مُرتد شي نو وژل کیږي او که ښځینه مُرتده شي نو نه وژل کیږي[2] ، دا دي د اسلام د مقدس دین احکام چې ښځو ته یې ډېر زیات حقوق ورکړي دی او د اسلام دښمنه او فاشیستو دیموکراتانو نیوکو ته کوم چې د اسلام د مبارک دین څخه ناخبره دي ، غاښ ماتونکي ځواب وړاندې کوي کوم چې به د دغه تحقیق

---

۱: **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: باب احکام المرتدین ، ج ۶ ، ص ۱۱۸ . **شرح الممتع علی زاد المستقشع**: ج ۲ ، ص ۳۹۵. رفع الحاجب عن مختصر ابن الحاجب: ج ۴ ، ص ۲۴۴

۲ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: اب احکام المرتدین ، ج ۶ ، ص ۱۱۹

په څلورم فصل کې دغه ډول نیوکو ته عقلا او نقلا ځواب شي ، اوس راځو بېرته خپل اصلي موضوع ته کوم چې مُرتد ته د ارتداد سزا ده.

**الف: که چېرته مُرتد نارینه وي:** د اسلامي اُمت ټول فقهاء په یوه خوله د مُرتد د سزا په هکله اتفاق نظر لري او هغه دا چې د نارینه ؤ لپاره د ارتداد په سزا ګانو کې یوه سزا هم د ارتداد اصلي سزا ده کوم چې د مُرتد وژل دي ، په دې ترتیب سره چې لومړی ارتداد په ثبوت باندې رسیږي ، بیا به استتابه صورت نیسي ، که مرتد د خپل ارتداد څخه توبه وویستله نو دا ډېره ښه ده ، او که یې توبه ونه وستله ، نو د عدم استتابې په صورت کې به د اسلامي شریعت د اصولو سره سم د مسلمانانو مشر (خلیفه ، پاچاه ، رئیس ، حاکم) او یا د هغه نائب په مُرتد باندې ټاکل شوې سزا تطبیق کوي ، کوم چې د مُرتد اعدامول دي ، همدا د مُرتد لپاره حد دی ، د مسلمانانو مشر ، خلیفه ، یا پاچاه به د مُرتد په قتل باندې پیل کوي ځکه چې دا په مخ د ځمکه باندې دحد جاري کول دي او په مخ د ځمکه باندې د الهي حدوداتو د جاري کولو زیات مستحق د الله ﷻخلیفه (د مسلمانانو مشر) دی ، لکه د محصن زنا کار رجم چې د مسلمانانو حاکم یا د هغه نائب کوي.

ابن قدامة حنبلي رحمة الله علیه لیکلي دي چې پکار دی چې دغه حد پرې په توره جاري کړای شي ځکه چې په توره باندې زر قتل کیږي ، د اسلام ستر پیغمبر حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ فرمایي:

عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ « إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ ».[1]

ژباړه: د حضرت شداد بن أوس څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: الله ﷻپه هر شي کې نیکي لیکلې ده پس هر کله چې تاسو یو څوک (واجب القتل) وژنئ نو په احسنه وجه باندې یې ووژنئ او هر کله چې تاسې ذبح کوئ نو په احسنه توګه ذبحه وکړئ....

هر کله چې یو مُرتد د مرګ په سزا باندې ورسول شو ، حد پرې جاري شو او په احسنه توګه قتل شو نو نوموړي ته غسل او کفن نشته ، نه به ورباندې د جنازې لمونځ کیږي[2] او نه به د مسلمانانو په هدیره کې ښخیږي ، دا ځکه چې نوموړی د عدم مسلمانیت (کفر) په حالت کې له دنیا څخه لاړو او په کافر باندې خو د جنازې لمونځ نشته.

**ب: که چېرته مُرتده ښځینه وي:** د ښځینه مُرتدې د سزا په هکله فقهاؤ دوه ډوله نظریات ورکړي دي ، کوم چې مونږ مخکې ذکر کړي دي ، اما د موضوع د وضاحت لپاره ترې دلته په خلص ډول سره یادوونه کوو:

- **د احنافو علماؤ له نظره:** امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او نور حنفي علماء وایي چې مُرتده ښځه او مُرتد سړی د ارتداد په حکم کې سره یو برابر ندي ، بلکې مُرتد سړی وژل کیږي او مُرتدې ښځې ته د مرګ سزا

---

١: **صحیح مسلم:** باب الأمر باحسان الذبح والقتل و تحدید ، ج ۶ ، ص ۷۲، د حدیث شمېره ۵۱۶۷

۲ : **کفري الفاظ او د هغو حکمونه:** ج ۱ ، ص ۳۳

نشته په دې ډول چې مُرتده ښځه به حبس (بندي) کيږي او هره ورځ به ورته اسلام وړاندې کيږي تر څو يا اسلام راوړي او بيا له زندان څخه آزاده شي او يا په بنديخانه کې د ارتداد په حالت کې مړه شي.[1]

او په دغه هکله د رسولُ الله ﷺ حديث دليل نيسي چې:

عَنْ رَبَاحِ بْنِ رَبِيعٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فِى غَزْوَةٍ فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَىْءٍ فَبَعَثَ رَجُلاً فَقَالَ « انْظُرْ عَلاَمَ اجْتَمَعَ هَؤُلاَءِ » فَجَاءَ فَقَالَ عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ. فَقَالَ « مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ ». قَالَ وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَبَعَثَ رَجُلاً فَقَالَ « قُلْ لِخَالِدٍ لاَ يَقْتُلَنَّ امْرَأَةً وَلاَ عَسِيفًا ».[2]

او په يو بل حديث شريف کې هم راغلي دي چې: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ وُجِدَتِ امْرَأَةٌ مَقْتُولَةً فِى بَعْضِ تِلْكَ الْمَغَازِى فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ.[3]

- **د جمهورو علماؤ له نظره**: امام مالک رحمة الله عليه ، امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه وايي چې ښځه او سړی د ارتداد په حکم کې د نصوصو د عموم له وجهې سره يو برابر دي او مُرتده ښځه به هم د نارينه مُرتد په څېر قتل کيږي.[4]

اوس د هغه علمای کرامو نظريه څېړو کوم چې مُرتدې ښځې ته هم د نارينه ؤ په شان د قتل په سزا باندې قايل دي:

- د دوی له جملې څخه امام مالک رحمة الله عليه وايي چې مُرتدې ښځې ته بايد يوه مياشت وخت ورکړل شي تر څو د ده رحم د حيض په تيريدو سره پاک شي او که د تي ماشوم يې په غيرو کې ؤ تر هغه به نشي وژلی تر څو پورې چې د هغه ماشوم د تي موده پوره شي او يا ورته يوه دائيه پيدا شي تر څو د دغه ماشوم تی ورکول او د ده سالمه تربيه په غاړه واخلي.
- امام شافعي رحمة الله عليه وايي چې د مُرتدې ښځې حالت بايد وليدل شي چې آيا نوموړې ښځه حامله ده او که نه؟ که چېرته مُرتده ښځه حامله وي نو د حمل تر زيږيدلو پورې به نه وژل کيږي چې همدغه نظريه د حنابله ؤ هم ده.[5]

- **د شيعه ؤ له نظره**: د شيعه ګانو څخه زيديه او اماميه د مُرتدې ښځې د سزا په هکله په خپلو کې دوه مختلف نظريات لري چې:

-زيديه: د جمهورو علماؤ سره ورته نظر لري او ښځينه مُرتدې ته د قتل په سزا باندې قايل دي.[1]

---

١ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احکام المرتدين ، ج ۶، ص ۱۱۸

٢ : **سنن أبو داؤد**: باب فى قتل النساء ، ج ۳ ، ص ۶ ، د حديث شمېره ۲۶۷۱ ؛ **السنن الکبرى للبيهقى**: باب امرأة تقاتل فتقتل ، ج ۹، ص ۸۲، د حديث شمېره ۱۸۵۷۰

٣ : **صحيح مسلم**: باب تحريم قتل النساء والصبيان فى الحرب ، ج ۵، ص ۱۴۴ ، د حديث شمېره ۴۶۴۶

٤: **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احکام المرتدين ، ج ۶، ص ۱۱۸

٥: **الأم**: ج ۶، ص ۱۰۹

- امامیه: د احنافو علماؤ سره ورته نظر لري او ښځينه مُرتدې ته د حبس په سزا باندې قايل دي.[2]

**د مرتد د سزا کیفیت**: کله چې يو مسلمان ارتداو وکړي او د ارتداد د ارکانو او شروطو د موجوديت په صورت کې پرې ارتداد ثابت شي ، نو اســتتابه صورت نیسي ، که چېرته مُرتد د خپل ارتدادي عمل څخه توبه نه وباسې او د اسلام مبارک دين ته بېرته رجوع نه کوي ، نو د عدم استتابې په صورت کې دې مرتد نارينه په قود (تورې) سره ووژل شي [3] ، چې د اسلامي شريعت د اصولو سره سم د مسلمانانو مشر (خليفه ، پاچاه ، رئيس ، حاکم) او يا د هغه نائب په مُرتد باندې ټاکل شوې سزا تطبيق کوي ، کوم چې د مُرتد اعدامول دي ، همدا د مُرتد لپاره حد دی ، د مسلمانانو مشر(خليفه ، پاچاه ، رئيس ، حاکم) او يا د هغه نائب به د مُرتد په قتل باندې پيل کوي [4] ځکه چې دا په مخ د ځمکه باندې دحد جاري کول دي او په مخ د ځمکه باندې د الهي حدوداتو د جاري کولو زيات مستحق د الله ﷻ خليفه (د مسلمانانو مشر) دی ، لکه د محصن زنا کار رجم چې د مسلمانانو حاکم يا د هغه نائب کوي.

لکه چې پورته هم موږ يادونه وکړه چې اسلامي شريعت د ټولنې د نظم او اصلاح لپاره حدود ټاکلي دي تر څو مجرمين په ټاکلو سزاګانو باندې مجازات شي او خلک ترې عبرت واخلي تر څو بيا جرمونه تکرار نشي ، د ظالمانو لاسونه د مظلومانو د ظلم څخه لنډ کړي ، په ټولنه کې عدالت رامنځ ته شي او باآخره انسانان په مخ د ځمکه باندې په سوکالۍ او ډاډمن امن کې ژوند وکړي ، خو د دغه سزاګانو د تطبيق په کيفيت کې بيا هم له مرحمت څخه کار اخلي او د انساني کرامت په ساتنه کې خپلو پيروانو ته داسې امر کوي چې مجرمينو ته سزاګانې په احسنه توګه ورکړي تر څو له يوې خوا مجرم په ونه ځوريږي او له بلې خوا ټولنه د جبر ، ظلم او جرم څخه خلاصه شي.

د اسلام ستر پيغمبر حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ فرمايي:

عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ « إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ ».[5]

ژباړه: د حضرت شداد بن أوس څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله ﷻ په هر شي کې نيکي ليکلې ده پس هر کله چې تاسو يو څوک (واجب القتل) وژنۍ نو په احسنه وجه باندې يې ووژنۍ او هر کله چې تاسې ذبح کوی نو په احسنه توګه ذبحه وکړئ....

---

١ : **البحر الذخار**: احمد زيدی ، ۵ جلد ، ۴۲۴ مه صفحه

٢ : **الفقه القدمی الامامی**: ٢ جلد ، ٨٩ مه صفحه

[٣] : **قليوبی**: ج ۴ ، ص ١٣۶

[٤] : **حاشية الرملي**: شمس الدين مُحَّد بن ابي العباس احمد بن حمزة بن شهاب الدين الرملي. (ب ، ت). نهاية المحتاج الى شرح المنهاج, ناشر: بيروت. دار الفكر ، الباب الثالث فی الشهادة علی الدم ، ج ۴ ، ص ١٢٢

:۵ **صحيح مسلم**: باب الأمر باحسان الذبح والقتل و تحديد ، ج ۶ ، ص ٧٢ ، د حديث شميره ۵١۶٧

ابن قدامة حنبلي رحمة الله عليه ليکلي دي چې پکار دی چې دغه حد پرې په توره جاري کړای شي ځکه چې په توره باندې زر قتل کيږي.

او د ښځېنه مرتدې د سزا د کيفيت په اړه بايد ووايو چې يوه مسلمانه ښځه ارتداو وکړي او د ارتداد د ارکانو او شروطو د موجوديت په صورت کې پرې ارتداد ثابت شي ، نو اســـتتابه صورت نيسي ، که چېرته نوموړې مُرتده د خپل ارتدادي عمل څخه توبه نه وباسي او د اسلام مبارک دين ته بېرته رجوع نه کوي ، نو د عدم استتابې په صورت کې د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه له نظره مرتده ښځينه په محبس کې بندې کيږي ، هره ورځ ورته دين تشريح کيږي ، که بېرته يې د اسلام مبارک دين ته رجوع وکړه د محبس څخه آزاديږي ، او که نه ، نو روزمره ورته دين تشريح کيږي ، او بېرته محبس کې اچول کيږي تر څو يا ايمان راوړي او يا هم هلته د ارتداد په حالت کې مړه شي.[1]

**ب: د ارتداد بدلي (تعزيري) سزا:** دغه سزا په ځينې حقوقي کتابونو کې ذکر شوې ده اما په شرعي کتابونو کې د دغه سزا څخه کومه يادوونه نده شوې.

**ج: د ارتداد تبعي سزا (د مُرتد د مال مصادره):**

د اسلامي شريعت له نظره مُرتد ته تبعي سزا هم ټاکل شوې ده کوم چې د مُرتد د مال مصادره ده چې په لاندې ډول يې تر بحث او څېړنې لاندې نيسو:

**د مُرتد د مال مصادره:**

د مُرتد د مال د مصادرې په هکله د اسلامي امت ټول فقهاء متفق دي اما د کيفيت او اندازې په هکله يې په لاندې ډول نظريات څرګند کړي دي:

- **د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او ځنې حنابله فقهاؤ له نظره:** د مُرتد هغه مال چې د ارتداد په حالت کې يې لاسته راوړی دی هغه فئ دی او بايد ورڅخه مصادره او بيت المال ته وسپارل شي[2] ، او هغه مال چې يې د اسلام په حالت کې لاسته راوړی دی د هغه مسلماني ورثې ته ورکول کيږي.[3]
- **د امام مالک** رحمة الله عليه **، امام شافعي** رحمة الله عليه **او امام احمد بن حنبل** رحمة الله عليه **له نظره:** د مُرتد مال بايد مصادره شي ، او تصرف يې په خپل مال کې باطل دی په خلاف د کافر.[1] د امام شافعي رحمة الله عليه له نظره د مُرتد ټول مال فئ دی.[2]

---

١ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ۶ ، ص ۱۱۸
٢ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ۷ ، ص ۱۳۸ .
٣ : **الجامع الصغير:** لعبدالحی لکنوی ، ج ۱ ، ص ۳۰۳

**د مُرتدې ښځې د نفس حکم:**

لکه څرنګه چې مخکې هم يادوونه وشوه چې د مُرتدې ښځې د قتل په هکله د فقهاؤ تر منځ اختلاف نظر موجود دی کوم چې په لاندې ډول سره تر څېړنې لاندې نيسو:

- **د احنافو په نزد باندې:** کله چې يوه مسلمانه ښځه مُرتده شي نو د ده وينه روا نه ده او نه به دا وژلی شي ، ليکن په دې باندې به اسلام په زور منلی شي ، په دې ډول چې لومړی به دا بندي کړای شي ، او بيا به په بندي خانه کې هره ورځ راويستل کيږي او اسلام به ورته وړاندې کيږي ، که اسلام يې قبول کړو ډېره ښه ده او که نه نو بيا به بندي کيږي ، تر دې چې يا اسلام راوړي او يا په بندي خانه کې مړه شي.[3] او دليل په دغه حديث شريف د رسولُ الله ﷺ باندې کوي ، چې فرمايي:

  لاتقتلو امرأة ولا وليدا [4]

  ژباړه: ښځه او ماشوم مه وژنئ.
- **د امام کرخي** رحمة الله عليه **په نزد باندې:** امام کرخي رحمة الله عليه پرې دا زياته کړې ده چې هره ورځ به په قمچينه باندې تعزيرا وهلی شي په سبب د قبلولو د ردة کوم چې دې ښځې ردة قبول کړی دی او د اسلام څخه اووښتې ده.
- **د امام شافعي** رحمة الله عليه **په نزد باندې**:[5] امام شافعي رحمة الله عليه وايي چې مُرتده ښځه وژل کيږي[6] ، له وجهې د عموم د قول د رسولُ الله ﷺ چې فرمايي:

  عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [7]

  ژباړه: د حضرت ابن عباس رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روايت دی چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي چاچې دين بدل کړو دا ووژنئ.

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي چې د رسول الله ﷺ هغه حديث شريف په کوم کې چې فرمايل شوي دي چې « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [8]. ، دا حديث شريف عام دی ، او رسول الله ﷺ په يو بل حديث شريف کې د

---

[1] : **تحفة المحتاج فی شرح المنهاج:** کتاب الردة ، ج ٣٨ ، ص ٢٢٠ . **حاشية الجمل علی المنهج:** لشيخ الاسلام ذکريا ، کتاب الردة ، ج ١٥ ، ص ١٣.

[2] : **کتاب الأم:** باب جناية المرتد ، ج ۶ ، ص ١۶٢

٣: **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ١١٨ او ١١٩ او ج ٧ ، ص ١٣۵

٤ : **سنن الکبری للبيهقی:** ج ٩ ، ص ٩٠ ، د حديث شميره: ١٧٩٢٧ . **شرح السنة:** للامام اللبغوي ، صححه البغوی فی کتاب شرح السنة ، احاديث فقط ١/۶۵۵ (او په کتاب شرح السنة کې امام البغوي دا حديث صحيح ګڼلی دی ، ج ١ ، ص۶۵۵). او علامه کاساني رحمة الله عليه هم په خپل کتاب بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع کې په باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ١١٩ کې په دغه حديث شريف باندې استدلال کړی دی.

٥: **الأم** : ج ۶ ، ص ١۵۶ او **جامع الصغير** : صفحة نمبر ٢۵١

٦ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ١١٨

[7] : **صحيح البــــخاری:** ، ج ۶ ، ص ٢۵٣٧ ، د حديث شميره ۶۵٢۴

[8] : **صحيح البــــخاری:** ، ج ۶ ، ص ٢۵٣٧ ، د حديث شميره ۶۵٢۴

ښځو د قتل څخه منع فرمايلې ده چې فرمايي: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ.[1] ، پس اول حديث شريف عام دی په ښځو او نرو ټول باندې دی او دويم حديث شريف خاص دی په ښځو باندې ، پس تعارض د عموم او خصوص دی ، چې په دواړو احاديثو باندې عمل کيږي او هغه دا چې د مُرتد نارينه وژل په عام باندې عمل دی او د مرتدې ښځې نه قتلول په خاص باندې عمل دی.[2]

د امام شافعي رحمة الله عليه دليل همدغه حديث شريف دی کوم چې پورته ذکر شو.

په پورته حديث شريف کې د من کلمه عامه ده او په دې کې ښځه او نر ټول شامل دي ، او بل دا چې د ويني د روا کېدلو اصلي علت هغه عبارت له کفر څخه دی پس له ايمان څخه ، په همدې وجه سړی هم قتلولای شي او ښځه هم ، او د دې ښځې څخه پس د ايمان څخه کفر معلوم شوی دی او د دې حکم د حربې ښځې په خلاف دی ځکه چې کفر پس د ايمان نه ډېر ناکاره دی د اصلي کفر څخه ، ځکه دا راګرځېدل دي پس د قبلېدو د اسلام څخه او پس د خبرېدلو د محاسنو د اسلام څخه.

**او د احنافو دليل** دا حديث دی چې رسولُ الله ﷺ فرمايي:

لاتقتلو امرأة ولا وليدا .[3]

ژباړه: تاسو ښځه او ماشوم مه وژنئ.

چې په دغه حديث شريف کې ښځه او ماشوم د پورتني حديث څخه خاص شوي دي کوم چې بايد ونه وژل شي.

او د احنافو علماؤ بل دليل دا دی چې قتل په هغه حالت کې مشروع دی چې کله د دعوت د قبلولو څخه نا اميدي راشي کوم چې

په آسانه طريقې سره په ژبه باندې دعوت دی په بيانولو او ښکاره کولو د خوبيانو او محاسنو د اسلام سره ، د کفر څخه توبه کول دي او بېرته اسلام ته رجوع ده ، او ښځې په دعوة کې د نارينه ؤ تابع دي ، خصوصا عادة په دې جاري دی چې ښځې د خاوند په اسلام مسلمانيږي لکه يو داسې روايت کې راغلي دي چې يو سړي اسلام رواړلو او د ده په نکاح کې څلور ښځې وې څلور واړه د خاوند په مسلمانېدو سره مسلمانې شوې ، نو هرکله چې داسې شوه نو د دوی په حق کې قتل د اسلام لپاره وسيله نه ده ، نو قتل مفيد نشو .

په همدې دليل حربيه ښځه به هم نشي وژلی په خلاف د سړي نه ، ځکه يو سړی د بل سړي د رايې تابع نه وي بالخصوص د دين په کار کې ، نو د ده د اسلام راوړلو اميد نا ثابت شو ، او د ده په وژلو کې فائده هم نشته ، او همدا فرق د ښځې او نر تر منځ په وژلو کې موجود دی کوم ته چې بايد دقيقا پاملرنه وشي.

---

١ : **صحيح المسلم:** د حديث شمېره ۴۶۴۶

٢ : **تيسير الأصول الى قواعد الأصول و معاقد:** ج ١ ، ص ١٧١

٣ : **سنن الكبرى للبيهقى:** ج ٩ ، ص ٩٠ ، د حديث شمېره: ١٧٩٢٧ . **شرح السنة:** صححه البغوى فى كتاب شرح السنة ، احاديث فقط ٦٥٥/١ (او په کتاب شرح السنة کې امام البغوي دا حديث صحيح ګڼلی دی ، ج ١ ، ص٦٥٥). او علامه کاساني رحمة الله عليه هم په خپل کتاب بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع کې په باب احکام المرتدين ، ج ٦ ، ص ١١٩ کې په دغه حديث شريف باندې استدلال کړی دی.

په دغه اړوند د نبي کريم ﷺ حديث شريف دی چې:

عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [1]

ژباړه: له ابن عباس رضی اللّهُ تعالی عنهُ شخه روايت دی هغه وايي چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې دين بدل کړو و يې وژنی. بخاري روايت کړی دی.

حديث شريف په دې دلالت کوي چې د مُرتد وژل واجب دي ، د نارينه و د قتل په هکله د علماؤ اجماع ده خو د ښځينه و د قتل په هکله د علماؤ تر منځ اختلاف نظر موجود دی:

جمهور علماء وايي چې: مُرتده ښځه به هم د نارينه په شان وژل کيږي ، ځکه د من کلمه دلته عامه ده کومه چې نارينه او ښځينه و دواړو ته شامله ده ، بله دا چې ابن منذر د ابن عباس رضی اللّهُ تعالی عنهُ شخه روايت کړی دی چې حضرت ابوبکر صديق رضی اللّهُ تعالی عنهُ د خپل خلافت په وخت کې مُرتده ښځه ووژله ، په دغه وخت کې خو صحابه کرام زيات ؤ ، هيڅ چا هم انکار ونکړو ، حديث حسن دی.

همدارنګه د معاذ رضی اللّهُ تعالی عنهُ په حديث کې راغلي دي چې کله نبي کريم ﷺ معاذ بن جبل رضی اللّهُ تعالی عنهُ يمن ته د والي په حيث وليږه ، هغه ته يې وويل چې هر سړی چې د اسلام شخه ردة وکړي او مُرتد شي ، هغه ته ببرته دعوت ورکړه ، که چېرې ببرته راوګرځېدو نو ښه ده او که راونه ګرځېدو نو سر يې قطع کړه او هره ښځه چې د اسلام شخه مُرتده شوه هغې ته د اسلام دعوت ورکړه ، که چېرته راوګرځېده نو ښه ده ، او که چېرته راونه ګرځېده نو سر يې قلم کړه ، د حديث سند حسن دی او د اختلاف په ځای کې دليل دی.

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په دې نظر دی چې مُرتده ښځه نه وژل کيږي ، په دې دليل چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: ښځې او ماشو مه وژنی او دا خبره يې هغه وخت وکړه چې کله يې يوه وژل شوې ښځه وليده ، ويې فرمايل چې پکار نه وه چې دا يې وژلې وه. رواه احمد.

جمهور علماء وايي چې نهې د هغې ښځې په هکله ده چې اصلي کافره وي لکه د قصې په سياق کې چې همدا راغلي دي ، نو نهې د هغه چا پورې خاص ده چې علت يې ذکر شوی دی ، هغه دا چې کله له ښځې سره جګړه نه کيږي ، نو د هغې د وژلو شخه ځکه منع وفرمايل شوه چې هغې سره د جګړې منع راغله ، دا د اصلي کافرانو په دين کې دی چې هغوی به په دوو طبقو باندې ويشل کيږي ، د ښځو سره به يې جګړه نه کيږي ، نو په دې سره دا خبره (چا چې دين بدل کړو ويې وژنی) په خپل عموميت پاتې کيږي ، هېڅ معارض هم نلري او هغه مخکې دلايل يې تائيد کوي.

په دې پوه شه چې د حديث شريف ظاهر مطلق دی او هر بېليدونکي ته شامل دی که هغه نصراني وي بيا يهودي شي او که يهودي وي بيا نصراني شي ، همدارنګه نور کفري اديان ، دا د شافعي علماؤ نظر دی ، برابره خبره ده که د هغه اديانو له جملې شخه وي چې ترې جزيه اخيستل کيږي او که د هغه اديانو شخه وي چې ترې جزيه نه

---

[1] : **صحيح البـــخاری:** ، ج ۶، ص ۲۵۳۷ ، د حديث شمېره ۶۵۲۴

اخیستل کیږي ، ځکه  د من لفظ عام او مطلق راغلی دی ټولو ته شامل دی ، مګر حنفي علماء په دې کې ورسره مخالف دي او هغوی وايي چې: چې د اسلام څخه وروسته دين بدل کړي ، دوی ويلي دي چې د حديث اطلاق د علماؤ په اتفاق د کافر په حق کې متروک دی ، کله چې هغه مسلمان شي ، بل دا چې کفر یو ملت دی ، نو د هغه چا څخه مطلب چې دين يې بدل کړی وي هغه څوک دی چې اسلام يې پريښی وي ، ځکه طبراني د ابن عباس له حديث څخه مرفوع روايت کړی دی چې وايي: چا چې خپل دين له اسلام څخه بدل کړو نو هغه ووژنۍ ، نو دلته يې په صراحت سره د اسلام دين ذکر کړو.

**مناقشه:** هغه حديث چې شوافعو  دليل نيولی دی ، هغه معمول دی په سړو باندې ، د دې لپاره چې په ټولو احاديثو او دلائلو باندې عمل وشي ، نو دواړه احاديث بايد جمع شي چې په دغه صورت کې لومړی حديث شريف عام شو او دغه حديث شريف خاص شو د ښځو په هکله ،  نو په دواړو باندې به عمل وشي په دې ترتيب سره چې مُرتد به په قتل سره رسيږي په استثنا د ماشوم او د ښځې څخه کوم چې به حبس کيږي.

## د مُرتدې وينځې حکم:

د احنافو په نزد باندې مُرتده ښځه نه وژل کيږي او په اسلام باندې به مجبورولی شي ، که مولی د خپل خدمت لپاره خپلې وينځې ته ضرورت ؤ ، مولی به يې په اسلام باندې مجبوره کړي ، او که د مولی د ده خدمت ته ضرورت نه ؤ ، نو مولی به يې په خپل کور کې بندي کړي ځکه د مولی ملک پس د مُرتد کېدلو څخه هم قائم دی.

د دې لپاره چې د دواړو حقوق وساتل شي ، نو مُرتده وينځه به د مولی سره په بند کې وساتل شي او شرعا په اسلام راړولو باندې مجبوره کړای شي تر څو اسلام راوړي.

مولی به خپله هغه وينځه کومه چې مُرتده شوې ده ، د ردة په حال کې نه وطي کوي ځکه د مُرتدې وطي کول جايز نه دي.

## د ارتداد اړوند د کوچني (ماشوم) احکام:

**ماشوم به نه وژل کيږي:** که څخه هم د امام ابو حنيفه او امام مُحَمَّد رحمة الله عليهم په نزد باندې د ماشوم ردة استحبابا منل کيږي ، مګر بيا هم ماشوم نه وژل کيږي ، دا ځکه چې که يو بالغ او عاقل مسلمان مُرتد شي او د ده څخه د توبې غوښتنه وشي او نوموړی توبه ونکړي نو د ده د اسلام راوړلو او کاميابۍ څخه نا اُميدي راغله ، او دا خبره په ماشوم کې نه ده موجوده ، دا ځکه چې د ماشوم څخه دا اُميد شته چې کېدای شي اسلام ته راوګرځي او د حق دين قبول کړي ، نو په همدې اساس به ماشوم نه وژل کيږي ، بلکې ماشوم به بندي کړای شي ، همدارنګه په ماشوم باندې به د اسلام قبلولو جبر نشي کېدای او يواځې حبس (بندي کېدل) ورته کافي چې د ده لپاره د اسلام راوړلو ذريعه شي.[1]

که چېرته مېړه او ښځه دواړه مرتد شي او اولاد ونلري او د ارتداد څخه وروسته دغه مرتده ښځه د خپل مرتد شوي

---

[1] : بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع: باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۵

مېږه شخه د ارتداد په حالت کې حمل واخلي او دواړه د ارتداد په حالت کې وي چې حمل شوی اولاد يې وزيږيږي ، نو په دغه صورت کې دغه اولاد د مور او پلار په منزلت سره دی او حتی که مړ شي نو جنازه يې هم نه کيږي.[1]

همدارنګه هغه ماشوم چې د ده مور او پلار مسلمانان وي او د مور او پلار د متابعت په وجه په ده باندې د اسلام حکم لګول شوی وي ، او کله چې دا ماشوم بالغ شي او کافر وي ، او د ده شخه د بلوغ نه پس اسلام نه وي ښکاره شوی ، دا به هم نشي وژل کېدای ، دا ځکه چې ردة د هغه تکذيب (کفر) نوم دی چې مخکې يې تصديق (اسلام) راغلی وي ، او د ده شخه پس له بلوغ شخه تصديق (اقرار په اسلام) ندی راغلی له وجهې د نشت والي د دليل نه چې هغه اقرار په ژبه دی.

البته که نوموړی په ژبه د اسلام اقرار وکړي او بيا مُرتد شي دا به قتلولی شي ځکه دلته ردة واقع شو او پس له تصديق (اقرار په اسلام) شخه تکذيب (کفر) راغلو.

## دويم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د نکاح په امورو (احوال شخصي) پورې اړه لري:

ارتداد يو داسې عمل دی چې د مُرتد په ټولو اموراتو په شمول د نکاح باندې منفي اغېزې لري ، کوم چې په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نيسو:

**د مُرتد د ازدواج حکم:**

که يو سړی يا يوه ښځه مُرتده شي ، د ارتداد د عمل په تر سره کولو سره يې فورا يو له بل سره علاقه قطع او د نکاح عقد يې فسخه کيږي[2] ، يعني په سړي باندې خپله هغه ښځه چې په شرعي ډول يې په نکاح کړې يې ده ، طلاقه کيږي.[3]

د مُرتد سره د بلې ښځې نکاح هم نه کيږي ،[4] دا ځکه چې اسلامي شريعت د مُرتد د قتل حکم کړی دی.

او که يو سړی مُرتد شي او د ارتداد شخه وروسته بېرته مسلمان شي ، نو په دغه صورت کې د نکاح اختيار له ښځې سره دی[5] ، که د هغې ښځې خوښه وي نو د نکاح عقد به تجديدا صورت نيسي او د نکاح په صورت کې به مهر هم ورکوي ، او که د دغې ښځې خوښه نه وي نو نکاح فاسده ده او تجديد د نکاح هم صورت نه نيسي او د دواړو تر منځ جدايي او بېلتون را منځ ته شو.

---

١ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۶

٢ : **الکلام بتوضيح نواقض الاسلام**: ج ۱ ، ص ۴۸

٣ : **رد المختار**: ج ۱۰ ، ص ۳۳۴. **حاشيه ابن عابدين**: ج ۴ ، ص ۲۴۰

٤ **الاشباه والنظائر**: ج ۱ ، ص ۵۹. الدر المختار: باب النکاح الکافر ، ج ۳ ، ص ۲۰۰. **البحر الرائق شرح کنز الدقائق**: ج ۳ ، ص ۲۲۴ ، الأم: ج ۶ ، ص ۱۶۴

٥ : **په اسلام کې د ښځو حقوق** ، د افغانستان اسلامي جمهوريت ، د ارشاد حج او اوقافو وزارت رسمي رساله ، ج ۱ ، ص ۷۵

يادوونه: دا دي په اسلام کې د ښځې حقوق چې په دغه حالت کې د نارينه او ښځينه حقوق سره مساوي ندي بلکې ښځو حقوق نسبت و نارينه ته په دغه مورد کې زياد تر دي چې په دغه حالت کې نارينه سلب صلاحيت دی او ښځه مکمل صلاحيت لري چې نوموړي سره نکاح وکړي او که نه ، څرنګه چې دلته موضوع د ښځې د نفس او آينده ژوند پورې اړه لري نو که دلته ښځه او نر ته مساوي حقوق ورکړل شي لکه غربيان چې وايي چې د نر او ښځو حقوق مساوي دي ، نو بيا خو د ښځې په حق کې ظلم واقع کيږي ، نو د غرب له ځان څخه جوړشوي د بشر حقوق په دغه ځای کې ناقص دي ، حال دا چې د اسلام مبارک دين هر چاته په خپل ځای کې خپل حقوق ورکړي دي ، ځای يې لېدلی او احکام يې صادر کړي دي ، دلته چې د ښځو د نفس او آينده موضوع مطرح ده نو د نکاح د عقد صلاحيت يې ښځو ته ورکړی دی تر څو دغه ښځه د نوموړي مُرتد سره د راتلونکي ژوندانه د ببرته يوځای کېدلو په هکله پخپله تصميم ونيسي چې آيا نوموړي مجرم سره ژوند ته ادامه ورکړي او که نه ؟ آيا ژوند ورسره امکان لري او که نه ؟ آيا په آئنده کې د دغه مجرم سره د ژوندانه ستونزې راولاړېدای شي او که نه ؟ چې په دغه ترتيب باندې اسلام په ټولنه کې په ښه توګه سره عدالت تأمينوي او هر چا ته په خپل ځای کې خپل حقوق او صلاحيتونه ورکوي.

**په ارتداد کې د ښځې او خاوند تر منځ د بېلتون يا جدايی احکام:**

په ارتداد کې د ښځې او خاوند تر منځ د جدايی په هکله درې حالته دي:

**الف: که چېرته ښځه مُرتده شي او مېړه مسلمان وي:** نو په دغه هکله د اسلامي اُمت فقهاؤ په اتفاق سره دا نظر وکړی دی چې بغير له طلاق څخه د ښځې او مېړه تر منځ بېلتون راځي.[1]

**ب: که چېرته خاوند مُرتد شي او ښځه مسلمانه پاتې وي:** په دغه حالت کې د ښځې او د خاوند تر منځ د بېلتون په هکله د فقهاؤ ترمنځ اختلاف نظر موجود دی:

- **د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف** په نزد: د ښځې او خاوند تر منځ بغير له طلاق څخه جدايي منځ ته راځي.[2]
- **د امام مُحَمَّد** په نزد: د ښځې او خاوند تر منځ په طلاق سره جدايي منځ ته راځي.

**ج: که چېرته ښځه او خاوند يو ځای مُرتد شي او بيا دواړه په يو ځای ببرته مسلمانان شي:** نو په دغه مورد کې د علماؤ تر منځ اختلاف نظر موجود دی[3]:

- **د احنافو په نزد باندې:** د دوی نکاح استحسانا په خپل ځای باندې برقراره ده.[4]

---

١ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احكام المرتدين ، ج ٢ ، ص ٣٣٧

٢ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: ج ٧، ص ١٣۶

٣ : **الأم**: ج ۵ ، ص ۵۵

٤: **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ١٢٠ او ج ٢ ، ص ٣٣٧

- **د امام زفر په نزد باندې**: د دوی نکاح فاسده شوه ، او که په دوی دواړو کې یو هم اسلام مخکې راوړلو نو بالاجماع نکاح فاسده شوه.[1]

**د: که ښځه او خاوند یوځای مُرتد شي او بیا یو له هغو څخه بېرته مسلمان شي او یو مُرتد پاتې شي**: نو په دغه صورت کې یې نکاح فاسده ده په اجماع سره.[2]

## دریم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د ملکیت، میراث او دین یا قرض د امورو پورې اړه لري:

دغه احکام مو د موضوع د ښه وضاحت لپاره په دریو جدا عنوانونو کې څېړلي دي:

1. د مُرتد د ملکیت حکم
2. د مُرتد د میراث حکم
3. د مُرتد د دین یا قرض حکم

**الف: د مُرتد د ملکیت حکم**: په دې کې د فقهاؤ تر منځ هېڅ اختلاف نشته ، مُرتد چې کله اسلام راوړي د ده مالونه د همده په ملکیت کې پاتې دي ، او په دې کې هم هېڅ اختلاف نشته چې مُرتد کله مړ شي او یا قتل شي او یا دارالحرب ته لاړ شي د ده د ملکیت زوال منځ ته راځي چې ملکیت یې د خپل مال څخه ختمیږي[3]، او خپله نکاح کړې ښځه پرې طلاقه کیږي ، البته د فقهاؤ تر منځ په دې کې اختلاف دی چې آیا په دغه اسبابو سره د مُرتد ملکیت ختمیږي او که د ده ملکیت د ردة پورې موقوف ګرځي ، کوم چې مونږ په لاندې ډول سره تر څېړنې لاندې نیسو:

- **د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد باندې**: د مُرتد کېدو سره د ده ملکیت په هغه څه پورې موقوف دی[4] کوم چې د ده د حال څخه ظاهریږي.
- **د صاحبینو په نزد باندې**: د مُرتد ملکیت د ده د مال څخه په ردة سره نه ختمیږي بلکې د مُرتد ملکیت به د ده په مرګ یا په قتل او په دارالحرب سره یوځای کېدو سره ختمیږي.[5]

د ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد باندې یې دا تصرفات یې موقوف دي له وجې د موقوف والي د ملکیت د ده نه ، که چېر ته یې اسلام راوړلو دا تصرفات یې جایز دي ، او که مړ شو او یا ووژل شو او یا دارالحرب سره یوځای شو دا ټول تصرفات یې باطل دي.

د صاحبینو په نزد باندې په دې اصل باندې حکم د تصرفاتو د مُرتد بناء کیږي ، د ده تصرفات د مسلمان په څېر

---

۱ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: باب احکام المرتدین ، ج ۶، ص ۱۲۰

۲ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: ج ۷، ص ۱۳۶

۳ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: ج ۷، ص ۱۳۴ او ج ۲، ص ۳۳۸ .

۴ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: ج ۶، ص ۱۱۲ او ج ۷، ص ۱۳۶

۵ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: ج ۶، ص ۱۱۲ او ج ۷، ص ۱۳۶

جایز دي ، تر دې چې که مُرتد غلام آزاد کړي او یا یې مدبر کړي او یا یې مکاتب کړي او یا څه شی واخلي او یا یې هبه کړي دا ټول تصرفات یې نافذ دي.

د صاحبینو دلیل دادی چې: د ده لپاره ملکیت د اسلام په حالت کې هم ثابت ؤ د وجی د سبب د ملکیت او اهلیة د ده چې هغه حریة دی. او ردة په دې شې کې هم اثر نکوي.

**د تصرف څرنګوالی:** د تصرف د څرنګوالي په هکله د احنافو فقهاؤ څخه صاحبین په خپل منځ کې په دې کې اختلاف نظر لري چې آیا څرنګه یې تصرف جایز دی ؟

- **د امام ابو یوسف** رحمة الله علیه **په نزد باندې:** د ده تصرف د صحیح تصرف په شان جایز دی.
- **او د امام مُحَمَّد** رحمة الله علیه **په نزد باندې:** د ده تصرف د صحیح تصرف په شان جایز ندی بلکې د ده تصرف د مرض الموت د مریض په شان دی ، د امام مُحَمَّد رحمة الله علیه دلیل دا دی چې مُرتد د هلاکت په خوا کې دی ځکه دا وژلی کیږي نو د هغه مریض سره مشابه شو چې مرض الموت کې وي.

د امام ابو یوسف رحمة الله علیه دلیل دادی چې د اسلام راوړلو اختیار د ده په لاس کې دی ، دا ممکنه ده چې اسلام ته راوګرځي او د قتل څخه خلاص شي ، او مریض خو د ځان څخه مرض نشي لرې کولای نو د دواړو مشابهت ختم شو.

او د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دلیل دا دی چې په مُرتد کې د ملکیت د ختمېدو سبب موجود شوی دی کوم چې ردة دی ځکه دا سبب د قتل دی او قتل سبب د مرګ دی نو ملکیت د ده ختمیږي[1] ، او په مرګ سره د دی نسبت مخکیني سبب ته کیږي کوم چې ردة دی ، او دا امکان نلري چې دا خپل مالونه دارالحرب ته نقل کړي ځکه دا به قتل کیږي او د ده مال به د ده د حاجت څخه اضافه کیږي نو مناسبه ده چې د ده د ملکیت د ختمېدو فیصله د ده د حال په وجه باندې وشي البته دا مونږ موقوف ګرځوو ځکه احتمال شته چې دارالاسلام ته راوګرځي ، ځکه چې کله دا دارالاسلام ته راوګرځېدو نو د ردة د اصل نه ختم شو او داسې شو لکه چې د اصل څخه ارتداد نه ؤ راغلی ، نو موقوفه کېدل د ملکیت په ختمېدو کې د حال په وجه باندې د اشتباه د عاقبة درجه نده. که اسلام یې راوړو نو په ډاګه به شي چې ردة سبب د زوال ندی او دا هم ښکاره شوه چې ده تصرف په خپل ځای باندې کړی نو صحیح شو ، او که قتل شو او یا مړ شو او د دارالحرب سره یو ځای شو نو ښکاره شوه چې ردة واقع شو سبب د زوال د ملکیت د ده د هغه وخت نه د کوم وخت نه چې د ده ردة راغلی نو دا ښکاره شو چې د ده ملکیت ختم شوی د ردة د وخت نه. ځکه حکم د سبب څخه وروسته کیږي نو د ده تصرفات په خپل محل کې ندي نو تصرفات یې باطل شو.

او د دوی امامانو چې پکې اتفاق دی چې د مُرتد استیلا (د وینځې څخه بچی راوړل) صحیح دی تر دې که د ده وینځې بچی راوړلو او مُرتد د خپل ځان لپاره د بچې دعوه وکړي ، نو د صاحبینو په نزد باندې یې نسب یې ثابت ده

[1]: بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع: ج ۶ ص ۷۸

او دا ام ولده گرځي د ده لپاره ، دا ځکه صحيح ده چې دا مُرتد د خپل محل سره مخامخ شوی دی چې د ده پوره ملکيت دی او او د ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد باندې ځکه صحيح دی چې دا ملک موقوف د حق ملک څخه کم ندی نو چې کله حق ملک کافي کيږي د استيلا د صحة لپاره نو دا ملک په اولی سره صحيح دی.

او د دې امامانو په دې اتفاق دی چې د مُرتد طلاق صحيح دی او شفعه پرېښودل يې صحيح دي ځکه چې ردة په ملک نکاح کې اثر نه غورځوي او د شفيع لپاره چې کوم حق ثابت شوی په دې کې د ميراث احتمال نشته.

او هر چې مُرتده ښځه ده نو د دې ملکيت د ده د مال څخه نه زائليږي (ختميږي) او په دې کې د هيڅ چا هم اختلاف نشته په اتفاق سره د دې تصرف په خپل مال کې جايز دی ځکه دا نه وژل کيږي نو د ښځې مُرتد کېدل د دې سبب نه کيږي چه د دې د مال څخه دې د دې ملکيت ختم کړي.

او کله چې د مُرتد سرې د ملک حکم معلوم شو او تصرفات حالت چې په ملکيت باندې بناء ؤ هغه هم معلوم شو نو د مُرتد حالت به د دوو حالتونو څخه خالي نه وي يا خو به اسلام راوړي او يا به مړ شي او يا به قتل شي او يا به د دارالحرب پورې پيوسته شي: که مسلمان شو نو مخکينی ملکيت بيا ورته ورگرځول کيږي ځکه ردة د اصل څخه پورته شو او داسې شو چې له سره راغلی نه وي ، او که مړ شو او يا قتل شو نو د ده مال د ورثه ؤ شو او د ده ام ولده ... وينځې او غلامان آزاد شول او د ده څخه به قرضونه ورته اداء کړې ځکه دا احکام د مړي دي ، او همدا حکم دی چې کله د دارالحرب سره مُرتد پيوسته شي او قاضی د ده په پيوسته کېدو فيصله وکړي ځکه دارالحرب سره پيوسته کېدل دا په منزلة د مرگ دي په حق د هغه مال چې ده په دارالاسلام کې پريښی دی ، د ده ملکيت به د دې نه ختم شي. ځکه د مال څخه ملکيت په مرگ سره حقيقتا ختميږي په دې معنی چې دا مال د ده د حاجت څخه زيات دی ځکه د ده حاجت د ده په مرگ سره پوره شو او دا د خپل مال څخه گټه نشي پورته کولای او همدا معنی موجوده ده چې کله مُرتد د دارالحرب سره پيوسته شي ځکه هغه مال چې په دارالاسلام کې دی د ده د گټې څخه ووتلو ځکه دا د هغې د گټې د پورته کولو څخه عاجز دی ، نو دا مال داسې شو لکه چې د ده د مال څخه زيات وي ځکه چې دا يې د گټې د پورته کولو څخه عاجز دی ، نو د دارالحرب سره پيوسته کېدل د مرگ په شان شو د ملکيت په ختمېدو کې .

کله چې قاضي د ده د دارالحرب سره د پيوسته کېدلو فيصله وکړه نو د ده د ام ولده ، مدبر او مکاتب د آزادوالي فيصله به کيږي او د ده د مال څخه به د ده قرضونه اداء کړای شي او متباقي مال به يې په ورثه ؤ تقسيم شي ، دا ځکه چې دغه حکام د مرگ پورې تړلي دي او دلته دا معنی موجوده شوې ده.

### د دارالحرب اړوند د ارتداد احکام:

او که يو مُرتد دارالحرب پورې پيوسته شو او بيا د اسلام په حالت کې دارالاسلام ته راوگرځېدلو ، نو دا د دوه وجهو څخه خالي ندی:

**اول دا چې قاضي به فيصله کړې وي** چې دا د دارالحرب پورې پيوسته شوی او د قاضي د فيصلې څخه وروسته به

دارالاسلام ته راګرځي.

**دويم دا چې قاضي به فيصله نه وي کړي** او د قاضي د فيصلې څخه مخکې به دارالاسلام ته راګرځي ، نو د ده ټول ملکيت همده ته را ګرځي.

ځکه مونږ مخکې وويل چې دا احکام مرګ پورې تړلي او دارالحرب ته ورتلل دا حقيقي مرګ ندی ليکن ملحق بالموت دی خو چې د قاضي فيصله ورپورې وتړل شي.

او چې کله د قاضي فيصله نده شوې نو مرګ پورې هم نده تړل شوې نو چې کله بيا دارالاسلام ته راوګرځېدلو د ده هغه ملکيت هم ده ته راوګرځېدو.

**او که د قاضي د فيصلې څخه وروسته راوګرځېدلو** نو د ده کوم مال چې د ده د ورثه ؤ په لاس کې موجود ؤ ، دا حقدار د دې مال دی ځکه چې د ده اولاد د ده په مال کې د ده خليفه ګان يا وکيلان دي نو کوم مال چې د دوی په لاس کې موجود وي دا به يې واخلی او کوم مال چې يې ورثه ختم کړی په عتق يا به بيع سره نو دا پکې رجوع نشي کولای ځکه تصرف د خليفه په شان د تصرف د اصيل دی.

او هغه ام ولدي او مدبر غلام چې قاضي آزاد کړی دی ، نو دا په دې کې رجوع نشي کولای ځکه دا د هغو شيانو څخه دی کوم چې د فسخې احتمال نلري همدارنګه حکم د مکاتب وه چې دا پاتې مال يې ورثه ؤ سپارلی وي دا هم آزاد دی د مال په بدل کې او کوم مال چې مکاتب ورثه ؤ ته ورکړی دی ، که د ورثه ؤ لاس کې موجود وي وادی يې اخلي ، او که د ملکيت څخه يې وتلی ؤ نو لکه د نورو مالونو په شان پرې ضمان پرې نشته ، او که ده تر اوسه پورې ورثه ؤ ته بدل کتابت نه ؤ ادا کړی ، نو په دغه حالت کې به مالک د ده څخه مال وغواړي که عاجز شو نو دا بېرته غلام وګرځېدو.

او که مُرتد دارالاسلام ته کافر وګرځېدو او د خپل مال څخه يې څه برخه ځان سره دارالحرب ته يوړه او بيا مسلمانان په ده باندې غالب شول که د قاضي د فيصلې وروسته ګرځېدلی وي نو په دې صورت کې ورثه د دې مال ډېر حقدار وي او که د تقسيم نه مخکې د ده مال و موندل شو دا به مفت بغير د عوض څخه واخلي او که د تقسيم نه وروسته د ده مال وموندل شو نو بيا به يې په قيمت سره واخلي په ذوات القيم شيانو کې ، ځکه چې کله دا مُرتد دارالحرب سره يو ځای شو او قاضي فيصله وکړي نو د ده ملک ورثه ؤ ته نقل شي نو دا د مسلمان مال دی کافر پرې غلبه کړې ده او دارالحرب کې يې ساتلی او بيا پرې باندې مسلمانان غالب شوي دي او دا مال يې موندلی دی ، او که وګرځي پس مخکې د فيصلې دارالحرب ته نو په دې کې دوه روايته دي:

په يو روايت کې د مخکې او وروسته ګرځېدلو حکم يو شی دی

او په بل روايت کې راغلي دي چې د ده مثال د فئ دی په دې کې د ورثه ؤ هېڅ حق نشته.

او که مُرتد جنايت وکړي او دارالحرب ته وتختي او بيا په دويم ځل راوګرځي د مسلمانانو خواته نو په ده باندې چې څومره حقوق العباد دي لکه قتل ، غصب او قذف نو د ده په باره کې به نيولی شي او په ده باندې که حقوق الله پاتې وي لکه زنا ، سرقة او شرب الخمر شو نو د دې حد له ده څخه ساقط دی ځکه مُرتد کېدل د مرګ سره مشابه

دی او حد په شبهې سره ساقطيږي نو په دې کې هم شبهه پيدا شوه.
او که دارالحرب ته ورتلو نه پس يې دا کارونه وکړل او بيا مړ شو نو په يو شي باندې به هم نشي نيولی ځکه چې د ده يو کار هم ندی منعقد شوی ځکه دا په حکم د اهل حرب کې دی.
دا چې مونږ بيان کړو دا حکم د هغه مال ؤ چې ده په دارالاسلام کې شاته پريخی ؤ او که ده دا مال دارالحرب ته ځان سره يوړو نو دا د ده خپل ملکيت دی که مسلمانان په ده باندې غلبه وکړي نو دا مال به غنيمت وي ځکه د ورثه ؤ ملکيت په هغه مال کې چې دارالحرب ته يې ځان سره يوړو نه ثابتيږي نو د مُرتد په ملکيت کې پاتې شو او دا خو معصوم ندی نو په غلبې سره به د ده مال د نورو حربيانو د مال په شان وي.
کله چې مرتد دارالحرب ته لاړ شي ، نو ښځه پرې طلاقيږي[1] ، د مرتد وکالت باطل کيږي[2] ، او شرکت يې هم باطل کيږي[3]، او که له دارالحرب څخه مرتد بېرته مسلمان راوګرځي نو کالت ورته بېرته نه ورګرځي.[4]
**ب: د مُرتد د ميراث حکم:** مُرتد د هيڅ چا څخه ميراث نشي وړلای ځکه ملة او ولاية نلري. [5]
کله چې يو مُرتد مړ شي ، يا په قتل سره ورسيږي او يا د دارالحرب سره يوځای شي او د ده څخه په دارالاسلام کې مال پاتې شي ، نو د ده د ميراث په اړه فقهای کرامو په دې ډول سره خپل نظريات څرګند کړي دي:
**د امام ابو حنيفة** رحمة الله عليه **په نزد باندې:** د ده ټول مال ميراث دی ، کوم مال چې يې د اسلام په حالت کې تر لاسه کړی وي نو هغه به د ده مسمانو ورثه ؤ ته ميراث ورکول کيږی او کوم مال چې يې په حالت د ردة کې تر لاسه کړی وي هغه فئ دی.[6]
نو مونږ وايو چې زمونږ د علماؤ په دې کې اختلاف نشته چې کوم مال ده د اسلام په حالت کې ګټلی دی دا د مسلمانانو ورثه ؤ ميراث دی. او که دا مُرتد مړ شو او يا قتل شو او يا دارالحرب ته لاړو او قاضي پرې فيصله وکړه
**د امام شافعي** رحمة الله عليه **په نزد باندې:** د ده مال فئ دی [7] او دليل يې د رسولُ الله ﷺ دغه حديث شريف دی چې فرمايي: عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِىَّ -ﷺ- قَالَ « لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلاَ يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ ».[8]
ژباړه: کافر د مسلمان څخه او مسلمان د کافر څخه ميراث نه وړي ، په دې حديث کې رسولُ الله صلی الله عليه

---

[1] : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ٣ ، ص ١٣۶ .
[2] : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ۶ ، ص ٢٠ .
[3] : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ۶ ، ص ۶١ .
[4] : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** ج ۶ ، ص ٣٩ .
٥ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ١٢٣ . **المبسوط:** ج ۶ ، ص ٢٩۶ .
٦ : **تحفة الفقهاء:** ج ٣ ، ص ٣١٠
٧ : **الأم:** باب الخلاف فی الميراث أهل الملل و فيه شئ ، ج ۴ ، ص ٧۴ ؛ **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ١٢٣ ، او **مختصر اختلاف العلماء:** ج ٣ ، ص ۴٧٢ ؛ **قليوبی:** فصل فی موانع الميراث و ما معها ، ج ٣ ، ص ١۴٩
٨: **صحيح المسلم:** ج ۵ ، ص ۵٩ ، د حديث شمېره ۴٢٢۵ ؛ **مسند أحمد بن حنبل:** باب احاديث اسامة بن زيد حب رسول الله صلی الله عليه وسلم ، ج ۵ ، ص ٢٠٨ ، د حديث شمېره ٢١٨۵٧ ؛ **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احکام المرتدين ، ج ۶ ، ص ١٢٣ . **الأم:** ج ۶ ، ص ١۶٩

وسلم منع کړې ده چې مسلمان دې د کافر څخه میراث یوسی ، او د ده ورثه خو مسلمانان دي او د ده مُرتد میراث نشي وړلای.

**د امام احمد بن حنبل** رحمة الله علیه **په نزد باندې:** امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه هم امام شافعي رحمة الله علیه ته ورت نظر لري او وایي چې د مُرتد مال فئ دی او یو له بله میراث نه وړي.[1] او دلیل یې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم دغه حدیث شریف دی چې فرمایي: « لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلاَ يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ ».[2]

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دلیل هغه حدیث چې د حضرت علی رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روایت شوی دی چه ده ستور والعجلی د مُرتد کیدو په وجه ووژه او د ده مال یې د دده د ورثه ؤ په منځ کې تقسیم کړو او د ده ورثه مسلمانان ؤ او ده دا کار د صحابه کرامو په موجودګۍ کې وکړو او د هیڅ چا څخه ندي نقل شوي چې چا د دې نه انکار کړی وي نو په دې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع شوه.

او بل دلیل دادی چې ردة سبب دی د زوال د ملک د مرګ په شان لکه څرنګه چې د ابو حنیفه اصل دی چې کله یو څوک مُرتد شو او دا مسلمان ؤ او مړ شو نو مسلمان یې میراث وړي نو دا میراث د مسلمان د مسلمان څخه دی نه د کافر څخه.[3]

نو دلته امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په موجب د حدیث باندې هم عمل وکړو.

او د صاحبینو په نزد باندې: ردة اګر چې د مُرتد ملکیت نه ختموي خو د ده اسلام ته ګرځېدل ممکن دی: چې دې ته وکتل شي چې په ده باندې جبر زور کولای شي په اسلام راوړلو باندې نو دا د میراث په حق کې د اسلام په حکم کې پاتې شو. او دا ځکه د اسلام په حکم کې پاتې دی چې دا په شرابو او خنزیر کې تصرف نشي کولای ، نو دا هم جایز ده چې په حکم میراث کې پاتې شي نو که میراث د ده څخه وړلای شي نو دا د کافر نه میراث نه دی نو په حدیث باندې عمل راغلو.

**هغه مال چې مُرتد د ردة په حالت کې ګټلی دی:** علمای کرامو د هغه مال په هکله کوم چې مُرتد د ردة په حالت کې ګټلی وي ، اختلاف نظر لري او هغه دا چې:

- **امام ابو حنیفه** رحمة الله علیه **وایي** چې د ده دا مال فئ دی.[4]
- **امام ابو یوسف** رحمة الله علیه **او امام مُحَمَّد** رحمة الله علیه **وایي** چې د ده دا مال میراث دی.[5]

**دلایل:**

---

[1] : **المغني**: باب مسألة متی قتل المرتد علی ردته فماله فئ ، ج ۷ ، ص ۱۷۵

۲: **صحیح المسلم**: ج ۵ ، ص ۵۹ ، د حدیث شمېره ۴۲۲۵ ؛ **مسند أحمد بن حنبل**: ج ۵ ، ص ۲۰۸ ، د حدیث شمېره ۲۱۸۵۷ الله علیه وسلم ، **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: باب احکام المرتدین ، ج ۶ ، ص ۱۲۳ . **الأم**: ج ۶ ، ص ۱۶۹

[3] : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: ج ۷ ، ص ۱۳۸

٤ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: باب احکام المرتدین ، ج ۶ ، ص ۱۲۳

٥ : **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**: باب احکام المرتدین ، ج ۶ ، ص ۱۲۳

**د امام ابو حنیفه** رحمة الله علیه **دلیل:** ردة سبب دی د زوال د ملک د کوم وخت نه چې دا ردة موجود شوی او چې کله سبب د زوال موجود شو نو د شي لپاره به وجود هم نه راځي نو هغه مال چې د ردة په حالت کې کسب کړی د دی مالک نشته ، نو د میراث احتمال هم پکې نشته نو دا به د مسلمانانو په بیت المال کې کیښودلای شي.

**د صاحبینو دلیل:** د مُرتد کسب شوی مال د ده خپل ملکیت دی ځکه سبب د ملک راغلی د خپل اهل نه په داسې ځای کې چې ملکیت قبلوي ، او په دې کې شک نشته چې مُرتد اهل د ملک ده د حریة په وجه باندې ځکه د حریة او ردة خپل منځ کې منافات نشته.

ځکه مُرتد کې د غلام کېدو احتمال نشته او چې کله د ده ملک ثابت شو نو د دې خبرې احتمال شته چې د ده دا ملک د مرګ په وجه نقل شي ورثه ؤ ته او یا د هغه څه په وجه نقل شي چې د مرګ په معنی باندې وي.

آیا د مُرتد مال میراث کیږي او که نه ؟

په دغه هکله علمای کرام اختلاف نظر لري: په دغه اړوند د وارث حالت معتبر دی چې دا د مُرتد کېدو په وخت کې اهل ؤ یا د مرګ په وخت کې او یا د ردة وخت نه تر مرګ وخت پورې.

**د امام ابو حنیفه** رحمة الله علیه څخه دوه روایته نقل شوي دي:

په یو روایت کې د ردة وخت معتبر دی فقط تر دې چې که د ردة په وخت کې دا اهل ؤ نو میراث به وړي اګر که وروسته د ده د میراث اهلیت ختم شوی ؤ.

او په بل روایت کې د ردة د وخت نه د مرګ تر وخته پورې اهلیت د میراث معتبر دی د دې روایت دلیل دا دی چې میراث په اسناد ثابتیږي نه په ظهور ځکه مرګ داسې شی دی چې د میراث څخه نه خلاصیږي او که مونږ ووایو چې میراث په  د ظهور سره دی نو لازم به شي میراث مخکې له مرګ څخه چې دا صحیح ندی چې کله مرګ موجود شي میراث ثابتیږي. بیا به د دوی نسبت کوولای شي هغه وخت ته کوم وحت نه چې ردة موجود شوی ، او د اهلیت ختمېدل د دې دواړو وختونو په منځ کې اسناد منع کوي نو د اهلیت دوام شرط شو د ردة څخه تر مرګ پورې:

اوس که ځینې  ورثه د ردة په وخت کې مسلمانان وي او بیا د اسلام څخه مُرتد شي مخکې د مرګ د مُرتد (اول) نه نو دوی به میراث نه وړي او همدارنګه کوم وزثه چې د مُرتد د مرګ څخه مخکې مړه شي دوی به هم میراث نشي وړی.

دلیل د اول روایت: میراث تابع د ده د زوال د ملک او ملک خو په ردة سره ختمیږي د کوم وخت نه چې ردة موجود شوی ؤ نو میراث ثابتیږي په دغه وخت کې په  د ظهور سره

او که څوک دا ووایي چې دلته میراث مخکې د مرګ نه واجبیږي نو مونږ وایو چې دا صحیح نده بلکې دا میراث واجبول دي پس له مرګه ځکه چې ردة په معنی د مرګ دی ځکه دا هم هغه عمل کوي کوم چې مرګ کوي چې هغه زوال د ملک ؤ ، نو د ردة معنی مرګ شو.

**د صاحبینو په نزد باندې** اهلیة د ورثه ؤ د مرګ څخه معتبر دی ځکه د دوی په نزد باندې ملکیت په مرګ سره

ختميږي ، نو اهلية د ورثه ؤ به په دغه وخت کې معتبرولی شي نه بل وخت کې [1].
همدا شان امام ابو یوسف او امام مُحمد رحمهم الله اختلاف نظر کړی د هغه مُرتد په باره کې چې دارالحرب پورې یوځای شي او قاضي د ده دارالحرب پورې د یوځای کېدو فیصله وکړي د ده په هکله د ورثه ؤ اهلیت د قضا د وخت نه به معتبرولی شي او که د مُرتد داراحرب ته د یوځای کېدو له وخته معتبرولی شي.
**نو د امام ابو یوسف** رحمة الله علیه **په نزد باندې** د وراثة اهلیت د قضا د وخته پورې معتبر دی.
**او د امام مُحَمَّد** رحمة الله علیه **په نزد باندې** د دارالحرب ته د یوځای کېدو له وخته معتبر دی.
**د امام مُحَمَّد** رحمة الله علیه **د قول دلیل** دا دی چې: د میراث وخت هغه وخت دی چې زوال د ملک راشي او د مُرتد ملک ختمیږي په داراحرب ته د یو ځای کېدو سره ځکه چې په دې سره دا عاجزه شي د ګټې د خپل مال چې ده نه په دارالاسلام کې پاتې شوی دی البته دا عاجزه کېدل د قضا څخه مخکې ثابت نه ده ځکه چې دلته احتمال شته چې دا واپس راوګرځي خو چې کله قاضي فیصله وکړه نو عجز ثابت شو او بیا د دې نه وروسته راګرځېدل عادتا ممتنع دی نو د دغه وخت څخه اهلیت د میراث معتبرولی شي.
**او د امام ابو یوسف** رحمة الله علیه **د قول دلیل** دا دی چې: د مُرتد ملک تر هغه وخته پورې نه ختمیږي تر څو پورې چې د قضا فیصله نه وي شوي نو د ملک په ختمېدو کې د قضا فیصله مؤثره ده.
او همدا اختلاف په هغه ښځه کې دی چې هغه مُرتده شي او دارالحرب ته یوځای شي او که ښځه او خاوند مُرتد شي په یو ځای باندې او بیا د دې اولاد پیدا شي او د ماشوم پلار د ردة په حال کې ووژلی شي نو که دا ماشوم د هغه وخت نه چې پلار یې مُرتد شوی دی د شپږ میاشتو څخه کم وخت کې پیدا شي نو دا به میراث وړي ځکه دلته معلومه شوه چې دا عمل په حالت داسلام کې قطعا حاصل شوی او که دا ماشوم د شپږو میاشتو څخه وروسته پیدا شي د ردة د وخت څخه نو دا به میراث نه وړي ځکه دلته احتمال شته چې دې ښځې به دا حمل د ردة به حالت کې اخیستی وي نو شک پیدا شو نو دلته به میراث نه وړي او که یواځې خاوند مُرتد شي بغیر د ښځې نه او یا د ده داسې وینځه وي چې د ده نه یې اولاد شوی وي نو په دې صورت کې به دا میراث وړی د نورو مسلمانانو سره اګر که دا د شپږو میاشتو نه پس پیدا شوی دی ځکه چې د ده مور مسلمانه ده نو بچی به هم مسلمان حسابیږي د مور تابع به وي نو د پلار څخه هم میراث وړلای شي.
او که یو مسلمان سړی مړ شي او ښځه یې حامله وي پس د مرګ څخه دا مُرتده شوه او دارالحرب سره یو ځای شوه او په دار الحرب کې یې بچی پیدا شو او بیا مسلمانان په دار الحرب باندې غالب شول نو دا ماشوم به نشي غلام کولای او دا به د خپل پلار څخه میراث وړي دا د خپل پلار تابع ده په دین کې او که د دې ښځې بچی ونشو تر دې چه مسلمانانو په قید کې راوسته او بیا یې بچی پیدا شو په دار الاسلام کې نو دا به مسلمان وي او غلام به

---

١ : **صاحبین**: یوه فقهي اصطلاح ده چې که چېرته په یوه فقهي موضوع کې امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام مُحَمَّد رحمة الله علیه په یو نظر وي ، دې ته په اسلامي فقه کې صاحبین وایي. **طرفین**: یوه فقهي موضوع ده اچې که چېرته په یوه فقهي موضوع کې امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام ابو یوسف رحمة الله علیه او یا هم امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام مُحَمَّد رحمة الله علیه په یو نظر وي ، دې ته په اسلامي فقه کې طرفین وایي.

وي دا ماشوم به په اسلام کې د پلار تابع وي او په غلام والي کې به د مور تابع وي او په دې وخت کې دا د خپل پلار څخه میراث نشي وړی ځکه غلام والی د میراث مانع دی او که مُرتد یوې مسلمانې ښځې سره نکاح وکړې او بیا د دې ښځې هلک پیدا شي او یا دا مُرتد یوې مسلمانې ښځې سره جماع وکړی او د دې څخه بچی پیدا شي نو دا بچی به مسلمان وي د مور تابع به وي په اسلام کې او د خپل پلار څخه به میراث هم وړي ځکه چې نسب یې ثابت دی.

او که مور یې کافره وي نو په دې باندې د اسلام حکم نشي کولای ځکه په مور او پلار کې د یو اسلام هم ندی موندلای شوی.

**د مُرتد د مړینې په صورت کې د هغه د مال حکم:**

د اسلامي امت فقهاء ټول په یو اتفاق سره په دې نظر دي چې د مُرتد مال باید له مُرتد څخه واخیستل شي او ورته پرېنښودل شي ، دا ځکه چې د د مُرتد د ملک حکم د ارتداد له ورځې څخه جاري دی.

حضرت علی کرم الله وجهه د یو نصراني شیخ په باره کې چې مسلمان شوی ؤ او بېرته منکر شوی ؤ وایي:

کېدای شي چې ته د دې لپاره مُرتد شوی وې تر څو د میراث وړ وګرځې او بیا بېرته مسلمان شې ، هغه ښځې وویل چې نه کېدای شي کومه ښځه دې خوښه وي او هغې انکار کړی وي او ته د دې لپاره نصراني شوی یې چې هغه په نکاح کړې او بېرته مسلمان شې ، نصراني شیخ وویل چې نه ، تر هغې پورې بېرته اسلام ته نه راګرځم تر څو مې چې له مسیح علیه السلام سره ملاقات نه وي شوی ، حضرت علي رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ امر وکړ او له هغه څخه یې سر غوڅ کړو او مال یې مسلمان زوی ته په میراث پاتې شو.

دا چې د مُرتد مال چاته ورکړل شي ، په دغه هکله علماي کرام لاندې نظریات لري:

- **د احنافو علماؤ له نظره:**
  - **حضرت امام ابو حنیفه** رحمة الله علیه وایي چې: مُرتد له خپل مال څخه په مؤقت ډول سلب ملکیت کیږي ، او تر څو چې یې د اسلام او کفر معلومات نه وي شوي مال به یې محفوظ وي ، که چېرته دوباره مسلمان شو نو بیا کولای شي چې له خپل مال څخه استفاده وکړي او که چېرې دوباره مسلمان نه شو ، نو هغه مالونه یې چې د اسلام څخه مخکې تر لاسه کړي دي ، د هغه ورثه ؤ ته ورکول کیږي او هغه مالونه چې د مُرتد کیدو څخه وروسته تر لاسه کړي دي ، بیت المال ته سپارل کیږي.

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه نظریه په هدایه کې په دې ډول سره ذکر شوې ده چې:

**و ان مات او قتل علی ردة انتقل ماکتسبه فی اسلامه الی ورثة المسلمین و کان ماکتسبه فی حال ردته**

**فيأ عند أبی حنيفة** رحمة الله عليه **.** [1]

- **صاحبين** وايي چې: د مُرتد تول مال د هغه ورثه ۆ ته ورکول کيږي.

د صاحبينو نظريه په هدايه کې په دې ډول سره ذکر شوې ده چې:

و ان مات او قتل على ردة انتقل ماكتسبه ............ **كلاهما لورثته.** [2]

- **د جمهور علماؤ (امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل) له نظره:**

مُرتد تول مال بيت المال ته سپارل کيږي

د جمهورو علماؤ پورته نظريه په هدايه کې په دې ډول سره ذکر شوې ده چې:

و ان مات او قتل على ردة انتقل ماكتسبه ............ **كلاهما فئ، لأنه مات كافر والمسلم لا يرث الكافر.** [3]

**ج: د مُرتد د دين يا قرض حکم:** د اسلامي أُمت تول فقهاء په دې باندې متفق دي چې د مُرتد قرضونه او ديون بايد اداء شي او په دې کې کوم اختلاف نشته ، اما دا چې د مُرتد قرضونه به د مُرتد د کوم مال څخه ادء کيږي ، په دې هکله فقهاؤ لاندې نظريات وړاندې کړي دي:

**او د امام ابو حنيفه** رحمة الله عليه **په نزد باندې** نو د ده څخه ابو يوسف نقل کړی دی چې د ده قرض به د هغه مال څخه اداء کولای شي کوم چې يې په ردة کې گټلی وي البته که د دې څخه پوره نشو نو بيا به د هغه مال څخه اداء کولای شي چې په اسلام کې يې گټلی دی. [4]

**د امام ابو يوسف** رحمة الله عليه **او امام مُحَمَّد** رحمة الله عليه **په نزد باندې** د ده قرضونه به د ده د هغه مال څخه اداء کولای شي چې ده په اسلام کې کسب کړي دي او يا يې په ردة کې ځکه د ده دا تول مال د ده به نزد باندې ميراث دی. [5]

**او د حسن** رحمة الله عليه **څخه نقل دی** چې دا به د هغه مال څخه اداء کولای شي چې په اسلام کې يې کسب کړی وي البته که پوره نشو نو بيا به د هغه مال څخه ادء کولای شي چې په ردة کې يې گټلی دی. [6]

**او د حسن** رحمة الله عليه **څخه دا هم نقل شوی** دی چې د اسلام د حالت قرضونه به د اسلام د گټلي مال څخه اداء کيږي او د ردة د حالت قرض به د ردة د حالت د گټلي مال څخه اداء کيږي او د ا قول د امام زفر هم دی او د حسن روايت دی ځکه چې قرض د انسان د خپل مال څخه اداء کيږی نه د بل د مال څخه. [7]

---

۱: **الهداية فی شرح البداية:** أبي الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغيناني ، المتوفى سنة ۵۹۳ ه ، المكتبة الرشيديه ، د چاپ كال ۱۴۳۵ ه ، كتاب الحدود ، احكام المُرتدين ، ج ۱ ، ص ۵۷۷، ج ۲ ، ص ۵۷۸

۲ : **الهداية فی شرح البداية:** باب احكام المُرتدين ، ج ۲ ، ص ۵۷۸

۳ : **الهداية فی شرح البداية:** باب احكام المُرتدين ، ج ۲ ، ص ۵۷۸

٤ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۵

۵ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۵

٦ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۵

۷ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:** باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۵

**همدارنګه د مړي قرض به د مړي د مال څخه اداء کیږی** نه د وارث د مال څخه ځکه د قرض موجودوالی د ملکیت ختمیدل منع کوی په اندازه د قرض باندې ځکه قرض مخکې دی په میراث باندې نو قرض به د مړي د ټول مال څخه اداء کیږي نه د مړی د ورثه و د مال څخه او د ده مال هغه دی چې په اسلام کې یې ګټلی دی.[1]

او هر چه د ردة په حالت کې ګټه ده دا د ټولو مسلمانانو مال دی نو د ده څخه به قرض نشي اداء کولای مګر د ضرورة په بناء باندې ، نو چې کله ده په اسلام کې ګټلی مال د قرضونو د اداء کولو لپاره نه پوره کیږي ، نو اوس ضرورت پیدا شو چې باقي قرض به د همدې څخه اداء کیږي.[2]

## د مُرتد د میراث حکم:

هر کله چې یو سړی مُرتد شي ، نو مُرتد شوی کس له خپلو خپلوانو څخه د میراث حق نلري ، ځکه چې مرتد له اسلام څخه اوښتی دی او ایمان نلري او په مثل د کافر دی ، او کافر له مسلمان څخه میراث نه وړي.

د نبي کریم ﷺ حدیث شریف دی چې: « لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلاَ يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ ».[3]

ژباړه: کافر له مسلمان څخه او مسلمان له کافر څخه میراث نه وړي.

نو د پورته حدیث شریف څخه دا واضح شوه چې مرتد له خپلو خپلوانو څخه میراث نشي وړلای. دا چې د مرتد مال به په میراث وړل کیږي او که نه او مال به یې څه کیږي ، نو په دغه اړوند په پوره تفصیل سره هر اړخیزه بحث وشو او دلته ورته بیا اړتیا نه لیدل کیږي.

## د مُرتد د تصرفاتو حکم:

د مُرتد د تصرفاتو څخه لاندې تصرفات د اهمیت وړ دي:

1. هغه تصرفات چې په اتفاق سره نافذیږي: لکه طلاق ځکه چې طلاق په تمامیت سره په ولایت پورې ارتباط نلري نو که چېرې د مُرتد لخوا صادر شي نافذیږي.
2. هغه تصرفات چې په اتفاق سره باطل کیږي: لکه نکاح او ذبحه ځکه چې دا دواړه په دین پورې اړه لري او مُرتد دین (اسلام) نلري.
3. هغه تصرفات چې په اتفاق سره موقوف کیږي: لکه معاوضه شرکت ځکه چې دغه شرکتونه د شریکانو په مساوات باندې متکي دي او د مسلمان او مُرتد تر منځ مساوات منځ ته نه راځي تر هغې چې مُرتد بېرته مسلمان شوی نه وي.

نوټ: معاوضه شرکت هغه شرکت ته وایي چې دوه نفره په دین ، مال او تصرفاتو کې سره مساوي وي.

---

۱ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۵

۲ : **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۵

۳: **صحيح البخاري**: د حدیث شمېره ، ۶۳۸۳ . او **صحيح المسلم**: د حدیث شمېره ، ۴۲۲۵ . او **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۲۳ . **الأم**: ج ۶ ، ص ۱۶۹

د مُرتد د تصرفاتو په هکله پورته بحث تر سره شو ، دلته يې بيا يادوونې ته کومه اړتيا نه ليدل کيږي.

## څلورم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اولاد پورې اړه لري:

**الف: د مُرتد د اولاد حکم:**

که چېرې حمل مخکې له مُرتد کېدو څخه صورت نيولی وي ، په دغه صورت کې اولاد مسلمان ګڼل کيږي.

**امام ابو يوسف** رحمة الله عليه **وايي چې:** که يو له والدينو څخه مسلمان وي او حمل صورت نيولی وي ، نوموړی اولاد مسلمان ګڼل کيږي.

اما د هغه چا په هکله چې دواړه مور او پلار يې مُرتد شوي وي ، اختلاف نظر موجود دی.

د مُرتد اولاد به د دغه دوه حالتو څخه خالي نه وي يا به په اسلام کې پيدا شوی وي او يا به په ردة کې پيداشوی وي ،

**که اولاد يې د اســـلام په حالت کې پيدا شوی وي:** که ښځه او خاوند دواړه مسلمانان ؤ او د دوی څخه د اسلام په حالت کې بچی پيدا شو او بيا دوی مُرتدين شول نو تر څو چې دوی په دارالاسلام کې وي د ماشوم په ردة باندې به حکم نشي کولای ځکه چې کله دا اولاد پيدا شو نو د ده مور او پلار مسلمانان ؤ او د مور او پلار د تابعيت په وجه باندې به د ده په اسلام باندې حکم کولای شی ، نو تر څو پورې چې دوی په دارالاسلام کې وي د دوی اولاد به په حکم د اسلام کې وي.

او که دا مُرتدين (مور او پلار) خپل بچی دارالحرب ته بوځي او بيا دا بچی لوی شي او بيا د ده بچی پيدا شي او دا غټ شي او په دوی باندې مسلمانان غالب شي ، نو په دې صورت کې د مُرتد او د مُرتدې حکم خو معلوم دی چې مُرتد به غلام کولای نشي او مُرتده ښځه به وينځه کولای شي او قتلولای به نشي بلکې په اسلام باندې به مجبورولای شي په قيد کولو سره ، نو د پلار بچی به په اسلام باندې مجبورولای شي او قتلولای به نه شي ځکه چې د ده مور او پلار د اسلام په وجه باندې مسلمانان منل شوي ؤ نو هر کله چې د پلار څخه مُرتد شو نو مُرتد باندې به په اسلام جبر کولای شي البته دا به نشي قتلولای ځکه د ده ردة حکمي دی حقيقي ندی ځکه چې د ده ايمان حقيقتا نه ؤ بلکې تبعا ؤ نو په اسلام باندې به مجبورولای شي په قيدي کولو سره ، نه په توري سره ، ځکه چې حکم به د علت په اندازه ثابتيږي ، زياتيږي به نه.

**ب: د مُرتد د اولاد د اولاد حکم:**

د مُرتد د بچی په بچي (لمسي) باندې د اسلام جبر نشي کولای ځکه لمسی د نيکه تابع کيږي ، ولی که داسې ونه شي او جبر پرې وشي نو بيا خو به ټول کفار مُرتدين شي ځکه چې دوی ټول د ابو البشر حضر آدم عليه السلام او د نوح عليه السلام اولاده دي نو بيا خو مناسبه ده چې په دوی باندې د ردة احکام جاري شي ، او حال دا چې په اجماع سره داسې نده چې په لمسي باندې دې جبر وشي.

**که اولاد يې د ارتداد په حالت کې پيدا شوی وي:** يعنې ښځه او خاوند دواړه مُرتد شي اود ردة څخه وروسته

ښځه د مُرتد خاوند ځخه حمل واخلي او د دوی ارتداد باقي وي نو دا بچی په حکم د ردة کې د مور او پلار په شان دی ، که چېرته دا ماشوم مړ شو نو په ده باندې د جنازې لمونځ نشي کولای.

او که ښځه او خاوند دا بچی ځان سره دارالحرب ته بوځي او دا هلته بالغ شي او بیا د ده څخه نور اولاد پیدا شي او دوی هم بالغان شي او په دغه حالت کې مسلمانان په دوی باندې غلبه وکړي او دا ټول بندیان کړي نو د مُرتد په بچي او لمسیانو باندې به جبرا اسلام قبلولای شي او وژلی به نشي دغه شان امام مُحَمَّد رحمة الله علیه په کتاب السیر کې لیکلی او په جامع الصغیر کې هم لیکل شوي دي چې په لمسیانو باندې به جبر نشي کولای.

د اول قول دلیل دا دی چې د پلار ځوی د پلار تابع دی نو په دې باندې به د متابعت په وجه باندې د ردة فیصله کیږي: او په مُرتد باندې د اسلام جبر کولای شي البته دا به ځکه نشي قتلولی چې د ده ردة حکمي دی نو جبر به په بند باندې کولای شي.

او د جامع الصغیر روایت دلیل دا دی چې دې بچي باندې د متابعت په وجه باندې د ردة فیصله وکړای شوه او یو تابع د بل چا تابع کیدای نشي.

د ارتداد په اړوند د غلام کولو په احکامو کې په سیر کتاب کې هم دا خبره لیکل شوې ده چې:

أ) **ښځې او ماشومان:** ښځې او ماشومان به غلامان کړای شي دا ځکه چې د دوی مور مُرتده ده او په دې کې د وینځې احتمال شته ، نو اولاد به یې هم په غلام کېدلو کې د مور تابع کړای شي.

په جامع الصغیر کې لیکل شوي دي چې ماشوم اولاد به فئ وي.

ب) **بالغ سړي:** بالغ سړي به نه غلامان کیږي ، بلکې په دوی باندې به په اسلام راوړلو باندې جبر کولای شي.

هر چه اولی دی د دوی مور مُرتده ده او د دې بل قول دلیل دا دی چې دا اهلي کافر دی ځکه په بلوغ سره د مور او پلار تابعیت مُرتد کېدو کې قطع شو او دا خو کافر دی نو کافر اصلی شو ، د غلام کیدو احتمال پکې پیدا شو.

او که ښځه مُرتده شي او دا حامله وي او بیا د دارالحرب سره یوځای شي او بندي شي او همداسې حامله وي نو د دې ولد فئ دی ، ځکه دا ولد په بندي کېدو د مور سره پیوسته دی او دا په حکم د جز د مور کې دی نو د مور نه د بیلتون په وجه به نه باطلیږي.

**د ردة اړوند د ذمي د غلام کولو احکام:**

کوم ذمي چې خپل لوظ او تعهد مات کړي او دارالحرب سره پیوسته شي دا په ټولو احکامو کې په شان د مُرتد دی ، صرف فرق دی دواړو کې په دې کې دی چې ذمي به غلام کیږي او مُرتد به غلام کولای نشي.

او په دې حکم ځکه سره بیل شو چې غلام کېدل وسیله ده د اسلام راوړلو ، او د مُرتد غلام کول د اسلام راوړلو لپاره وسیله نه ده ، دا ځکه چې دې خو د اسلام د مبارک دین خوند ، لذت او محاسن کتلي ؤ او بیا وروسته له هغه څخه مُرتد شو ، نو د ده څخه د اسلام امید نشي کیدلای په خلاف د ذمي نه ، د چا څخه چې د اسلام امید کېدای شي ، او ده (ذمي) خو د اسلام خوند ، لذت خوبیاني او محاسن عملا ندي کتلي ، پس له ده څخه د اسلام

راوړلو امید شته.
والله سُبحانه اعلم

## او ښځه به غلام کولای نشي:

**او ځنې د احکامو د ردة څخه هغه دا دي چې ښځه غلام کولای نشي** اګر که دا د دارالحرب سره یوځای شي ځکه چې د ده په حق کې یو له دغه دوو تصامیمو څخه نیول کیږي چې یو رجوع د اسلام مبارک دین ته ده او بل د عدم رجوع په صورت کې د ده قتلول په توره باندې دي ، په دغه هکله الله تعالی ﷻ په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿ قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ فَإِن تُطِيعُوا يُؤْتِكُمُ اللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا وَإِن تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾[1]

ژباړه: دغه بېرته پاتې کېدونکو کلیوالي عربو ته ووایه چې ډېر ژر به تاسې له داسې خلکو سره د جنګېدو لپاره وبلل شئ چې ډېر قوي دي ، یا به له هغو سره جګړې ته دوام ورکوئ ، یا به هغوی غاړه کښېږدي ، په هغه وخت کې که تاسې د جهاد د حکم اطاعت وکړ ، نو الله ﷻ به تاسې ته غوره اجر درکړي او که تاسې په همغه شان مخ واړاوه لکه څنګه چې مو مخکې اړولی ؤ ، نو الله ﷻ به تاسې ته دردناکه عذاب درکړي.

همدارنګه د حضرت ابوبکر رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ په زمانه کې په دې باندې د صحابه کرامو اجماع شوې ده.

او بل دلیل دا هم دی چې غلام کول اسلام طرف ته یو وسیله ده ، او د مخکې دلیل په اساس باندې د مُرتد غلام کول د اسلام لپاره وسیله نه ګرځي. په همدې وجه دا (مُرتد سړی) به اصیل هم نشي پرېښودلی ، په خلاف د مُرتدې ښځې چې کله دا (مُرتده ښځه) د دارلحرب سره یوځای شي دا به وینځه کولای شي ځکه چې د دې قتل ندی راغلی.

دا هم جایز نده چې کافر په کفر باندې پاتې شي مګر داچې یا خو د دې څخه جزیه واخیستل شي او یا دې غلام کړای شي ، او په کافرو ښځو باندې خو جزیه نشته ، نو د کفر په حالت کې پاتې کېدو سره د وینځې توب څخه په دې کې د مسلمانانو لپاره نفع ده چې دا کافره پاتې شي بغیر د څه شي نه.

همدارنګه صحابه کرامو به د هغه عربو ښځې چې مُرتدې شوې وې ، وینځې ګرځولې ، تر دې چې ویل شوي دي چې د مُحَمَّد بن الحنفیه مور چې خوله بنت ایاس ده دا هم د بنی حنفیه په قیدیانو کې وه.

او ځنې د احکامو څخه دادي چې د دوی څخه جزیه اخیستل حرام دي.

## پنځم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد په اجتماعي امورو پورې اړه لري:

ارتداد د مُرتد په اجتماعي امورو باندې هم منفي اثرات لري چې په یوه اسلامي ټولنه کې مسلمانان د مُرتد څخه

---

[1] : د الفتح سورت: ۱۶ آیت

نفرت او کرکه کوي ، ارتباطات ورسره قطع کوي ، او د اسلامي ټولنې هر وګړی په دې هېله وي چې مُرتد د خپلو اعمالو په سزا (قتل) باندې ورسيږي ، که چېرته په ټولنه کې په مُرتد باندې قصاص واجب شي ، نو هغه څوک به يې وژني چې خپل قصاص ترې واخلي او مرتد دې قتل کړي. [1]

## شپږم مطلب: د ارتداد هغه احکام چې د مُرتد د اعمالو پورې اړه لري:

ارتداد يو بد ترين جُرم دی کوم چې د مُرتد په اعمالو باندې ډېر منفي اثرات لري ، حتی د مُرتد مخکيني اعمال څه چې يې په دنيا کې کړي دي ټول له منځه ځي او مُرتد له دنيا څخه هلاک کيږي.

الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ [2]

ژباړه: له تاسې څخه چې هر څوک له دې دين څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنيا او آخرت دواړو کې برباد او ضايع شي ، داسې خلک ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کې اوسيږي.

**او د عباداتو په هکله:** په دغه اړوند دوه نظره موجود دي:

- د احنافو به نزد باندې: په ده باندې هېڅ قسمه عبادت واجب ندی ځکه کفايه احکامو پورې مخاطب ندی
- د شوافعو په نزد باندې: عبادت پرې واجب دی ،[3] او دا مسئله د اصول فقهې ده چې دلته يې مونږ مختصره يادوونه وکړه.

**د مُرتد د اعمالو حکم:**

که چېرته يو مسلمان مرتد شي او توبه ونه باسي او د ارتداد په حالت کې مړشي يا قتل شي ، نو په دې کې د فقهاؤ تر منځ هېڅ اختلاف نشته چې د دغه مرتد ټول اعمال ضايع شو ، اما که چېرته يو مرتد بېرته توبه وباسي او مسلمان شي ، نو آيا د توبې څخه وروسته يې پخواني نېک اعمال باطل کيږي او که نه؟ په دغه مورد کې د فقهاؤ تر منځ اختلاف نظر موجود دی او هغه دا چې:

حضرت امام ابو حنيفه وايي چې: که يو نفر مُرتد شي ، د مُرتد کېدو سره سم يې ټول اعمال باطل کيږي او نيک اعمال يې ټول ضايع کيږي ، [4] د مثال په ډول: که يو مسلمان حج اداء کړی وي او بيا ورسوته له حج څخه مُرتد شي او بيا بېرته توبه وباسي او مسلمان شي ، نو مخکينی حج يې په ارتداد سره له منځ لاړو او بيا به له سره د حج

---

[1] : **آداب المفتى والمستفتى:** ج ۲ ، ص ۶۹۷
۲ : **د البقرة سورت:** ۲۱۷ آيت
[3] : **بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع:** ج ۷ ، ص ۱۳۶
٤ : **عزيزُ التفاســير:** لأبو حذيفه مولوى سلطان عزيز "عزيز" ، ناشر دارالكنوز العلمية ، ج ۱ ، ص ۵۲۶

فریضه اداء کوي ، دلیل یې دا قول د الله تبارک و تعالی ﷻدی چې په قرآنکریم کې فرمایي:

﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ [1]

ژباړه: او هر چا چې د ایمان پر تګلاره له تلو څخه انکار وکړ ، نو د هغه د ژوند ټول کړه وړه بې ځایه شول او هغه به په آخرت کې د زیانکارانو څخه (تش لاس بېوزلی) وي.

حبط د حباط څخه اخیستل شوی دی کوم چې د یو څاروي د واښو نوم دی او چې کله یې یو څاروی وخوري نو خېټه یې پړسیږي او مړ کیږي چې بیا یې خوړل بې فایدې شي ، نو ارتداد هم یو داسې عمل دی چې کله یو څوک مُرتد شي او ارتداد وکړي نو اعمال یې بې فایدې شي.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د مفهوم صفت ته اعتبار نه ورکوي او په پورته آیت شریف باندې استدلال کوي ، والمطلق لا یحمل علی المقید عند الحنفیة. [2]

حضرت امام شافعي وایي چې: که یو نفر مُرتد شي ، او د ارتداد په حالت کې په قتل ورسیږي او یا مړ شی ، اعمال یې باطل کیږي ، اما که چېرته توبه وباسي او بېرته مسلمان شي ، نو په دغه صورت کې یې اعمال نه باطل کیږي. [3]

دلیل یې دا قول د الله تبارک و تعالی ﷻدی چې په قرآنکریم کې فرمایي:

﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ [4]

ژباړه: له تاسې څخه چې هر څوک له دې دین څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنیا او آخرت دواړو کې برباد او ضایع شي ، داسې خلک ټول دوزخیان دي او تل به په دوزخ کې اوسیږي.

## د مُرتد د حج حکم:

د مُرتد د هغه حج په هکله چې مخکې له ارتداد څخه یې اداء کړی وي، فقهاء دوه نظره لري:

- **احناف او مالکیه** په دې نظر دي چې: که یو چا مخکې له ارتداد څخه حج اداء کړی وي او بیا وروسته له هغه څخه مُرتد شي ، نو په مُرتد کېدو سره یې حج باطل کیږي او باید دوباره حج اداء کړي. [5]
- **شوافع او حنابله** په دې نظر دي چې: که یو چا مخکې له ارتداد څخه حج اداء کړی وي او بیا وروسته له هغه څخه مُرتد شي ، نو هماغه حج یې صحیح دی او د هغې اعاده پرې لازمه نده. [1]

---

١ : **د المائدة سورت:** ٥ آیت

٢ : **تفسیر ایوبي حنفي:** لمولانا مُحَمَّد عبیدالله الایوبی "الحنفي" ، طبع مکتبة القرائة والتجوید ، ج ٣ ، ص ٣٦٤

٣ : **عزیزُ التفاسـیر:** ج ١ ، ص ٥٢٦. او تفسیر ایوبي حنفي ، ج ٣ ، ص ٣٦٤

٤ : **د البقرة سورت:** ٢١٧ آیت

٥: **عزیزُ التفاسـیر:** أبو حذیفه مولوی سلطان عزیز "عزیز" ، ناشر دارالکنوز العلمیة ج ١ ، ص ٥٢٦ ؛ **تفسیر ایوبي حنفي:** ج ٣ ، ص ٣٦٤ ؛ **رد المختار:** ج ٥ ، ص ٣٣٨

### د مُرتد د لمونځ حکم:

د مرتد د هغه لمونځونو په هکله چې له ارتداد څخه يې مخکې اداء کړي وي ، فقهاء دوه نظره لري:

- **احناف او مالکيه** په دې نظر دي چې: د مُرتد پخواني لمونځونه د ارتداد څخه وروسته باطلیږي ، که توبه وباسي او که نه ، د ارتداد په عمل سره يې پخواني ټول اعمال باطل کيږي.[2]
- **امام شافعي** وايي چې: د مُـرتد پـخواني لمونځـونه بعد له توبې څخه په خپل ځای باقي پاتې دي او نه باطل کيږي ،[3] د مثال په ډول که يو مسلمان د ماسپښين لمونځ اداء کړي او بيا مُرتد شي او مخکې له دې څخه چې د ماسپښين د لمانځه وخت پای ته ورسيږي ، بيرته توبه وباسي او مسلمان شي ، نو په دې صورت کې د ده پخوانی د ماسپښين لمونځ صحيح دی.[4]

### د مُرتد د روژې حکم:

د مرتد د هغه روژو په هکله چې له ارتداد څخه يې مخکې نيولي وي ، فقهاء دوه نظره لري:

- **احناف او مالکيه** په دې نظر دي چې: د مُرتد روژه نه اعاده کيږی.
- **امام شافعي** وايي چې: مُرتد بايد بعد له توبې څخه د خپلې روژې قضايي اداء کړي.

### اووم مطلب: د مُرتد د ذبيحې او حلالې حکم:

د مُرتد ذبيحه حرامه ده ځکه چې د دې ايمان نشته ،[5] په دغه هکله فقهای کرام داسې وايي چې:

**لا تأكل ذبيحة المُرتد.**[6] ژباړه: د مُرتد ذبيحه مه خوری.

څرنګه چې د غير مسلمو ذبيحه بغير له اهل کتابو څخه حرامه ده نو مُرتد هم د اسلام له دايرې څخه وتلی دی او په غير مسلمو کې راځي نو ذبيحه يې هم حرامه ده ،[7] او د ده د لاس د ذبح شوي حيوان غوښه ونه خوړل شي.

---

١ : **الدر المختار**: باب قضاء الفوائت ، ج ٢ ، ص ٧٥ . **رد المختار**: باب قضاء الفوائت ، ج ٥ ، ص ٣٣٨ . **عزيزُ التفاســير** ، ج ١ ، ص ٥٢۶. او **تفسير ايوبي حنفي** ، ج ٣، ص ٣۶۴

٢: **عزيزُ التفاســير** ، ج ١ ، ص ٥٢۶. او **تفسير ايوبي حنفي** ، ج ٣، ص ٣۶۴

٣ : **عزيزُ التفاســير** ، ج ١ ، ص ٥٢۶. او **تفسير ايوبي حنفي** ، ج ٣، ص ٣۶۴

٤ : **تفسير ايوبي حنفي** ، ج ٣، ص ٣۶۴

٥ : **الأم**: باب الخلاف فى المرتد ، ج ۶، ص ١۶۴ ; **اعتقاد أهل السنة**: لامام أبوبكر بن قاسم الرحبى ، ج ١ ، ص ٢٧

٦ : **الأم**: باب الخلاف فى المرتد ، ج ۶، ص ١۶۴ ; **المغني**: باب لايؤكل صدى مرتد و لا ذبيحة ، ج ١١ ، ص ٣٣.

٧ : **أبحاث هيئة كبار العلماء**: ج ٢ ، ص ۶۶٩

## دويم مبحث: د مُرتد د اســتتابې يا (توبه ويســتلو) احکام

د ارتداد په مورد کې توبه هغه څه ده چې مُرتد د ارتداد له اصلي سزا (قتل کولو) څخه ژغوري ، اکثره وخت ارتداد د شک او شُبهې په اساس منځ ته راځي او دا هغه شک او شُبهه ده چې په نفس کې پيداکيږي او د ايمان مزاحمت کوي ، نو په کار ده چې دغه شخص ته وخت ورکړی شي ، تر څو ورته دلايل وړاندې شي او را پيدا شوي شک او شُبهات يې له منځه يوړل شي ، په زړه کې يې له اسلام سره دوباره مينه پيدا شي او بېرته مسلمان شي. نو لازمه ده تر څو د مُرتد پر بېرته ايمان روړلو باندې کوښښ وشي او په اسلام راوړلو باندې مجبور شي ،[1] تر څو ايمان راوړي او له سره مسلمان شي ، او شخص ته وخت او مهلت ورکړل شي تر څو په خپله مفکوره باندې تجديد نظر وکړي او د دلايلو په اورېدلو او تشريح کولو سره بېرته د اسلام مقدس دين ته رجوع وکړي ، که چېرته يې د دلايلو په اورېدلو او تشريح سره اسلام ته بېرته رجوع وکړه ، ښه تر ښه ، توبه يې قابل د قبول ده ، او که يې د دلايلو په اورېدلو او تشريح سره دوباره اسلام ته رجوع ونکړه نو د ارتداد احکام پرې جاري کيږي.

### لومړی مطلب: د مُرتد توبه کول او د اســـتتابې حکم:

**د مُرتد څخه د توبې غوښتنه: هر کله چې يو مسلمان مُرتد شي آيا د ده د ارتداد له ثبوت څخه وروسته به دا وژلی شي او يا ترينه د توبې طلب ضروري دی ؟ او که په خپل ارتداد پاتې شو آيا قتل يې واجب دی اوکه نه ؟**

د اسلامي اُمت ټولو فقهاؤ په يو غږ سره ويلي دي چې که يو څوک د اسلام څخه واوړي ، که بل دين خوښ کړي او که نه ، نو قتل يې واجب دی ، اما دا چې د توبې په هکله ترينه غوښته وشي او که نه ؟ که د توبې غوښتنه ترې وشي ، آيا د توبې غوښتنه ورڅخه واجب ده او که مستحب ده؟ يا دا چې که د توبې غوښتنه ترې وشي او هغه منکر شي ، آيا وخت ورته ورکړل شي او که نه سمدلاسه ووژل شي؟ په دې هکله د فقهاؤ تر منځ اختلاف نظر موجود دی کوم چې موږ په دغه بحث کې تر څېړنې لاندې نيولی دی.

د ارتداد د احکامو څخه يو حکم دادی چې د ده څخه د توبې غوښتنه وشي او اسلام ورته وړاندې شي چې د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه له نظره دغه اسلام وړاندې کول ورته مستحب دي ځکه احتمال لري چې اسلام راوړي خو دا کارو اجب نه دی ، ځکه ده ته د اسلام دعوة رسېدلای دی. نو امام به ده ته مهلت ورکوي که د ده په توبه کې طمع پيداشوه او يا نېته يې و غوښته ، نو امام به درې ورځې وخت ورکړي او که په اسلام کې يې طمع نه وه ، او نه ده وخت طلب کړو نو همدغه وخت باندې به وژلی شي.

د دې لپاره دليل هغه روايت د حضرت عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ دی چې د ده خواته د مسلمانانو د لښکر نه يو نفر راغلو ورته يې وويل چې آيا تاته د لښکر په باره کې معلومات شته ؟ دې سړي ورته وويل چې هو ، يو سړی پس د اسلام څخه کافر شوی ، نو عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ ورته وويل چې ولې مو په يو کوټه کې نه اچولو او خوراک

[1] : کتاب سير: ج ۱ ، ص ۴۰۵

به مو پرې کړی وای درې ورځې او د توبې غوښتنه به مو ترې کړې وای کېدای شي چې توبه يې ويستې وه او بيا حضرت عمر رضى اللهُ تعالى عنهُ  وويل چې يا الله ﷻ، زه نه موجود وم ، او نه مې ورته امر کړی ؤ ، او نه پرې خوښ وم چې کله ما ته خبر راورسېد. [1]

همدارنګه د حضرت على رضى اللهُ تعالى عنهُ  څخه روايت دی چې فرمايي:

عَنْ عَلِيٍّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: يُسْتَتَابُ الْمُرْتَدُّ ثَلاَثًا ثُمَّ قَرَأَ (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا )[2]

ژباړه: مُرتد ته به درې ورځې مهلت ورکولای شي ، او بيا يې د قرآن کريم دا آيت شريف تلاوت کړو:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا [3]

ژباړه: بيشکه هغه کسانو چې ايمان راوړی دی او بيا کافران شوي دي ، بيا يې هم ايمان راوړی او بيا کافران شوي دي ، بيا يې خپل کفر زياد کړو ، الله ﷻ به هېڅ کله هم دوی ونه بښي او ورته به د نېکې لارې هدايت وکړي.

او کېدای شي چې ده ته دا شک يا شبه پيدا شوي وي او دا باعث ګرځېدلای وي په ردة باندې نو درې ورځې مهلت به ورکړې شي کېدای شي په دې کې د ده شبه لرې شي نو دا درې ورځې به وسيله شي د ده اسلام راوړلو ته او که د توبې غوښتنې څخه مخکې ووژلای شو دا کار مکروه ده او په وژونکي باندې هېڅ نشته.

امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه هم د پورته حديث شريف په نظر کې نيولو سره د مرتد لپاره درې ورځو وخت ته ترجيح ورکوي تر څو په دغه دريو ورځو کې مرتد توبه وباسي. [4]

## آيا د مرتد څخه به د توبې غوښتنه کيږي او که نه ؟

په دغه هکله د حضرت معاذ بن جبل رضى اللهُ تعالى عنهُ  څخه لاندې حديث روايت شوی دی چې فرمايي:

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَجُلاً أَسْلَمَ ثُمَّ تَهَوَّدَ فَأَتَى مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَهُوَ عِنْدَ أَبِي مُوسَى فَقَالَ مَا هَذَا قَالَ أَسْلَمَ ثُمَّ تَهَوَّدَ قَالَ : لاَ أَجْلِسُ حَتَّى أَقْتُلَهُ قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولِهِ [5]

ژباړه: له حضرت معاذ بن جبل رضى الله عنه څخه روايت دی هغه د يو سړي په اړوند چې مسلمان شوی ؤ بيا

---

۱: **الموطاء:** كتاب الاقضية باب القضاء فيمن ارتد عن الاسلام ، (۷۳۶/۲)، او **بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع** ، باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۱۸

۲: **السـنن الكبرى للبيهقي:** باب من قال يستتاب ثلاث مرات ، ج ۸ ، ص ۲۰۷ ، د حديث شمېره ۱۷۳۴۳ ؛ **عمدة القارى شرح صحيح البخارى:** باب حكم المرتد و المرتدة ، ج ۳۴ ، ص ۴۰۴ ، د حديث شمېره ۱۴۷۵ ؛ **كنز العمال فى سنن الأقوال والأفعال:** باب الارتداد و أحكامه ، ج ۱ ، ص ۳۱۴ ؛ او **بدائع الصنائع فى ترتيب الشـرائع:** باب احكام المرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۱۸

۳: **د النساء سورت:** ۱۳۷ آيت

۴ : **الشرح الكبير:** ج ۲ ، ص ۶۷۰

۵ : **عمدة القارى شرح صحيح البخاري:** باب هل يقضى الحاكم أو يفتى و هو غضبان ، ج ۳۵ ، ص ۲۲۷ ، د حديث شمېره ۷۱۵۷ ؛ **مسند الصحابه فى الكتب التسعة:** باب مسن عبدالله ابن عباس رضى الله تعالى عنه ، ج ۳۲ ، ص ۱۱۹

يهودي شو وويل تر هغه پورې نه کينم تر څو چې هغه نه وي وژلی شوی ، د اد الله ﷻاو د رسول ﷺ قضاء ده ، د ابو داؤد په روايت کې راغلي دي چې و کان قد استتيب قبل ذالک ، يا د دې څخه وړاندې ورځخه د توبې غوښتنه وشوه.

او علامة ابن حجر عسقلاني[1] په بلوغ المرام کې ، او همدارنګه په سبل السلام فی شرح بلوغ المرام کې د همدغه حديث شريف په آخر کې دا الفاظ راوړي دي چې فامر به فقتل [2] يعنې امر وشو هغه يې وواژه.

البته د معاذ مقصد هغه حديث ؤ چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي ؤ چې: چا چې دين بدل کړو هغه ووژنۍ ، د دې تخريج مخکې شوی دی.

حديث شريف په دې دلالت کوي چې د مُرتد وژل واجب دي او په دې کې د علماؤ اجماع ده ، د فقهاؤ تر منځ اختلاف په دې کې دی چې آيا د مُرتد د وژلو څخه مخکې د هغه څخه توبه غوښتل واجب دي او که نه ؟

جمهور علماء په دې نظر دي چې لومړی به ورڅخه د توبې ويستلو غوښتنه کيږي ځکه د ابو داؤد په روايت کې همدا راغلي دي او د هغه په بل روايت کې راغلي دي چې ابو موسی اشعري رضی اللهُ تعالی عنهُ[3] ورڅخه د توبې ويستلو غوښتنه کوله ، معاذ راغی هغه هم همدا غوښتنه ورڅخه کوله ، مګر هغه نه منله ، بيا يې ترې غاړه ووهله.

د توبې څخه مخکې د مُرتد قتل مکروه دی.[4]

په دې باندې د علماؤ اجماع ده چې که يو مسلمان يو مرتد په قتل ورسوي نو ديت پرې نشته.[5]

اهل ظاهر باالخصوص ابن حزم ظاهري[6] ، حسن او طاؤس په دې نظر دي چې د توبې ويستلو غوښتنه د مُرتد څخه واجب نده ، بلکې سمدلاسه به وژل کيږي ، ځکه چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي چې :

---

[1] : پوره نوم يې أحمد بن علي بن مُحَمَّد الكناني العسقلاني ، أبو الفضل ، شهاب الدين ، ابن حجر دی ، د علم او تاريخ د علماؤ څخه دی او بيا د حديثو په علم کې هم مخکښ شو ، په ۷۷۳ ه کې په د مصر په قاهره کې زيږيدلی دی اما په اصل کې د فلسطين د عسقلان دی ، د يو څه مودې لپاره په مصر کې د قضاء په دنده وګومارل شو ، بالآخره په ۸۵۲ ه کې په مصر کې وفات شو. وګوره [الاعلام للزرکلي: ج ۱ ، ص ۱۷۸]

۲ : **سبل السلام فی شرح بلوغ المرام:** للامام مُحَمَّد بن اسماعيل الامير اليمينی الصنعانی ، ج ۱ ، ص ۶۵۵

[3] : پوره نوم يې عبد الله بن قيس بن سليم دی ، په ۲۱ ه ق کې زيږيدلی ، او د نبي کريم ﷺ صحابي دی ، اصلا د يمن دی او د اسلام د ظهور په وخت کې مکې ته راغلو او اسلام يې قبول کړو ، حبشې ته يې هم هجرت کړی دی ، د اصفحان او اهواز فاتح د ، د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په وخت کې يې د بصرې او د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په وخت کې يې د کوفې د والي په حيث دندې تر سره کړي دي او د حضرت علی کرم الله وجهه او معاويه رضی الله تعالی عنه د تحکيم په قضيه کې يو د حکمينو څخه ؤ ، د تحکيم څخه وروسته کوفې ته لاړو او په ۴۴ ه کې هملته وفات شوی دی. وګوره [الأعلام للزرکلي: ج ۴ ، ص ۲۵۴] او [موسوعة الفقهي: ج ۲ ، ص ۷۸]

٤ : **رد المختار:** باب مطلب توبة اليأس مقبولة دون ايما اليأس ، ج ۱۶ ، ص ۳۲۰

[5] : **شرح زاد المستقنع:** منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن ادريس البهوتی ، المتوفی سنة ۱۰۵۱ ه ق ج ۴ ، ص ۳۶۳

[6] : پوره نوم يې أبو مُحَمَّد ، علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الظاهري دی ، په ۳۸۴ ه کې په اندلس کې زيږيدلی دی ، د خپل عصر ښه عالم ؤ ، ابن حزم وزير ؤ او بيا يې وزارت پريښود علم او تأليف ته يې مخه کړله ، نوموړی فقيه ؤ او د کتاب او سنتو څخه د اهل الظاهر په طريقه استنباط کوي ، مشهور تأليفات يې " المحلی " په فقه کې ، " الإحكام في أصول الأحكام " په اصول فقه کې او " طوق الحمامة " د أدب په برخه کې دی ، په ۴۵۶ ه کې وفات شوی دی. وګوره [الأعلام للزرکلي: ج ۵ ، ص ۵۹] او [موسوعة الفقهي: ج ۱ ، ص ۲۱۲]

عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [1]

ژباړه: له ابن عباس رضی اللّهُ تعالی عنهُ څخه روایت دی هغه وایي چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې دين بدل کړو و يې وژنئ. بخاري روایت کړی دی. ، په دې حديث کې فا د تعقيب غوښتنه کوي ، لکه څرنګه چې دا واضح ده ، بله دا چې د مُرتد حکم د حربي د حکم په شان دی ، هغه حربي چې دعوت ورته رسېدلی وي ، د هغه سره به جنګ کيږي او دعوت به نه ورکول کيږي ، بلکې دعوت د هغه چا لپاره مشروع دی چې له اسلام څخه وتلی وي خو دغه وتل يې د پوهې له مخې نه وي ، مګر که څوک د بصيرت له مخې ووځي نو بيا به سمدلاسه فورا وژل کيږي.

له حضرت ابن عباس رضی اللّهُ تعالی عنهُ او عطاء څخه روايت دی چې که چېرې د اصل څخه مسلمان ؤ نو بيا ورڅخه د توبې غوښتنه نه کيږي ، او که د اصل څخه مسلمان نه ؤ ورڅخه به د توبې غوښتنه کيږي ، د دوی څخه دغه خبره طحاوي نقل کړې ده ،

هغه فقهاء چې د مُرتد څخه په توبه ويستلو باندې قايل دي ، هغوی په خپل منځ کې اختلاف نظر لري او هغه دا چې آيا د توبې ويستلو غوښتنه به ترې يوځل کيږي او که درې ځلې ، آيا په يو مجلس کې درې ځلې که درې ځلې په دريو جلا جلا مجلسونو کې ؟ دا به په يوه ورځ کې وي او که په درې ورځو کې ؟

د حضرت علي کرم الله وجهه څخه روايت دی چې فرمايي: د مُرتد څخه به يوه مياشت د توبې غوښتنه کيږي.

**د توبې غوښتني په هکله د فقهاؤ نظريات: د مُرتد د توبې په هکله د فقهاؤ اقوال په لاندې ډول سره دي:**

**لومړی نظريه: د مُرتد څخه د توبې غوښتنه نشــــته:**

پورتنی نظريه د لاندې فقهاؤ لخوا ورکړل شوې ده:

**امام حســـن بـــصري** رحمة الله عليه [2] وايي چې: د مُرتد څخه د توبې غوښتنه نده پکار بلکې فی الفور دې ووژل شي.

فقهاؤ پورته نظريات د لاندې دلايلو په اساس باندې وړاندې کړي دي:

**د لومړی نظريې ( د مُرتد څخه د توبې غوښتنه نشته ) دلايل:**

1. نبي کريم ﷺ د هغه شخص په قتل حکم فرمايلی دی چې څوک خپل دين بدل کړي او يا خپل دين پريږدي او فرمايلي يې دي: عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [3]
2. په پورته حديث کې او د توبې غوښتلو په هکله هېڅ ندي ويل شوي ، لکه چې الله تبارک و تعالی ﷻ د

---

[1]: **صحيح البـــخاری**: ، ج ۶، ص ۲۵۳۷ ، د حديث شمېره ۶۵۲۴

[2]: پوره نوم يې عبدالملک بن عبدالعزيز بن جريج ، ابو الوليد يا ابو خالد دی ، چې په ۸۰ هـ ق کې زيږېدلی ، په اصل کې رومي دی ؛ خو د قريشو له مواليو څخه دی ، د حجاز امام وو او په مکه کې لومړنی مصنف يا ليکوال وو. د خپل عصر ښه عالم او فقيه ؤ او د تقوی او پرهېزګاری بېلګه وي ، نوموړی په ۱۵۰هـ کال کې وفات شوی دی. وګوره [تذکرة الحفاظ: ج ۱ ، ص ۶۰].

[3]: **صحيح البـــخاری**: ، ج ۶، ص ۲۵۳۷ ، د حديث شمېره ۶۵۲۴

مشرکانو د قتل په هکله امر کړی دی او د توبې غوښتنې یادوونه پکې نده راغلې ، لکه چې فرمايي:

﴿فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ [1]

ژباړه: نو کله چې حرامې مياشتې تېرې شي ، نو مشرکان ووژنئ چېرې چې يې ومومئ او هغوی ونيسئ او ايسار يې کړئ ، او په هر څارنځي کې د هغوی لپاره کښېنئ ، نو که هغوی توبه وباسي او لمونځ قايم کړي او زکات وکړي ، نو خوشي يې کړئ ، الله ﷻ ښښونکی او رحم کوونکی دی.

3. د دې سره که چېرته هغوی توبه کړې وه مونږ به ورته هېڅ هم نه ؤ ويلي حال دا چې مُرتد د کافر څخه په کفر کې سخت دی ځکه

4. چې مُرتد له اسلام څخه منحرف شوی دی ، هر کله چې د يو حربي بندي وژل د توبې غوښتنې څخه پرته جايز دي نو د مُرتد وژل د توبې د غوښتنې څخه پرته په طريق اولی سره جايز دي ، او په دې کې باريکي دا ده چې مونږ د کافر وژل تر هغه پورې جايز نه ګڼو تر خو ځان پرې پوه کړو چې آيا ده ته د حضرت مُحَمَّد ﷺ د دين دعوت ور رسېدلی دی او که نه ؟ ځکه د هغه کافر وژل په اسلام کې صحيح ندي چې اسلامي دعوت ورته نه وي رسېدلی ، حال دا چې مُرتد ته د اسلام دعوت ور رسېدلی دی او بيا ترينه ګرځېدلی دی نو روا ده چې د توبې ويستلو د غوښتنې څخه پرته لکه د اصلي کافر غوندې ووژل شي ، د دغه نظر لرونکي فقهاء لاندې دلايل وړاندې کوي:

**لومړی دليل** دا دی چې: د مکې د فتحې په ورځ نبي کريم ﷺ د دريو مرتدينو وينه هدر وګرځوله ، مقيس بن صبابه ، عبدالله بن خطل او عبدالله بن ابی سرح ، چې مقيس بن صبابه او عبدالله بن خطل په قتل سره ورسېدل او د عبدالله بن ابی سرح سره بيعت وځنډول شو تر خو چې څوک قتل کړي ، نو معلومه شوه چې د مُرتد د وينې تويول (وژل) مخکې له توبې څخه هدر ده.

**دويم دليل** داد دی چې: نبی کريم ﷺ د عينينو وينه د توبې د غوښتنې څخه پخوا هدر ګرځولې وه او هغوی هم مُرتدين ؤ.

**دريم دليل** دا دی چې: مُرتد داسې يو عمل تر سره کړی دی چې د توبې غوښتنې پرته د قتل مستحق دی لکه اصلي کافر ، محسن زاني ، قاطع الطريق او داسې نور. [2]

## دويمه نظريه: د مُرتد څخه بايد د توبې غوښتنه وشي:

د دغه نظريې فقهاء بيا په خپلو دوه نور فرعي نظريات لري او هغه دا چې ځينې فقهاء د توبې غوښتنه مُستحب او

---

۱: د التوبه سورت: ۵ آيت

۲: الصارم المسلول: ص ۳۲۲

ځيني فقهاء يې واجب بولي:

أ) **هغه فقهاء چې د مُرتد شخه د توبې غوښتنه مُستحب بولي:** احناف (امام ابو حنيفه او صاحبين رحمهم الله عليهم)

**امام ابو حنيفه** رحمة الله عليه وايي چې: د مرتد شخه د توبې غوښتنه مستحب ده او فی الحال ترينه د توبې غوښتنه واجب نده ، بلکې د حاکم لخوا به وژلی شي ، اما که په خپله د توبې غوښته وکړه نو درې ورځې وخت به ورته ورکړل شي.[1]

د استتابې په هکله استاذ داکتر وهبة الزهيلي داسې وايي:

**اما الاستتابة قبل القتل، فيستحب عن الحنفية أن يستتاب المُرتد و يعرض عليه الاسلام، لاحتمال أن يسلم، لکن لا يجب، لأن دعوة الاسلام قذ بلغته، فان أسلم فمرحبا به.** [2]

ژباړه: د قتل شخه مخکې استتابه د احنافو علماؤ له نظره مستحب ده چې مُرتد ته اسلام وړاندې شي او توبه وباسي ، ځکه د دې احتمال شته چې مسلمان شي ، مګر د مُرتد شخه د توبې غوښتنه واجب نه ده ، ځکه ده ته د اسلام دعوة مخې رسېدلی دی ، نو که اسلام يې راوړو ده ته ښه راغلاست دی.

مولانا عبدالحی رحمة الله عليه په خپل کتاب الهداية فی شرح بداية کې په باب احکام المُرتدين کې داسې ليکلي دي چې:

**و عن ابی حنيفه و ابی يوسف انه يستحب أن يؤجله ثلثة ايام طلب ذالک (عرض الاسلام) او لم يطلب.** [3]

د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهم الله عليهم په نزد باندې دا مستحب دی چې مُرتد ته دې درې ورځې وخت ورکړل شي چې اسلام ته بېرته راشي.

همدارنګه په هداية کې ذکر شوي دي چې که چېرې مُرتد مخکې له وړاندې کولو د اسلام شخه قتل شي ، نو په قاتل باندې څه شی نشته ، بلکې مستحب يې ترک کړو ، کوم چې مُرتد ته د اسلام عرض کول ؤ.

**فان قتله قاتل قبل عرض الاسلام عيه کره و لا شيئ علی القاتل و معنی الکراهية هناک ترک المستحب.** [4]

ژباړه: که چېرته مخکې د اسلام له وړاندې کولو شخه يو چا مُرتد په قتل سره ورسولو نو په قاتل باندې څه شی نشته او کراهيت يې وکړو او د کراهيت معنی دا ده چې مستحب يې ترک کړو.

د احنافو په نزد باندې مستحب دی چې مُرتد ته د توبې لپاره درې ورځې وخت ورکړل شي او په محبس کې د درې ورځو لپاره بندي شي او هره ورځ به ورته په محبس کې اسلام وړاندې کيږي ، **و يحبس ثلاثة أيام عند الحنفية، و يعرض عليه الاسلام فی کل يوم، فان أسلم فبها، و ان لم يسلم قتل، لحديث:** (عَنْ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ

---

[1]: **بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع**: ج ۶ ، ص ۱۲۳

۲: **الفقه الاسلامی و أدلته**: فصل السادس ، حد الردة و احکام المُرتدين ، ج ۶ ، ص ۱۷۶

۳: **الهداية فی شرح البداية**: باب احکام المُرتدين ، ج ۲ ، ص ۵۷۶

٤: **الهداية فی شرح البداية** ، باب احکام المُرتدين ، ج ۲ ، ص ۵۷۷

ﷺ : « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [1]). [2]

**صاحبين** (امام ابو یوسف او امام مُحَمَّد رحمهما الله علیهما) ویلي دي چې: اګر که مُرتد وخت ونه غواړي ، درې ورځې وخت ورته د توبې ویستلو لپاره مستحب دی. [3]

**ب) هغه فقهاء چې د د مُرتد څخه د توبې غوښتنه واجـــب بولي:** جمهور فقاء (امام مالک ، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهم الله علیهم).

**امام مالک** رحمة الله علیه وایي چې: د توبې غوښتنه ترې واجب ده ، که چېرته فی الحال یې توبه وویستله نو توبه یې صحیح ده ، او که فی الحال یې توبه ونه ویستله نو درې ورځې وخت باید ورته ورکړل شي ، که چېرته یې د درې ورځو په جریان کې توبه وویستله صحیح ده ، او که د درې ورځو په جریان کې یې توبه ونه ویستله نو واجب القتل دی او باید ووژل شي. [4]

**امام شافعي** رحمة الله علیه وایي چې: د توبې غوښتنه ترې واجب ده ، [5] او په وخت ورکولو کې ترې هم دوه قوله دي: لومړی قول دادی چې وخت ورته ورکړل شي او دویم قول دادی چې که مُرتد په خپل ارتداد باندې کلک ولاړ وي او وخت وغواړي نو باید وخت هم ورنکړل شي او باید فورا ووژل شي. [6]

**امام احمد بن حنبل** رحمة الله علیه: په یو قول کې د امام مالک رحمة الله علیه سره ملګری دی او په بل قول کې د توبې غوښتنه واجب نه ګڼي او په وخت ورکولو کې هم د ده په مذهب کې اختلاف دی چې آیا درې ورځې وخت ورکول واجب دي او که نه. [7]

**د دویمې نظریې ( د مُرتد څخه توبه غوښتنه واجب یا مستحب ده) دلایل:**

هغه فقهای کرام چې د مُرتد څخه د توبې ویستلو غوښتنه مستحب بولي وایي چې اصلي کافر ته خو په کار ده چې د توبې غوښتنه ترینه وشي ، که یې توبه وویستله نو ښه تر ښه او که د توبې ویستلو څخه یې انکار وکړو نو بیا به وژل کیږي ، همدارنګه د مُرتد څخه هم پکار ده چې د توبې غوښتنه وشي او لاندې دلایل وړاندې کوي:

1. لومړی دلیل: الله ﷻ په قرآنکریم کې فرمایي:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا إِن يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِن يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴾ [8]

ژباړه: ای پېغمبره کفارو ته ووایه چې که دوی د خپلو کړو وړو څخه ځان منع نکړي او توبه وکړي دوی ته د

---

[1]: **صحیح البـــخاری:** ، ج ۶ ، ص ۲۵۳۷ ، د حدیث شمېره ۶۵۲۴

۲: **الفقه الاسلامي و أدلته:** فصل السادس ، حد الردة و احکام المُرتدین ، ج ۶ ، ص ۱۷۷

۳: **تحفة الفقهاء:** ج ۲ ، ص ۵۳۰ . **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع:** ج ۷ ، ص ۱۳۴

٤: **تفسیر قرطبي مالکی** ، ج ۳ ، ص ۴۷

[5]: **المغني:** کتاب الردة ، ج ۴ ، ص ۱۳۹. **حاشیة البجیرمي** ، سلیمان بن عمر بن مُحَمَّد البجیرمي ، ج ۴ ، ص ۲۰۸

٦: **الأم:** ج ۶ ، ص ۳۲

۷: **الانصاف:** ج ۱۰ ، ص ۳۲۸

۸: **د الأنفال سورت:** ۳۸ آیت

پخوانیو ګناهونو بخښنه کیږي.

په دغه آیت شریف کې الله سُبحانهُ و تعالی ﷺخپل پیغمبر په دې باندې مامور کړی دی چې کفارو ته ووایې چې له خپل شرک او بدو اعمالو څخه توبه وکړي ، همدا د استتابې معنی ده او مُرتدین خو هم کافر دي ، او دلته امر د وجوب لپاره دی ، نو معلومه شوه چې له مُرتد څخه د توبې غوښتنه واجب ده ، او دغه دلیل نیول ضعیف دی چې وویل شي چې دوی ته د اسلام دعوت رسېدلی دی ځکه چې دغه کفر د هغه بل کفر څخه جدا او خاص دی ، د هغه بل کفر خاوندان ټول وژلی شي او د ده څخه خو د توبې غوښتنه لا نده شوې نو وژل به یې څرنګه جایز وي.

2. **دویم دلیل:** په مکه مکرمه کې حارث بن سوید مُرتد شوی ؤ ، نو د اسلام ستر پیغمبر حضرت مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ حارث بن سوید ته د توبې غوښتنلیک واستاوه ترڅو نوموړی توبه وباسي.
3. **دریم دلیل:** د حضرت جابر رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه روایت شوی حدیث: عن جابر رضی اللهُ تعالی عنهُ قال أَنَّ امْرَأَةً يُقَالُ لَهَا: أُمُّ مَرْوَانَ , ارْتَدَّتْ عَنْ الْإِسْلَامِ , فَبَلَغَ أَمْرُهَا إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَمَرَ أَنْ تُسْتَتَابَ , فَإِنْ تَابَتْ , وَإِلَّا قُتِلَتْ.[1]

ژباړه: د ام مروان په نوم یوه ښځه وه او مُرتده شوې وه ، رسولُ الله ﷺ وفرمایل: تاسې هغه بېرته اسلام ته راوبلی ، که اسلام یې ومنلو صحیح ده او که اسلام یې ونه منلو نو ویې وژنی ، هغه ښځې د اسلام له راوړلو څخه انکار وکړو نو ووژل شوه.

نو د پورته حدیث شریف څخه معلومه شوه چې رسولُ الله ﷺ د استتابې په هکله امر فرمایلی دی او امر د وجوب لپاره دی.

4. **څلورم دلیل:** د حضرت بي بي عایشې څخه روایت شوی حدیث: عَنْ عَائِشَةَ رضی اللهُ تعالی عنها قَالَتِ ارْتَدَّتِ امْرَأَةٌ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَمَرَ النَّبِيُّ ﷺ أَنْ تُسْتَتَابَ فَإِنْ تَابَتْ وَإِلاَّ قُتِلَتْ.[2]

ژباړه: د حضرت بي بي عایشة صدیقة رضی اللهُ تعالی عنها څخه روایت دی چې فرمايي: په احد کې یوه ښځه مُرتده شوې وه نو نبي کریم ﷺ امر وکړ چې اسلام ته یې روابلی یعنې د توبې غوښتنه باید چې ترینه وشي ، که یې توبه وویستله ښه تر ښه او که نه نو وژل کیږي

نو د پورته حدیث شریف څخه معلومه شوه چې رسولُ الله ﷺ د استتابې په هکله امر فرمایلی دی او امر د وجوب لپاره دی.

5. **پنځم دلیل:** د صحابه کرامو رضی اللهُ تعالی عنهُ م اجماع ده.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ قَدِمَ عَلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ رَجُلٌ مِنْ

---

۱ : **المفصل فی شرح حدیث من بدل دینه فاقتلوه:** ج ۲ ، ص ۱۷۰ ، د حدیث شمېره ۷۰۸۴

۲: **سنن الدارالقطنی:** ج ۳ ، ص ۱۱۸ ، د حدیث شمېره ۱۲۱

قِبَلِ أَبِى مُوسَى فَسَأَلَهُ عَنِ النَّاسِ فَأَخْبَرَهُ ثُمَّ قَالَ : هَلْ كَانَ فِيكُمْ مِنْ مُغَرِّبَةِ خَبَرٍ ؟ فَقَالَ : نَعَمْ رَجُلٌ كَفَرَ بَعْدَ إِسْلاَمِهِ. قَالَ : فَمَا فَعَلْتُمْ بِهِ ؟ قَالَ : قَرَّبْنَاهُ فَضَرَبْنَا عُنُقَهُ قَالَ عُمَرُ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ فَهَلاَّ حَبَسْتُمُوهُ ثَلاَثًا وَأَطْعَمْتُمُوهُ كُلَّ يَوْمٍ رَغِيفًا وَاسْتَتَبْتُمُوهُ لَعَلَّهُ يَتُوبُ أَوْ يُرَاجِعَ أَمْرَ اللَّهِ اللَّهُمَّ إِنِّى لَمْ أَحْضُرْ وَلَمْ آمُرْ وَلَمْ أَرْضَ إِذْ بَلَغَنِى. قَالَ الشَّافِعِىُّ فِى الْكِتَابِ : وَمَنْ قَالَ لاَ يُتَأَنَّى بِهِ زَعَمَ أَنَّ الْحَدِيثَ الَّذِى رُوِىَ عَنْ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ لَوْ حَبَسْتُمُوهُ ثَلاَثًا لَيْسَ بِثَابِتٍ لأَنَّهُ لاَ يَعْلَمُهُ مُتَّصِلاً وَإِنْ كَانَ ثَابِتًا كَانَ لَمْ يَجْعَلْ عَلَى مَنْ قَتَلَهُ قَبْلَ ثَلاَثٍ شَيْئًا. [1]

د عبدالرحمن بن مُحَمَّد بن عبدالاري څخه روایت دی چې یوه ورځې د ابو موسی اشعري لخوا حضرت عمر رضی اللّهُ تعالی عنهُ ته یو قاصد راغی او د هغه ځای پوره راپور او جریان یې ورته وړاندې کړو ، حضرت عمر رضی اللّهُ تعالی عنهُ ورڅخه پوښتنه وکړه چې آیا هلته خو کومه نوې پېښه نه وه شوې ؟ نو هغه قاصد ورته وویل چې یو سړی له اسلام څخه کفر ته اوړېدلی ؤ (مُرتد شوی ؤ)، نو حضرت عمر رضی اللّهُ تعالی عنهُ ورته وویل چې تاسې له هغه سره څه وکړل ؟ هغه سړي ورته وویل چې سر مو ترینه غوڅ کړو ، نو حضرت عمر رضی اللّهُ تعالی عنهُ وویل: فهلا حسبتموه ثلاثا ، و اطعمتومه کل یوم رغیفا و استبتموه لعله یتوب و یرجع الی امرالله ، اللهم انی لم احضر و لم امر ولم ارض اذا بلغنی.

ژباړه: تاسې ولې درې ورځې ندی بندي کړی ، چې هره ورځ به مو یوه ډوډۍ ورکولا او د توبې غوښتنه به مو ترینه کړې وای ، شاید چې توبه یې کړې وای ، او د الله ﷻ دین ته به مو راګرځولو ، یا الله ﷻ ته شاهد یې چې زه هلته حاضر نه وم او نه مې پرې امر کړی دی ، څه وخت چې زه خبر شوم پرې خوښ هم نه یم.

که چېرته استتابه واجب نه وه ، نو حضرت عمر رضی اللّهُ تعالی عنهُ به خپله بېزاري ولې داسې کلکه اعلانوله ، نو معلومه شوه چې د مُرتد څخه د استتابې غوښتنه واجب ده.

6. **شپږم دلیل**: د عبدالله بن ابي سرح ، د مقیس بن صبابه او عبدالله بن خطل واقعه کې چې مقیس بن صبابه او عبدالله بن خطل په قتل رسېدلي دي نو په هغو کې یواځې ارتداد نه ؤ بلکې هغوی په رسولُ الله ﷺ باندې لعن ، طعن او د ذم قصیدې ویلې وې ، نو ځکه د توبې ویستلو څخه پرته ووژل شول.
7. **اووم دلیل**: د عرینینو په موضوع کې هم یواځې ارتداد نه ؤ بلکې هغوی د ارتداد څخه علاوه د لارې شکولو په جرم هم مرتکب شوي ؤ چې د صدقې د اوښانو خاروانان یې وژلي ؤ او اوښان یې له ځان سره بوتللي ؤ ، نو ځکه د توبې ویستلو څخه پرته ووژل شول.

### دریمه نظریه: د مرتد څخه د توبې غوښتنه د مرتد د حالت پورې اړه لري:

پورتنۍ نظریه د حضرت عطاء بن أبي رباح لخوا ورکړی شوې ده چې د توبې په هکله باید د مُرتد تیر حالت ته ولیدل شي:

---

۱: **سنن الکبری البیهقي**: باب من قال یحبس ثلاثة أیام ، ج ۸ ، ص ۲۰۶ ، د حدیث شمېره ۱۷۳۴۱

- که چېرته په اسلام کې زیږېدلی ؤ یعنې مور او پلار یې مسلمانان ؤ او بیا مُرتد شي نو د هغې څخه به د توبې غوښتنه نه کیږي بلکې مخامخ به ورته د مرګ سزا ورکول کیږي.[1]
- او که چېرته کافر مسلمان شوی وي او بیا مُرتد شي نو له هغه څخه به د توبې غوښتنه کیږي او وخت ورکول ورته پکار دي.[2]

## خلورمه نظریه: د مرتد څخه باید په کراتو او مراتو باندې د توبې غوښتنه وشي:

پورتنۍ نظریه د لاندې فقهاؤ لخوا ورکړل شوې ده:

1. **علامه أبي عبدالله قرطبي رحمة الله علیه**[3] وایي چې: انه یستتاب مائة مرة.[4]
2. **امام سفیان ثوري رحمة الله علیه**[5] وایي چې: مُرتد به بندیخانې ته واچول شي او ټول عمر به ترینه د توبې غوښتنه کولی شي ، نوموړي دا قول د امام ابراهیم نغعي رحمة الله علیه څخه اخیستی دی.

## د توبې لپاره د وخت او زمان اندازه یا مهلت:

د اسلامي اُمت ټول فقهاء په یو اتفاق سره د استتابې د مهلت په هکله سره متفق دي چې باید مُرتد ته دې وخت ورکړل شي ، اما دا چې د استتابې لپاره څومره وخت مُرتد ته ورکړل شي په دغه هکله علمای کرام اختلاف نظر لري ، ځنې علماء وایي چې درې ورځې دې مُرتد ته وخت ورکړل شي تر څو په د غه درې ورځو کې مُرتد توبه وباسي او بېرته اسلام ته رجوع وکړي ، او ځنې علماء وایي چې مُرتد ته دې تر هغې پورې وخت ورکړل شي تر څو چې مُرتد د خپل نفس او فکر په توجه او مناقشه باندې قادر شي او یقین یې په ګمان باندې غالب شي که چېرې دا ثابته شوه چې دغه مُرتد هېڅ کله نه مسلمان کیږي نو بیا دې پرې حد تطبیق شي.

- **د احنافو فقهاؤ په نزد:** د مُرتد لپاره درې ورځې وخت دی چې توبه وباسي ، اما دغه درې ورځې وخت ضروري او لازمي ندی بلکې استحسانا مستحب دی.

---

[1]: **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة**: باب احکام المرتدین ، ج ۴ ، ص ۱۴۴

[2]: **صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح مذاهب الأئمة**: باب احکام المرتدین ، ج ۴ ، ص ۱۴۴

[3]: پوره نوم یې أبی عبدالله مُحَمَّد بن أحمد بن مُحَمَّد بن یحی بن مفرج القرطبي دی ، په ۳۱۵ ه کې زیږېدلی دی ، د قرطبة له قبیلې څخه دی ، مشرق ته یې لوی لوی سفرونه کړي دي ، مهم تألیفات یې فقه الحسن البصري ، فقه الزهري دی ، د قضاء دنده یې هم تر سره کړې ده او په ۳۸۰ ه کې وفات شوی دی.

[4]: **تفسیر احکام القرآن**: ج ۳ ، ص ۴۷

[5]: پوره نوم یې سفیان بن سعید بن مسروق الثوري ، من بني ثور بن عبد مناة ، من مضر ، أبو عبد الله دی ، په ۹۷ ه کال کې په کوفه کې زیږېدلی دی ، د زهد او تقوا خاوند او د حدیثو اوچت عالم ؤ ، عباسي خلیفه منصور ورته د قضاء د دندې وړاندیز وکړو خو ده ترې انکار وکړو ، په ۱۴۴ ه کې د کوفې څخه ووت او د یو څه وخت لپاره یې په مکه مکرمه او مدینه منوره کې استوګنه غوره کړه ، بیا مهدي بصرې ته وغوښت او په بصره کې وفات شو. وګوره [الاعلام للزرکلي: ج ۳ ، ص ۱۰۴]

○ **د امام شافعي رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه په نزد:** د مُرتد د توبې لپاره درې ورځې وخت واجب دی چې باید مُرتد ته دغه درې ورځې وخت ورکړل شي او پیشنهاد ورته ورکړل شي چې هغه توبه وباسي.

**د احنافو علماء یا هغه علمای کرام چې وایي درې ورځې دې مُرتد ته د استتابې لپاره وخت ورکړل شي** [1] **،  دلایل په لاندې ډول سره دي:**

**لومړی دلیل:** د امیر المؤمنین حضرت عمر رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ خدمت ته یو سړی حاضر شو ، حضرت عمر رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ ترې پوښتنه وکړه چې آیا له لېرې ښارونو څخه څه احوال لرې ؟ هغه سړی ورته وویل چې او ، یو سړی مُرتد شوی ؤ ، حضرت عمر رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ ترې پوښتنه وکړه چې تاسې له هغه سره څه وکړل ؟ هغه سړي ورته وویل چې د هغې له تنې څخه مو سر غوڅ کړو ، حضرت عمر رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ ترې بیا پوښتنه وکړه چې آیا ولې مو هغه درې ورځې په کور کې حبس (بندي) نه کړو او د هغه په باره کې مو ولې دا کوښښ ونکړو چې بېرته ایمان راوړي او د خپل عمل څخه توبه وباسي شاید چې هغه شخص ایمان راوړی وای او د الله تبارک و تعالی ﷻامر ته یې غاړه ایښې وای. بیا حضرت عمر رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ آسمان طرف ته مخ کړ او ویې ویل چې یا الله ﷻ! زه حاضر نه وم ، امر مې ندی کړی او څه وخت چې دغه حکم ابلاغ شو ، زه پرې راضي نه یم ، یا الله ﷻ! زه ستا بارګاه ته پناه دروړم چې ما د دغه سړي په خون کې مه نیسه.

**د امام شافعي، امام مالک او یا هغه علمای کرام چې وایي مُرتد ته دې تر هغه د استتابې لپاره وخت ورکړل شي تر څو چې توبه وباسي، دلایل په لاندې ډول سره دي:**

**لومړی دلیل:** دا حدیث شریف دی چې:

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَجُلاً أَسْلَمَ ثُمَّ تَهَوَّدَ فَأَتَى مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَهْوَ عِنْدَ أَبِي مُوسَى فَقَالَ مَا هَذَا قَالَ أَسْلَمَ ثُمَّ تَهَوَّدَ قَالَ : لاَ أَجْلِسُ حَتَّى أَقْتُلَهُ قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولِهِ ، [2]

کله چې حضرت معاذ بن جبل رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د ابو موسی اشعري رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ خواته یمن ته ورغی نو د هغې په خوا کې یې یو بندي ولیدو کوم چې تړل شوی ؤ ، حضرت معاذ رضی الله تعالي عنه ترې پوښتنه وکړه چې دا څوک دی ؟ هغوی ورته وویل چې دا سړی پخوا یهودي ؤ بیا مسلمان شو ، ولې اوس بېرته یهودي شوی دی ، په دغه وخت کې حضرت معاذ رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ وویل چې تر هغې نه کینم تر څو دې دا سړی وژلی نه وي ، ځکه چې دا د رسولُ الله ﷺ امر دی ، دا خبره یې درې ځلې تکرار کړه تر څو چې دا سړی ووژل شو ، ابو موسی اشعري دغه سړي تقریبا یوسل او شل ورځې بندي کړی ؤ او هره ورځ به یې ورته توبه عرض کووله.

**دویم دلیل:** اما ابن طحال له حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت کوي چې مُرتد ته باید یوه میاشت توبه

---

[1] : **احکام التعامل مع غیر المسلمین:** ج ۱ ، ص ۱۳

۲: **عمدة القاري صحیح البخاري:** ج ۳۵، ص ۲۲۷ ، د حدیث شمېره ۷۱۵۷

عرض شي.
د عبدالرزاق رحمة الله عليه په قول مُرتد ته باید دوه میاشتې توبه عرض شي.
لکه څرنګه چې مو پورته یادوونه وکړه چې د اسلامي اُمت فقهاء د توبې په هکله دوه ډوله نظریات لري چې یوه نظریه دا ده چې د مُرتد څخه باید د توبې غوښتنه وشي او بله نظریه دا ده چې د مُرتد څخه د توبې غوښتنه نشته ، نو هغه فقهاء چې د مُرتد څخه په توبې غوښتنه باندې قایل دي د توبې د غوښتنې د وخت په هکله وایي چې د مُرتد څخه به درې ورځې په مسلسل ډول سره د توبې غوښتنه کیږي ، او یا به درې ورځې وخت ورکول کیږي چې په دغه درې ورځو کې مُرتد توبه وباسي ، د حنفي علماؤ څخه امام سرخسي رحمة الله علیه په خپل کتاب المبسوط کې داسې وایي چې: **الا انه اذا طلب التأجیل اجل ثلاثة ایام لان الظاهر انه دخل علیه شبهة فارتد لاجلها فعلیان ازالة تلک الشبهة او یحتاج الی التفکیر یتبین له الحق فلا یکون ذالک الا بمهلة فان استمهل کان علی الامام ان یمهله و مدة النظر مقدرة بثلاثة ایام فی الشرع کما فی الخیار فلهذا یمهله ثلاثة ایام لا یزیده علی ذالک و ان لم یطلب التاجیل یقتل من ساعته فی ظاهر الروایة و فی النوادر عن ابی حنیفیة و ابی یوسف رحمهما الله انه یستحب للامام ان یؤجله ثلاثة ایام طلب ذالک او لم یطلب.** [1]
مُرتد ته به فی الحال اسلام وړاندې کولای شي ، که چېرته یې اسلام قبول کړو نو ښه تر ښه او که اسلام یې قبول نکړو نو فی الحال به وژلی شي ، مګر که چېرته وخت وغواړي نو درې ورځې به ورته وخت وکړل شي ، ځکه ښکاره خبره ده چې ده ته شک او شُبهه پیدا شووې ده چې د هغه شک په اساس دی مُرتد شوی دی ، پر مونږ باندې دا لازم ده چې تر څو یا د هغه شک او شُبهه لرې کړو او یا حد اقل دومره وخت ورته ورکړل شي چې هغه ته حق ښکاره شي او د حق دا ښکاره کېدل ورته د وخت څخه پرته نه کیږي ، که مُرتد وخت وغواړي نو واکمن شخص یا حاکم به ورته خامخا وخت ورکوي چې په اسلامي شریعت کې د فکر اندازه لکه د خیار غوندې پوره درې ورځې تاکل شوې ده ، نو له دې امله به ورته پوره درې ورځې وخت ورکول کیږي او اظافه کیږي به نه ، او که وخت ونه غواړي نو فی الفور به وژل کیږي چې دا د ظاهر الروایة خبره ده او په نادر الروایة کې د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهماالله تعالی عنهما له انده حاکم یا پاچا ته مستحب دی چې مُرتد ته د توبې ویستلو لپاره درې ورځې وخت ورکړي البته د وخت غوښتنه یې کړې وي او که نه ؟
د نادر الروایة دلایل د صحابه کرامو هغه واقعات دي کوم چې ډېر زیات پېښ شوي دي او که دا ټول سره را جمع کړې نو اجماع ترینه جوړیږي ، او دا واقعات ابن حز الظاهري په المحلی کې په تفصیل سره بیان کړي دي.
همدارنګه حضرت علی کرم الله وجهه د یو مُرتد څخه پوره یوه میاشت د توبې ویستلو غوښتنه کړې ده ، او هغه مُرتد بېرته اسلام ته رجوع ونکړه نو بیا یې قتل کړو.
**مناقشه:** د مُرتد د توبې د وخت ورکولو په هکله متعدد واقعات پېښ شوي دي ،که چېرته په دغه هکله پورتنیو

---

۱: **المبسوط:** ج ۱۰ ص ۹۸ او ۹۹

دلایلو ته ځغلنده نظر وکړو  او همدارنګه نور کوم دلایل چې د ارتداد په هکله په دغه څېړنه کې ذکر شوې دي ، ټولو ته هر اړخیزه نظر واچوو نو معلومیږي چې د مُرتد د توبې د وخت ورکولو په هکله متعدد واقعات پېښ شوي دي ، په دې هکله چې د مُرتدینو سره راشده خلیفه ګانو کوم اعمال تر سره کړي دي هم مختلف دي ،  خو په هر صورت ، که چېرته یو څوک یو ځل مسلمان شي نو هغه د اسلام د د سپېڅلي دین څخه بېرته کفر یا کوم بل باطل دین خواته رجوع نه کوي ، ځکه چې د اسلام په مقدس دین کې ټولې فایدې او ګټې دي ، مګر دا کس چې مُرتد شوی دی ، نو معلومیږي چې ده ته به کومه شک او شُبهه په اسلام کې پیدا شوي وي ، نو پکار ده چې د ده د شک او شُبهې د رفع کولو لپاره ورته وخت ورکړی شي او په دغه وخت کې ورته د اسلام د مبارک دین ضروري احکام او عقاید بیان شي او کوم سوالونه او کوم شک او شُبهه چې ده ته پیدا شوې ده ورته په ښه شکل سره تشریح او توضیح شي ، نو پکار ده چې ورته وخت ورکړل شي او همدا قول د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهما الله عنهما دی. [1]

### که د مُرتدینو تعداد زیات وي او ځانته یې حکومت جوړ کړی وي او دوی د مسلمانانو څخه د توبې غوښتنه وکړي نو آیا دوی ته به وخت ورکول کیږي او که نه ؟

که د مُرتدینو تعداد زیات وي او ځانته یې حکومت جوړ کړی وي او دوی د مسلمانانو څخه د توبې غوښتنه وکړي ، نو په دغه مورد کې به د مسلمانانو حاکم د مُرتدینو حالت ته ګوري چې که مطلب د وخت غوښتلو څخه دخپل شک او شُبهې لیرې کول ، په خپل ردة سره پښیماني او توبې خواته مخه کول وي نو ورته به وخت ورکړي ، او که مطلب د وخت د غوښتلو څخه د وخت ضایع وي او په دغه وخت کې خپل جنګی تجهیزات برابروي ، خپل قوتونه ځای په ځای کوي تر څو بېرته د مسلمانانو سره جګړه او مقابله وکړي ، نو په دغه صورت کې ورته وخت ورکول ندي پکار.

اسلامي شریعت د دغه خبرې تصمیم نیول د مسلمانانو حاکم او مشر ته سپارلې ده تر څو حالاتو ته په کتلو سره د مسلمانانو مصلحت په پام کې ونیسي او لازم تصامیم اتخاذ کړي ، په دغه هکله امام سرخسي حنفي رحمة الله علیه داسې فرمايي:

**و ان طلبو الموادعة مدة لینظروا فی امرهم فلا باس بذالک ان کان ذلک خیرا للمسلمین و لم یکن للمسلمین بهم طاقة لانهم مما ارتدو دخلت هلیهم الشبهة و یزول ذالک اذا انظرو فی امرهم و قد بینا ان المُرتد اذا طلب التاجیل یؤجل الأ ان هناک لایزاد علی ثلاثة ایام لتمکن المسلمین من قتله ما طلبوا من المدة لحفظ قوة انفسهم ولعجزهم عن مقاومتهم، و ان کانوا یطیقونهم و کان الحرب خیرا لهم من الموادعة حاربوا هم لان القتل معهم فرض الی ان یسلموا قال الله تعالی تقاتلوهم او یسلمون و لا یجوز تاخیر اقامة الفرض مع التمکن**

[1] : صحیح فقه السنة و أدلته و توضیح المذاهب الأئمة: کتاب الحدود ، ج ۴ ، ص ۴۶

من اقامته.[1]

ژباړه: که چېرته مُرتدانو د دې لپاره چې به خپل حالت کې تجدید نظر وکړي څه وخت د وخت غوښتنه وکړه نو که وخت ورکړی شي کوم باک نشته ، ولې که دا وخت ورکول د مسلمانانو لپاره ګټور وي او د مسلمانانو زور هم پرې بر نه وي ځکه چې دوی څه وخت مُرتدين شوي دي دوی ته خامخا کومه شُبهه پيدا شوې ده او دغه شُبهه به له دوی نه د تجديد نظر په وخت کې ليري کيږي او مونږ لا د وړاندې يادوونه کړې وه چې که مُرتد وخت وغواړي نو درې ورځې وخت دې ورته ورکړل شي هلته مو د درې ورځو وخت نه په زيات قول ځکه نه ؤ کړی چې مسلمانان د يو مُرتد په قتل قادر ؤ او دلته د مسلمانانو په آسانه پرې زور نه رسيږي نو که چېرې ورته په هغه اندازه وخت ورکړې چې دوی يې غواړي نو ځکه خير دی چې د مسلمانانو قوت به پر ځای پاتې شي او بله دا چې د هغوی د مقاومت او مقابلې څخه خو عاجز دي ، او که چېرته يې زور بر ؤ او د جنګ توان ورسره ؤ او د صلحې نه ورته جنګ ښه ؤ نو بيا به ورسره جنګ کوي ، ځکه د مُرتدانو سره جنګ کول تر څو چې مسلمانانو ته تسليم شي د الله ﷻامر دی چې په دغه هکله الله تبارک و تعالی ﷻفرمايي: (تاسو به ورسره تر هغه جنګ کوئ تر څو هغوی تاسو ته تسليم شي او د جنګ د توان په صورت کې ورسره جنګ فرض دی او د دغه فريضې په تر سره کولو کې تأخير جواز نلري).

**د اســتـتابې څخه مخکې د مُرتد د وژلو حکم:**

د استتابې څخه مخکې د مُرتد وژل مکروه دي ، بايد ونه وژل شي ، او ورته وخت ورکړل شي ، که چېرته مُرتد په دغه درې ورځو کې ايمان را نه وړلو بيا وژل کيږي ، اما مُرتده نه وژل کيږي ، بلکې په زندان کې ساتل کيږي پدې ترتيب سره چې هره ورځ به بيرون ته راويستل کيږي او اسلام او ايمان به ورته تشريح کيږي ، که يې منع راوړه نو قاضي به يې څو درې وهي او بېرته به يې محبس ته ننباسي ، تر دې چې ايمان راوړي او يا خپله مړه شي.

**دويم مطلب: د مُرتد د توبې ورکولو کيفيت:**

هر کله چې مُرتد د توبې اراده وکړي نو آيا د مُرتد توبه يواځې په توبه کولو سره بيدون له کوم قيد او شرط څخه د قبول وړ ده او که د توبې سره به څه نور شروط هم تر سره کوي ، نو د دغه موضوع څخه مونږ په لاندې ډول يادوونه کوو:

په الهداية فی شرح البداية کې داسې ليکل شوي دي چې:

**و كيفية التوبة أن يتبرأ عن الأديان كلها سوى الاسلام لأنه لا دين له و لو تبرأ عما انتقل اليه كفاه الحصول**

---

١: **المبسوط**: ج ١٠ ، ص ١١٧

المقصود.[1]

او د توبې کیفیت داسې دی چې مُرتد به د نورو ادیانو څخه خپل برائت اعلانوی ، او کله چې د هغه څه څخه برائت اعلان کړي ، څه ته چې ورګرځېدلی دی ، نو مقصد ته د رسېدو لپاره دا کفایت کوي.

**د اسلامي امت فقهاؤ د مُرتد د استتابې په هکله یو عمومي قاعده ذکر کړې ده** او هغه دا چې:

**عمومي قاعده**: د مُرتد په توبه ویستلو کې باید د مُرتد د کفر او ارتداد سبب ته وکتل شي او مُرتد باید د هر هغه څه څخه بېرته واوړي د کوم په سبب چې مُرتد ردة کسب کړی دی یعني د اسلام د هغه ضروري جزء څخه چې مُرتد منکر شوی دی ، په هغه به بېرته اقرار کوي او هغه به بېرته قبلوي او بیا به ورسره د شهادت کلمه وایي.

د پورته عمومي قاعدې د تطبیق په صورت کې به د مُرتد توبه صحت ومومي او انشاء الله چې د الله تبارک و تعالی ﷻپه دربار کې به یې توبه قبوله شي.

**د مثال په ډول**: که چېرته یو څوک د الله ﷻد توحید او د رسولُ الله ﷺ د رسالت څخه پرته په کوم بل شي باندې مُرتد شي ، نو تر هغه وخته پورې هغه مسلمان نشي ګڼل کېدلای تر څو چې په منکر شوي شي باندې دوباره اقرار ونکړي او بیا د شهادت کلمه ونه وایي ، نو هغه وخت به هغه بېرته مسلمان ګڼل کیږی چې نوموړی په منکر شوي جزء د اسلام باندې اقرار وکړي او بیا د شهادت کلمه ووایي.

**بل مثال**: که چېرته یو څوک هم الله ﷻومني او هم نبي کریم ﷺ ومني مګر له دې څخه انکار وکړي چې نبي کریم ﷺ د ټولو مخلوقاتو لپاره رالېږل شوی پېغمبر دی ، نو دا شخص تر هغه مسلمان نشي ګڼل کېدلای تر څو چې نوموړي په دې باندې اقرار نه وي کړی چې نبي کریم ﷺ ټولو مخلوقاتو ، انسانانو او پېریانو ته رالېږل شوی پېغمبر دی او بیا ورپسې د شهادت د کلمې په ویلو سره د ټول باطلو ادیانو څخه خپله بېزاري اعلان نکړي ، هر کله چې نوموړي اقوال په ژبه باندې جاري کړل او په زړه باندې یې تصدیق کړل نو بیا به د نوموړي مُرتد په اسلام باندې حکم کیږي.

**بل مثال**: که چېرته یو څوک داسې عقیده ولري چې الله ﷻواحد ، توانا او لاشریک ذات دی او مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ د الله ﷻ پېغمبر دی ، اما رسالت او نبوت په حضرت مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ باندې تمام ندی ، نو نوموړی شخص مُرتد دی ، او د هغه توبه تر هغه وخته پورې د قبول وړ نده تر څو چې نوموړی د حضرت مُحَمَّد الرسولُ الله صلی الله علیه وسلم په ختم نبوت باندې اقرار او اعلان ونکړي او د نړۍ د ټولو باطلو ادیانو څخه خپله بیزاري اعلان نکړي او بیا د شهادت مبارکه کلمه په خپله ژبه باندې جاري او په زړه باندې تصدیق نکړي ، په نوموړي مُرتد باندې د مسلمان حکم نه کیږي.

**بل مثال**: که یو څوک د کوم فرضیت څخه منکر شو نو دغه مُرتد به لومړی هماغه فرض بېرته مني او د هغه

---

۱: **الهدایة فی شرح البدایة**: کتاب الحدود ، احکام المُرتدین ، ج ۱ ، ص ۵۷۷

فرضیت په فرض باندې به اقرار کوي او بیا به د شهادت کلمه په ژبه باندې جاري او په زړه باندې به یې تصدیق کوي نو هله به د هغه توبه د الله ﷻ په نزد باندې قبلیږي ، ځکه چې ده په دغه عقیده باندې العیاذ باالله ، الله ﷻ او رسولُ الله ﷺ درواغجن ګڼلي دي او له فرض څخه یې انکار کړی دی.

**بل مثال:** که چېرته یو څوک الله ﷻ هم ومني او حضرت مُحَمَّد ﷺ هم ومني مګر د کوم پیغمبر په نبوت باندې منکر شو ، یا د قرآنکریم په کوم آیت باندې منکر شو ، یا د ملایکو څخه منکر شو ، یا یې کوم حرام شی حلال وګڼلو ، نو نوموړی شخص مُرتد ګڼل کیږي ، چې په توبه ویستلو کې به نوموړی د هغه شي څخه د کوم څخه یې چې انکار کړی دی اقرار کوي او بیا به د شهادت کلمه په ژبه باندې جاري کوي او په زړه باندې به یې تصدیق کوي ، نو انشاء الله چې د هغه توبه به د الله ﷻ په نزد باندې قبوله شي ، او د مسلمان حکم به پرې کیږي.

مُرتد باید برعلاوه د شهادتینو د ویلو څخه ، د دوه شاهدانو په حضور کې د خپل کړي عمل څخه توبه وباسي.

د دغه دوه کسانو په مخ کې د خپل عمل (ارتداد) څخه توبه ویستل د هغه د قتل د حکم په رفع کې ضروري دی او د پورتني صورت د تحقق په مواردو کې د مُرتد توبه قابل د قبول ده.

## دریم مطلب: د متکرر مُرتد د توبې حکم:

### متکرر ارتداد:

**تعریف:** که چېرته یو مسلمان د ارتداد د اسبابو له جملې څخه د یو سبب په تر سره کولو سره مُرتد شي او بیا له خپل ارتداد څخه توبه وباسي او مسلمان شي ، او بیا وروسته له توبې څخه بیا کوم ارتدادي عمل ، فعل او یا قول تر سره کړي او مُرتد شي ، ....... ، نو دغه عمل ته متکرر ارتداد او نوموړي شخص ته متکرر مُرتد وایي.

### د متکرر مُرتد د توبې حکم:

که چېرته یو مسلمان مرتد شي او بیا له خپل ارتداد څخه توبه وباسي او د دویم ځل لپاره بیا مرتد شي ، نو د ده حکم په دویم ځل هم هغه حکم دی کوم چې په اول ځل باندې ؤ.[1] ځکه په هر ځل سره ایمان موجودیږي او د ایمان رکن وجود پیداکوي چې هغه د عاقل اقرار ؤ ، الله تبارک و تعالی ﷻ فرمایي:

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا [2]

ژباړه: بیشکه هغه کسانو چې ایمان راوړی دی او بیا کافران شوي دي ، بیا یې هم ایمان راوړی او بیا کافران شوي دي ، بیا یې خپل کفر زیاد کړو ، الله ﷻ به هېڅ کله هم دوی ونه بښي او نه به ورته د نېکۍ لارې هدایت ونکړي.

په دې آیت کې ایمان مخکې یاد شوی دی پس د ردة نه او ایمان پس د ردة نه احتمال د رد کېدو نلري ، که په

---

[1]: بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع: ج ۷ ، ص ۱۳۵

[2]: د النساء سورت: ۱۳۷ آیت

دویم ځل یې هم توبه وویستله نو د ده توبه به قبلیږي همدارنګه که په دریم ځل مُرتد شو ، نو د ابو حنیفه رحمة الله علیه له نظره که په دریم ځل باندې یې توبه وویسته نو د وخت امام به دا کس په محبس کې بندي کوي تر دې چې په ده کې د خالص توبې او د خشوع اثرات پیدا شي او د زړه له کومي مسلمان شي ، او چېرته د څلورم ځل نه پس مُرتد شو نو د ده سټ به وهلی شي چې جزا یې خلاصه شي.[1]

که چېرته یو مسلمان مُرتد شي او بیا له خپل ارتداد څخه توبه وباسي او دوباره مسلمان شي ، او بیا ارتداد وکړي او مُرتد شي ، نو د نوموړی متکرر مُرتد د توبې په هکله علمای کرامو دوه ډوله نظریات وړاندې کړي دي کوم چې په لاندې ډول دي:

**لومړی نظریه:** امام ابو حنیفه رحمة الله علیه (په یو روایت)، امام مالک رحمة الله علیه ، امام لیث بن سعد او اسحاق بن راهویه وایي چې: که چېرته متکرر مُرتد توبه وکړي نو توبه یې قابل د قبول نده بلکې د متکرر مُرتد سزا مرګ دی او باید حتما ووژل شي.

**دلایل:** دغه ډله علمای کرام د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عبدالله ابن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه دا خبره نقل کوي او دلیل راوړي چې د بنو سعدو د قبیلې یو سړی د بني سعدو په جومات تېرېدو چې یوه ډله خلک یې ولیدل چې د مسلمة الکذاب هغه مصنوعي اشعار یې لوستل کوم چې به مسلمة الکذاب ورته وحې ویله ، نو دا سړی حضرت ابن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ ته په منډه باندې راغی او دا قصه یې ورته بیان کړه ، حضرت ابن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ ورته یو ګروپ خلک ولیږل او ټول یې راوستل نو حضرت ابن مسعود رضی اللهُ تعالی عنهُ ورنه د توبې ویستلو غوښتنه وکړه او هغوی توبه وکړه او بیا یې خوشې کړه ، مګر له دغه ډلې څخه یو سړی چې ابن نواحه نومېده هغه ته یې وویل چې ته مخکې هم یو وار ماته راوستل شوی وې او تا دا ویلي ؤ چې زما توبه ده مګر د ستا څخه بیا دغه کفر را څرګند شو ، هغه یې قتل کړو او د دغه خلکو په پرېښودلو یې د پروردګار عالم دغه وینا دلیل وګرځوله چې الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایي:

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا إِن يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِن يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ .[2]

ژباړه: بیشکه هغه کسانو چې ایمان راوړی دی او بیا کافران شوي دي ، بیا یې هم ایمان راوړی او بیا کافران شوي دي ، بیا یې خپل کفر زیاد کړو ، الله ﷻ به هېڅ کله هم دوی ونه بښي او نه به ورته د نېکې لارې هدایت ونکړي.

**دویمه نظریه:** امام شافعي رحمة الله علیه ، ابوبکر الخلال رحمة الله علیه او په یو قول د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه ، وایي چې: که چېرته متکرر مُرتد توبه وکړي نو توبه یې قابل د قبول ده.

---

[1]: **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع:** ج ۷، ص ۱۳۵

[2]: **د الأنفال سورت:** ۳۸ آیت

**د هغه چا حکم چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته ښکنځل وکړي:**

دا خبره يو واضح حقيقت دی چې د الله تبارک و تعالی ﷻ په ټولو مخلوقاتو کې انسان اشرف المخلوقات دی او بيا په انسانانو کې غوره بنده ګان د الله تبارک و تعالی ﷻ پيغمبران دي او بيا په ټولو پيغمبرانو کې د حضرت مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ درجه او مقام اوچت دی چې الله تبارک و تعالی ﷻ يې په قرآن کې صفتونه کړي دي.

چې د پښتو ژبې يو خوږ ژبی صوفي شاعر عبدالرحمن بابا د رسول الله صلى اللهُ عليه وسلم د شان په هکله وايي:

خدای يې مه ګڼه بيشکه چې بنده دی　　　　نور يې کل واړه صفات دي په ريښتيا

"عبدالرحمن بابا"

الله ﷻ په قرآن کريم کې د نبي کريم ﷺ صفتونه کړی دی او که مونږ هر څومره د نبي کريم ﷺ صفت وکړو ، نو بيا هم کمه ده او نه ختميږي ، د موضوع د ځانګړتيا له وجهې د عبدالرحمن بابا په پورته بيت باندې اکتفاء کوو.

نو که چېرته يو څوک دالله تبارک و تعالی ﷻ دغه برګزيده پيغمبر حضرت مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ ته ښکنځل وکړي نو د هغه بدبخته انسان به څه حال وي؟ واضح خبره ده چې نوموړی انسان د اسلام د دين له چوکاټ څخه وځي او مُرتد ګڼل کيږي ، چې د ارتداد احکام پرې جاري کيږي او د مُرتد احکام مونږ په دريم فصل کې په تفصيل سره بيان کړل.

د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهُ څخه په دغه هکله يو حديث شريف روايت شوی دی چې داسې وايي:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ أَعْمَى كَانَتْ لَهُ أُمُّ وَلَدٍ تَشْتُمُ النَّبِيَّ ﷺ وَتَقَعُ فِيهِ فَيَنْهَاهَا فَلاَ تَنْتَهِي وَيَزْجُرُهَا فَلاَ تَنْزَجِرُ قَالَ: فَلَمَّا كَانَتْ ذَاتَ لَيْلَةٍ جَعَلَتْ تَقَعُ فِي النَّبِيِّ ﷺ وَتَشْتِمُهُ فَأَخَذَ الْمِغْوَلَ فَوَضَعَهُ فِي بَطْنِهَا وَاتَّكَأَ عَلَيْهَا فَقَتَلَهَا فَوَقَعَ بَيْنَ رِجْلَيْهَا طِفْلٌ فَلَطَخَتْ مَا هُنَاكَ بِالدَّمِ فَلَمَّا أَصْبَحَ ذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَجَمَعَ النَّاسَ فَقَالَ « أَنْشُدُ اللَّهَ رَجُلاً فَعَلَ مَا فَعَلَ لِي عَلَيْهِ حَقٌّ إِلاَّ قَامَ ». فَقَامَ الأَعْمَى يَتَخَطَّى النَّاسَ وَهُوَ يَتَزَلْزَلُ حَتَّى قَعَدَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا صَاحِبُهَا كَانَتْ تَشْتِمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَنْهَاهَا فَلاَ تَنْتَهِي وَأَزْجُرُهَا فَلاَ تَنْزَجِرُ وَلِي مِنْهَا ابْنَانِ مِثْلُ اللُّؤْلُؤَتَيْنِ وَكَانَتْ بِي رَفِيقَةً فَلَمَّا كَانَتِ الْبَارِحَةَ جَعَلَتْ تَشْتِمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَخَذْتُ الْمِغْوَلَ فَوَضَعْتُهُ فِي بَطْنِهَا وَاتَّكَأْتُ عَلَيْهَا حَتَّى قَتَلْتُهَا. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ « أَلاَ اشْهَدُوا أَنَّ دَمَهَا هَدَرٌ ».[1]

ژباړه: له ابن عباس رضی اللهُ تعالى عنهُ ما څخه روايت دی چې هغه وايي: يوه ړوند سړي ام ولده ښځه درلوده هغې ښځې به نبي کريم ﷺ ته ښکنځل کول او بد به يې ورته ويل: ده له دې کار څخه منع کړه خو هغه نه منع کېدله ، بيا يوه شپه داسې وه چې خپل تبر يې واخيست او د هغې په خېټه کې يې کېښود او په هغه يې تکيه وکړه او هغه يې ووژله ، دا خبر رسولُ الله ﷺ ته ورسېد ، ويې فرمايل: تاسې شاهدان اوسئ چې د دغې ښځې وينه هدر ده.

---

۱: **سنن أبو داؤد:** باب الحكم فيمن سب النبى ﷺ ، ج ۴ ، ص ۲۲۶ ، د حديث شمېره ۴۳۶۳ ؛ **سنن دارالقطنى:** كتاب الحدود والديات ، ج ۳ ، ص ۱۱۲ ، د حديث شمېره ۱۰۳ ؛ **بلوغ المرام من أدلة الأحكام:** ج ۱ ، ص ۴۸۰ ، د حديث شمېره ۱۲۰۴

حديث شريف په دې باندې دلالت کوي چې که هر څوک نبي کريم ﷺ ته ښکنځل کوي هغه به وژل کيږي او وينه يې هدر ده ، که چېرې مسلمان وي نو د نبي کريم ﷺ ته يې ښکنځل ردة ګڼل کيږي نو وژل کيږي به ،

ابن بطال ويلي دي چې که يو څوک نبي کريم ﷺ ته ښکنځل وکړي د هغې څخه به د توبې ويستلو غوښتنه هم نه کيږي ، ابن منذر د اوزاعي او ليث څخه نقل کړی دی چې د توبې ويستلو غوښتنه به ترې کيږي ،

او که د عهد کافر وي يعنې تړون ورسره شوی وي ، دا به هم وژل کيږي ، مګر هغه مهال نه وژل کيږي چې مسلمان شي.

ابن منذر د ليث ، اوزاعي ، شافعي ، احمد او اسحاق څخه روايت کړی دی چې دا به هم وژل کيږي او د توبې ويستلو غوښتنه ترينه نشته ، له حنفي علماؤ څخه نقل شوی دی چې دوی وايي معاهد ته به سزا ورکول کيږي او نه وژل کيږي ، طحاوي په دې دليل نيولی چې نبي کريم ﷺ هغه يهودي ونه واژه چې ويې ويل: پر تاسې دې سام وي. که چېرې دا يو مسلمان وواييي نو د ده په باره کې کفر ګڼل کيږي ، بل دا چې دوی په کوم کفر کې دی هغه د ښکنځلو څخه سخت دی.

د دې تائيد دا کوي چې د نبي کريم ﷺ څخه انکار د دې معنی ده چې هغه العياذ باالله دروغجن دی ، نو د دې څخه به بله کومه ګناه فاحشه وي ، او رسولُ الله ﷺ د دوی د دغه حالت اقرار وکړ ، مګر که وويل شي چې دغه حديث د امت په باره کې دی او اهل ذمه پرې قياس دي ، او دا خبره چې وينه يې په عهد سره خوندي ده او په عهد کې دا نه دي راغلي چې هغوی به نبي کريم ﷺ ته ښکنځل نه کوي ، نو چا چې ښکنځل ورته وکړ خپل عهد يې مات کړ چې په دې سره بېرته کافر شو او عهد يې ختم شو نو وينه يې هم په دې توګه هدر شوه ، د دې څخه ممکن دا ځواب وشي چې د هغوی سره عهد د دې ضمانت ورکوي چې د هغوی د هغو دروغو اقرار مو کړی چې رسولُ الله ﷺ دروغجن ګڼي او دا تر ټولو لويه ګناه ده ، مګر که وويل شي چې ښکنځل د نورو څخه تخصيص دی. والله اعلم

### خلورم مطلب: د ارتداد په هکله د وسوسو حکم:

### آيا په وسوسو باندې انسان نيول کيږي او که نه ؟

هر هغه څه چې د انسان په زړه کې تيريږي پر دې باندې الله تعالی انسان نه نيسي ، د لاندې حديث شريف په دليل سره:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رسولُ الله ﷺ « لاَ يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُونَ حَتَّى يُقَالَ هَذَا خَلَقَ اللَّهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللَّهَ فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ آمَنْتُ بِاللَّهِ ».[1]

---

١ : **صحيح مسلم**: باب بيان الوسوسة فى الايمان ، ج ١ ، ص ٨٣ ، د حديث شمېره ٣٦٠ ؛ **سنن أبى داؤد**: باب فى الجبهية ، ج ۴ ، ص ٣۶٧ ، د حديث شمېره ۴٧٢٣

ژباړه: له ابو هريرة رضی اللهُ تعالی عنهُ  څخه روايت دی چې رسولُ الله ﷺ  فرمايلي دي: خلک پوښتنې کوي چې خبره يې دې ته ورسيږي چې ووايي دا مخلوق الله ﷻ پيدا کړی دی ، پس الله ﷻ چا پيداکړی دی ؟ نو هر وخت چې د چا په ذهن کې داسې الفاظ تېر شي دستي دې ووايي چې امنت با الله.

همدارنګه په يو بل حديث شريف کې فرمايل شوي دي چې:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ « ان اللَّهَ عز وجل تجاوز عن أُمتى عما صدمت به انفسها ما لم تعمل او يتكلم به». [1]

ژباړه: له ابو هريرة رضی اللهُ تعالی عنهُ  څخه روايت دی چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي: الله ﷻ زما د امت له وسوسو څخه تيريږي ، تر هغه وخته پورې چې عمل يې پرې نه وي کړی او يا دا چې په خوله يې نه وي ويلي.

## دريم مبحث: د افغانستان په نافذه قوانينو کې د ارتداد احکام

### لومړی مطلب: د افغانستان په اساسي قانون کې د ارتداد احکام:

د افغانستان اساسي قانون د نړی د نورو هېوادونو سره په پرتله ايزه توګه يو له هغو اساسي قوانينو څخه دی کوم چې د اسلام مبارک دين ته درناوی کړی دی.

مخکې له دې څخه چې د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې د ارتداد د احکامو او يا هم د اسلامي شريعت د حدودو څخه يادوونه وکړو ، د يادولو وړ بولم چې د افغانستان ټول اساسي قوانين د اسلامي شريعت تابع دي او غواړم چې د افغانستان د اساسي قانون او اسلامي شريعت تر منځ اړيکې په خلاصه شکل سره تر بحث لاندې ونيسم:

**اسلامي شريعت او د افغانستان اساسي قوانين:**

د افغانستان د اساسي قوانينو په تاريخي سير کې که مونږ د اسلامي شريعت روابط د افغانستان له اساسي قانون سره وڅېړو نو دا به څوته شي چې دا يوه نه بېلېدونکې اړيکه ده ، د افغانستان اساسي قوانين د اسلامي حقوقو سره يوه ژوره ريښه لري او د اسلام مبارک دين هميشه د افغانستان د اساسي قوانينو بنسټګر پاتې شوی دی ، د افغانستان اساسي قوانين چې اکثره يې عنعنوي لويو جرګو پواسطه چې ځينو غړو يې د اسلامي شريعت د اصولو او د اسلامي حقوقو په اړه معلومات درلودل تهيه ، تعديل او تائيد شوی دی ، د لويو جرګو په غړو کې ځينو علماؤ هم شتون درلود ، نو په دې اساس مونږ ويلای شو چې تعديل او تائيد خو يې حتمي دی او حتی داسې موضوع هم نا ممکن ده چې هغه دې د اسلامي شريعت په خلاف وي ، لکه يوه بڼه بېلګه يې د افغانستان د اوسني نافذ

---

[1] : **صحيح البخاری**: ج ۵ ، ص ۲۰۲۰ ، د حديث شمېره ۴۹۶۸ ؛ **الجمع بين الصحيحين البخاری و مسلم**: باب المتفق عليه من مسند أبی هريرة رضی الله تعالی عنه ، ج ۳ ، ص ۱۴۳ ، د حديث شمېره ۲۴۲۸ ؛ **تشـريع الجنايي الاسلامی**: دويم جلد ، ۵۸۱ او ۵۸۲ مه صفحه

اساسي قانون دريمه ماده ده چې داسې حکم کوي ، په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي.[1]

د افغانستان په ټولو اساسي قوانينو کې د اسلام مبارک دين او د اسلامي شريعت اصول يو شان ندي ياد شوي ، په دې اړه دا قوانين د يو بل سره تر ډېره حده توپير لري ، د مثال په ډول: د افغانستان لومړنی اساسي قانون چې د غازي امان الله خان په واکمنۍ کې په ۱۳۰۳ هـ ش کال کې د اساسي نظامنامې په نامه جوړ شوی ؤ ، دويمه ماده يې اسلام ته ځانګړې شوې وه چې د دغه نظامنامې دويمه ماده د اسلام د مبارک دين په هکله داسې وايي: د افغانستان دين د اسلام پاک دين دی او رسمي او عمومي مذهب حنفي دی.[2]

همدارنګه د ۱۳۱۰ هـ ش کال اساسي اصول چې د نادرشاه په وخت کې منځ ته راغلل لومړی اصل يا ماده يې داسې حکم کوي چې: د افغانستان دين د اسلام دين او رسمي او عمومي مذهب يې د حنفي مذهب دی او پادشاه هم بايد په همدې مذهب وي.

په پورتنيو دواړو اساسي قوانينو کې د اسلام په مبارک دين او حنفي مذهب سخت ټينګار شوی دی ، او په تېره بيا د ۱۳۱۰ کال اساسي قانون کې داسې ويل شوي دي پادشاه هم بايد حنفي مذهب وي. 3

د مُحَمَّد ظاهر شاه د دورې په اساسي قانون کې (۱۳۴۳ هـ ش کال) د افغانستان دين د اسلام سپېڅلی دين بلل شوی دی خو ديني شعاير يې د دولت لخوا د حنفي مذهب له حکمونو سره سم ځای پر ځای کړي ؤ يعنې په داسې اساسي قانون کې د ديني شعايرو په رابطه د دولت دخالت کموي.

د ۱۳۵۵ هـ ش کال اساسي قانون لومړنۍ مادې د اقتصادي پرمختګ لپاره ځانګړې شوې وې ، او په ۲۲ مه ماده کې يې داسې راغلي دي: د افغانستان مقدس دين اسلام دی ، په دغه اساسي قانون کې يواځې دومره ويل شوې ؤ چې د افغانستان مقدس دين دی 4 او بس ، د حنفي مذهب موضوع په پورتني اساسي قانون کې له منځه تللې وه.

د ۱۳۵۹ هـ ش کال اساسي قانون چې د ببرک کارمل په وخت کې منځ ته راغلی دی په پنځمه ماده کې يې داسې راغلي دي چې د افغانستان ديموکراتيک جمهوريت کې د اسلام دين ته درناوی شوی ، رعايت او ساتنه يې تامينيږي او خلکو ته د مذهبي مراسمو د سرته رسولو آزادي تأمينيږي[5] ، په دې اساسي قانون کې د اسلام دين ته هغه ځای نه ؤ ورکړل شوی کوم چې په تېرو اساسي قوانينو کې ورکړل شوی ؤ.

د ۱۳۶۶ هـ ش کال اساسي قانون چې د ډاکتر نجيب الله په وخت کې توشېح شوی دی د دې قانون په دويمه ماده کې حکم شوی چې د افغانستان دين د اسلام مبارک دين دی ، په پورتني اساسي قانون کې د اسلامي

---

۱ : **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون/اوسنی اساسي قانون)، دريمه ماده

۲ : **د افغانستان اساسي نظامنامه** (د ۱۳۰۳ هـ ش کال اساسي قانون)، دويمه ماده

۳ : **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۱۰ هـ ش کال اساسي قانون)

٤ : **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۵۵ هـ ش کال اساسي قانون)، دوه ويشتمه ماده

۵ : **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۵۹ هـ ش کال اساسي قانون)، پنځمه ماده

شریعت اوصول او اسلام مبارک دین د افغانستان د خلکو مبارک دین بلل شوی او هغه قوانین یې هم فسخه اعلان کړل کوم چې د اسلام مبارک دین اساساتو ته زیان رسوي خو دلته یې د اسلام مبارک دین سره موجوده اساسي قانون هم ضمیمه کړې ده چې په دې اړه دواړه د اسلام مبارک دین او اساسي قانون په یوه لیکه کې شتون لري.

د حامد کرزي د واکمنۍ په دوره کې چې په ۱۳۸۲ کال کې کوم اساسي قانون تدوین شو ۱۶۲ مادې لري په ۱۲ فصلونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لخوا تصویب شو او د ۱۳۸۲ کال د دلوې د میاشتې په ۶ مه نېټه د ولسمشر حامد کرزي لخوا توشیح شو ، د اسلام مبارک دین ته پکې خاص درناوی شوی دی او اسلام یې د ټولو قوانینو څخه پورته معرفي کړی دی ، د دغه اساسي قانون دویمه ماده داسې حکم کوي چې: د افغانستان د جمهوري دولت دین د اسلام سپېڅلی دین دی [1] ، او دریمه ماده یې داسې حکم کوي چې: په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي [2] ، په دې اړه تر بل هر اساسي قانون د ۱۳۸۲ کال په اساسي قانون کې د اسلام مبارک دین او د اسلامي شریعت اصولو ته ډېره پاملرنه شوې ده او په کلکه یې هغه قوانین فسخه اعلان کړي دي چې د اسلام د مبارک دین سره په مخالفت کې وي او په افغانستان کې هېڅ یو قانون نشي نافذېدلای چې د اسلام په خلاف کې وي.

خو دلته یو استثناء هم موجوده ده ، که چېرته مونږ د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون دریمه او شپږمه ماده سره موازنه کړو نو شاید یو څه مشکل رامنځ ته شي ، دا ځکه چې د دې قانون دریمه ماده حکم کوي چې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي ، په داسې حال کې چې د همدې اساسي قانون ۶ مه ماده د بشري حقوقو څخه دولت په مکلفیت ملاتړ کړی دی او د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه یې په سمه توګه منلې ده ، په دې اساس د بشر په حقوقو کې داسې مواد شته چې هغه شاید د اسلامي شریعت له اصولو سره په ټکر کې واقع شي له دې پرته د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون ۶۳ ماده حکم کوي چې جمهور رئیس باید د ملي شورا په وړاندې داسې سوګند وکړي چې (د لوی الله ﷻ په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم ، د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت او د پلي کېدو څارنه وکړم).

له پورتنۍ مادې څخه داسې معلومیږي چې د دې قانون نه یوازې ۲ مه او ۳ مه ماده د اسلامي شریعت په اصولو ټینګار کوي بلکې په ۶۳ ماده کې جمهور رئیس هم مکلفوي تر څو د اسلام د مبارک دین پیروي وکړي.

د افغانستان په ټولو اساسي قوانینو کې د ۱۳۸۲ کال د قانون په شمول ، د نورو ټولو ادیانو او مذاهبو قدر شوی دی او د قانون په چوکاټ کې دننه یې دوی ته هر قسم مذهبي ازادي تضمین کړې ده ، چې د ا د اسلام د مبارک دین یو ځانګړی اصل هم دی.

---

۱ : **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون/اوسنی اساسي قانون)، دویمه ماده

۲ : **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون/اوسنی اساسي قانون)، دریمه ماده

**د افغانستان اوسنی اساسي قانون:**

د افغانستان اوسنی اساسي قانون کوم چې په ۱۳۸۲ کال کې د حامد کرزي د واکمنۍ په دوره کې د اساسي قانون د لويې جرګې لخوا تصويب شو ، د اسلام مبارک دين ته درناوی کړی دی او د هېواد ټول قوانين د اسلام د مبارک دين تر چوکاټ لاندې صحيح ګڼي او په افغانستان کې هېڅ نوع قوانينو ته اجازه نه ورکوي کوم چې د اسلام د مقدس دين د احکاماتو سره په مخالفت کې وي.

د افغانستان د اساسي قانون دريمه ماده داسې حکم کوي چې:

په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي.[1]

نو په همدې اساس د جزاګانو او جرائمو په اړه ټول قوانين هم د اسلامي شريعت مطابق له همدغه قانوني منبع او مصدر څخه سرچينه نيسي.

د افغانستان اساسي قانون د سيمې په کچه بهترينه اساسي قانون دی په کوم کې چې د اسلام مبارک دين ته ډېر درناوی شوی دی او د اسلام د مقدس دين احکامات يې تر هرڅه لوړ بللي دي او ټول اساسي قانون د اسلام تر سيوري لاندې ترتيب شوی دی.

د افغانستان د اساسي قانون دريمه ماده حکم کوي چې په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي.[2]

د پورته مادې څخه دا په ډاګه څرګنديږي چې د افغانستان د اساسي قانون منبع او مصدر اسلامي شريعت دی ، نو د افغانستان ټول قوانين د اسلام د مبين دين د حنفي فقهې تر سيوري لاندې تدوين شوي دي.

همدارنګه د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۰ مه ماده داسې حکم کوي چې:

محکمې تر غور لاندې قضاياوو کې د دې اساسي قانون حکمونه تطبيقوي. که د غور لاندې قضاياوو له جملې څخه د کومې قضيې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانينو کې حکم موجود نه وي ، محکمه د حنفي فقهې د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون ټاکلي ، قضيه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تأمين کړي.[3]

همدارنګه د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۱ مه ماده داسې حکم کوي چې:

دويمه فقره: په نورو دعوو کې هم که په دې اساسي قانون يا نورو قوانينو کې حکم موجود نه وي ، محکمې قضيه د دې مذهب له حکمونو سره سم حل و فصل کوي.[4]

---

۱ : **د افغانستان اساسي قانون** ، دريمه مه ماده

۲ : **د افغانستان اساسي قانون** ، ۳ مه ماده

۳ : **د افغانستان اساسي قانون** ، ۱۳۰ مه ماده

٤ : **د افغانستان اساسي قانون** ، ۱۳۱ مه ماده

که چېرته پورته دوه مادو ته ښه دقت وشي دواړو مادو د قانون مسکوت عنه مسایل اسلامي فقهې ته راجع کړي دي ، په دې تفاوت چې په یو سلو دیرشمه ماده کې په ښه وجه عدالت تامین کړي ، موجود دی ، اما په ۱۳۱ مه ماده کې دغه قید موجود ندی.

## دویم مطلب: د افغانستان د جزا په قانون کې د ارتداد احکام:

لکه څرنګه چې پورته هم یادوونه وشوه چې د افغانستان په قوانینو کې په شمول د جزا قانون ، د اسلام مبارک دین ته خاص درناوی کړی دی او هر هغه سزاګانې چې په اسلامي شریعت کې ځینې جرایمو ته په شمول د حدوداتو ، ټاکل شوي دي ، هغه سزا ګانې یې د اسلامي شریعت مطابق هماغسې ټاکلي دي او حتی حکم کوي چې مطابق د اسلامي شریعت دې ورته سزا ورکړل شي.

څرنګه چې ارتداد یو له شرعی حدودو څخه دی او حدوداتو ته الله ﷻ په قرآنکریم کې سزا ټاکلې ده چې نه کمیږي او نه زیاتیږي او نه معاف کیږي ، نو د افغانستان د جزاء قانون په خپله لومړۍ ماده کې داسې حکم کوي چې:

**لومړۍ ماده: دا قانون تعزیري جرمونه او جزاګانې تنظیموي د حدودو ، قصاص او دیت د جرمونو ارتکاب کوونکي د اسلامي شریعت د حنفي فقهې د حکمونو سره سم مجازات کیږي.**[1]

دغه ماده هر اړخیزه او عامه ماده ده چې د ټولو حداوداتو په شمول د ارتداد سزا یې د زیات تفصیل او تشریح لپاره د حنفي فقهې مصادرو ته راجع کړی ده چې په حقیقت کې یې دا هم یو قانوني حل دی.

نو د همدغه مادې په اساس د حدودو ، جرائمو او جزاګانو په اړه د اسلامی شریعت حنفي فقه د قانون په حیث معرفي شوې ده چې په دې باندې د اسلامي شریعت او د افغانستان د جزاء د قانون تر منځ پوره یو والی او توافق موجود دی چې د ارتداد د جرم د سزا په هکله د افغانستان د جزاء قانون حنفي فقه خپل اعلی مصدر ګرځولې ده ، او څه سزا چې ورته اسلامي شریعت ټاکلې ده هماغه په ثلاثه محاکمو کې د مُرتد په هکله تطبیقیږي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کوم چې د یوې اسلامي ټولنې د اجتماعي نظام نماینده ګي کوي ، د مُرتد سزا د اسلامي شریعت د حنفي فقهې مطابق قتل ټاکلې ده ، تر څو د افغانستان په اسلامي ټولنه کې د اسلامي نظام په ضد اشخاص کوم چې په مسلمانانو کې شک او شبهه را پیدا کوي او ټولنه د بې نظمۍ خواته بیایي ، د مُرتد لپاره قتل ټاکلی دی.

لکه څرنګه چې پورته هم یادوونه وشوه چې د افغانستان په قوانینو کې په شمول د جزا قانون ، د اسلام مبارک دین ته خاص درناوی کړی دی او هر هغه سزاګانې چې په اسلامي شریعت کې ځینې جرایمو ته په شمول د حدوداتو ، ټاکل شوي دي ، هغه سزا ګانې یې د اسلامي شریعت مطابق هماغسې ټاکلي دي او حتی حکم کوي چې مطابق د اسلامي شریعت دې ورته سزا ورکړل شي.

---

۱ : **د افغانستان د جزا قانون** ، لومړی جلد ، لومړۍ ماده

څرنګه چې د ارتداد سزا د اسلامي شریعت له حدودو څخه ده ، نو د افغانستان د جزا قانون لومړۍ ماده حکم کوي چې:

دا قانون تعزیري جرمونه او جزاګانې تنظیموي د حدودو قصاص او دیت د جرمونو ارتکاب کوونکي د اسلامي شریعت د حنفي فقهې د حکمونو سره سم مجازات کیږي.[1]

دغه ماده هر اړخیزه او عامه ماده ده چې د ټولو حداوداتو په شمول د ارتداد سزا یې د زیات تفصیل او تشریح لپاره د حنفي فقهې مصادرو ته راجع کړې دی چې په حقیقت کې یې دا هم یو قانوني حل دی.

## دریم مطلب: د افغانستان په نورو نافذه قوانینو کې د ارتداد احکام:

مخکې له دې څخه چې د افغانستان نافذه قوانینو ته مخه کړو غواړم چې د اوسنۍ نړۍ د نافذه قوانینو د یو اصل څخه یادوونه وکړم او هغه دا چې په اوسنۍ نړۍ کې د انساني ټولنو یو عمومي فرهنګ دادی چې که یو فرد د هماغه مملکت د نظام په خلاف کوم عمل ترسره کوي نو دغه عمل یې ملي خیانت بلل کیږي او هر مملکت ورته په خپلو وضعي قوانینو کې د اعدام سزا ټاکلې ده، د مثال په ډول که یو څوک په روسیه کې د سوشیالیستي/اجتماعي نظام او یا هم په امریکا کې د کپیتالیستي/سرمایه داري/فردګرایي نظام په مقابل کې بغاوت وکړي ، دغه عمل یې ملي خیانت بلل کیږي او بېدون له کوم دلیل څخه یې جزا اعدام یا قتل ده ، نو په یوه اسلامي ټولنه کې هم که یو څوک د اسلامي نظام څخه بل دین ته مخه کوي نو دا د اسلامي ټولنې/هېواد په خلاف یو ملي خیانت دی چې دغه شان ملي خاین ته یې سزا قتل ټاکلې ده تر څو د اسلامي ټولنې نظم برقراره وي.

د افغانستان په نافذه قوانینو کې ، مدني قانون کوم چې مدني مسایل څیړي او جزایي قانون کوم چې جزاګانې تر څېړنې لاندې نیسي او نور مخصوص قوانین کوم چې د خاصو مسایلو لپاره تدوین شوي دي څېړې ، څرنګه چې ارتداد د شرعي حدودو څخه یو حد دی او ارتداد کوونکی مُرتد ګڼل کیږي کوم چې په اسلامي ټولنه کې یو ملي جرم او خیانت دی ، نو د افغانستان د جزا په قانون کې جرایمو ته سزا ګانې ټاکل شوي دي ، او د افغانستان د جزا قانون د حدودوداتو اړوند جرایمو ته د اسلامي شریعت د حنفي فقهې مطابق سزا ټاکلې ده. د ارتداد د سزا په هکله د افغانستان په نورو نافذه قوانینو کې کومه بله یادوونه نه ده شوې.

---

[1] : **د افغانستان د جزا قانون** ، لومړی جلد ، لومړۍ ماده

## خلورم مبحث: د مُرتد عقوبت

د مُرتد عقوبت ډېر خراب دی هم يې دنيا خرابه شوه او هم يې آخرت خراب دی ، مخکيني اعمال يې ټول د ارتداد په عمل سره باطل کيږي يعني د مُرتد دنيوي او اخروي عقوبت خراب دی د کوم څخه چې په لاندې ډول يادوونه کوو:

### لومړی مطلب: د مُرتد دنيوي عقوبت:

د مُرتد دنيا خرابه ده ، ټول امور يې په تعليق ولوېږي ، او په دنيا کې دوه اختياره لري چې يا توبه وباسي او که توبه ونه باسي په قتل سره رسيږي ، چې د توبې په مورد کې اسلامي فقهاء وايي چې د مُرتد توبه په دنيا باندې قبليږی او کوم اعتراض پرې نشته[1] ، خو که توبه ونه باسي نو په دنيا کې به لاندې عواقب ولري:

په حال ، مال او اولاد کې به يې منفي تغيرات راځي: د عدم استتابې (توبه کولو) په صورت کې به د خپل کړي عمل (ارتداد) په شرعي سزا باندې رسيږي (قتل کيږي)[2] او په دغه مورد کې د رسول الله ﷺ مبارک حديث مخکې هم ذکر شوی دی چې من بدل دينه فاقتلوه (چا چې دين بدل کړو نو قتل يې کړی) ، د نکاح عقد يې باطل کيږي ، اولاد به ورڅخه جدا کيږي ، د اسلام مال يې مسلمانو ورثه ۇ ته ميراث او د ارتداد مال يې فی، او بيت المال ته تسليميږي ، په اجتماعي لحاظ به ورسره د خلکو اړيکې پرې کيږي ، خلک به ور څخه نفرت کوي او منفور به وي.

د مُرتد جنازه نه شته ، نه غسل ، نه يې تکفين او تجهيز او نه يې جنازه کيږي.[3]

امام ماوردي رحمة الله عليه وايي چې مُرتد به د مسلمانانو په هديره کې هم نه ښخ کيږي.[4]

د مرتد د اعمالو ضايع کېدو په هکله الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾[5]

ژباړه: (او په دې ښه پوه شئ) له تاسې څخه چې هر څوک له دې دين څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنيا او آخرت دواړو کې برباد او ضايع شي ، داسې خلک ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کې اوسيږي.

---

۱ : **الاشباه والنظائر**: لابن نجيم ، باب الردة ، ج ۱ ، ص ۱۹۰

۲ : **المخلص الفقهي**: باب فی حکم الردة ، ج ۲ ، ص ۵۶۵

۳ : **أعمال الجوارح**: ج ۱ ، ص ۱۸

۴ : **السنی المطالب فی شرح روض المطالب**: ج ۴ ، ص ۱۲۲

۵ : **د البقرة سورت** ، ۲۱۷ آيت

**دويم مطلب: د مُرتد اخروي عقوبت:**

د مُرتد آخرت خراب دی ، ټول نیک اعمال یې بې ځایه دي ، او په آخرت کې به ورته عذاب ورپه برخه کیږي چې د همیشه لپاره به په جهنم کې وي.

په دغه هکله الله ﷻفرمايي:

﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ [1]

ژباړه: (او په دې ښه پوه شئ) له تاسې څخه چې هر څوک له دې دین څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي ، د هغه عملونه به په دنیا او آخرت دواړو کې برباد او ضایع شي ، داسې خلک ټول دوزخیان دي او تل به په دوزخ کې اوسیږي.

---

١ : د البقرة سورت ، ٢١٧ آیت

## شلورم فصل

## د بشر د حقوقو له نظره د مُرتد د سزا په هکله تبصره

## د غير مسلمو نيوکې او ځوابونه

د اسلام مبارک دين د انسانانو د سر او مال ساتنې ته پوره پاملرنه کړې ده او هېڅ انسان ته دا اجازه نه ورکوي چې د بل په حقوقو باندې تيرى وکړي ، او که چېرته يو انسان د بل انسان په حقوقو باندې تيرى کوي نو ورته يې د جرم مطابق سزا ټاکلې ده تر څو هر انسان د خپلو حقوقو په درلودلو سره خپل ژوند مخ په وړاندې يوسى ، لکه څرنګه چې انسان يو اجتماعي مخلوق دى او د ژوندانه په جريان کې يو انسان بل انسان ته اړ دى نو د اجتماعي ژوندانه لپاره انسانان قوانينو ته اړتيا لري تر څو زورور په کمزوري باندې ظلم او ستم ونکړي ، او د ظالم لاس د ظلم څخه د قانون په تطبيق باندې ونيول شي او د ټولو انسانانو حقوق په ټولنه کې خوندي شي ، انسان په مخ د ځمکه کې د الله ﷻ د مخلوقاتو څخه يو مخلوق دى چې الله تبارک و تعالى ﷻ ورته د اجتماعي ژوند لپاره ډېر ښکلى نظام (اسلامي نظام) ټاکلى دى او د دغه نظام اړين قوانين يې د اسلام په مبارک دين کې کوم چې آسماني دين دى ، په ډېر ښه شکل سره واضح کړي دي.

د اسلام په مبارک دين او اسلامي نظام کې د انسانانو د دين ، سر ، مال ، نفس ، او عقل د ساتنې لپاره حدودات ټاکل شوي دي او هر هغه څوک چې د يو انسان په دين ، سر ، مال ، نفس ، او عقل باندې تجاوز او تيرى کوي ورته يې مقدرې سزا ګانې ټاکلې دي تر څو مجرمينو ته د دغه سزا ګانو په تطبيق سره نور انسانان عبرت واخلي او هېڅ څوک دا جرئت ونکړي چې د بل په حقوقو باندې تيرى وکړي ، تر څو په ټولنه کې د انسانانو دين ، سر ، مال ، نفس ، او عقل خوندي وي کوم چې د اسلام د مبارک دين د مقاصدو څخه دي.

د دغه مقاصدو څخه د دين ساتنه د ټولو مقاصدو څخه په لومړي سر کې قرار لري او بيا ورپسې د انسانانو د سر ساتنه ده او بيا نفس او نور په ترتيب سره ځاى لري. د اسلام مبارک دين هېڅ انسان ته دا حق نه ورکوي چې کوم ژوند چې الله ﷻ انسانانو ته په دغه دنيا کې ورکړى دى ، بل کس يې ترې قصدا واخلي (عمدا يې ووژني)، همدارنګه اسلام هېڅ چا ته اجازه نه ورکوي چې په بل چا باندې جنسي تيرى وکړي ، همدارنګه د اسلام مبارک دين هېڅ چا ته دا اجازه نه ورکوي چې مُرتد شي او په اسلامي ټولنه کې د مسلمانانو په منځ کې شک او شُبهه او د مسلمانانو تر منځ ګډوډى را منځ ته کړي او بالآخره په دغه عمل سره اسلامي نظام کوم چې د انسانانو د حقوقو د خوندي ساتلو لپاره اړين دى برهم کړي.

پورته ذکر شوي جرايم بايد د عدلي او قضايي ارګانونو لخوا لومړى په ثبوت سره ورسيږي او بيا د محکمې په امر باندې مجرمين په خپلو شرعي/قانوني سزا ګانو باندې مجازات شي ، چې ببدون له دغه درې حالتونو څخه هېڅ څوک نشي کولاى چې يو مسلمان په ناحقه باندې قتل کړي ، دمسلمان د وينې د حرمت په هکله اسلامي شريعت داسې امر کوي:

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا يَحِلُّ قَتْلُ مُسْلِمٍ إِلَّا فِي إِحْدَى ثَلَاثِ خِصَالٍ زَانٍ مُحْصَنٌ فَيُرْجَمُ وَرَجُلٌ يَقْتُلُ مُسْلِمًا مُتَعَمِّدًا وَرَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْ الْإِسْلَامِ فَيُحَارِبُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَرَسُولَهُ فَيُقْتَلُ أَوْ يُصَلَّبُ أَوْ يُنْفَى مِنْ الْأَرْضِ.[1]

ژباړه: د حضرت بي بي عايشي رضی اللهُ تعالی عنها څخه روايت دی هغه وايي چې رسولُ الله صلی اللهُ عليه وسلم وفرمايل: د مسلمان قتل ندی روا مگر په يو ده دغه دريو حالتونو څخه: کله چې يو محصن زنا وکړی نو رجم يې کړی ، او که يو سړی يو مسلمان په قصد سره قتل کړي نو ويې وژنی ، او يو سړی له اسلام څخه ووځي او د الله او د الله د رسول سره جنگ وکړي نو يې قتل کړی يا يې صلب کړئ او يا يې تبعيد کړئ.

## لومړی مبحث: د بشـر حقوق، د بشـر د حقوقو نړيوالي اعلاميې او د بشر د حقوقو نړيوالي اســلامي اعلاميې ته لنډه کتنه

### لومړی مطلب: د بشر د حقوقو له نظره د مُرتد سزا په هکله تبصره:

په اسلامي فقه کې د ارتداد د جريمې سزا قتل ټاکل شوې ده دا ځکه چې ارتداد يو داسې عمل دی کوم چې د اسلام د دين پر ضد واقع کيږي ، لکه څرنگه چې زمونږ د ټولنيزو او سياسي نظامونو بنسټ په اسلام باندې ولاړ دی ، نو هر نوع نرمښت په دې برخه کې د گډوډيو او د ټول نظام د له منځه تللو سبب گرځي کوم چې د ملي خيانت په نوم يادېږي ، او د ملي خيانت سزا نه يواځې د اسلام په مبارک دين کې بلکې د غير اسلامي هېوادونو په اکثريتو جزايي قوانينو کې اعدام او وژنه ده.

### دويم مطلب: د بشر د حقوقو تعريف:

د بشر حقوق چې په عربي ژبه کې د حقوق الانسان او په انگليسي ژبه کې د Human Rights په نامه سره يادېږي ، د بشر د حقوقو اصطلاح د اسلام له نظره د نن څخه ۱۴۰۰ کال پخوا په کار وړل شوې ده او حتی وېلای شو چې د بشريت د پيدايښت سره سم الله تبارک وتعالی ﷻ د خپلو غوره بنده گانو (پيغمبرانو) پواسطه د انسان د حقوقو د خوندي ساتلو لپاره د څښتن تعالی ﷻ پيغامونه بشري ټولنو ته رسولي دي.

اما د غرب له نظره د حامورابي په قانون کې د بشر د حقوقو موضوع ذکر شوې ده چې په ډېره ابتدائي شکل سره وه اما د بشر د حقوقو اصـطـلاح د لومـړي ځل لپـاره په ۱۹۸۹ کال کې د فرانسـې په لوی انقلاب کې د فرانسې د انقلابيونو لـخوا په کار يوړل شوه[2] چې د بشر حقوقو رسـمي بڼه اختيار کړه ، چې مونږ دلته د بشر

---

۱: سنن أبو داؤد: د حديث شمېره ۴۳۵۵. بلوغ المرام من أدلة الأحكام: تحقيق: سبل السلام فی شرح بلوغ المرام: ج ۱ ، ص ۵۷۵ ،

۲: د بشر حقوق: دوکتور فيض الرحمن فيضي ، د حقوقو او سياسي علومو استاذ ، ج ۱ ، ص ۸۷

حقوق هم د اسلام او هم د غرب د دواړو لورو له نظره تعریفوو:

1. **د Human Rights یا د بشر حقوقو تعریف د غرب له نظره**: د بشر حقوق هغه ټول امتیازات او اساسي حقوق دی چې ټول انسانان یې د انساولی له امله لري او حق یې دی چې ویې لري.
2. **د Human Rights یا د بشر حقوقو تعریف د اسلام له نظره**: د بشر حقوق د انسان د فطرت د برخاسته اصولو مجموعه ده چې الله ﷻ انسان ته ورکړي دي چې د هغې هدف په ټولنه کې د انساني کرامت ساتل او د اجتماعي عدالت تأمينول دي.

د بشر حقوق د اسلام له نظره له الهي ارزښتونو څخه منشأ اخیستي ده چې الله تبارک و تعالی ﷻ انسان په ښه شان سره پیدا کړی دی او هغه ته یې حیثیت ورکړی دی او په مخ د ځمکې یې خپل خلیفه ټاکلی دی تر څو په مخ د ځمکې باندې الهي احکام د بشري ټولنې د تنظیم لپاره جاري کړي او د ځمکې آبادي او اصلاح یې ورته په غاړه کړې ده او د تکالیفو امانت یې ده ته په غاړه ایښی دی او هر هغه څه چې د ځمکې په مخ دي ، هغه یې ورته تابع ګرځولي دي تر څو انسان د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده وکړي او په مخ د ځمکې باندې سوکاله او ښه ژوند ولري.

په اسلام کې د انسان مقام ته ډېر زیات ارزښت ورکړل شوی دی او د انسان ټول حقوق یې خوندي کړي دي.

**د بشر د حقوقو په اسلامي اعلامیه کې بشري ټولنه په کلي ډول سره یوه کورنۍ شمېرل شوې ده چې دوو عواملو انسانان سره رانږدې کړي دي:**

1. یو د الله تبارک و تعالی ﷻ په وړاندې بنده ګي ده چې الله ﷻ د ټولو انسانانو خالق او پیدا کوونکی ذات دی او د همدې لحاظه د انسانانو تر منځ هېڅ فرق نشته.
2. دويم دا چې د ټولو انسانانو نسب حضرت آدم علیه السلام ته رسیږي ، له همدې کبله ټول انسانان د انساني شرافت ، د تکالیفو او مسؤلیتونو د اصل په نظر کې نیولو سره بیدون له هېڅ نوع تبعیض څخه سره مساوي دي.

### دریم مطلب: د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې ته یوه لنده کتنه:

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه کوم چې د افرادو د اساسي حقوقو او آزادیو په هکله تنظیم شوې ده جامع تر او کاملتر سند دی چې د نړۍ د اکثریتو ممالکو پواسطه قبول شوی دی ، دغه اعلامیه د یوې (۱) مقدمې او دیرشو (۳۰) مادو څخه جوړه شوې او د ۱۹۴۸ کال د دسمبر په لسمه نېټه باندې د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې تصویب شوه.

په لومړۍ ماده کې یې آزادي ، برابري او ورورولي ده.[1]

---

۱: د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه Universaal Decleration of Human Rights

دويمې مادې په عدم تبعيض باندې تاکيد کړی دی چې هر څوک کولای شي چې بې له نظر کې نيولو د هر نوع نژاد ، جنس ، ژبې او مذهب څخه د دغه اعلاميې د ذکر شوو حقوقو او آزاديو څخه برخه من شي.

د لا زياتو معلوماتو لپاره د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه د دغه ليکنې په آخر کې ضميمه ده.

## څلورم مطلب: د بشر د حقوقو نړيوالې اسلامي اعلاميې ته يوه لنډه کتنه:

د اسلامي کانفرانس غړو هېوادونو د اسلامي هېوادونو د خارجه چارو د وزيرانو په غونډه کومه چې د مصر هېواد د قاهرې په ښار کې ترتيب شوې وه د بشر د حقوقو اسلامي اعلاميه چې د يوې (۱) مقدمې او پنځه ويشت (۲۵) مادو لرونکې ده د ۱۹۹۰ کال د حوت د مياشتې په ۵ مه نېټه تصويب کړه ، د دغه اعلاميې مقدمه د قرآن کريم په دغه آيت شريف سره پيل شوې ده [1]:

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾ .[2]

ژباړه: ای خلکو! مونږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې څخه پيداکړي ياستئ او بيا مو تاسې قومونه او قبيلې وګرځولئ تر څو چې تاسې يو او بل سره وپېژنئ ، په حقيقت کې د الله ﷻ په وړاندې ستاسې څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زيات پرهېزګار وي ، په باوري ډول الله ﷻ په هرڅه پوهېدونکی او با خبره دی).

د بشر د حقوقو په نړيواله اسلامي اعلاميه کې اساسي حقوق او عمومی آزادي ګاني د اسلام د دين جز دی ، چې د بشر د حقوقو د نړيوالې اسلامي اعلاميې په لومړۍ ماده کې بشر په کلي شکل سره يوه کورنۍ ده چې د الله جل جلالهُ بندګۍ او د يو پلار حضرت آدم عليه السلام اولاده دي ، هغوی يې سره يو ځای کړي دي او ټول انسانان د انساني کرامت ، له لحاظه بيدون له کوم تبعيض څخه سره مساوي دي.

ټول مخلوقات د الله ﷻ پيدا دي او الله ﷻ ته تر ټولو مخکې هغه دی چې تقوا او پرهېزګاري کوي.

د اسلام له نظره دا چې ټول انسانان د الله ﷻ مخلوق دی او الله ﷻ پيدا کړي دي ، سره شريک دي او د خلقت دا اشتراک ټولو انسانانو ته د حد اقل حقوقو موجب کيږي چې دغه امر په ټولو اديانو کې د ځينې حقوقو په نړيوال کېدو باندې په رسميت سره پېژندل شوي دي. قرآنکريم په دغه هکله فرمايي:

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا﴾ [3]

---

www.ketabtoon.com//books/204

۱: د بشر د حقوقو نړيواله اسلامي اعلاميه Universal Islamic Decleration of Human Rights

www.ketabtoon.net/article/show/139211

۲: د الحجرات سورت ، ۱۳ آيت

۳: د الاسراء سورت: ۷۰ آيت

ژباړه: او په تحقیق سره دا خو زمونږ پیرزوینه ده چې بني آدم ته مو لویي ورکړه ، په وچه او لمده کې مو سپرلۍ ورکړې او له پاکو شیانو څخه مو روزي ورته په برخه کړه او پر خپلو زیاترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتیا ور وبښله.

**هر کله چې په اسلام کې د بشر د حقوقو څخه یادوونه کوو باید لاندې څلور ټکي په پام کې ولرو:**

1. حقوق الهي عطاء او ورکړه ده.
2. حقوق د تکالیفو تابع دي.
3. په حقوقو کې سلسله مراتب.
4. په روابطو کې اولویتونه.

د بشر د حقوقو په هکله د اسلام پورتني مشخصات په خلاصه شکل سره په لاندې ډول بیانوو:

1) **حقوق الهي عطاء او ورکړه ده:** دا په دې معنی نده چې دا حقوق دې ورته کوم کنوانسیون یا اجتماعي قرارداد ورکړي وي ، بلکې دا حقوق ورته الله ﷻ چې د انسانانو خالق دی ورکړي دي.

2) **حقوق د تکالیفو تابع دي:** اسلامي شریعت د حقوقو او تکالیفو مجموعه ده چې په اسلام کې هم حق وجود لري او هم تکلیف ، د حق درلودل بېدون له تکلیف څخه هېڅ امکان نلري ، او د یو نفر حق د بل نفر تکلیف دی او د یو نفر تکلیف د بل نفر حق دی.

3) **په حقوقو کې سلسله مراتب:** اسلامي شریعت خاص مقاصد لري ، چې امام غزالي رحمة الله علیه او نورو علمای کرامو د اسلام لپاره په بنیادي مقاصدو کې ذکر کړي دي کوم چې د دین ، ژوند ، نسل ، عقل او مال ساتنه ده ، چې دا مقاصد خپل ترتیب لري چې په دغه مقاصدو کې لومړی دین ، بیا ژوند ، بیا ......... او بیا د مال ساتنه ده چې په ترتیب سره ځای لري.

4) **په روابطو کې اولویتونه:** د اسلام مبارک دین د اولویتونو په هکله مفصل پروګرام او برنامه لري ، ټول افراد د حقوقو درلودونکي دي ، اما هېڅ څوک د الله ﷻ څخه بغیر د لوړو حقوقو درلودونکي ندي ، همدارنګه په اسلام کې د مور او پلار حقوق ، د خپلوانو حقوق ، د ښځې او مېړه حقوق ، د همسایه ګانو حقوق ، د کارګرانو حقوق او آمرانو حقوق وجود لري ، همدارنګه اسلام د غیر مسلمانانو او نورو افرادو حقوق ذکر کړي دي ، حتی د حیواناتو ، نباتاتو او طبیعي منابعو حقوق هم په دغه دین کې شته دی ، برعلاوه له پورته ذکر شوو حقوقو څخه ځنې نور حقوق لکه د امن لرلو حق ، د ښه اقتصاد ، د تشکیلاتو او د اجتماعي ټولنو د جوړولو حق ، د سیاسي مشارکت حق ، د نړۍ پر مخ د سکونت او مهاجرت حق ، د کار حق او ... چې باید د یو شخص ژوند محترم وګڼل شي ، شخصي آزادي ، د قانون او عدالت تأمینول ، د عقیدې آزادي ، د مذهب آزادي ، د مساوات او برابرۍ حق او داسې نور ټول په دغه دین کې شته کوم چې واقعا د ستایلو وړ دین دی او د انسانانو د دنیا او آخرت د نیکبختۍ سبب ګرځي.

**د یادوونې وړ ده** چې نن ورځ چې په غرب کې د بشر د حقوقو کوم آوازونه راپورته کیږي او تر دغه عنوان لاندې

کوم شعارونه ورکول کیږي ، د اسلام مبارک دین ورته د ابتداء څخه ۱۴۰۰ کاله مخکې ښودلي دي ، او په دغه حقوقو باندې يې تأکید کړی دی ، لکه د جنین حق ، د ملکیت او مال حق ، د انساني کرامت حق ، او داسې نور. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د بشر د حقوقو نړیواله اسلامي اعلامیه د دغه لیکنې په آخر کې ضمیمه ده.

### پنځم مطلب: د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ مشترک او اختلافي موارد:

د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ مشترک او اختلافي نقاط موجود دي د کومو څخه چې په مختصر ډول سره یادوونه کوو:

**الف: د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ مشترک موارد:**

د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ په ټولو مواردو کې اتفاق نظر موجود دی اما په دوه مواردو کې اختلاف او په څو مواردو کې د اختلاف شک موجود دی کوم چې به په دغه تحقیق کې په مختصر شکل سره تر څېړنې لاندې ونیول شي.

دا باید په ډاګه کړو چې د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه د نن څخه تقریبا ۶۹ کاله پخوا را منځ ته شوې ده حال دی چې د اسلام مبارک دین کوم چې یو الهي نظام دی ، د انسانانو د حقوقو ساتنه او آزادي ګاني یې د نن څخه ۱۴۰۰ څوارلس سوه کاله پخوا انسانانو ته بیان کړي دي چې د غلامۍ ژوند یې پای ته ورساوه ، د ښځو حقوق یې خوندي کړل او د بېوزلو لاس نیوی یې وکړو ، د ظالم د ظلم څخه یې مخنیوی وکړ او په انساني ټولنه کې یې عدالت رامنځ ته کړ.

**ب: د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ اختلافي موارد:**

#### د اسلامي شریعت سره د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې صریح اختلاف:

د اسلامي فقهې سره د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې صریح اختلاف په دوه مواردو کې موجود دی:

- **د بشر د حقوقو ۱۶ مه ماده:** په ۱۶ ماده کې د زوجیت په انتخاب کې د ښځې او نر د آزادۍ موضوع مطرح کیږي.

چې یواځې په یو ځای کې اسلامي فقه ورسره مخالفت کوي او هغه دا چې مسلمانه ښځه کولای شي چې یواځې مسلمان خاوند سره نکاح وکړي او دا خبره ډېر زیات حکمتونه لري چې یو له حکمتونو څخه یې دا دی چې په آینده کې د مسلمانې ښځې او مسلمان خاوند تر منځ ډېر ښه ژوند مخ پر وړاندې ځي.

- **د بشر د حقوقو ۱۸مه ماده:** په ۱۸ مه ماده کې فکري ، اعتقادي ، دیني او مذهبي آزادۍ مطرح شوي دي چې د اسلام مبارک دین کې دغه ټولې تائید شوي دي چې د کائیناتو څښتن قرآن کریم کې په دغه هکله فرمايلي دي:

﴿ لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾.[1]

ژباړه: د دين په قبلولو کې هېڅ نوع زور او جبر نشته ، په تحقيق سره سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جدا شوې ده ، اوس چې څوک له کوم طاغوت (شيطان) څخه منکر شي او پر الله ﷻ باندې ايمان راوړي ، هغه يوه داسې کلکه اسره ونيوله ، چې هېڅکله ماتېدونکې نده ، او الله ﷻ د هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی.

اما د اختلاف نقطه دا ده چې د اسلام په مبارک دين کې د داخلېدلو څخه وروسته بيا شخص اجازه نلري چې نورو منسوخو او يا باطلو اديانو ته مخه کړي کوم چې د ارتداد په نامه سره يادېږي حال دا چې د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه د دغه مورد په خلاف وضع شوې ده مګر دغه موضوع ته د اسلام مبارک دين خاصه پاملرنه کړې ده او خپل پيروان نه پرېږدي چې له برحق دين څخه ناحقه اديانو ته مخه کړي او په اسلامي ټولنه کې حرج او مرج رامنځته کړي او په دغه شان ملي خيانت سره اسلامي نظام رنګ شي.

**د اسلامي شريعت سره د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې د اختلاف د شک موارد:**

د بشر د حقوقو د نړيواله اعلاميې په ځينې مادو کې يو نوع شک او شُبهه موجوده ده:

- **د بشر د حقوقو په ۲ مه ماده کې**: اعلاميې ټول بشر مساوي ښودلی دی که چېرته د انساني ذات ، ژبې ، نژاد او رنګ له پلوه وي نو صحيح ده

اما د اسلام د مقدس دين له لحاظه انسانان د دين له پلوه سره مساوي ندي ، د اسلام په مقدس دين کې مؤمن انسان طبعا په کافر باندې برتري لري او عالم په جاهل باندې برتري لري.

- **د بشر د حقوقو په ۵ مه ماده کې**: په ۵ مه ماده کې راغلي دي چې توهين کوونکي مجازات صحيح ندي نو که د اعلاميې هدف همدا وي ،

او که هدف يې د اسلام د مبارک دين د مجازاتو څخه وي نو دا ماده بيا د اسلام د مبارک دين سره په مخالفت کې ده ، چې د اسلام دين مجرمينو ته مجازات د جامعې د نظم لپاره ټاکلي دي.

- **د بشر د حقوقو په ۱۶ مه ماده کې**: په ۱۶ مه ماده کې راغلي دي چې انسان ته مطلق آزادي ورکړل شوې ده چې هر دين غواړي انتخاب کولای شي او کولای شي چې له يو دين څخه بل هر دين ته واوړي ،

ليکن د اسلام په مقدس دين کې يو مسلمان جواز نلري چې د خپل حق دين (اسلام) څخه نورو باطلو اديانو ته واوړي.

- **د بشر د حقوقو په ۱۶ مه ماده کې**: د کورنۍ په امورو کې ښځه او نر سره مساوي ښودل شوي دي

اوس که وګورو چې که په کورني امورو کې ښځه او نر د مساوي حقوقو درلودونکی وي نو د اسلام په مقدس دين کې د حقوقي ارزښتونو له پلوه سره مساوي دي اما په عينيت کې سره مساوي ندي ښځه جدا حقوق لري او نارينه

---

[1]: **د البقرة سورت** ، ۲۵۶ آيت

جدا حقوق لري.

- **د بشر د حقوقو په ۱۸مه ماده کې:** د بیان د آزادی څخه بحث شوی دی چې په اعلامیه کې د بیان د آزادۍ څخه مطلقه یادوونه شوې ده.

نو که هر څوک د بیان آزادي ولري او حقایق څرګند کړي دا صحیح ده

اما که هر څوک آزاد وي چې د بل انسان توهین وکړي په دغه صورت کې ورسره د اسلام مبارک دین موافق ندی او خلکو ته د چوکات په داخل کې آزادي ورکوي.

## دویم مبحث: د ارتداد په هکله د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د غیر مسلمو نیوکې انتقادات او ځوابونه

د مُرتد د سزا په هکله د بشر د حقوقو شعار ورکوونکي کوم چې یواځې او تش په نامه د بشر د حقوقو په هکله شعارونه ورکوي ، بېځایه نیوکې کوي او وایي چې که چېرته یو مُرتد په قتل ورسیږي نو دلته خو د بشر حقوق نقض کیږي ، یا داچې که یو څوک له یو دین څخه بل دین ته اوړي نو داخو د شخص آزادي سلب کیږي ، حال داچې اصل آزادي ده خوښه د هرچا چې هر دین ته ځي او هر څه چې کوي کوي دې یې ، که د دین په بدلولو کې انحسارات وي نو بیا خو د انسان آزادي سلب کیږي ، دا کیږي او دا کیږي ........ ، څرنګه چې د دوی دا ادعاوې بې بنسته دي نو په همدې اساس مو دغه بحث تر څېړنې لاندې ونیوو او په دریو مطالبو مو دغه بحث وویشلو تر څو لومړی د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او بیا د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې ته لنډه کتنه وکړو او بیا د بشر د حقوق د شعار ورکوونکو انتقادات او هغوی ته معقول ځوابونه وړاندې کړو:

**د بشر د حقوقو د شعار ورکوونکو د انتقاداتو په اړه عقلي دلایل:**

1. د اسلام د مبارک دین څخه بل دین ته ګرځېدل د اسلامي ټولنې په افرادو کې شک او شُبه پیدا کوي او که دا شک او شُبهه زیاته شي امکان لري چې د ټولنې څه افراد به یو خوا ، څه به بل خوا ، او څه به بل خوا ته شي او په ټولنه کې به غټه ګډوډي رامنځ ته شي او حتی د اسلامي نظام او دولت د ړنګېدو سبب ګرځي ، چې دغه عمل (ارتداد) په اسلامي ټولنه کې د نظام پرضد عمل ګڼل کیږي ، چې په هره ټولنه کې د نظام پر ضد عمل د ملي خیانت تر عنوان لاندې یو جرم ګڼل شوی دی او د نړۍ د اکثرو هېوادونو په قوانینو کې د دغه شان ملي خیانت کوم چې د نظام د ړنګېدو سبب ګرځي ، په جُرم مُرتکب ته ، د اعدام سزا ټاکل شوې ده ، چې د اسلام په مبارک دین کې هم دغه شان ملي خیانت ته د نن څخه څورالس سوه (۱۴۰۰) کاله پخوا د اعدام سزا ټاکل شوې ده ، تر څو په ټولنه کې د نظام د ړنګېدو څخه مخنیوی وشي او د نظام موجودیت کوم چې د افرادو د حقوقو او نظم لپاره اړین دی ، په ځای پاتې شي او د همدغه یو

ملي خاین (مُرتد) په له منځه وړلو سره د یو مملکت د میلیونونو انسانانو حتی د نړۍ د میلیاردونو وګړو تر منځ کوم شک او شُبهه رامنځ ته نشي او د ګډوډۍ مخه مخکې تر مخکې ونیول شي.

2. اسلام د ټولو ادیانو غوره دین دی او له غوره دین څخه تیښتو او ښکته ادیانو ته تګ د انسان لپاره ضرر او خطر دی.

3. اسلام د ټولو نظامونو غوره نظام دی چې هم یې د فرد او هم یې د ټولنې ګټې په نظر کې نیولي دي او له یو داسې نظام څخه بل هر نظام ته تګ د انسان په ضرر او نقص باندې تمامیږي.

4. څرنګه چې اسلام یو برحق دین دی او له اسلام څخه مخ ګرځول له حق څخه مخ ګرځول دي ، او څرنګه چې نور ادیان باطل ادیان دي او نورو ادیانو ته مخه کول باطل ته مخه کول دي ، نو د یو انسان لپاره له حق څخه باطل ته مخه کول سراسر زیان او تاوان دی.

5. د طبابت د علم یو اصل دی چې وقایه بهتره تر معالجې ده ، نو مخکې له دې څخه چې په ټولنه کې ګډوډي رامنځ ته شي او نظام ړنګ شي نو بتهره او اړینه ده چې دغه مکروب (مُرتد) زر تر زره له منځه یوړل شي او په ټولنه کې د هر نوع ګډوډیو مخه ونیول شي.

6. انسانان چې الله ﷻ پیدا کړی دی او الله ﷻ د همدغه انسانانو خالق او انسانان یې مخلوق دي ، نو خالق د مخلوقاتو د ژوندانه په ټولو اموراتو باندې ښه پوهیږي او د اجتماعي ژوندانه لپاره یې ورته مناسب او د حکمت څخه ډک قوانین عطاء کړي دي ، نسبت و انساني قوانینو ته الهي قوانین کوم چې د انسانانو د خالق پواسطه ټاکل شوي دي په هر لحاظ سره په لومړي سر کې ځای لري. د دغه ښېلګې لپاره یو مثال وړاندې کوو او هغه دا چې که یوه کمپنۍ یو موټر جوړ کړي نو همدغه کمپنۍ خپل تولید شوي موټر ته یو کتلاک د موټر د استعمالولو لپاره جوړوي ، که چېرته څوک د دغه کمپنۍ موټر د کمپنۍ د کتلاک مطابق استعمال کړي نو هم به موټر خراب نشي او هم به مسافرین خپل د مقصد ځای ته په ښه شکل سره ورسوي ، او که چېرته د دغه موټر د استعمالولو لپاره یو څوک د نورو افرادو د نظریاتو څخه استفاده وکړي نو هم به موټر زر خراب شي او هم به مسافرین و خپل مقصود ته ونه رسوي او کېدای شي چې کوم ترافیکي ټکر یا Traffic Accident را منځ ته شي او په موټر کې د ناستو انسانانو د ژوندانه د هلاکت سبب وګرځي ، نو څرنګه چې انسان د الله تبارک و تعالی ﷻد مخلوقاتو څخه یو مخلوق دی نو د انسانانو د ښېرازه او با سعادته ژوندانه لپاره د الله تبارک و تعالی ﷻقانون بهترینه قانون او رهنما ده ، نو په دغه الهي قوانینو کې د الهي قانون (اسلام) څخه مخ ګرځونکې (مُرتد) ته د مرګ سزا تعینه کړې ده کومه چې زمونږ په سر سترګو باندې قبوله ده.

7. د ارتداد سزا کومه چې قتل ده ، د دغه عمل لپاره یوه ډېره ښه او بهترینه سزاه ده کومه چې انسانانو ته د عبرت درس ورکوي ، او هېڅ څوک دا جرئت نه کوي چې دغه ناوړه عمل (ارتداد) تر سره کړي او د نړۍ په تاریخ کې د همدغه عمل (ارتداد) انجامونکي د ګوتو په شمار دي.

8. د امریکا د متحده آیالاتو د ۳ مې مادې په ۱۱۰ مه برخه کې یې په ډېر ټینګار سره ویلي دي چې که چېرته یو څوک د حکومت او نظام په خلاف کوم عمل تر سره کوي ، نوموړی شخص د امریکا دښمن ګڼل کیږي او باید له منځه یوړل شي.[1] نو که په نورو غیر اسلامي هېوادونو کې چې د بشر د حقوقو شعارونه پورته کوي ، او د خپل حکومت خلاف اعمالو سره خلک خپل دښمنان ګڼي او له منځه یې وړي ، نو بیا په کوم منطق سره په مسلمانو هېوادونو باندې دا نیوکه کوي چې ولې د خپل نظام خلاف اشخاص (مرتدین) له منځه وړي ؟ ، نو نیوکه یې غیر عادلانه او غیر منطقي ده.

## لومړی مطلب: په اســلام کې د دین آزادي:

### اســلام د انســانیت لپاره رحـمت دی نه کړاو

### په اسـلام کې دیني/مذهبي آزادي:

اســلام په خپله عیسیویت ، یهودیت ، مجوسیت ، هندومت سره د نورو ټولو مذهبونو منونکو ته پخپل ، خپل مذهب د عمل کولو او هغې ته د تابع اوسېدو پورې اجازه ورکړې ده ، چې د دې خبرې ګواهي د قرآن کریم په سورة الحج کې موجوده ده او په سورت بقرة کې هم فرمایل شوي دي چې ﴿ لا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ﴾ [2]، ژباړه په دین کې هېڅ زور او زیاتی نشته ، یعني دین ته په داخلېدو کې په هېڅ ډا کوم زور او زیاتی نشته چې دې دین ته داخل شي بلکې د هر چا خپله خوښه ده چې دې دین ته راځي او که نه.

نو له دې څخه دا څرګندیږي چې الله ﷻ له جوماتونو پرته نور عبادت ځایونه هم نه دی منع کړي او دا تاریخي حقیقت غربي مورخینو هم منلی دی ، چې د مسلمانانو د حکومت په دور کې مسیحي او یهودي ولس ، چې کوم ژوند تیر کړی ، هغوی له خپل مذهبي مشرانو له دور څخه د مسلمانانو د واکمنۍ او حکومت په دور کې ډېر خوښ او په ښه حال ؤ.

دا هم د تاریخ برخه ده ، چې د اسلامي فتوحاتو په لړ کې کله چې اسلامي عسکرو د دنیا په پراخوالي کې بیرغونه رپول او ډېر هېوادونه د لوی اسلامي سلطنت برخه جوړه شوې ده ، هلته نا مسلمان ولس ته پوره او په خلاص مټ آزادي تر لاسه وه ، د راشده خلافت او بني امیه د خلافت په دور کې د فتح شوو هېوادونو نا مسلمانو وګړو ډېره برخه د خپلو پلرني مذاهبو د فرضونو په تر سره کولو کې هېڅ کله له کومې پابندۍ سره ندې مخ شوي او نه هم د مذهب په بدلولو کې پرې جبر شوی دی.

وتلي مورخ ټي ډبلیو ارنلډ لیکلي چې: د مجوسیت په له منځ وړلو کې د مسلمانو فاتحینو د زور پایله بلل ناشونې

---

[1] : www.nytimes.com
**Article 3 of section 110**: Treason against the US shall consist only in levying war against them, or in adhering to their enemies

[2] : د البقرة سورت: ۱۵۶ آیت

ده ، بلکې د اسلام منل په پوره امن او خوښۍ سره ؤ.[1]
یو بل غربي مورخ ډاکټر ای جی براون لیکلي دي چې: د مسلمانانو لخو د ایران له قبضې څخه درې سوه کاله کم و زیات وروسته هم د ایران په هره سیمه کې د مذهبي ازادۍ چراغ بل ؤ.[2]

## د بیت المقدس په هکله د حضرت عمر فاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ پریکړه لیک:

د ښه چلن ، انصاف او نا مسلمانو سره د ښه چلند ژوندۍ بېلګه: کله چې مسلمانانو بیت المقدس (چې هغه وخت یې نوم ایلیا ؤ) فتح کړ ، نو د بازنطیني د پاچا په غوښتنه د مسلمانانو خلیفه حضرت عمر فاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ په خپله د ښار د کیلیګانو اخیستو لپاره لیرې سفر وکړ ، له مدینې منورې څخه بیت المقدس ته ورسېد ، اسقف په خپله د اسلام خلیفه ته ټول ځایونه وښودل ، چې د لمانځه وخت شو ، مسیحي لارښود له حضرت عمر فاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ څخه وغوښتل چې مخکې شي او لمونځ وکړي ، مګر حضرت عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ انکار وکړ او ویې ویل چې که یې دلته لمونځ اداء کړ ، نو وروسته به مسلمانان هغه په جوماتونو بدل کړي ، حضرت عمر رضی اللهُ تعالی عنهُ چې له ښاریانو سره کومه پریکړه وکړه د هغې خلاصه په لاندې ډول سره ده:
(داسې پریکړه د الله ﷻ د بنده ګانو او د مسلمانانو د خلیفه حضرت عمر فاروق رضی اللهُ تعالی عنهُ لخوا د یلیا د وګړو سره کیږي:
د دغه سیمې اوسېدونکو ته د هغوی د ژوند ، جایداد ، کلیساګانو او نورو عبادت ځایونو د پوره ساتنې ډاډ ورکول کیږي.
د دغه سیمې په اوسېدونکو به هیڅ ډول زور د مذهب په اړه نه کیږي او نه به پرې کومه پابندي لګول کیږي ، یهودان هم له مسیحیانو سره د یوځای اوسېدو او په یو ښار کې د پاتې کېدو حق لري).[3]
همدارنګه په سلګونه نورې بېلګې هم شته دی چې له دې نیوکې څخه انکاري دي چې ګوندې اسلام د توري پر مټ خپور شوی دی ، دا سراسر د اسلام د دښمنانو دسیسې او خیانت دی چې د اسلام د بدنامولو لپاره دا خبره کوي چې مسلمانانو نامسلمان ولس په زوره په خپل دین کې داخل کړی دی او دا شعار یې د خپل بې بنسټه کمپاین یوه برخه تشکیل کړې ده.

## اسلام د زور دین نه دی:

اسلام په هیڅ صورت د زور او تیرې اجازه نه ورکوي او د دې ستر ثبوت دا دی چې الله ﷻ په خپله حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ ته فرمایي: په زوره د خلکو مسلمانول ستا کار ندی او نه ته د نورو انسانانو د کارونو او اعمالو لپاره

---

١ : The preaching of Islam, page 180-181 صفحه ١٨٠-١٨١ ، مؤلف: تي ډبلو آرنولډ
٢ : Literacy History of Presia, Vol No. 1, Page No. 206 جلد ١ ، صفحه ٢٠۶ ، مؤلف: اي جي براون
٣: A Short History of Islam

ځواب ورکونکی یې ، په قرآن کریم کې الله ﷻ په څرګند ډول فرمایي:

﴿ فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ O لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴾ [1]

ژباړه: ښه نو (ای پیغمبره صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ) نصیحت کوه ، ته یوازې نصیحت کونکی یې ، ته هېڅ پر هغو زور زیاتی کوونکی نه یې (چې ایمان ته یې مجبور کړې).

په بل ځای کې الله ﷻ فرمایي:

﴿ فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا الْبَلَاغُ وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ الْإِنسَانَ كَفُورٌ ﴾ [2]

ژباړه: اوس که دوی مخ اړوي ، نو (ای پیغمبره صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ !) مونږ خو ته پر دوی د ساتندوی په توګه نه یې لېږلی ، پر تا خو یواځې د خبرې (پیغام) رسولو مسئولیت دی ، د انسان دا حال دی چې که مونږ ورباندې د خپل رحمت خوند شکو ، نو په دې خوښیږي ، او که د دوی د خپلو لاسونو کړی بد عملونه د کوم مصیبت په بڼه کې برې راوړو ، نو انسان ډېر ناشکره کیږي.

الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا ﴾ [3]

ژباړه: او ای مُحَمَّده ، په ډاګه ووایه چې ستاسې د رب له لورې دغه حق دی ، اوس که د چا زړه غواړي چې ایمان راوړي ایمان دې راوړي او څوک چې کافر کیږي کافر دې شي ، مونږ د (انکار کوونکو) ظالمانو لپاره داسې یو اور تیار کړی دی ، چې د هغه پردو هغوی ایسار کړي دي ، هلته که هغوی اوبه وغواړي ، نو پداسې اوبو سره به یې غوښتنه وپالل شي ، چې د تېلو د ځوښا غوندې به وي ، او د هغو مخونه به وریت کړي ، ډېر ناکاره ښښاک او ډېر ناوړه استوګنځی دی.

او له هغې وروسته دا بیا په خلکو پورې اړه لري چې مني یې او که نه ؟ د دین په ټاکنه کې مسلمانانو ته پوره آزادي ورکړل شوې ده او هېڅ چا ته دا اجازه نشته چې خپله عقیده په نورو باندې ومني.

اسلام په هېڅ صورت د زور او تیري اجازه نه ورکوي.

### اســــلام د زړه له کومې منل د مســـلمانېدو شرط دی:

کېدای شي چې هغه ګوتنیونکي له دې څخه ناخبره وي چې وایي اسلام په توره خپور شوی دی او یا د اسلام مبارک دین ته په سپکه ګوري دوی د اسلام څخه نا خبره دي ، دا ځکه چې د اسلام په دایره کې داخلېدلو لپاره

---

۱: د الغاشیة سورت ، ۲۱ او ۲۲ آیتونه

۲ : د الشوری سورت ، ۴۸ آیت

۳ : د الکهف سورت ، ۲۹ آیت

اړینه ده چې د شهادت کلمه نه یواځې په ژبه اداء کړي بلکې له زړه څخه پرې تصدیق وکړي:

د شهادت کلمه: لا اله الا اللهُ مُحمدُ الرسولُ الله

ترجمه: له الله ﷻ پرته بل هېڅ څوک د عبادت وړ ندی او مُحَمَّد ﷺ د الله ﷻ پېغمبر دی.

که کوم شخص دا کلیمات د وېرې له امله ، یا د کوم ځانګړي مقصد لپاره په خوله باندې ووایي او د زړه له صدق څخه د هغه حقانیت تسلیم نکړي ، نو هغه ریښتونی مسلمان نشي کېدی ، نو بیا له زور ، توري ، ظلم او تیري څه ګټه ؟

که په کوم چا په زوره کلمه وویل شي ، خو که هر کله ورته هم آزادي تر لاسه شي ، خپل دین ته به بېرته وګرځي ، له دې امله اسلام له پیل څخه د دین په منلو یا نه منلو کې د زور څخه کار نه دی اخیستی او انسانان یې ازاد پرېښي دي چې هر دین غوره کوي ، غوره کولای یې شي ، چې البته دا خبره د یادولو وړ ده چې د الله ﷻ په نزد باندې تر ټولو غوره دین اسلام دی او نور ادیان باطل دي ، او انسان ته اختیار ورکړل شوی دی چې هر دین غوره کوي.

## الله ﷻ انســـان ته د دین په ټاکلو کې اســلام ته په داخلېدو کې آزداي ورکړې ده:

د دین په قبلولو کې اسلام زور نه مني بلکې دا یې شرط دی چې اسلام ته راتلونکي دې دین ته په خپله خوښه راشي او د زړه له کومي دې د اسلام حقانیت پخپله قبول کړي ، د الله ﷻ فرمان دی:

﴿ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴾ . [1]

ژباړه: که ستا د رب اراده وای ( چې په ځمکه کې دې ټول خلک مؤمنان او حکم منونکی اوسي )، نو ارو مرو به د ځمکې ټول اوسېدونکو له یو مخې ایمان راوړی ؤ ، نو آیا ته خلک مجبوروې چې ایمان راوړي ؟

همدارنګه الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ﴾. [2]

ژباړه: او ای مُحَمَّده ، په ډاګه ووایه چې ستاسې د رب له لورې دغه حق دی ، اوس که د چا زړه غواړي چې ایمان راوړي ایمان دې راوړي او څوک چې کافر کیږي کافر دې شي.

## له رسولُ الله ﷺ سره په مکه کې څرنګه فوځ ؤ؟

کله چې حضرت مُحَمَّد ﷺ خپل قوم ته وویل ، چې زه الله ﷻ تاسو ته د لارښوونې لپاره رالېږلی یم او نبی یم ، او هغه چې کله خپل قوم ته د اسلام لورې ته بلنه ورکوله ، نو په هغه وخت کې هغه یواځې ؤ ، هېڅ فوځ ورسره نه ؤ ، چې

---

۱ : د یونس سورت ، ۹۹ آیت

۲ : د الکهف سورت ، ۲۹ آیت

د نه منلو پر مهال يې د نه منونکو پرضد له دغه فوځ څخه کار اخيستی وای او نه ورسره د دولت انبارونه ؤ چې په هغې سره يې خلک له خپل ځان سره يوځای کړي وای ، تر دې پورې چې د نبي کريم ﷺ کورنۍ هم ورسره په مخالفت کې وړاندې وړاندې کېدله د نورو خو لا يادوونه څه .......

## اسلام په زړونو حکومت کوي او هېڅ کله هم د تورې په زور ندی خپور شوی:

اسلام له سلام څخه اخيستل شوی دی چې مطلب يې امن او سلامتي ده ، دا د امن او سلامتۍ دين دی او خپلو پيروانو ته هم په دنيا کې امن ته د ودې په ورکولو امر کوي ، او د اسلام معنی د الله تعالی ﷻد رضا په وړاندې سر ټيټول دي له دې کبله اسلام د امن لومړی دين دی ، او د دې لاس ته راوړل د کائيناتو د خالق د رضا په وړاندې په سر ټيټېدو سره شونی دی.

**په هسپانيا کې د اسلامي حکومت ۸۰۰ کاله:**

مسلمانانو په هسپانيا کې اته سوه کاله حکومت وکړ مګر غير مسلمان ولس ته يې د اسلام په راننوتلو کې هېڅ کله هم د رياستی طاقت څخه کار ندی اخيستی ، مګر وروسته عيسوي فاتحينو د مسلمانانو پوره خاتمه وکړه او يو داسې وخت راغی چې په هسپانيا کې يو مسلمان هم پاتې نشو چې اذان وکړي.

**يو کروړ او څلوېښت لکه عرب پيدايشي عيسويان دي:**

په عربي نړۍ باندې پرته له انګليسانو او فرانسويانو د څو کاله محدود حکومت کولو نور ټول مسلمانانو ۱۴۰۰ کاله پاچاهي کړې ، مګر برسېره پر دې په دغه هېوادو کې يو کروړ او څلوېښت لکه قبطي عيسويان دي يعنې نسلي سلسله لا روانه ده ، او دا خبره ښيخې واضح ده چې که مسلمانانو پاچاهانو طاقت کارولی نو يو عرب به هم نا مسلمان نه وی پاتې.

**په هند کې له ۸۰ سلنې څخه زيات نفوس د نامسلمانانو دی:**

په هندوستان باندې د مسلمانانو د پاچاهۍ دوره له زرو کالو څخه کمه نه ده ، هغوی پرته له کوم شک څخه د هندوستان خاوندان ؤ او د هغوی لپاره هېڅ مشکل نه ؤ چې هر هندو يې د طاقت په ژبه مسلمان کړی وای ، مګر نن د هندوستان ۸۰ سلنه آبادي د دې خبرې ژوندۍ بېلګه ده ، چې مسلمانو پاچاهانو له مذهبي پرېکړو څخه په پوره توګه استفاده کړې او عمل يې پرې کړی دی او مذهبي آزادي يې دوامداره ساتلې ده.

**په اسلام کې هېڅ زور نشته:**

دا خبره خو په تاريخي توګه هم درسته نده چې اسلام د تورې په مټ خپور شوی دی ، که مسلمان د تورې په استعمالولو آماده هم شي ، نو بيا هم هغه داسې نشي کولای ، ځکه چې اسلام د دې منع فرمايلې ده ، د قرانکريم په سورة البقره کې ارشاد دی:

﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ﴾ [1]

ژباړه: د دین په چارو کې هیڅ زورنه او مجبورول نشته ، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شوې ده.

د اسلام مبارک دین خپل پیروانو ته د دعوت لاره د نیکو نصایحو په بلنه باندې رهنمایي کوي ، الله ﷻ فرمایي:

﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴾ [2]

ژباړه: ای پیغمبره ! د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي ، ستا پروردګار ډېر ښه پوهیږي چې څوک د هغه له لارې څخه اووښتی دي او څوک پر سمه لاره برابر دي.

**په نهمه پېړۍ کې د نړیوالو مذهبونو د تابعینو د ډېرښت اندازه:**

په نړیواله کچه شهرت لرونکې جریدې په ریډرزړډ ایجست [3] کې په ۱۹۸۶ کال کې یو مضمون چاپ کړ چې پکې له ۱۹۳۴ م څخه تر ۱۹۸۴ م کال پورې په نیمه پېړۍ کې د نړیوالو مذهبونو د تابعینو په شمېر کې د ډېروالي اندازه ورکړ شوې وه ، دا مضمون په Plain Truth [4] مجله کې هم خپور شو ، د دوی له مخې د اسلام حقیقت قبلوونکو شمېر تر ټولو ډېر ؤ او د ډېرښت شرحه یې ۳۳۵ سلنه وه حال دا چې د عیسویت اضافه والی ۴۷ سلنه ؤ.

**په اروپا او امریکا کې تر ټولو په تېز سرعت سره خوریدونکی دین یوازې اسلام دی:**

دا د ویاړ او درناوې خبره ده چې نن په امریکا او اروپا کې اسلام د نورو ادیانو په پرتله په تیزۍ سره خپریږي آیا اعتراض نیونکي او منکرین به د دې خبرې ځواب ورکړي چې په اروپا او امریکا کې د اسلام قبلوونکو په سر چا توره اینښې ده چې هغوی دومره ژر او په دومره ډېر شمېر سره د حق خواته مخه کوي ، دین بدلوي او اسلام ته راځي.

والله سُبحانه تعالی اعلم

**د غیر مسلمو نیوکه او انتقاد: د ارتداد سزا کومه چې د اسلام لخوا مُرتد ته ورکول کیږي د عقیدې د آزادۍ خلاف ده حال دا چې د بشري حقوقو په نړیواله اعلامیه کې بشر آزاد دی چې هر دین ته اوړي اوښتی شي.**

**ځواب:** اسلام یو جامع او کامل نظام دی چې د ژوندانه ټول اړخونه پکې شامل دي او د دغه دین په رڼا کې انسانان کولای شي چې په احسنه او نېکه وجه سره یو تر بله داسې ژوند وکړي په کوم کې چې د انسانانو ټول سیاسي ، اقتصادي ، فردي او اجتماعي حقوق خوندي دي ، د نړۍ بل هېڅ نظام کې د افرادو عمومی او خصوصي حقوق ندي خوندي لکه څنګه چې په اسلام کې خوندي دي نو په همدغه اساس باندې د انسانانو د ژوند لپاره

---

۱ : د البقرة سورت ، ۲۵۶ آیت

۲ : د النحل سورت ، ۱۲۵ آیت

۳: **Statistic of the increase of major religions in the world,** Reaer's Digest 'Almanac' year book 1986

٤: **The Plain Truth, magazin**

اسلام یو بهترین نړیوال نظام دی د کوم نظام په شته والي او بقا کې چې باید هر انسان خپل تر وسه پورې زیار او کو شش وکړي او که چېرته څوک غواړی چې دغه نظام له منځه یوسي او یا یې تکنی کړي نو باید د ټولنې څخه څنگ ته شي تر څو د ټولو انسانانو حقوق او ګټې چې په دغه دین کې موجودې دي له منځه یو نسي ، د اسلام په مبارک دین کې د انسانانو ټول حقوق او آزادۍ تائید شوي دي ، که یو څوک اسلام ته مخه کوي او یا یې نه کوي ، اسلام په زوره باندې هېڅ څوک هم ندی مجبور کړی چې دغه دین ته دې حتما مخه کړي ، الله ﷻ په خپل سپېڅلي کلام قرآن کریم کې په دغه هکله فرمايلي دي:

﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ [1]

ژباړه: د دین په قبلولو کې هېڅ نوع زور او جبر نشته ، په تحقیق سره سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جدا شوې ده ، اوس چې څوک له کوم طاغوت (شیطان) څخه منکر شي او پر الله ﷻ باندې ایمان راوړي ، هغه یوه داسې کلکه اسره ونیوله ، چې هېڅکله ماتېدونکې نده ، او الله ﷻ د هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی.

اما د اختلاف نقطه دا ده چې د اسلام په مباک دین کې د داخلېدلو څخه وروسته بیا شخص اجازه نلري چې نورو منسوخو او یا باطلو ادیانو ته مخه کړي یا د حق څخه باطل ته مخه کړي کوم چې د ارتداد په نامه سره يادېږي ، دا ځکه چې دغه دین ته باید په ټوقو او مسقرو سره ونه لېدل شي او نه دا د ټوقو او مسقرو کار دی ، چې یو ځل دغه دین ته داخل شوې بیا باید د مرګ تر آخره پورې په همدې دین کې پاتې شي ، چې عمده دلایل یې مونږ د عقلي او نقلي دلایلو تر بیلا بیلو ګروپونو لاندې څېړلي دي:

**د غیر مسلمو نیوکه او انتقاد: په اسلام کې د مُرتد، محسن زاني، او قطاع الطریق سزا قتل ده، د شرابو څکلو او قذف سزا ۸۰ درې ده.. کوم چې باید داسې نه وای.**

**ځواب:** اسلام چې یو بشپړ او کامل دین دی د ژوندانه ټول ابعاد یې په نظر کې نیولي دي چې د هرڅه د مخه یې د مقاصد خمسه ؤ ساتنې ته کوم چې د یو انسان لپاره تر ټولو اړین او ضروري دي پوره پاملرنه کړې ده ، چې عبارت دي له: د دین ساتنه ، د نفس ساتنه ، د مال ساتنه ، د عقل ساتنه او د نسل ساتنه.

نو که هر څوک پورته مقاصد تر پښو لاندې کوي او د خلکو دین ، سر ، مال ، عقل او نسل تخریبوي او له منځه یې وړي نو ورته سزا ټاکل شوې ده ، څرنګه چې زمونږ موضوع د ارتداد سزا ده نو غواړم چې لومړی د ارتداد سزا تر بحث لاندې ونیسم او د حضرت علامه مودودي رحمة الله علیه نظر کوم چې یې غیر مسلمو ته په دغه هکله وړاندې کړی دی ، ذکر کړم:

---

[1]: د البقرة سورت ، ۲۵۶ آیت

1. که چېرته لومړی یو نفر له کوم بل دین څخه اسلام ته را داخل شي او عهد وکړي چې زه اسلام منم ، او بیا له اسلام څخه بېرته اوړي ، نو دا د خپل عهد ماتول دي ، نو هر کله چې په معاملاتو کې یو تړون یا عهد تر سره کیږي او جانبین موافقه کوي ، نو که چېرته یو څوک له دغه تړون څخه اوړي نو د تړون څخه د مخالفت په صورت کې مقابل طرف ته یو نه یو رقم تاوان رسیږي ، نو په همدې ترتیب سره که یو څوک لومړی اسلام ته داخل شي او بیا له اسلام څخه مخ اړوي نو مسلمانانو/اسلامي نظام ته زیان اړوي چې د اسلام مبارک دین دغه شان عهد/تړون ماتوونکي ته مخکې تر مخکې د وژلو سزا ټاکلې ده کوم چې یو پرځای عمل دی او باید چې همداسې وشي.
2. ارتداد یو داسې عمل دی چې مُرتد په خپل دغه عمل سره اسلامي نظام ته ستونزې راولاړوي ، او حتی کیدای شي چې د نظام د ړنګېدو سبب ګرځي ، نو د دنیا په هر قانون کې چې که یو څوک داسې عمل تر سره کوي چې د نظام د ړنګېدو باعث ګرځي ، دغه شخص ملي خاین بولي او د ملي خیانت په ترسره کولو کې یې ورته د اعدام سزا ټاکلې ده او دغه شان افراد اعدام کوي. نو د اسلام مبارک دین هم نوموړي فرد ته کوم چې د دین څخه اوړېدلی دی او د اسلامي نظام د ړنګېدو باعث ګرځي ، ورته د قتل سزا ټاکلې ده.

نو که د نیا نور نظامونه د خپلو نظامونو خلاف عمل کوونکي ته د اعدام سزا ټاکلې ده هېڅ کومه خبره نشته ، او چې اسلام مبارک دین د اسلامي نظام خلاف عمل کوونکي ته د اعدام/قتل سزا ټاکلې ده له هرې خوا څخه نیوکې کیږي ، چېرته دی د نیوکو کوونکو انصاف؟ دا د انصاف څخه ډېره لرې خبره ده ، چې دوی په ځان باندې نیوکې نه کوي او په اسلام باندې نیوکې کوي.

## دویم مطلب: په اسلام کې د بیان آزادي:

### اســلام د کائـیـناتو دین دی

**د غیر مسلمو نیوکه او انتقاد: آیا په اسلام کې د بیان آزادي شته او که نه؟ او که شته نو سلمان رشدي ته ولې د مرګ سزا واورول شوه؟**

**ځواب:** په اسلام کې په بشپړه توګه د بیان آزادي شته په دې شرط چې په هغې سره د چا زړه آزار نه شي او خبره په ثبوت سره وشي ، په قرآن کریم کې د الله ﷻارشاد مبارک دی چې یو بل په بدو الفاظو او نومونو مه یادوئ ، د کوم شخص پر ضد له ثبوت سره او بې ثبوته غیبت کول په اسلام کې اجازه نلري خو چېرته چې په ټولیز ډول د زیان او ګټې معامله وي نو په ثبوت سره د ضد خبرې ممانعت نلري ، د بېلګې په ډول که یو څوک په یو کمپنۍ کې کارمند وي او پوهېږي چې کمپنۍ د بد دیانتۍ او مالي خیانت او درغلۍ ښکارندوی ده ، نو پرې واجب ده چې له ثبوت سره دا معاملې مخې ته راوړي ، چې دا کمپنۍ خلک تنګوي ، لوټي یې او دوکه ورکوي ، اسلام پرته له ثبوته په چا د

نیوکې کولو نه یواځې منع نه ده کړې بلکې د دغسې کار د تر سره کوونکي لپاره یې د سزا ورکولو امر هم کړی دی.
مثلا که کوم شخص په کومه مېرمن بې ځایه تور او تهمت ولګوي ، نو د هغه لپاره حکم دا دی ، چې هغه څلور شاهدان وړاندې کړي ، او که داسې نشي کولای ، نو سزا یې دا ده چې هغه ۸۰ درې ووهل شي ، په اروپا او امریکا کې شونې ده چې ته کومه مېرمن بد نامه کړې او بریالی خلاص شې مګر تر کومه ځایه چې د اسلامي نظام غوښتنه ده هلته له داسې کار کوونکي نشي خلاصېدی.
د سلمان رشدي د موضوع په هکله دا واضح ده چې هغه زمونږ د پیغمبر حضرت مُحَمَّد الرسولُ الله ﷺ او ام المؤمنین پر ضد لیکل کړي او د مُحمد رسولُ الله ﷺ د معجزو پر ضد یې زبان درازي کړې ده. هغه چې کومه بدرنګه فضا جوړه کړې ده هغه په ژبه نشي ویل کېدای ، هېڅ یو دین دغسې ګنده ګۍ ته اجازه نشي ورکولای ، نوموړي د اسلام د پاکو هستیو لپاره ناوړه الفاظ کارولي دي چې دلته یې یوه بېلګه وړاندې کووم ، په انګلستان کې مارګریت تیجر لومړی وزیر ؤ ، نو یو امریکایي یې پر ضد پر پالیسیو نیوکه وکړه او د هغه په ضد یې ناوړه الفاظ وکارول او هغه ته یې سپی وویل ، د دغه الفاظو په کارولو سره برتانوي حکومت په دغه شخص بندیز ولګاوه.
اسلام د عزت او درناوي دین دی او نه یواځې دا چې د یو عام وګړي پر ضد د بدې ژبې کارولو ته اجازه نه ورکوي بلکې د کوم پیغمبر (د الله ﷻد برګزیده انسان) د سپکاوي کولو اجازه هم نه ورکوي ، سلمان رشدي نه یواځې دا چې د حضرت مُحمد رسولُ الله ﷺ پر ضد خپل وحشي نظر ښکند کړی دی بلکې د رام او سیتا پر ضد یې هم ناوړه ژبه کارولې ده چې په هغې سره د هندوستان د هغه وخت لومړي وزیر راجیو ګاندهي د هغه پر ګتاب بندیز ولګاوه. د بایبل په کتاب کې Leviticus کې راغلي دي چې د خدای په شان کې ګستاخ کوونکي سنګسار کړئ یعني د سخت جرم له مخې د سختې سزا ورکولو تصور شتون لري.
په اسلام کې د سختو سزا ګانو په اړه څلور لارې دي:
د قرآن کریم په سورة المائده کې ارشاد دی:
﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ [1]
ژباړه: بېشکه کوم خلک چې له الله ﷻاو د هغه له پیغمبر سره جنګیږي او په ځمکه کې د دې لپاره منډې ترړې کوي چې فساد راولاړ کړي نو د هغه سزا دا ده چې ووژل شي ، یا په دار وځړول شي ، یا یې لاسونه او پښې ردو بدلې غوڅې کړای شي ، یا له وطنه وشړل شي ، دا ذلت او سپکاوی خو د هغو لپاره په دنیا کې دی ، او په آخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لویه سزا ده.
وګورئ چې په یو جرم د هغه سنګینۍ او حالاتو ته په رڼا کې څلور بېلا بېلې لارې دي ، په نورو ادیانو او اسلام کې همدا توپیر دی ، دا خبره سمه ده چې ټول دینونه ښې خبرې ښایي او بد او ناسم کارونه غندي ، خو د بدو کارونو

۱: د المائدة سورت ، ۳۳ آیت

د له منځه وړلو لاره يواځې اسلام ښايي ، د مثال په ډول: په مسيحيت ، هندويزم او اسلام درې واړو کې د ښځو د بې حرمتۍ غندنه شوې ده مګر په اسلام کې د ښځې سپکاوي کوونکي ته د مرګ سزا ورکولو د امر برخېره د دې ناوړه کار د مخنيوي لپاره هم لاره چاره ښودل شوې ده ، د اسلام مبارک دين سړيو ته امر کوي چې کله مو په ښځه ناڅاپي نظر پريوځي ، نو سملاسي نظر ښکته کړئ ، همدا امر ښځو ته هم شوی دی او د دې سره سره يې پر ښځو د بدن د پټولو پابندي هم کړې ده ، يو بل مثال هم وړاندې کوو ، فرض کړئ چې دوه خويندې البته غبرګونې پيغلې وي او بيخي يو شان ښايسته وي ، په دغو کې يوه په بشپړ ډول پرده کې وي او بله لويديځ خويه لوڅې جامې اغوندي او د بد کارۍ څرګندونه کوي ، او دوی دواړه په يوه کوڅه کې رواني وي ، او په مخه کې ورته يو غلط او بدکاره بد اخلاقه انسان ورشي ، نو دغه شخص به کومې يوې ته ميلان پيدا کوي ؟ واضح خبره ده چې دغه بد کاره شخص به هماغه لوڅې جامې اغوستونکې باندې تحاجم وړي او کومه چې په پرده کې ده هغه به په امان له کوڅې څخه تېره شي ، نو د ښځو د جنسي تيري ، د تهمت ، او بد نامولو د مخنيوي لپاره يوه لاره هم په پرده کې د ښځو ګرځېد ل دي کوم چې ورته اسلام مخکې تر مخکې ښودلې ده.

په امريکا کې هره ورځ ۱۹۰۰ ښځې د جنسي تيري ښکار کيږي ، اسلام په ښځو د ظلم د مخنيوي له امله مجرمينو ته د مرګ سزا ټاکلې ده ، مګر نن ورته د نړۍ ديموکراتان وحشيانه سزا وايي ، اوس زه همدا پوښتنه دغه ديموکراتانو ته متوجه کووم چې که چېرته ستاسو له خور ، مور يا ښځې سره څوک تيری وکړي ، نو تاسو به هغه ته څه ډول سزا ورکوئ؟ زه په اطمنان سره وايم چې ستاسو ځواب به په يوه خوله د مرګ سزا وي ، همدارنګه که چېرته د همدغه ديموکراتانو له خور ، مور يا ښځې سره څوک تيری وکړي ، او دوی ته د قاضي او حاکم په توګه واک ورکړی شي ، نو دوی به هغه ته څه ډول سزا ورکوئ؟ زه بيا هم په اطمنان سره وايم چې د دوی ځواب به په يوه خوله د مرګ سزا وي.

همدارنګه که له دوی څخه زه دا وپوښتم چې که چېرې په امريکا کې اسلامي قانون اعلان شي او تر وروستي بريده پرې عمل وشي يعنې د هر هغه سړي چې نظر يې په پرديو ښځو ولګيږي خپل نظر ښکته کړي ، هره ښځه پرده وکړي ، او کوم سړی چې د کومې ښځې بد نامي (قذف) وکړي هغه ته د اسلام مطابق ۸۰ درې سزا او جنسي تيري کوونکي ته د اسلام مطابق سزا (مجرد ته ۱۰۰ درې او متاهل ته د مرګ سزا) ورکړل شي نو د دغه جرم ګراف به را ټيټ شي او حتی په غوڅ ډول به کم شي.

د سعودي عربستان بېلګه مخې ته ده چېرته چې د ټولې نړۍ په پرتله د ښځو پر ضد د جرمونو سلنه کمه ده ، په اسلامي نظام کې هېڅ څوک پر چا د تهمت لګولو په صورت کې له سزا څخه نشي ژغورل کېدای ، د رايې ورکولو ، څرګندونو بيانول په آزاد ډول مطلب دا ندی چې هر څوک وغواړۍ نو د خپل ځان لپاره يې په ناسم ډول وکاروئ ، د بيان د آزادۍ حد ټاکل شوی دی.

اسلام د هر شخص حقوق په پام کې نيولي دي ، خو چې د انسانيت په ګټه وي ، نو يقينا چې د بيان د آزادۍ اجازه په اسلام کې شته حتی د بيان آزادي پرې واجب ده ، په سورة بني اسرائيل کې ارشاد دی:

﴿مَّن كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا [1]

ژباړه: څوک چې د کومې سملاسي ګټې غوښتونکی وي ، هغه ته يې مونږ همدلته ورکوو چې چا ته د يو څه ورکول وغواړو ، بيا د هغه په برخه دوزخ ليکو چې هغه به ملامت او له رحمته محروم ورننوځي.

يعنې اسلام يقينا د بيان د آزادۍ اجازه ورکوي خو چې د انسانيت لپاره ګټور وي ، خو که په زيان يې وي نو بيا اجازه نه ورکوي.

## د غير مسلمو نيوکه او انتقاد: په اسلام کې د بيان آزادي منحصره ده ؟

**ځواب:** اسلام د ادب او نېکو اخلاقو دين دی ، د بيان آزادي شته خو د بيان آزادي مطلقه نده ، بلکې د بيان آزادي د چوکات په داخل کې ده په دې تر تيب چې بل انسان توهين نکړي او نه د يو معزز شخص بې ادبي وشي (کوم چې انساني فرهنګ ايجابوي او انسانانو سره ښه ښايي) او انساني کرامت ته پکې پاملرنه کيږي ، حال دا چې د ديموکراسۍ په آزادۍ کې انساني کرامت تر پښو لاندې کيږي او بې ادبي او نا خوشاينده مکالمات د معززو انسانانو پر ضد وړاندې کيږي د کوم څخه چې د انسانانو تر منځ نفرت او بې اتفاقي ، جګړې او شخړې را منځ ته کيږي.

## مؤمنان د الله ﷻ د امر تابع دي او الله ﷻ د مسلمانانو د وينې توئېدل په ناحقه باندې حرام کړي دي:

الله ﷻ انسان په مخ د ځمکه خپل خليفه ټاکلی دی تر څو دغه انسان په مخ د ځمکه باندې د الله ﷻ احکام جاري کړي او انسانان په مخ د ځمکه باندې په پوره امن او سوله کې ژوند وکړي او د کوم مقصد لپاره چې انسان دغه دنيا ته رالېږل شوی دی ، هغه تر سره کړي.

## د مسلمان د وينې حرمت:

د اسلام په مقدس دين کې د هر انسان سر او مال خوندي دی او د اهميت وړ خبره دا ده چې د يو مسلمان د وينې تويول بغير له دريو حالتو څخه يو ناجايز او حرام عمل دی کوم چې په مختصر شکل سره يادولو وړ بولم: الله تبارک و تعالی ﷻ د مسلمان د وينې توئيدل نه خوښوي مګر فقط په دريو استثنايي حالاتو کې کوم چې: د الله ﷻ د حدوداتو څخه اوښتنه او عصيان دی او په دغه عصيان سره د انساني نسل خرابيږي ، د يو بل مسلمان په ناحقه قتلول ، او د اسلام د دين څخه په ارتداد کوم چې د مسلمانانو د ډلي څخه پرې خارجيږي او په ټولنه کې بې نظمي او حتی د اسلامي نظام د ړنګېدو سبب ګرځي.

د انسان او بيا باالخصوص د مسلمان وينه ډېر ارزښت لري چې د مسلمان د وينې د حرمت په هکله ام المؤمنين

---

۱: د الأسراء سورت: ۱۸ آيت

حضر بي بي عایشة صدیقة رضى اللهُ تعالى عنها د رسولُ الله ﷺ څخه یو حدیث شریف روایت کوی چې فرمایي:

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا يَحِلُّ قَتْلُ مُسْلِمٍ إِلَّا فِي إِحْدَى ثَلَاثِ خِصَالٍ زَانٍ مُحْصَنٌ فَيُرْجَمُ وَرَجُلٌ يَقْتُلُ مُسْلِمًا مُتَعَمِّدًا وَرَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْ الْإِسْلَامِ فَيُحَارِبُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَرَسُولَهُ فَيُقْتَلُ أَوْ يُصَلَّبُ أَوْ يُنْفَى مِنْ الْأَرْضِ .[1]

ژباړه: د حضرت بي بي عایشې رضى اللهُ تعالى عنها څخه روایت دی هغه وایي چې رسولُ الله صلى اللهُ علیه وسلم وفرمایل: د مسلمان قتل ندی روا مګر په یو ده دغه درې حالتونو څخه: کله چې یو محصن زنا وکړی نو رجم یې کړی ، او که یو سړی یو مسلمان په قصد سره قتل کړي نو ویې وژنی ، او یو سړی له اسلام څخه ووځي او د الله او د الله د رسول سره جنګ وکړي نو یې قتل کړی یا یې صلب کړی او یا یې تبعید کړئ.

دا خبره چې د الله ﷻاو د هغه رسول سره جنګ کوي او دا یې د دې څخه وروسته راوړ د اسلام څخه ووځي ، دا د خاص حکم بیان دی هغه چې د اسلام څخه په خاص ډول وتلی وي او هغه جنګیالي دی ، دا خاص حکم لري چې د قتل صلب او نفي په باره کې ذکر کړی ، دا د هغه څخه خاص دی چې مخکیني حدیث یې افاده وکړه او د نفي څخه مقصد د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه له نظره حبس یا زنداني کول دي ، او د امام شافعي رحمة الله علیه له نظره نفي دې ته وایي چې له ښار څخه یې وباسي د هغه پلټنه به کیږي هغه به تښتیدونکی او په ویره کې وي ، دا هم کفایت کوي چې له وطن څخه یې وشړي.

د حدیث شریف او آیت ظاهر په دې باندې دلالت کوي چې اما د دې سزاګانو په ورکول کې اختیار لري چې هغه د جنګیالي لپاره وي او که هغه مسلمان وي او یا کافر.

له پورته دریو سزا ګانو (کوم چې سنګینو جرایمو ته ټاکل شوې) څخه بغیر په اسلام کې د هیڅ مسلمان وینه تویول حلال ندي او حرام دي. نو معلومه شوه چې د اسلام مبارک دین د خلکو د سر ساتنې ته پوره پاملرنه کړې ده او قاتل ته یې د قتل سزا ټاکلې ده تر څو بیا څوک دا جرئت ونکړي چې بل انسان قتل کړي او مسلمانان د ځمکې په مخ باندې خپل هوسا او آرام ژوند ته دوام ورکړي.

که چېرته قاتلینو ته د مرګ سزا ورنکړل شي نو نتیجه به یې لکه د نن ورځې د ظلمونو غوندې وي چې نن سبا په نړۍ کې هره ورځ په زرګونه انسانان د ظالمانو د لاسه وژل کیږي او د هیڅ چا ژوند خوندي ندی ، کوم دي د بشر د حقوقو د تش په نامه شعار ورکوونکي چې د دغه ظالمانو په مقابل کې د بیګناه انسانانو د وژلو غږ راپورته کړي؟ چې نه د انسانانو سر خوندي دی ، نه یې مال خوندي دی ، او نه یې دین خوندي دی ، او ظالمان چې په مظلومانو هر ظلم کوي کوي یې ، پوهیږي چې څوک راته څه نه وایي.

زه د نړۍ په ټولو انسانانو او بالخصوص د بشر دحقوقو د تش په نامه شعار ورکوونکو باندې له همدغه ځایه غږ کووم چې که چېرته د الله تبارک وتعالى ﷻحدودات په مخ د ځمکې باندې جاري شي نو په ضمانت سره ورته وایم

---

[1]: سن أبو داؤد: د حدیث شمیره ۴۳۵۵. بلوغ المرام من أدلة الأحکام: تحقیق: سبل السلام فی شرح بلوغ المرام: ج ۱ ، ص ۵۷۵ ،

چې د ټولې نړۍ د انسانانو سر ، مال ، نفس ، دین ، عقل او هر څه به په مخ د ځمکه باندې خوندي وي ، او په میلیاردهاؤ انسانان به د نړۍ په مخ باندې آرام او هوسا ژوند ولري ، او دغه موجوده بد بختیانې او بد امنۍ به د ځمکې له مخې ټولې شي.

**د مسلمان د وینې د حلالوالي لاملونه:**

د مسلمان د وینې د حلالوالي لاملونه درې دي کوم چې رسولُ الله ﷺ په لاندې حدیث شریف کې بیان کړي دي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ابن مسعود رضى اللّٰهُ تعالى عنهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: « لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُولُ اللَّهِ إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ الثَّيِّبُ الزَّانِ وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ ».[1]

ژباړه: له حضرت ابن مسعود رضی اللّٰهُ تعالى عنهُ څخه روایت دی هغه وایي چې رسولُ الله ﷺ فرمایلي دي: د هغه مسلمان وینه روا نده چې شاهدي ورکوي چې نشته لایق د عبادت پرته له یو الله ﷻ څخه او زه (مُحَمَّد) د الله ﷻ رسول یم ، مګر که یو له دریو شیانو څخه وکړي بیا یې وینه روا ده: محصن (ښځه لرونکی) زنا کاره ، یو نفس په بل نفس باندې او هغه چې د مسلمانانو جماعت پرېږدي (مُرتد شي). بخاری او مسلم روایت کړی دی.

دغه حدیث شریف په دې دلالت کوي چې د مسلمان وینه نه ده مباح مګر هغه وخت چې له دغه دریو کارونو څخه یو کارو وکړي ، محصن زنا کوونکی به سنګساریږي ، او له نفس په نفس څخه مقصد دا دی چې په شرایطو سره قصاص واخلي ، دکوم وضاحت چې به د ضرورت په وخت کې مفصلا ذکر شي ، او د دین تارک هغه مُرتد ته شامل دی چې د اسلام له دین څخه اوښتی وي ، که هغه په هر ردت سره وي ، نو که اسلام ته دوباره مراجعه ونکړي نو وژل کیږي به.

د جماعت د پرېښودونکي په مورد کې باید وویل شي چې دا خبره هر هغه چا ته شامل کیږي چې د جماعت څخه په هره منفي توګه سره وتلی وي ، که بغاوت یې کړی وي ، یا یې کوم بد بدعت کړی وي او یا کوم بل څه شی وي لکه خوارج چې کله جنګ شروع کړي او فساد ته بدې راونغاړي ، په دې دریو باندې د محدودیت په باره کې دا نیوکه شوې چې د تیري کووکي وژل هم روا دي او هغه په دې دریو کې نشته ، د دې څخه دا ځواب شوی چې تیری کوونکی د دې خبرې (دجماعت پریښودونکي) لاندې شامل دی او مقصد له دغو اشخاصو څخه دا دی چې په قصدي توګه یې وژل جواز لري او تیری کونکی په قصدي توګه نه وژل کیږي ، بلکې د ځان څخه د دفاع له مخې وژل کیږي.

حدیث په دې هم دلالت کوي چې اصلي کافر د ایمان د مطالبې له مخې نه وژل کیږي ، بلکې هغه د شر د دفع کولو له کبله وژل کیږي ، د دې پوره وضاحت په حواشي ضوء النهار کې شوی دی ، دا هم ویل کیږي چې اصلي کافر د دین په پرېښودونکي کې شامل دی ، ځکه هغه اصلي فطرت یې پرېښی چې هغه الله ﷻ پیدا کړی دی کوم

---

[1]: **صحیح المسلم:** ج ۵، ص ۱۰۶ ، د حدیث شمېره: ۴۴۶۸ ؛ **المسند الموضوع الجامعة لكتب العشرة:** ج ۱ ، ص ۳۲، د حدیث شمېره: ۴ .

چې د توحید په کتابونو کې واضحا ذکر شوی دی.

## د بشري حقوقو د شعار ورکوونکو د انتقاداتو په اړه د اسلام د مبارک دین څخه نقلي دلایل

لومړی باید دا په ډاګه شي چې اسلام په هېڅ چا باندې زور ندی کړی چې یو څوک اسلام ته داخل شي او د دغه خبرې د اثبات لپاره په لیکلي شکل سره ټولو عالمیانو ته په قران کریم کې لیکلی سند وړاندې کوي چې:

﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ. [1]

ژباړه: د دین په چارو کې څه زور او مجبورول نشته ، په تحقیق سره سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جدا شوې ده ، اوس چې څوک له کوم طاغوت (شیطان) څخه منکر شي او پر الله ﷻ باندې ایمان راوړي ، هغه یوه داسې کلکه اسره ونیوله ، چې هېڅکله ماتېدونکې نده ، او الله ﷻد هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی.

د هر چا خوښه چې هر دین خوښوي ، اسلام خوښوي ، یهودیت خوښوي ، نصرانیت خوښوي ، هندوییزم خوښوي ، ..... او داسې نور ، هر دین چې خوښوي هغه د انسان خپله خوښه ده ، له همدې کبله مونږ وایو چې لومړي باید ادیان باالخصوص اسلام مطالعه شي حق او باطل معلوم شي او بیا ورته (اسلام ته) په رڼو سترګو انسانان داخل شي تر څو د اسلام د مبارک دین په خوند او لذت باندې پوه شي نو دا به ډېره ښه وي. خو کله چې یو غیر مسلمان سړی بیدون له کوم جبر او اکراه څخه په خپله خوښه اسلام ته داخل شي او عهد وکړي چې زه اسلام منحیث یو دین او رهنما د خپل ژوندانه لپاره ګرځوم او دا کلمه ووایي چې لا اله الا الله محمدﷺرسولُ الله (په ژبه اقرار او په زړه باندې تصدیق وکړي) او ایمان راوړي ، نو بیا دغه شخص ته نده پکار چې خپل عهد مات کړي او د دغه برحقه دین څخه نورو باطلو ادیانو ته مخه کړي (مُرتد شي). څرنګه چې اسلام هم د عفوې او صلحې دین دی همدارنګه د غیرت څخه ډک دین دی ، هر څوک چې مسلمان شي او په دغه دین کې د داخلېدو تعهد وکړي او بیا له دغه دین څخه اوړي او خپل عهد او وعده ماتوي نو دغه دین ورته مخکې تر مخکې ګردن ماتونکې سزا ټاکلې ده او دغه شان وعده شکني نه قبلوي.

که چېرته په اوسني عصر کې نړیوالو حقوقي نظامونو او قوانینو ته ځغلنده کتنه وکړو نو په هر مملکت کې د جزا په قانون کې دا ذکر شوې ده چې که یو فرد د نظام په خلاف عمل تر سره کړي دغه تر سره کړی عمل یې ملي خیانت بلل کیږي او سزا یې اعدام ده ، نو د دغه قانوني اصل په نظر کې نیولو سره په اسلامي هېوادونو کې اسلامي نظامونه حاکم دي او د اسلامي هېوادونو رسمي دین اسلام دی ، نو که چېرې یو څوک د اسلام له دین څخه واوړی (مُرتد شي) نو دغه عمل یې د اسلامي هېواد/ټولنې په افرادو کې شک او شُبهه پیدا کوي او په هېواد/ټولنه کې حرج او مرج او ګډوډۍ رامنځ ته کوي او حتی د نظام د ړنګېدو باعث ګرځي ، نو ځکه خو دغه عمل هم د اسلام مبارک دین ملي خیانت تلقي کړی دی او سزا یې ورته مرګ ټاکلې ده.

---

۱ : د البقرة سورت ، ۲۵۶ آیت

ځرنګه چې اسلام د شفقت ، مرحمت ، عفوې او صلحې دین دی نو لومړی یې دغسي افرادو ته د دریو ورځو لپاره د استتابې او توبې کولو لپاره مُهلت (وخت) ټاکلی دی چې مُرتد د خپل دغه ناوړه عمل څخه لاس واخلي ، بېرته خپل عهد (مسلمانېدلو) خواته راوګرځي او معاف شي ، اما که بیا هم مُرتد په خپل خیانت او وعده ماتونې باندې ټینګ ودریږي نو په ټولنه کې د نظم د ساتلو او د نظام د ړنګېدلو د مخنیوي لپاره همدغه یو کس په سزا (قتل) رسوي او ټولنه خپل عادي ژوند ته د صلحې او ورورولۍ په فضا کې ادامه ورکوي.

د اسلام په مباک دین کې د داخلېدلو څخه وروسته بیا شخص اجازه نلري چې نورو منسوخو او یا باطلو ادیانو ته مخه کړي یا د حق څخه باطل ته مخه کړي کوم چې د ارتداد په نامه سره یادیږي حال دا چې د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه د دغه مورد په خلاف وضع شوې ده مګر دغه موضوع ته د اسلام مبارک دین خاصه پاملرنه کړې ده او خپل پیروان نه پریږدي چې له برحق دین څخه ناحقه ادیانو ته مخه کړي او په اسلامي ټولنه کې حرج او مرج رامنځته کړي او په دغه شان ملي خیانت سره اسلامي نظام ړنګ شي.

غیر مسلمان افراد په قرآن کریم او احادیثو باندې عقیده نلري ، نو ځکه مونږ ورته عقلي دلایل وړاندې کړل ، اما د هغه شمېر غیر مسلمانو وګړو لپاره چې پوهیږي چې قرآن کریم د الله ﷻ بر حق کتاب دی او بیا هم د عناد له وجهې یې نه مني ، او یا هم د شک په پولو کې دي چې کله نا کله یې اذهان د قرآن کریم حقیقت ته اوبه ځکې او کله پرې منکریږي ، نو اړینه مو وبلله چې نقلي دلایل هم وړاندې کړو ، اګر که له کتاب الله او سنت رسول څخه یو څه دلایل ذکر شول اما د موضوع د روښانتیا لپاره مو اړینه وبلله چې نقلي دلایل په جداګانه ډول سره ذکر کړو.

د ارتداد په اړوند نقلي دلایل په کتاب الله (قرآنکریم)، او سنت الرسول کې ذکر شوي دي او هم پرې د صحابه ؤ اجماع صورت نیولی دی ، کوم چې مونږ پورته بیان کړل اما د موضوع د روښانتیا لپاره به ترې بیا مختصرا یادوونه وکړو.

## خاتمه او د څېړنې مهمې پايلې

1. ارتداد په لغت کې د يو شي څخه بېرته ګرځېدلو ، رجوع او شاتګ ته وايي ، او په اصطلاح کې د يو عاقل او بالغ مسلمان په خپله خوښه بيدون له کوم جبر او اکراه څخه ، د اسلام د دين څخه ګرځېدلو او د هغه کافر کېدلو ته ارتداد وايي.
2. مُرتد هغه چا ته وايي چې د ارتداد عمل يې تر سره کړی وي.
3. د ارتداد د صحت شرطونه شپږ دي: اسلام ، عقل ، بلوغ ، اختيار ، د کفر اراده او په ارتدادي قول يا فعل او عمل باندې پوهه.
4. د ارتداد ارکان په دوه ډوله دي چې يو يې عمومي ارکان دي او بل يې خصوصي ارکان دي ، چې په عمومي ارکانو کې يې شرعي رکن ، ادبي رکن او مادي رکن شامل دی ، او په خصوصي ارکانو کې يې جنايي هوډ (مقصد) او له اسلام څخه ګرځېدل شامل دي.
5. ارتداد په اقرار او شهودو سره ثابتيږي ، که چېرته يو مُرتد په خپله په ځان باندې اقرار وکړي او پخپله خوله باندې د ارتدا کلمات ووايي ارتداد يې ثابتيږي ، د شاهدانو په شهادت باندې هم ارتداد ثابتيږي ، چې د جمهورو فقهاؤ په نزد باندې دوه شاهدان او د امام اوزاعي له نظره په ارتداد کې هم لکه د زنا د حد په څېر د څلورو شاهدانو شاهدي ورکول اړين دي.
6. په نبوي عصر کې د امر مروان په نوم يوه ښځه مرتده شوې وه او توبه يې ونکړه ، ووژل شوه.
7. د حضرت ابوبکر صديق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د خپل خلافت په دور کې د زکات د منکرينو او مسلمة الکذاب په ضد باندې جهاد وکړو.
8. د حضرت عمر فاروق رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ د خپل خلافت په دور کې خپل ما مورين يې مؤظف کړل تر څو مرتدين توبې ته راوبلي او که توبه ونه کړي ،نو قتل يې کړي.
9. د حضرت عثمان رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ په د خپل خلافت په دور کې د يو مرتد څخه درې ځلې د توبې غوښتنه وکړه او کله چې هغه په دريم ځل هم له توبې کولو څخه انکار وکړو ، نو هغه يې وواژه. همدارنګه ابن مسعود رضی اللّٰهُ تعالی عنهُ ته يې هم عين لارښوونه کړې وه.
10. د حضرت علی کرم الله وجهه د خپل خلافت په دور کې د مستور بن قبيصه څخه چې له اسلام څخه نصرانيت ته اوښتی ؤ او توبه يې ونه ويستله ، سر غوڅ کړو.
11. د خلفای راشدينو څخه وروسته هم د اسلامي دولت حکمرانانو مرتدين د ارتداد په سزا محکوم کړي دي.
12. په اوسني عصر کې هم مرتدين د ارتداد په سزا باندې محکوم شوي دي ، لکه سلمان رشدي مُرتد ته د ايران ولسمشر د مرګ سزا اعلان کړه ، همدارنګه عبدالرحمن پنجشيري چې کله مُرتد شو ، نو مخکې له دې څخه چې نوموړی د ارتداد په سزا باندې ورسيږي ، نوموړي د ارتداد د سزا له وېرې څخه د عيسوي کليساؤ په

مرسته د ایتالیا د سفارت له لارې له افغانستان څخه غرب ته تېښته وکړه او فعلا هم له مسلمانانو څخه پټ ګرځي.

13. د ارتداد اسباب زيات دي چې مونږ دلته په څلورو ګروپونو ترتيب او تنظيم کړي دي ، د ارتداد عقيدوي اسباب ، د ارتداد قولي اسباب ، د ارتداد عملي اسباب او د ارتداد هغه اسباب کوم چې د يو شرعي عمل په ترک کولو سره را منځ ته کيږي.
14. د مرتد وينه مباح ده او مرتد مباح الدم دی ، جنازه يې نه کيږي او د مسلمانانو په هديره کې نه خښ کيږي.
15. د مسلمانانو مشر (خليفه ، پاچاه ، رئيس ، حاکم) او يا د هغه نائب به په مرتد باندې ټاکلې سزا تطبيقوي. که چېرته مرتد نارينه وي ، قتل کيږي ، او که چېرته مرتده ښځينه وي ، حبس يا بندي کيږي.
16. د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه له نظره: د مرتد هغه مال چې د اسلام په حالت کې يې لاس ته راړوی دی د هغه مسلمانو ورثه ؤ ته ورکول کيږي ، او هغه مال چې يې د ارتداد په حالت کې لاس ته راوړی وي ، بيت المال ته مصادره او سپار ل کيږي.
17. د جمهورو فقهاؤ له نظره: د مرتد ټول مال مصادره کيږي.
18. د احنافو په نزد مرتده ښځه نه وژل کيږي بلکې بندي کيږي او هره ورځ به ورته اسلام وړاندې کيږي تر څو يا بېرته مسلمانه او آزاده شي او يا په محبس کې مړه شي ، په دليل د: « لاتقتلو امرأة ولا وليدا ».
19. د امام کرخي په نزد ، مُرتده ښځه بايد هره ورځ په محبس کې يوه قمچينه هم وهل کيږي.
20. د امام شافعي په نزد ، مرتده ښځه د مرتد نارينه په څېر وژل کيږي ، له وجهې د عموم د حديث چې: « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ » [1]
21. که يو سړی يا يوه ښځه مُرتده شي ، د ارتداد د عمل په تر سره کولو سره يې فورا يو له بل سره علاقه قطع کيږي ، يعنې په سړي باندې خپله هغه ښځه چې په شرعي ډول يې په نکاح کړې يې ده ، طلاقه کيږي.
22. د مُرتد سره د بلې ښځې نکاح هم نه کيږي ،دا ځکه چې اسلامي شريعت د مُرتد د قتل حکم کړی دی.
23. که يو سړی مُرتد شي او د ارتداد څخه وروسته بېرته مسلمان شي ، نو په دغه صورت کې د نکاح اختيار له ښځې سره دی ، که د هغې ښځې خوښه وي نو د نکاح عقد به تجديدا صورت نيسي او د نکاح په صورت کې به مهر هم ورکوي ، او که د دغې ښځې خوښه نه وي نو نکاح فاسده ده او تجديد د نکاح هم صورت نه نيسي او د دواړو تر منځ جدايي او بېلتون را منځ ته شو.
24. د مرتد ذبيحه او حلاله حرامه ده ځکه چې ايمان نلري.
25. امام حسن بصري رحمة الله عليه وايي چې: د مُرتد څخه د توبې غوښتنه نده پکار بلکې فی الفور ووژل شي.

[1]: **صحيح البـــخاری**: ، ج ۶ ، ص ۲۵۳۷ ، د حديث شمېره ۶۵۲۴

26. امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي چې: فی الحال ترينه د توبې غوښتنه واجب نده ، بلکې د حاکم لخوا به وژلی شي ، اما که په خپله د توبې غوښته وکړه نو درې ورځې وخت به ورته ورکړل شي.
27. د احنافو په نزد باندې مستحب دی چې مُرتد ته درې ورځې وخت د توبې لپاره ورکړل شي او په محبس کې د درې ورځو لپاره بندي شي او هره ورځ به ورته په محبس کې اسلام وړاندې کيږي.
28. صاحبينو (امام ابو يوسف او امام مُحَّد رحمهما الله عليهما) ويلي دي چې: اګر که مُرتد وخت ونه غواړي ، درې ورځې وخت ورته د توبې ويستلو لپاره مستحب دی.
29. امام مالک رحمة الله عليه وايي چې: د توبې غوښتنه ترې واجب ده ، که چېرته فی الحال يې توبه وويستله نو توبه يې صحيح ده ، او که فی الحال يې توبه ونه ويستله نو درې ورځې وخت بايد ورته ورکړل شي ، که چېرته يې د درې ورځو په جريان کې توبه وويستله صحيح ده ، او که د درې ورځو په جريان کې يې توبه ونه ويستله نو واجب القتل دی او بايد ووژل شي.
30. امام شافعي رحمة الله عليه وايي چې: د توبې غوښتنه ترې واجب ده او په وخت ورکولو کې ترې هم دوه قوله دي: قوي قول يې دا دی چې که مُرتد په خپل ارتداد باندې کلک ولاړ وي او وخت وغواړي نو بايد وخت هم ورنکړل شي او بايد فورا ووژل شي.
31. امام احمد بن حنبل [رحمة الله عليه] وايي چې: په يو قول کې د امام مالک رحمة الله عليه سره ملګری دی او په بل قول کې د توبې غوښتنه واجب نه ګڼي او په وخت ورکولو کې هم د ده په مذهب کې اختلاف دی چې آيا درې ورځې وخت ورکول واجب دي او که نه.
32. علامه أبي عبدالله قرطبي [رحمة الله عليه] وايي چې: انه يستتاب مائة مرة.
33. حضرت عطاء بن أبي رباح وايي چې: د مُرتد تير حالت ته بايد وليدل شي: که چېرته په اسلام کې زيږېدلی ؤ يعنې مور او پلار يې مسلمانان ؤ او بيا مُرتد شي نو د هغې شخه به د توبې غوښتنه نه کيږي بلکې مخامخ به ورته د مرګ سزا ورکول کيږي ، او که چېرته کافر مسلمان شوی وي او بيا مُرتد شي نو له هغه شخه به د توبې غوښتنه کيږي او ورته وخت ورکول پکار دي.
34. امام سفيان ثوري [رحمة الله عليه] وايي چې: مُرتد به بنديخانې ته واچول شي او تول عمر به ترينه د توبې غوښتنه کولی شي ، نوموړي دا قول د امام ابراهيم نغعي [رحمة الله عليه] شخه اخيستی دی.
35. د توبې لپاره د وخت او زمان اندازه يا مهلت: مرتد ته درې ورځې وخت دی چې توبه وباسي او بېرته مسلمان شي ، يُســتتابُ المُرتدُ ثلاثا

- د احنافو فقهاؤ په نزد: د مُرتد لپاره درې ورځې وخت دی چې توبه وباسي ، اما دغه درې ورځې وخت ضروري او لازمي ندی بلکې استحسانا مستحب دی.

○ د امام شافعي رحمة الله عليه او امام مالك رحمة الله عليه په نزد: د مُرتد د توبې لپاره درې ورځې وخت واجب دی چې باید مُرتد ته دغه درې ورځې وخت ورکړل شي او پیشنهاد ورته ورکړل شي چې هغه توبه وباسي.

36. د استتابې څخه مخکې د مُرتد وژل مکروه دي ، باید ونه وژل شي ، او ورته وخت ورکړل شي ، که چېرته مُرتد په دغه درې ورځو کې ایمان را نه وړلو بیا پرې د ارتداد حد جاري کیږي.

37. د افغانستان د اساسي قانون دریمه ماده حکم کوي چې په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام دین سره په مخالفت کې وي ، چې د په دغه ماده کې د اسلام مبین دین ته ښه درناوی شوی دی او دغه مادې زمونږ د هېواد اساسي قانون ته د اسلامي شریعت په رڼا کې یوه خاصه ښکلا ورکړې ده.

38. د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۰ مه ماده داسې حکم کوي چې: محکمې تر غور لاندې قضایاوو کې د دې اساسي قانون او نورو قوانینو حکمونه تطبیقوي ، که د غور لاندې قضایاوو له جملې څخه د کومې قضیې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي ، محکمه د حنفي فقهې د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون ټاکلي ، قضیه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تأمین کړي.

39. د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۰ مې او ۱۳۱ مې مادې د قانون مسکوت عنه مسایل اسلامي فقهې ته راجع کړي دي او حنفي فقه یې خپل اعلی مصدر ګرځولی دی.

40. د افغانستان د جزاء قانون لومړی ماده داسې حکم کوي چې: دا قانون تعزیري جرمونه او جزاګانې تنظیموي د حدودو ، قصاص او دیت د جرمونو ارتکاب کوونکي د اسلامي شریعت د حنفي فقهې د حکمونو سره سم مجازات کیږي.[1]

41. ارتداد د شرعي حدودو څخه یو حد دی او ارتداد کوونکی مُرتد ګڼل کیږي کوم چې په اسلامي ټولنه کې یو ملي جرم او خیانت دی ، نو د افغانستان د جزا په قانون کې جرایمو ته سزا ګانې ټاکل شوي دي ، او د افغانستان د جزا قانون د حدودوداتو اړوند جرایمو ته د اسلامي شریعت د حنفي فقهې مطابق سزا ټاکلې ده ، کوم چې د مرتد قتل دی.

42. د مُرتد دنیوي عقوبت: د مُرتد دنیا خرابه ده ، ټول امور یې په تعلیق ولویږي ، او که توبه ونه باسي نو په دنیا کې به یې په حال ، مال او اولاد کې به یې منفي تغیرات راځي: د عدم استتابې (توبه کولو) په صورت کې به د خپل کړي عمل (ارتداد) په شرعي سزا باندې رسیږي (قتل کیږي)، د نکاح عقد یې باطل کیږي ، اولاد به ورڅخه جدا کیږي ، د اسلام مال یې مسلمانو ورثه ؤ ته میراث او د ارتداد مال یې فيء او بیت المال ته تسلیمیږي ، په اجتماعي لحاظ به ورسره د خلکو اړیکې پرې کیږي ، خلک به ور څخه نفرت کوي او منفور به وي.

---

۱ : **د افغانستان د جزا قانون** ، لومړی جلد ، لومړی ماده

43. د مُرتد اخروي عقوبت: د مُرتد آخرت خراب دی ، ټول نیک اعمال یې بې ځایه دي ، او ورته به عذاب ورپه برخه کیږي چې د همیشه لپاره به په جهنم کې وي.
44. Human Rights یا د بشر حقوقو تعریف د غرب له نظره: د بشر حقوق هغه ټول امتیازات او اساسي حقوق دی چې ټول انسانان یې د انسانولۍ له امله لري او حق یې دی چې ویې لري.
45. Human Rights یا د بشر حقوقو تعریف د اسلام له نظره: د بشر حقوق د انسان د فطرت د برخاسته اصولو مجموعه ده چې الله ﷻانسان ته ورکړي دي چې د هغې هدف په ټولنه کې د انساني کرامت ساتل او د اجتماعي عدالت تأمینول دي.
46. د بشر د حقوقو په نړیواله اسلامي اعلامیه کې اساسي حقوق او عمومی آزادي ګانې د اسلام د دین جز دی ، چې د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې په لومړۍ ماده کې بشر په کلي شکل سره یوه کورنۍ ده چې د الله ﷻبندګۍ او د یو پلار حضرت آدم علیه السلام اولاده دي ، هغوی یې سره یو ځای کړي دي او ټول انسانان د انساني کرامت ، له لحاظه بیدون له کوم تبعیض څخه سره مساوي دي.ټول مخلوقات د الله ﷻ پیدا دي او الله ﷻ ته تر ټولو مخکې هغه دی چې تقوا او پرهېزګاري کوي.
47. د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بشر د حقوقو د نړیوالې اسلامي اعلامیې تر منځ اختلافي موارد: اسلامي فقهې سره د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې صریح اختلاف په دوه مواردو کې موجود دی: د بشر د حقوقو ۱۶ مه ماده: د زوجیت موضوع ده او هغه دا چې په اسلامي فقه کې مسلمانه ښځه کولای شي چې یواځې مسلمان خاوند سره نکاح وکړي چې په آینده کې د مسلمانې ښځې او مسلمان خاوند تر منځ دېر ښه ژوند مخ پر وړاندې ځي. د بشر د حقوقو ۱۸مه ماده: په ۱۸ مه ماده کې فکري ، اعتقادي ، دیني او مذهبي آزادۍ مطرح شوي دي چې د اسلام مبارک دین کې دغه ټولې تائید شوي دي چې د کائیناتو څښتن قرآن کریم کې په دغه هکله فرمایلي دي: لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ. ژباړه: د دین په قبلولو کې هېڅ نوع زور او جبر نشته. اما د اختلاف نقطه دا ده چې د اسلام په مبارک دین کې د داخلېدلو څخه وروسته بیا شخص اجازه نلري چې نورو منسوخو او یا باطلو ادیانو ته مخه کړي کوم چې د ارتداد په نامه سره یادیږي حال دا چې د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه د دغه مورد په خلاف وضع شوې ده مګر دغه موضوع ته د اسلام مبارک دین خاصه پاملرنه کړې ده او خپل پیروان نه پرېږدي چې له برحق دین څخه ناحقه ادیانو ته مخه کړي او په اسلامي ټولنه کې حرج او مرج رامنځته کړي او په دغه شان ملي خیانت سره اسلامي نظام ړنګ شي.
48. د اسلامي شریعت سره د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې د اختلاف د شک موارد د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په ۲ ، ۵ ، ۱۶ او ۱۸ مه ماده کې موجود دی.
49. اسلام په زوره باندې هېڅ څوک هم ندی مجبور کړی چې دغه دین ته دې حتما مخه کړي ، الله ﷻپه خپل سپېڅلي کلام قرآن کریم کې په دغه هکله فرمایلي دي: لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ .
50. په اسلام کې د بیان آزادي شته خو د بیان آزادي مطلقه نده ، بلکې د بیان آزادي د چوکات په داخل کې ده.

## وړاندیزونه

دغه علمي او تحقیقاتي موضوع په اړوند کوم چې مونږ د ارتداد احکام د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره تر عنوان لاندې په فقهي او قانوني شکل سره په هر اړخیز ډول سره د هېواد په رسمي ژبه (پښتو) باندې وڅېړله ، په لاندې ډول سره وړاندیزونه کوم:

1. د افغانستان اسلامي جمهوریت د چارواکو څخه مو هیله دا ده چې د ارتداد په هکله معلومات تر لاسه کړي ، د دغه ناوړه عمل په سزا باندې خانونه وپوهوي او د دغه ستر جرم مرتکبینو (مرتدینو) ته د عدلي او قضایي ارګانونو له قانوني پرېکړې څخه وروسته ، د عدم استتابې په صورت کې ، د اسلامي شریعت او د افغانستان د نافذه قوانیون له نظره ، قانوني سزا ورکړي.
2. د افغانستان اسلامي جمهوریت د لوړو زده کړو وزارت ته مو وړاندیز دا دی چې د هېوادوالو د علمي کچې د لوړوالي لپاره د دوکتورا او ماسترۍ برنامې نورې هم زیاتې کړي او کومې برنامې چې پیل شوې دي هغه دې نورې هم بډایه او تقویه کړي.
3. د سلام پوهنتون د فقهې او قانون خانګې د ماسترۍ برنامې ته وړاندیز کوم چې محصلینو ته د ماسترۍ د پروګرام په پای کې د تیزس لیکلو او تحقیق لپاره داسې معاصر موضوعات انتخاب کړي کومو ته چې زمونږ په ټولنه کې اړتیا موجوده ده او په اوسني عصر کې زمونږ د هېوادوالو پوښتنو ته ځواب ووایي او د ټولنې اړتیا پرې پوره شي ، البته بهتره به وي چې هم د موضوع فقهي او هم یې قانوني اړخ وڅیړي.
4. د هېواد علمای کرامو ته مو وړاندیز دا دی چې د ارتداد د مهمې موضوع په هکله د افغانستان نجیب ولس ته اړین معلومات ورکړي تر څو د ټولنې افراد د ارتداد د جرم څخه خوندي پاتې شي.
5. د افغانستان مسلمان او متدین ولس ته مو وړاندیز دا دی چې د دغه اثر په لوستلو سره خپله علمي تنده ماته کړي او د ارتداد د ناوړه عمل څخه ځان وساتي او په خپل سپېڅلي دین (اسلام) باندې منګلې کلکې کړي او د اسلام د دښمنانو د دسیسو ښکار نشي.

## د بحث اړوند ضميمې

أ) د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه

ب) د بشر د حقوقو نړيواله اسلامي اعلاميه

لومړۍ ضميمه:

## د بشر د حقوقو نړيواله اسلامي اعلاميه

## (Universal Islamic Decleration of Humman Rights)

(د ۱۳۲۹ لمريز کال د ۵ مياشتې ۱۵ مه چې د ۱۴۱۱ قمري کال د محرم د مياشتې د ۱۲ مې او د ۱۹۹۰ ميلادي کال د داګست د مياشتې د ۱۵ مې نېټې سره سمون خوري)

د بشر د حقوقو نړيواله اسلامی اعلاميه د اسلامي کنفرانيس سازمان غړي هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو په غونډه کې په يوزه سريزه او پنځه ويشت مادو کې تصويب کړه.

**ســــــريزه:**

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ.[1]

ژباړه: ای خلکو! مونږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې څخه پيداکړي ياستئ او بيا مو تاسې قومونه او قبيلې وګرځولئ تر څو چې تاسې يو او بل سره وپيژنئ ، په حقيقت کې د الله ﷻ په وړاندې ستاسې څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زيات پرهېزګار وي ، په باوري ډول الله ﷻ په هرڅه پوهېدونکی او با خبره دی).

د اسلامي کانفرانس غړي هېوادونه په الله ﷻ باندې په ايمان لرلو او د نړيوالو پالونکي ،د کايناتو پيداکوونکي ، د نعمتونو بخښونکي هغه څښتن تعالی چې انسان يې په غوره توګه پيدا کړ هغه ته يې کرامت ورکړ او هغه يې د ځمکې پر مخ خپل استازی وګرځاوه ، هغه څښتن تعالی چې د ځمکې د اصلاح او آبادۍ مسئوليت يې د بشر په غاړه کېښود او دغه امانت يې د هغه پر اوږو کېښود او هغه څه يې چې په ځمکه او اسمانونو کې دي ، د دې تر ولکې لاندې راوستل او په دغه تصديق سره الله ﷻ حضرت محمّد ﷺ د رېښتيني دين سره د لارښوونې لپاره راليږلی دی او دی يې نړيوالو لپاره رحمت ، د مرڼيانو ژغورونکی او د طاغوتيانو او زور ظالمانو ماتونکی ګرځولی ، هغه پيغمبر چې برابري او مساوات يې د ټول بشريت تر منځ اعلان کړ او هېڅ چاته يې بې د تقوی په بنسټ پرته د بل په وړاندې لومړيتوب او لوړوالی نه دی منلی. او د خلکو تر منځ يې زور زياتی او لرې والی له منځه يووړ ، هغه

---

[1] : د الحجرات سورت ، ۱۳ آيت

خلک چې څښتن تعالی هغوی له یوه روح څخه پیدا کړي دي ، د توحید د غوره عقیدې په پام کې نیولو سره چې د اسلام جوړښت د هغه پر بنسټ ولاړ دی ، هغه عقیده چې بشریت یې دې ته رابللی دی چې د الله ﷻ پرته د بل چا عبادت ونکړي او ورسره د هغه شریک ونه مني او د الله ﷻ پرته هېڅوک په خدایۍ قبول نکړي ، هغه عقیده چې د بشریت د کرامت او مسؤولانه آزادۍ ریښتینی بنسټ یې ایښی دی او د مرئیتوب څخه یې د انسان آزادی اعلان کړې ده او د هغه د تر سره کېدو لپاره هغه څه چې په اسلامي تل پاتې شریعت کې راغلي دي چې له هغې جملې نه د دین ، ځان ، ناموس ، مال ، نسل او نورو امتیازاتو لکه: منځلاریوالی یې د دغه شریع په ټولو احکامو او موضوع ګانو د مادي او معنوي برخو ګډون او هم عقل او زړه یې سره یو کړ او د حقوقو او دندو تر منځ یې انډولتوب راوست او د وګړو تر منځ د حرمت او عمومي خیر ښېګنې تر منځ یې تړاو او پیوند رامنځ ته کړ او د عدل معیاروونه یې د دواړو تر منځ ټینګ کړ تر څو له ټاکلي حد څخه نه تیری وي او نه هم زیان. د تمدن په پرمختګ کې د اسلامي امت په تاریخي دریځ باندې په ټینګار سره د هغه امت چې څښتن تعالی هغه غوره امت تاکلی دی ، تر څو یو همرنګه نړیوال تمدن بشریت ته وړاندې کړي ، هغه تمدن چې وتوانیږي نړۍ او آخرت سره وتړي او علم او ایمان ته پیوند ورکړي ، له همدې کبله له داسې امت څخه هیله او انتظار کیږي چې د لار ورکي بشریت په لارښوونه کې د متضادو مسلکونو د سیالۍ پر څپو قدم کیږدي او مادي تمدن د ستونزو لپاره د حل لارې ولټوي.

د خپلو بشري هڅو د وندې اخیستلو لپاره چې د بشر د حقوقو پورې اړه لري ، هغه حقوق چې موخه یې د بشر څخه د ناوړه ګټه اخیستنې او ظلم په وړاندې د بشریت ملاتړ وي او د شرافتمندانه ژوند کې د هغه د حقوقو او آزادیو په ټینګار سره چې اخلاقي شریعت سره همرنګه او همغاړی دی او په دې باور هغه بشریت چې د مادې پوهې لوړو درجو ته رسېدلی تل او هر وخت دې ته اړتیا لري چې د خپل تمدن اساسي او د خپلو حقوقو د ملاتړ په خاطر ایماني تکیه ، ځای او عامل سره همرنګه او همغاړی شي. او په دې باور سره چې بنسټیز حقونه او عمومي آزادۍ په اسلام کې د مسلمانانو د دین جزء دی ، نو هېڅوک حق نلري چې په اصولي توګه په ټولنیز یا جزیي توګه الهي احکام تر پښو لاندې کړي او یا له هغه څخه سترګې پټې کړي او هغه تکالیف چې څښتن تعالی د خپلو کتابونو له لارې نازل کړي او د پیغمبرانو خاتم یې رالیږلی او د هغه په وسیله یې آسماني رسالت پای ته ورساوه ، د همدې کبله د هغو مراعت کول عبادت او د هغو تر سره کول او په هغو تیری منکر دی او هر انسان په ځان ځاني توګه د هغو د اجراء او ساتنې مسؤل دی او امت په ګډه او همرنګه د هغه پر وړاندې مسؤلیت لري ، له همدې کبله د اسلامي کانفرانس غړي هېوادونه لاندې مواد په دې بنسټ اعلاموي.

**لومړۍ ماده**: الف: بشر په ټولنیزه توګه یوه کورنۍ ده چې د خدای ﷻ په وړاندې بندګي او د آدم علیه السلام فرزندي هغوی سره یوځای کړي دي او ټول خلک په انساني شرافت ، تکلیف او مسئولیت کې پرته له ډول توپیر نژاد یا رنګ ، ژبې ، جنس ، دیني عقیدې ، سیاسي تړاو او یا ټولنیزې وضعې له مخې سره برابر دي.

د دې تر څنګ صحیح عقیده د انساني تکامل له لارې د دغه شرافت د ودې یواځینی تضمین دی (انسانان ټول د څښتن تعالی مخلوق او د حضرت آدم علیه السلام اولاده ده چې د همدې اړخه د بشري ټولنې ټول وګړي د یوې

کورنۍ غړي دي او دوه مهم خصلتونه د واحد خدای ﷻ بنده ګي د یوه مور او پلار حضرت آدم او حضرت هوا علیه السلام فرزندي دوی له یو بل سره تړي او پیوند ورکوي.
په دې توګه د بشري ټولنې ټول وګړي د تبعیض او توپیر پرته د انساني شرافت درلودونکي دي او ټول د الله ﷻ په وړاندې یو رنګ تکلیفونه او مسئولیتونه لري او د جنس (ښځینه او نارینه)، توکم (تور، ژېړ او سور)، سیاسي تړاو او ټولنیزې وضعې به نظر کې نیولو پرته سره مساوي او برابر دي.
همدار راز د صحیح او سلامې عقیدې درلودل د انساني تکامل په لاره کې د شرافت، صداقت او پاکۍ د ودې او پرمختګ تضمین کوونکي دي.)
ب: ټول مخلوقات څښتن تعالی پیداکړي دي او د الله ﷻ په وړاندې غوره هغه څوک دی چې خپل همنوع ته ګټه رسونکی وي، هېڅوک یو پر بل لوړوالی نه لري، په تقوی او ښه چارو کې سره ټول انسانان د الله ﷻ بنده ګاند دي او هېڅوک یو پر بل لوړوالی او امتیاز نه لري، غوره انسانان هغه کسان دي چې د خپل همنوع په وړاندې نېک کارونه وکړي او د الله ﷻ بنده ګانو ته زیان ونه رسوي، د اسلام مقدس دین به دې اړوند په روښانه توګه وایي چې تر ټولو پرهېزګاره ستاسو د غوره انسانانو څخه دی.)
**دویمه ماده:** الف: ژوند یو الهي ډالۍ ده او هغه حق دی چې هر انسان ته تضمین شوی دی او په ټولو وګړو، ټولنو او حکومتونو واجب دی چې د دغه حق څخه ملاتړ وکړي او د هغه په وړاندې د هر تیري مخنیوی وکړي او د شرعي مجوز پرته د هېڅا وژنه روا نه ده.
(ژوند هغه نعمت دی چې الله ﷻ خپلو ټولو بنده ګانو ته ورکړی دی او ژوند هغه حق دی چې د هر انسان لپاره تضمین شوی، له همدې کبله لازمي بریښي چې ټول وګړي، ټولنې او حکومتونه له دغه حق څخه ملاتړ وکړي او د ټولو هغو پېښو او تېریو په وړاندې چې د انسانانو ژوند د خطر سره مخامخ کوي، مقاومت وکړي.
د اسلام د سپېڅلي دین د روښانو لارښوونو پر بنسټ د هېچا وژل د شرعي مجوز پرته روا نه دي یعنې هېڅوک باید د شرعي او عادلانه محکمې د حکم پرته ونه وژل شي.
ب: د هغې وسیلې کارول چې په ټولنیزه یا جزئي توګه د بشریت ریښه له منځه یوسي، ټول انسانان او دولتونه مجبور دي چې د دا ډول کړنو مخنیوی وکړي.)
ج: د بشریت د ژوند د آرامۍ ساتنه تر کومه چې الله ﷻ پېرزوینه وي، شرعي نه ده.
(ژوند هغه نعمت دی چې الله ﷻ انسانانو ته بخښلی او د الله ﷻ د ارادې څخه پرته بل هیڅوک نه شي کولای چې د ژون کولو حق د چا څخه واخلي، نو د ژوند د آرامۍ ساتنه تر کومه ځایه چې د الله ﷻ اراده او پېرزوینه ده، شرعي دنده ګڼل کیږي.)
د: د انسان د جنازې درناوی باید وساتل شي او هغه ته بط احترامي روا نه ده، حتی د هغه لمس کېدل روا نه دي، مګر د شرعي مجوز له مخې او د دغه امر څخه ملاتړ د دولت په غاړه دی.
(کله چې انسان مري د هغه جنازې ته درناوی انساني او شرعي دنده ده او هیڅوک حق نلري چې کومط جنازې ته

سپکاوی او بې احترامي وکړي ، حتی جنازې ته لاس وروړل د شرعي مجوز پرته روا نه دی ، له همدې کبله دولت مجبور دی چې د دغه امر څخه ملاتړ وکړي.)

**درېمه ماده**: په وسله والو شخړو او یا زور زیاتي د کار کولو په صورت کې نه ګډونکونکي کسان ، زړې ښځې او ماشومان باید ونه وژل شي ، هر ژوبل شوی د درملنې ، خوړو ، جامو او پناه ځای حق لري او د وژل شوو کسانو سپکاوی منع دی ، ښکېلي غاړې کولای شي چې بندیان یو بل ته ورکړي او تبادله شي او د هغو کورنیو تر منځ دې چې جنګ د هغه د بېلوالي لامل ګرځېدلی لېدنې کتنې وشي.

(د اختلاف او جګړو د پیدا کېدو په وخت په هېڅ ډول باید هغه وکړي چې په جګړه کې ګډون نه لري لکه سپین رږيري ، ښځي او ماشومان ازار او اذیت او ونه وژل شي.

همدار راز ټول ټپیان او ناروغان د کومې استثنا پرته د درملنې حق لري ، هغه کسان چې د وسله والو شخړو په وخت کې بندي کیږي حق لري چې خواړه ، جامې ، استوګنځای او د روغتیایي خدمتونو څخه برخمن شي ، د وژل شوو سپکاوی او د غړیو پرېکول د اسلام د سپېڅلي دین له نظره روا نه دي ، بندیان باید یو تر بله بدل شي او هغو کورنیو ته دې چې د جګړو له کبله سره بېلې شوي ، د لیدنو کتنو زمینه برابره شي.)

ب: د دښمنۍ له کبله د ونو پرېکول ، د کرنې له منځه وړل ، یا د هېواد د تأسیساتو او د ودانیو ویجاړول د بمباریو او یا د مرمیو د ورولو په وسیله منع دي.

(د وسله والو نښتو په وخت کې د ونو پرېکول ، د کرنې او اوبو لګول د تأسیساتو له منځه وړل ، مقابل لوري ته د زیان رسولو په خاطر د ښارویو وژل ، د آبادیو ، کورونو او دولتی مؤسسو ویجاړول د دښمنۍ له کبله د بمباریو او راکټ ورولو په وسیله ناروا دي.)

**څلورمه ماده**: هر انسان حرمت لري کولای شي چې د خپل شهرت څخه په ژوند او یا له مړیني وروسته ساتنه وکړي ، ټولنه او دولت مؤظف دی چې د هغه د تن او مدفن څخه ساتنه وکړي.

(څنګه چې انسان په ژوند کې حق لري د درناوي وړ دی او د خپل شخصیت او شهرت څخه ساتنه وکړي تر مړیني وروسته هم باید د هغه جسم او قبر ته هېڅ راز سپکاوی ونه شي ټولنه او دولت اړ ګڼل کیږي چې د انسان د تن او قبر څخه ملاتړ او ساتنه وکړي.)

**پنځمه ماده**: الف: کورنۍ د ټولنې د جوړښت بنسټ دی له همدې اکبله ښځې او نارینه د واده کولو حق لري او هېڅ راز بندیز چې د توکم ، رنګ او قومیت پر بنسټ ولاړ وي ، د دغه حق څخه مخنیوی نه شي کولای.

(د اسلام د سپېڅلي دین له نظره کورنۍ د ټولنې د جوړښت بنسټ ده او واده د کورنۍ د جوړښت اساس دی نو د یوې روغې ټولنط د جوړولو په خاطر اړینه ده چې کورنۍ د واده له لارې او په غوره توګه رامنځته شي نو له همدې کبله ښځې او نارینه حق لري چې واده وکړی او هڅ راز بندیز چې د توکم ، رنګه او یا ټبر په بنسټ وي د دغه حق مخنیوی نه شي کولای.)

ب: ټولنه او دولت مؤظف دی چې د واده په وړاندې خنډونه له منځه یوسي او د هغه لارې چارې اسانې کړي او د

کورنیو څخه ننګه او ملاتړ وکړي.
(جوته ده چې کورنۍ د ټولنې اساسي بنسټ جوړوي نو له همدې کبله ټولنه او دولت دنده لري چې د واده کولو پر وړاندې

**شپږمه ماده**: الف: د انساني حیثیت له پلوه ښځه له نارینه سره برابره ده او په کومه اندازه چې ښځه دندې لري په همغه اندازه د حقونو څخه هم برخمنه ده او د مدني شخصیت لرونکې مستقله مالي ذمه او د خپل نوم او نسب د ساتنې حق هم لري.

ب: د کورمۍ د نفقې برابرولو او د هغو ساتنه د نارینه د دندو څخه دي.
(د اسلام د سپېڅلي دین له نظره د کورنۍ نفقه او خرڅ د نارینه و په غاړه دی او نارینه دنده لري چې د خپل توان سره سم د کورنۍ اړتیاوې برابرې کړي.)

**اوومه ماده**: هر ماشوم د زیږېدنې له نېټې نه پر دولت، ټولنې او خپل پلار او مور باندې حق لري چې د ماشومتوب په پړاو کې د هغه ساتنه وکړي، روزنه، روغتیایي او معیشتي پالنه یې تر سره کړي او د دوی پالنې ته باید ځانګړې پاملرنه وشي.

(هر ماشوم د زیږېدنې له نېټې څخه پر مور او پلار، ټولنې او دولت حق لري چې د ماشومتوب په پړاو کې د هغه څخه ساتنه او څارنه وکړي، هغه وروزي، درملنه یې وکړي، خواړه، جامې او هستوګنځی ورته برابر کړي او د هغه د زده کړې امکانات برابر کړي.)

(دا لازمه ده چې د جنین او مور ساتنه او ځانګړې څارنه وشي.)

ب: پلرونه او هغه کسان چې د شرعي قانون له نظره د پلار ځای لري، د شرعي حکمونو او اخلاقي ارزښتونو په رڼا کې او د زامنو راتلوني او ګټو په پام کې لرلو سره حق لري چې د هغو د روزنې ډول وټاکي.

(پلرونه او هغه کسان چې د اسلامي شریعت له نظره د پلار ځای لري، دا حق لري چې د زامنو د راتلونکي او ګټو ته په پام سره د هغو د زوزنې څرنګوالي او رول وټاکي او هوډ ونیسي. اما دغه هوډ باید د اخلاقي ارزښتونو او شرعي حکمونو په رڼا کې ونیول شي.

ج: د شریعت له مخې پلرونه او میندې د ځامنو په وړاندې او قومونو د قومونو په وړاندې حقونه لري، له همدې کبله زامن دنده لري چې د میندو او پلرونو حقونه اداء کړي او تېر او خپل خپلوان اړ دي چې د قومونو حقونه په پام کې ونیسي.)

**اتمه ماده**: د الزام او التزام له پلوه هر انسان د یو شرعي حیثیت څخه برخمن دی، که چېرې دغه شخص له منځه لاړ شي یا کمزوری شي، قیم یا سرپرست د هغه ځای نیسي.

(د اسلامي شریعت له مخې هر انسان د الزام او التزام له پلوه یو لړ مسؤلیتونه لري او باید یو لړ مسؤلیتونه او دندې د نورو په غاړه کېږي او د همدغه الزام او التزام له مخې د یو شرعي شخصیت درلودونکي دی که چېرې دغه شخصیت له منځه ولاړ او یا کمزوری شي او ونه کړای شي چې هغه دندې او مسؤلیتونه چې د ده په غاړه دي سرته

ورسوي ونه توانيږي هغه وجايب او مسؤليتونه چې نور يې د ده په اړه لري ده ته وسپاري په هغه وخت کې قيم يا سرپرست د ده ځای نيسي.)

**نهمه ماده**: الف: د علم زده کړه يوه فريضه ده او ښوونه په ټولنې او دولت يو واجب امر دی ، پر دولت باندې لازمه ده چې د هغې لارې چارې او شرايط برابر کړي او هغه په داسط توګه تأمين کړي چې د ټولنې خير او ښېګڼه په کې وي او انسان ته موقع ورکړي چې د اسلام د دين او د هستي د حقايقو په اړه معرفت او پېژندګلوي تر لاسه کړي او هغه د بشريت د خير او ښېګڼې لپاره وکاروي.

(د اسلام د سپېڅلي دين د نظره د پوهې طلب د ټولنې پر ټولو وګړو پرته د کومې استثنا څخه فرض دی ، ټولنې او دولت ته لازمه ده چې ټولو وګړو ته د زده کړې داسې شرايط او زمينې برابرې کړي چې د هغو په وسيله د ټولنې اړتياوې او اصلاح په هره برخه کې بشپړې کړای شي او د ټولنې هر وګړي ته وخت ورکړي چې د هغې رڼا په ترڅ کې چې زده کړې کوي تر هر څه ډېر د اسلام دين او د نړۍ د هستۍ د حقايقو په اړه بلدتيا حاصله کړي او خپله پوهه د بشريت په ګټه وکاروي.)

ب: د هر انسان حق دی چې بېلا بېلې دستګاوې د کورنۍ ، مدرسې او پوهنتون څخه رانيولې تر هغو نورو تبليغاتي او نورو دستګاوو چې انسان په ديني او دنيايي روزنه کې کوښښ کوي د هغه د انډوليزې او بشپړې روزنې په اړه هڅې وکړي او کوښښ وکړي په هغه بڼه چې په الله ﷻ يې ايمان او د هغه حقونو او دندو ته يې درناوی پيدا شي د هغه د شخصيت روزنه وکړي.

(ټولنې پوهنيزې او روزنيزې مؤسسې ، ښوونځي ، پوهنتونونه او ډله ييزې رسنۍ او خپرونې لکه جريدې ، ورځپاڼې ، راډيو ، تلويزيون ، کورنۍ او نور وسايلو په شمول دنده لري تر څو د انسان په ښوونه ، روزنه ، د پوهې د کچې په لوړتيا او د ديني او دنيوي موضوعاتو په لاره کې هڅه او هاند وکړي تر څو د الله ﷻ په وړاندې د هغه پېژندګلوي لازياته او ايمان يې په الله ﷻ ټينګ شي او درناوی يې د هغوی د حقونو او دندو په وړاندې چې په غاړه يې لري زيات شي.)

**لسمه ماده**: اسلام فطري دين دی او د انسان په وړاندې زور زياتی يا د هغه د لوړې يا ناپوهۍ څخه ګټه ترلاسه کول د دين د بدلولو او يا د الحاد په لوري ګرځېدلو لپاره روا نه دي ، اسلام فطري دين دی يعنې د انسان په خټه او پيدايښت پورې په طبيعي توګه اړه لري د هر ډول زور زياتي او يا د هغه د نور مجبوريتونو لکه د فقر ، محروميت او ناپوهۍ څخه د دين د بدلولو او يا بې دينۍ ته د هغه د هڅولو لپاره ګټه تر لاسه کول روا نه دي.)

**يوولسمه ماده**: الف: انسان آزاد زېږېدلی او هيڅوک د هغه د مريي کولو ، ذليل او سپکولو او يا هغه څخه د ناوړې ګټې اخيستلو او يا يې مريتوب ته د کېنولو حق نه لري.

ب: زبېښاک (استثمار) په هر ډول چې وي په دغه اعتبار چې د مرئيتوب ناوړه ډول دی په کلکه سره منع دی او هغه ملتونه چې ورڅخه کړيږي د دې حق لري چې ترې خلاصون ومومي او خپل برخليک په خپله وټاکي ، تول هېوادونه او مليتونه مؤظف دي چې د دغو خلکو سره د هر ډول نيونې او استعمار په وړاندې مبارزه کې مرسته

وکړي ، ټول ملتونه د خپلواکه شخصیت د ساتنې او په خپلو طبیعي شتمنیو او زېرمو د ولکې حق لري.
(د هېوادونو مستعمره په هېڅ ډول روا نه ده ، ځکه چې استعمار او په اسارت نیول د مرئیتوب ناوړه ډول دی او په ټینګه سره محکومیږي ، هغه ملیتونه چې تر اسوسه د ولکې او استعمار لاندې ژوند کوي حق لري چې آزاد واوسي له هغې څخه خلاصی و مومي او په خپلواکه توګه ژوند وکړي ، ټول هېوادونه او ملیتونه دې د تیري او استعمار په وړاندې مبارزه وکړي ، د هغو ملاتړ او مرسته دې وکړي ، ټول هېوادونه دا حق لری چې خپل برخلیک په آزاد ډول په خپله وټاکی او په خپلو طبیعي شتمنیو او زیرمو باندې مالکیت ولري.)

**دولسمه ماده:** هر انسان د شریعت سره سم د هېواد دننه یا بهر د استوګنځي د لېږدونې او غوره کولو حق لري ، په هغه صورت کې چې تر ظلم او تیري لاندې واقع شي کولای شي بل هېواد ته پناه یوسي او پر پناه ورکونکی هېواد لازمه ده تر څو چې ده ته پناه ځای ورکړي له هغه سره ښه چلن وکړي ، په دغه شرط چې د پناه وړلو لامل د شرعې له پلوه مخالف جرم د کولو له امله نه وي.

(ټول انسانان د اسلامي شریعت سره سم حق لري چې استوګنځی په خپله خوښه غوره او وټاکي ، حق لري چې په خپله خوښه یو ځای نه بل ځای ته استوګنه پیدا کړي ، که چېرې په خپل هېواد کې تر ظلم او تېري لاندې واقع شي ، کولای شي چې بل هېواد ته پناه غوښتنه وکړي او پر هغو هېوادونو چې دا ډول کسان پناه وروړي لازمه ده چې د هغو ملاتړ او ورسره ښه چلن وکړي او پناه ځای ورته برابر کړي ، مګر پناه وروړل باید جرم د کولو او د قانون له منګلو څخه د تېښتې په علت نه وي.)

**دیارلسمه ماده:** کار هغه حق دی چې دولت او ټولنه یې باید هر هغه چا لره چې د تر سره کولو توان یې لري تضمین کړي هر څوک په هغه بڼه چې د ده او ټولنې خیر ښېګڼه په کې خوندي وي د وړ کار په غوره کولو کې د آزادۍ حق لري ، هر کارګر حق لري چې د ټولنیزو تأميناتو ، روغتیا او امنیت څخه برخمن وي او په داسې کارونو ونه ګمارل شي چې توان یې ونه لري او یا هغه په زور سره یو کار ته اړم کړي او یا ورڅخه ناوړه ګټه واخلي او یا ورته زیان ورسوي.

هر کارګر که نارینه وي او که ښځه ، حق لري چې د تر سره کړل شوي کار په بدل کې عادلانه اجوره تر لاسه کړي او هم د استحقاقي ترفیګانو ، بخښنو او د رخصتیو څخه د ګټې اخیستلو حق لري او په عین حال کې مؤظف دی چې په خپل کار کې صداقت او رښتینولي ولري ، که چېرې کارګران د کارفرمایانو سره اختلاف پیدا کړي ، دولت مؤظف دی چې د دغه اختلاف او د ظلم د له منځه وړلو لپاره او د حق د ورکړې هغه ته د پابندي په منظور پرته د دې چې د کوم یوه لوري په ګټه وخرخیږي مداخله وکړي.

(هر انسان حق لري د ځان او خپلې کورنۍ د معیشت لپاره کار وکړي او ټولنه باید ټولو ته چې د کار د ترسره کولو توان لري کار پیدا او تضمین کړي ټول انسانان په هغه بڼه چې د هغوی او ټولنې خیر ښېګڼه په کې وي د وړ کار د غوره کولو حق لري ، هر کارګر او کارمند حق لري چې د ټولنیز تأميناتو ، روغتیا او امنیت څخه برخمن شي او هېڅوک حق نه لري چې د کارګرانو څخه ناوړه ګټه تر لاسه کړي یعنې د هغو کار او اجوره واخلي ، هر څوک د

ښځې او نارینه د توپیر پرته دا حق لري چې پرته له ځنډ نه د روا کار په وړاندې عادلانه اجوره تر لاسه کړي ، هر کارګر حق لري چې د خپل استحقاق ، ترفیګانو ، بخښنو او رخصتیو څخه ګټه واخلي ، هر کارګر مؤظف دی چې په صداقت ، رښتینولۍ او زړه سوي سره خپله دنده تر سره کړي ، که چېرې د کارګر او کارفرما تر منځ شخړه پیدا شي ، دولت مؤظف دی چې د اختلاف د حل کولو او د ظلم او بې عدالتۍ د له منځه وړلو د حق ورکړېط او د انصاف او عدالت تامین لباره په بشپړ بې لوریتوب سره مداخله او شخړې حل کړي.)

**خوارلسمه ماده**: پرته د احتکار ، غولونې او نور ته زیان رسونې نه پرته ، انسان حق لري چې روا شته تر لاسه کړي او سود په ټینګه سره ناروا دی. (هر انسان حق لري چې د خپلې خوښې سره سم په روا کار لاس پورې کړي مګر د زیاتې ګټې د تر لاسه کولو لپاره د خلکو غولونه او زیان رسونه روا نه ده ، سود خوړل په کلکه سره منع دی.)

**پنځلسمه ماده**: الف: هر انسان د شرعي لارو څخه د کوم شي د خاوند کېدو حق لري او کولای شي د مالکیت د حقوقو څخه په هغه بڼه چې ځان ، نورو او ټولنې ته زیان ونه رسوي ، برخمن شي ، نه شو کولای چې د چا ملکیت سلب کړو ، مګر د اړتیا او عمومی ګټو د ساتنې له مخې او د عادلانه او بېړني غرامت په ورکولو سره.

(مالکیت د انسان طبیعي حق دی هر انسان حق لري چې د منلو لارو چارو نه هغه ډول چې غواړي ګټه واخلي په دط شرط چې ځان ، نورو او ټولنې ته زیان ونه رسوي ، هیڅوک حق نه لري چې له چا نه د مالکیت حق واخلي کله کله کېدای شي چې د ځانګړو حالاتو او عمومي ګټو د ساتنې لپاره د چا څخه ملکیت واخیستل شي ، مګر د عمومي ګټو لپاره دغه اخیستنه هم د شرعي حکمونو پر بنسټ وي او د هغه ارزښت په بېړنۍ توګه باید ورکړای شي.)

ب: د شتو مصادره او ضبط منع دی مګر د شرعې د حکمونو سره سم (قانون).

(د زور زیاتي له لارې د چا د شتو اخیستل او مصادره کول منع دي ، مګر که چېرې د عامه ګټو او ښېګڼو د اړتیا له مخې دا کار وکړل شي ، باید د اسلامي شریعت د حکمونو سره سم تر سره شي.)

**شپاړسمه ماده**: الف: هر انسان حق لري چې د خپلو علمي ، ادبي ، هنري یا تکنالوژیکي لاس ته لاوړنو څخه ګټه تر لاسه کړي او حق لري چې هغو ته د ترلاسه شوو مالي اداري ګټو څخه ملاتړ وکړي په دغه شرط چې دغه لاس ته راوړني ، د شریعت د حکمونو په خلاف نه وي.

(هر انسان حق لري چې د خپلو ادبي ، هنري ، تکنالوژیکي او علمي کشفیاتو ، ثمره او لاسته راوړنو څخه ګټه واخلي ، په دې معنی چې که چېرې چا کوم کسف یا اختراع کړي وي د دغه کشف او اختراع څخه تر لاسه شوې ګټه د ده روا حق شمېرل کیږي یا کوم څوک ادبي اثر لیکي او د دغه اثر څخه په زرګونو ټوکه پلورل کیږي لیکوال حق لري چې د هغو تر لاسه شوو ګټو څخه برخمن شي ، له همدې کبله هر څوک حق لري چې په دغو حالاتو کې د خپلو ګټو څخه ملاتړ وکړي په دغه شرط چې نوموړې لاسته راوړنه یا اثر د شریعت د حکمونو پر خلاف نه وي.)

**اوولسمه ماده**: الف: هر انسان حق لري چې د اخلاقي ناروغیو او فسادونو څخه پاک ماحول او چاپېریال کې په داسې بڼه ژوند وکړي چې وتوانیږي په هغه کې ځان د معنویت له پلوه سمبال کړي ، ټولنه او دولت مجبوره ده

چې د ده لپاره دغه حق برابر کړي.
(فاسد چاپېریال د وګړو اخلاقي رواني سالمتیا ته زیان رسوي ، اخلاقي ناروغي او فساد په ناسالم چاپېریال کې وده کوي ، هر څوک حق لري د اخلاقي فسادونو څخه لرې په پاک چاپېریال کې ژوند وکړي او خپل ځان د اخلاقي او معنوي له پلوه لوړو پوړونو ته ورسوي تر څو په دغه توګه سالمه او د فساد څخه پاکه ټولنه جوړه شي ، د همدې کبله د اسلام سپېڅلي دین پر بنسټ دولت او تولنه مؤظفه ده چې د دغه حق په منلو سره د ټولنې وګړو ته لازم او وړ شرایط را منځ ته کړي.)
ب: دولت او ټولنه مؤظفه ده چې د اړتیاو د عمومي مرکزونو له لارې د هر وګړي لپاره د ټولنیزو او روغتیایي تأميناتو زمینه د موجودو امکاناتو له مخې برابره کړي.
(ټولنه د وګړو څخه جوړېږي او دولت د ټولنې د تنظیم ، لارښوونې او هدایت دنده په غاړه لري د همدې کبله دولت او ټولنه مؤظفه ګڼل کیږي چې د هر وګړي د جسمي او رواني روغتیا لپاره روغتیایي مرکزونه لکه: کلینیکونه ، روغتونونه ، لابراتوارونه او نور د ټولنیز خدمتونو د تر سره کولو لپاره د موجودو امکاناتو په اندازه جوړ کړي.)
ج: دولت مکلف دی چې د هر انسان لپاره د یوه داسې عزتمن ژوند له لارې چې د ده او د ده د کورنۍ ټولې اړتیاوې بشپړې کړي چې په دغو اړتیاوو کې خواړه ، جامې ، استوګنځی زده کړې او درملنه شامله ده ، تضمین کړي.
(هر انسان د ژوند کولو حق لري ، د ژوند د دوام او د ژوندانه د تأمین لپاره د ټولنې هر وګړی دا حق لري چې د صحیح او شرافتمنده لارې نه د ځان او خپلې کورنۍ اړتیاوې لکه خواړه ، جامې ، استوګنځي زده کړه ، درملنه او نورې بنسټیزې اړتیاوې برابرې کړي ، دولت مجبور دی چې دغه حق د ټولنې د هر وګړي لپاره ضمانت کړي.)
**اتلسمه ماده**: الف: هر انسان حق لري چې د خپل ځان ، دین ، کورنۍ ، شتمنۍ او ناموس له پلوه په سوکالۍ کې ژوند وکړي.
(هر انسان حق لري چې په داسې ډاډمنه فضا کې ژوند وکړي چې د هغه ځان ، مال ، ناموس او شته له ګواښ او خطر څخه خوندي وي او وکولای شي په سوکالۍ او آرام فکر سره ژوند وکړي ، د دا ډول شرایطو رامنځ ته کول د دولت او ټولنې دنده ده.)
ب: محکمې ته مراجعه او پناه وړل هغه حق دی چې د ټولو لپاره تضمین شوی دی.
(کله چې په ټولنه کې څوک تر فشار لاندې راځي ، او یا پر هغو ظلم او تیری کیږي او یا د هغو حق تر پښو لاندې شي ، حق لري چې د ظلم د له منځه وړلو او حقونو د بېرته تر لاسه کولو لپاره محکمې ته ورشي او دا حق د ټولو لپاره تظمین شوی دی.
ج: مسئولیت اصل کې شخصي دی.
( د اسلامي شریعت له مخې مسئولیت شخصي امر دی هیڅوک نشي کېدای د هغه جرم له امله چې د هغه دوستانو ، خپلوانو ، او ملګرو لخوا تر سره شوی وي تر پوښتنې لاندې راشي ، بندي او یا محکوم شي. )
د: هېڅ راز جرم او جزا نشته ، مګر د شریعت د حکمونو له مخې.

(هېڅ عمل يا چاره نشو کولای جرم و ګڼو ، مګر دا چې قانون دغه عمل او چاره جرم ګناه تشخيص کړي ، هيڅا ته سزا نه شو ورکولای مګر دا چې قانون د محکمې له خوا هغه ته سزا نه وي تاکلي.)

ه: تورن بې ګناه دی ، تر هغه پورې چې د عادلانه محکمې له خوا يې د ده دفاع لپاره ټول تضمينونه په کې برابروي ورباندې ثابت شي.

(د اسلامي شريعت له مخې به هغه چا چې تور لګول شوی ، محکمې تر هغه چې جرم يا ګناه يط په محکمه کې تر غور او څېړنې لاندې ونيسي او محکوميت يط په يوه عادلانه محکمه کې چې لازم او وړ شرايط د ده د روا دفاع لپاره برابر وي ثابت شي ، بې ګناه ګڼل کيږي.)

**شلمه ماده**: د هر انسان مجازات ، تبعيد (جلا وطنه کول) د آزادس محدود کول او نيونه روا نه ده مګر د شرعې د غوښتنې له مخې او هغه ته بايد جسمی او روحي شکنجه ورنه کړو او داسې چلند ورسره تر سره نشي چې هغه ته پکې سپکاوی او د انساني حيثيت خلاف وي او همدا راز طبي يا عملي ازمايښتونو ته د هر وګړي اړ باسل روا نه دي ، مګر د هغه په خوښې سره په داسې توګه چې د هغه د ژوند او روغتيا ته ګواښ نه وي ، دغه راز د ځانګړو او استثنايي قوانينو جوړول چې اجرائيه قوې ته اجازوه ورنکړي ، روا نه دي.

(د اسلام د سپېڅلي دين له پلوه د انسان نيونه ، جلا وطنه کول ، د حکم او اړتيا پرته هغه ته سزا ورکول ، هغه جسمي او رواني ربړونه او ايه هغه سره په سپکاوي او داسې توګه چلن چې د انساني کرامت خلاف وي روا نه دی او هېڅوک نه شی کولای څوک په زور سره د څېړنې او يا کومې بلې تجربې موخې لپاره تر طبي او عملي ازمايښتونو لاندې راولي مګر هغه چې د هغه په خوښه وي او توافقه سره هغه هم په هغه بڼه چې د ده روغتيا او سلامتيا ته په کې زيان او ګواښ نه وي او همدارنګه د ځانګړو او استثنايي قوانينو جوړول چې حکومت ته دغه راز واک ورکړي ، روا نه دي.)

**يوويشتمه ماده**: يرغمل نيونه په هره بڼه د هرې موخې لپاره چې وي منع ده.

(د اسلام د سپېڅلي دين له پلوه او د هغو حقونو په پام کې نيول سره چې د اسلام سپېڅلي دين انسانانو ته منلي دي ، يرغمل نيونه په هر بڼه تر هر سرليک لاندې د هرې موخې لپاره چې وي روا نه ده.)

**دوه ويشتمه ماده**: الف: هر انسان حق لري چې خپل اند (نظر) په هره بڼه چې د بشري اصولو سره خلاف نه وي ، په آزادانه توګه سره بيان کړي.

(د اسلام په سپېڅلي دين کې د بيان آزادي د بشر د يوه حق په توګه ضمانت شوې ، هر څوک حق لري چې خپل نظر په هغه بڼه چې د شريعت د اصولو سره توپير ونه لري ، بيان کړي ، ځکه چې د بشر بنسټيز حقونه د بيان د آزادۍ له لارې تضمين کيږي.

ب: هر انسان حق لري چې د خير ښېګڼې او د منکر او نهې څخه د مخنيوي لپاره د اسلامي شريعت د ضوابطو سره سم بلنه وکړي.

(هر انسان حق لري چې نورو ته د ښې لارې په لور بلنه ورکړي او له ناوړه او ناسمو عملونو څخه يې منع کړي ، مګر

دا دواړه يعنې د خير په لور بلنه او ناوړو کړنو څخه منع کول بايد د اسلامي شريعت د اصولو او ضوابطو سره سم تر سره شي.)

ج: تبليغات د ټولنې لپاره يوه حياتي اړتيا ده ، د هغو څخه ناوړه ګټه ، د هغو ناوړه کارول او د انسانانو پر کرامت او مقدساتو باندې تېرى کول يا د هر هغه څه کارول چې د ارزښتونو د اختلال ، د عقايدو د خرابوالي او د ټولنې د ګډوډۍ لامل شي ، منع دى.

(تبليغ په ټولنه کې يوه مهمه اړتيا ده ، دا ځکه چې د تبليغ له لارې کولای شو چې خلک وپوهوو او د هغو د پوهې او پېژندنې کچه لوړه کړو ، مګر د تبليغ څخه ناوړه ګټه او د هغو ناوړه کارول د ناسمو موخو او خلکو عقايدو او ارزښتونو او د پېغمبرانو په کرامت د يرغل کولو لپاره روا نه ده او همدا راز هغه لارې چارې چې په ټولنه کې بې نظمي رامنځ ته کړي او په ټولنيزو ارزښتونو ګډوډي منځ ته راوړي او ټولنه د پاشل کېدو خواته بوځي او د خلکو د عقيدو د کمزوري کېدو لامل شي ، منع دى.)

د: د مذهبي او قومي احساساتو راپارول يا هغه شی چې د هر ډول توکميز توپير د پارونې لامل شي ، رواه نه دی.

(د قومي ، مذهبي ، ژبني او پېرنيزو احساساتو يا هر هغه څه چې د هر ډول توکميز توپير د راپارونې لامل شي ، روا نه دی ، دا ځکه چې د احساساتو راپارول او د توپيرونو شته والی په ټولنه کې بې اتفاقي او بېلوالی ، تاو تريخوالی را منځ ته کوي او د ټولنيز يو والي د کمزورتيا لامل کيږي.)

**درويشتمه ماده**: الف: ولايت هغه امانت دی چې د هغه څخه استبداد او ناوړه ګټه اخيستل په کلکه سره منع دی ، ځکه چې بنسټيز حقونه له دغه لارې څخه تضمين کيږي.

(ولايت يا په خلکو او ټولنې واکمنی کېدل يا حکم چلول يو امانت دی چې والي يا حاکم ته سپارل کيږي ، هغه مجبور دی چې له هغه واک او امانت څخه چې هغه ته ورکړل شي ، د ټولنې د خير ښېګڼې لپاره ګټه واخلي د ولايت له واکمنې څخه په ناوړه ګټه او يا د ځان او ځانګړې ډلې د ګټې لپاره د هغه کارول په هېڅ ډول روا نه دی او په کلکه سره منع دی دا ځکه چې د خلکو بنسټيز حقوق له دغه لارې څخه تضمين کيږي.)

ب: هر انسان حق لري چې د خپل هېواد د عمومي چارو په اداره کې په مستقيمه او غير مستقيمه توګه ګډون وکړي او همدارنګه کولای شي چې د شريعت د حکمونو سره سم پشتونه او دندې په غاړه واخلي.

(ټول انسانان حق لري چې د خپل هېواد د چارو په اداره او سمبالولو کې په مستقيمه يعنې په مختلفو دندو ، پستونو او دولتي شوکيو کې د ټاکنې او يا د رايو د ورکولو د وړانديزونو د وړاندې کولو ، د پلانونو د جوړونلو او يا په پريکولو کې د برخې اخيستلو له لارط ګډون وکړي .. هر انسان حق لری چې د شريع د حکمونو سره سم د خپل هېواد به لوړو او شکتنيو پستونو کې وټاکل شي.)

**څلرويشتمه ماده**: په دغه سند کې ټولې ياد کړل شوې آزادۍ او حقونه د اسلامي شريعت د حکمونو سره د سموالي په شرط دي.

ټول هغه حقونه او آزادۍ چې په دغه سند يا اعلاميه کې ياد کړل شوي دي بايد د اسلامي شريعت د احکامو سره

سم او مطابق وي يعنې په دغه اعلاميه کې ټولې مطرح شوې آزادۍ او حقونه بايد تل د شريعت د حکونو او اصولو په رڼا کې عملي او تر سره شي.)

**پنځه ويشتمه ماده**: اسلامي شريعت د دغه اعلاميې د هرې مادې د تفسير او توضيح لپاره يواځينۍ مرجع ده.

(د دغې اعلاميې د هرې مادې توضيح او تفسير بايد د اسلامي شريعت د حکمونو په رڼا کې تر سره شي او د دغه منظور لپاره اسلامي شريعت يواځينۍ مرجع ده.)

دويمه ضميمه:

# د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه

## (Universal Decleration of Humman Rights)

(د ۲۳۲۷ لمريز کال د ۹ مياشتې ۱۹ مه چې د ۱۹۴۸ کال د دسمبر د مياشتې د ۱۰ مې سره سمون خوري)

**ســـــريزه:**

څرنګه چې د بشري کورنۍ د ټولو غړو ذاتي کرامت او د دوی در برابرو او نالېږديو يا نه بېلېدونکو حقوقو پېژندل په نړۍ کې د سولې ، آزادۍ او عدالت بنسټ جوړوي ، څرنګه چې د بشري حقوقو څخه بې خبري او سپکاوی د داسې وحشيانه کړو او عملونو لامل ګرځېدلی ، چې د بشريت ضمير يې سخت زيانمن کړی او د هغې نړۍ زېږېدنه چې انسانان په کې د عقيدې او اندونو په بيانولو کې آزاد او له هر ډول وېرې او نېستۍ څخه لرې او خوندي وي ، د بشر د خورا لوړو ارمانونو او غوښتنو په څېر اعلام شوې ده ، څرنګه چې ډېره لازمي برېښي د نړيوالو ټولنو تر منځ دې د اړيکو پراختيا وهڅول شي ، څرنګه چې د ملګرو ملتونو خلک د همدغ سازمان په منشور کې د بشر په بنسټيزو حقوقو ، د انسان کرامت او ارزښت او د ښځې او نارينه د انډولو حقوقو په باب خپله باورمندي او عقيده په تکراري ډول سره تائيد او اعلام کړې ده او رغنده پرېکړه يې کړې ده ، چې ټولنيز پرمختګ سره به مرسته کوي او په آزاد دول کې به غوره ژوندون منځته راوړي.

څرنګه چې د دې حقوقو او آزاديو په اړه د نظر او پوخې يووالی د دې ژمنې د بشپړې پلي کولو لپاره خورا ارزښت او اهميت لري ، نو د ملګرو ملتنون عمومي ټولنه د بشر د حقوقو دغه نړيواله اعلاميه د يو ګډ ارمان په توګه ټولو خلکو او ملتونو ته اعلاموي ، تر څو ټول خلک او د ټولنې هر غړی دغه اعلاميه په پام کې ونيسي او په پرله پسې ډول کوښښ وکړي چې د ښوونې او روزنې له لارې دغه حقوقو او آزاديو ته درناوی ، پراختيا او وده ومومي او د ملي او نړيوالو ګام په ګام پرېکړو سره د هغو بشپړه پېژندنه او عملي کول د غړو هېوادونو او څه د هغه هېوادونو د خلکو تر منځ چې د دوی و واکمنۍ په حدودو کې دي ټينګښت ومومي.

**لومړۍ ماده:** ټول انسانان آزاد نړۍ ته راځي او د حقوقو او حيثيت له پلوه برابر دي ، ټول د عقل او وجدان درلودونکي دي او بايد يو له بل سره د وروګلوۍ په روحيه چلن وکړي.

**دويمه ماده:** هر څوک کولای شي چې د هر ډول توپير پرته په ځانګړي ډول د توکم ، رنګ ، جنس ، ژبې ، مذهب ، سياسي ، عقيدوي ، او هره بله عقيده ، ملت ټولنيز موفق ، شتمنې ، زيږېدنه يا د هر بل موقف په نظر کې نيول پرته د هغوی ټولو حقونو او آزاديو څخه ګټه واخلي کوم چې په دې اعلاميه کې يادوونه شوې ده ، سربېره پر دې له هېڅا سره به د هغه د ملک يا سيمې د سياسي ، اداري ، قضايي ، يا نړيواله موقف پر بنسټ تبعيض و نه شي ، که څه هم هغه ملک يا سيمه چې شخص ورپورې تړلی وي ، خپلواک ، تر لاس لاندې ، غير مختار او يا يې حاکميت په يو ډول محدود وي.

**دريمه ماده**: هر څوک د ژوند ، ازادۍ او شخصي امنيت حق لري.

**څلورمه ماده**: نه شو کولای هېڅوک په مريي توب کې وساتو او په هره بڼه د مريي توب په ډول پېرودل منع دي.

**پنځمه ماده**: نه شو کولای چې هېڅوک تر ربړونې ، کړاو او يا داسې چلن لاندې راولو چې ظالمانه د انسانيت خلاف او له سپکاوي څخه ډک وي.

**شپږمه ماده**: هر څوک حق لري هر چېرته چې وي ، د هغه حقونو شخصيت د قانون په وړاندې د يوه انسان په څېر وپېژندل شي.

**اوومه ماده**: ټول د قانون په وړاندې يو برابر دي او حق لري چې د هر دول تبعيض پرته د قانون له ملاتړ څخه برخمن شي ، ټول حق لري چې د هر هغه تبعيض په وړاندې چې د دې اعلامېې څخه سرغړونه کوي او يا د هغې لمسونې په مقابل کې چې داسې تبعيض ته لمن وهي په برابره توگه د قانون د ملاتړ څخه برخمن شي.

**اتمه ماده**: د هغو عملونو په وړاندې چې د يو وگړي په بنسټيزو حقونو تيرى وکړي او هغه د اساسي قانون او يا کوم بل قانون له خوا هغه ته ورکړل شوي وي هر څوک حق لرى چې صلاحيت لروکو ملي محکمو ته مراجعه وکړي.

**نهمه ماده**: هيڅوک په خپل سر توقيف ، بندي يا تبعيد کېداى نه شي.

**لسمه ماده**: هر څوک بنسټيز مساوي حق لري چې دعوه يې د يوې ناپيلې او مستقلې محکمې له خوا په ښکاره او منصفانه توگه تر غور لاندې ونيول شي او دغه شان محکمه د ده په حقوقو او الزاماتو او يا هر جزايي تور چې په ده لگول شوى وي لازمه پرېکړه وکړي.

**يوولسمه ماده**: ۱- هر څوک چې په کوم جرم تورن شوى وي حق لري تر هغه بې گناه وگڼل شي تر څو يې جرم په يوه ښکاره محکمه کې ثابت شوى نه وي چې تورن په کې د خپل دفاع لپاره ټول ضروري او رسمي تضمينونه ولري.

۲-هيڅوک د داسې اعمالود  تر سره کولو يا نه کولو په وجه محکوم کېداى نه شي ، چې د اجرا په وخت کې د ملي يا نړيوال قانون په وړاندې جرم نه شمېرل کېده ، دغه راز هېڅوک د يوه جرم د کولو په وجه ، له هغه سخته جزا نه وينى چې د جرم د اجرا کېدلو په مهال کې د هغه جرم لپاره ټاکل شوې وه.

**دولسمه ماده**: د هېچاه په محروميت ، کورنۍ ، د اوسېدو ځاى او ليکونو کې لاس وهنه نه کيږي او نه يې په نوم او حيثيت تيرى کېداى شي ، هر څوک د دې ډول يرغل يا لاس وهنې په وړاندې د قانوني ساتنې حق لري.

**ديارلسمه ماده**: ۱- هر څوک حق لري چې د هر هېواد په دننه کې په آزادانه توگه د تلو او استوگنې ځاى غوره کړي.

۲- هر څوک آزاد دى او حق لري چې د خپلې استوگنې ځاى بدل کړي ، او حق لري چې په هر هېواد کې چې وغواړي ژوند وکړ ي او يا هغه پرېږدي.

**څوارلسمه ماده**: ۱- هر څوک حق لري چې له ځوروني او تعقيب پرته په نورو ملکونو کې پناه وغواړي. ۲- که چېرې تعقيب د غير سياسي جرم او يا داسې اعمالو د کولو په وجه وي ، چې د ملگرو ملتونو له مقصدونو او اصولو سره توپير ولري له دغه حق څخه گټه نه شي پورته کېداى.

**پنځلسمه ماده**: ۱- هر څوک د تابعیت د درلودلو حق لري. ۲- نه شو کولای هیڅوک د تابعیت د درلودلو له حق څخه بې برخې کړو.

**شپاړسمه ماده**: ۱- هر بالغ نارینه او ښځینه بې له هېڅ ډول محدودیته لکه توکم ، ملیت یا دین له اړخه حق لري چې واده وکړي او کورنۍ جوړه کړي ، دوی د واده کولو ، د واده په وخت او د هغه په فسخ کولو کې مساوي او برابر حق لري. ۲- واده باید د دواړو لورو (ښځې او نارینه) په بشپړ رضایت او خوښۍ سره وشي. ۳- کورنۍ د ټولنې بنستیز او طبیعي غړي دي او حق لري چې د ټولنې او دولت له خوا یې ملاتړ وشي.

**اوولسمه ماده**: ۱- هر وګړی د ځانګړي او یا ګډ ملکیت درلودلو حق لري. ۲- هیڅوک د ملکیت درلودلو حق محروم کولی نه شو.

**اتلسمه ماده**:هر څوک حق لري چې د فکر ، وجدان او مذهب د آزادۍ څخه برخمن شي ، دا حق د مذهب او عقیدې د بدلولو متضمن دی او همدارنګه دا حق یوازې یا له نورو سره په ګډه ، په ښکاره یا په خصوصي توګه د خپلې عقیدې یا دین په تدریس ، عمل ، عبادت کولو او دیني مراسمو د اجرا کولو ، آزادۍ متضمن وي.

**نورلسمه ماده**: هر څوک د بیان او د عقیدې آزادۍ حق لري ، په دې حق کې هغه آزادي شامله ده چې یې څوک له خپلې عقیدې او نظر درلودلو څخه وېره او اندېښنه ونه لري او د عقایدو او معلوماتو په پلټنه او لاس ته راوړنه کې د کوم برید او سرحد پرته آزاد وي.

**شلمه ماده**: ۱- هر څوک حق لري چې په آزاد ډول سوله ییزې اتحادیې او ډلې جوړې کړي. ۲-هېڅوک په یوې ټولنې کې د ګډون په خاطر نه شو مجبور کولی.

**یوویشتمه ماده**: ۱- هر څوک حق لري چې څه په مستقیمه توګه او یا د خپلو استازو له لارې چې په آزاد ډول انتخاب شوي دي ، د خپل هېواد په عمومي اداري چارو کې ګډون وکړي. ۲- هر څوک حق لري چې په برابره توګه به خپل ملک کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي. ۳- د خلکو اراده د حکومت واک او بنسټ دی ، دغه اراده باید په نوبتي ډول د رښتینو انتخاباتو د لارې څرګنده شي چې دغه انتخابات باید په عمومي او د برابرۍ په پام کې نیولو سره د پټې رایې او یا نورو انتخاباتي بېلګو په ډول داسې سرته ورسیږي چې د رایو آزادي تأمین کړي.

**دوه ویشتمه ماده**: هر څوک د ټولنې د یو غړي په توګه د ټولنیز مصونیت حق لري او ښایي چې د ملي هڅو او نړیوالو مرستو له لارې د هر ډول سازمان او منابعو سره سم هغه اقتصادي ، ټولنیز او کلتوري حقوق تر لاسه کړي ،

**درویشتمه ماده**: ۱- هر څوک حق لري چې کار وکړي ، په آزاد ډول ځانته کار غوره کړي ، د کار عادلانه او منصفانه شرایط ولري او د بې کارۍ په وراندې یې حمایت وشي. ۲- ټول حق لري چې د کار په وړاندې د هر ډول تبعیض پرته برابره اجوره تر لاسه کړي. ۳- هر څوک چې کار کوي د مناسب معاش حق لري ، چې د ده او د ده د کورنۍ لپاره د بشري کرامت وړ ژوند تضمین کړي او که ضروري وي حق لري چې د نورو ټولنیزو محافظتي وسایلو په ذریعه تقویه شي. ۴- هر څوک حق لري چې د خپلو ګټو د دفاع لپاره د نورو سره اتحادیې جوړې کړي او په دا راز

اتحادیو کې ګډون وکړي.

**څلرویشتمه ماده:** هر څوک د تفریح او استراحت حق لري ، د کار د ساعتونو د مناسب محدودیت او نوبتي رخصتیو چې معاش ورته ورکول کیږي ، حق لري.

**پنځه ویشتمه ماده:** ۱- هر څوک حق لري چې د خپل او خپلې کورنۍ ، ژوندون کچه ، روغتیا او هوساینې (خوراک ، استوګنې ، ټولنیز او روغتیایي خدمتونو له پلوه تأمین کړل شي او همدا راز حق لري چې د بېکارۍ ، ناروغۍ ، معیوبتیا او ناتوانۍ ، کونډتوب ، زوړوالي او په داسې شرایطو کې چې د معیشت وسایل یې له لاسي تللي وي د عزتمند او آبرومندانه ژوندانه څخه برخمن شي. ۲- میندې او ماشومان حق لري چې د ځانګړط پاملرنې څخه برخمن شي ، ټول ماشومان که د نکاح په واسطه او یا بې نکاح پواسطه پیدا شوي وي د مساوي ټولنیز ملاتړ څخه باید برخمن شي.

**شپږویشتمه ماده:** ۱- هر څوک حق لري چې د ښوونې او روزنې څخه برخمن شي ، ښوونه او روزنه برسېره په لومړنیو او اساسي پړاوونو کې ویاړ وي لومړني تعلیمات باید اجباري وي ، حرفوي او تخنیکي زده کړې عمومیت ومومي ، لوړې زده کړې باید د برابرو شرایطو سره د ټولنو پر مخ خلاسې وي او ټول د استعداد او وړتیا په بنسټ له هغه څخه ګټه پورته کړي. ۲- ښوونه او روزنه باید د انساني شخصیت د بشپړوالي او بشري حقوقو او بنسټیزو آزادیو ته د درناوي د زیاتوالي په لوري وهڅول شي ، ښوونه او روزنه باید د ټولو ملیتونو ، توکمونو او دیني ډلو تر منځ تفاهم ، زغم او دوستي پیاوړې کړي او د ملګرو ملتونو هڅې د سولې د پیاوړتیا لپاره پرمخ بوځي.

**اووه ویشتمه ماده:** ۱- هر څوک حق لري چې د خپلې ټولنې په فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو کې په آزاد ډول ونډه واخلي ، له هنرونو څخه ګټه تر لاسه کړي او په عملي پرمختګ کې شریک او له ګټو څخه یې برخمن شي.

**اته ویشتمه ماده:** هر څوک حق لري چې په ټولنه کې د داسې نظم غوښتونکی شي چې په دې اعلامیه کې بیان شوي حقوق او آزادۍ تأمین کړي.

**نهه ویشتمه ماده:** ۱- هر څوک هغه ټولنه کې دندې او کلفیتونه لري چې یواځې هلته د ده د شخصیت ، آزاده او بشپړه وده ممکنه وي. ۲- هر څوک باید د خپلو حقوقو او آزادیو په عمل کولو کې یواځې د هغه محدودیتونو تابع وي چې د قانون په ذریعه یواځې د دې لپاره تاکل شوي وي چې د نورو آزدادیو او حقوقو په مناسب ډول احترام وشي او وپېژندل شي او په یوه آزاده ټولنه کې د اخلاقي موازینو ، غوښتو ، عمومي نظم مراعت وشي. ۳- په هېڅ راز دغه حقونه او آزادۍ د ملګرو ملتونو د اصولو او موخو په خلاف نشي عملي کېدای.

**دېرشمه ماده:** په دې اعلامیه کې هېڅ یوه فقره یا ماده باید داسې تعبیر نه شي چې کوم دولت ، ډلې یا شخص ته د دې حق ورکړي په داسې فعالیت لاس پورې کړي یا داسې کار اجرا کړي چې هدف یې په دې اعلامیه کې د ذکر شویو حقوقو او آزادیو لغوه کول وي.

## مأخذونه او لړليکونه

أ) د قــــرآن كريم د آيتونو لړليک

ب) د نــبوي احـــــــاديثو لړليک

ج) د ژباړل شوو اعــــلامو لړليک

د) د مأخـذونو او مراجـعو لړليک

# د قرآن کریم د آیتونو لړلیک

| کڼه | د آیت نص | سورت | د آیت شمېره | مخکڼه |
|---|---|---|---|---|
| ١ | إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الإِسْلَامُ | آل عمران | ١٩ | ١ |
| ٢ | وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ ...... | البقرة | ٢١٧ | ١ |
| ٣ | وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِكُمْ ....... | المائدة | ٢١ | ٢٤ |
| ٤ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ .... | المائدة | ٥٤ | ٢٨ |
| ٥ | إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى.... | محمد | ٢٥ | ٢٨ |
| ٦ | قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا ... | الکهف | ٦۴ | ٢٨ |
| ٧ | فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا .... | یوسف | ٩٦ | ٢٩ |
| ٨ | قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ | النمل | ۴٠ | ٢٩ |
| ٩ | مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ | ابراهیم | ۴٣ | ٢٩ |
| ١٠ | إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا | آل عمران | ٩٠ | ٣٠ |
| ١١ | يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ | آل عمران | ١٠٦ | ٣١ |
| ١٢ | إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا | النساء | ١٣٧ | ٣٠ |
| ١٣ | كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا أَنَّ الرَّسُولَ | آل عمران | ٨٦ | ٣٠ |
| ١۴ | وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ | البقرة | ٥٨ | ۴٢ |
| ١٥ | مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ | نحل | ١٠٦ | ٥٢ |
| ١٦ | وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ | نساء | ١١٥ | ٥٣ |
| ١٧ | وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ حَتَّى يُبَيِّنَ لَهُمْ | التوبه | ١١٥ | ٥۴ |
| ١٨ | مَنِ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا | الأسراء | ١٥ | ٥۴ |
| ١٩ | وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ | البقرة | ٣١ | ٦٢ |
| ٢٠ | قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ | البقرة | ٣٢ | ٦٢ |
| ٢١ | قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ | النمل | ٦٥ | ٦٢ |
| ٢٢ | قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ | الکهف | ٢٦ | ٦٢ |
| ٢٣ | وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ | البقرة | ١٦٣ | ٦٣ |
| ٢۴ | وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا | اعراف | ١٨٠ | ٦۴ |
| ٢٥ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ | النساء | ١٣٦ | ٦٥ |
| ٢٦ | لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ | المائدة | ٧٢ | ٦٦ |
| ٢٧ | لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ | المائدة | ٧٣ | ٦٧ |
| ٢٨ | لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ | الأنبیاء | ٢٢ | ٦٧ |
| ٢٩ | قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ O اللَّهُ الصَّمَدُ | اخلاص | ٢،١ | ٦٨ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٣٠ | وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ | اسراء | ١١١ | ٦٨ |
| ٣١ | وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ | النحل | ٥٧ | ٦٩ |
| ٣٢ | إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا | النساء | ١٥٠ | ٧٠ |
| ٣٣ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ | النساء | ٥٩ | ٧٠ |
| ٣٤ | مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ | احزاب | ٤٠ | ٧١ |
| ٣٥ | وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا | الرعد | ٤٣ | ٧١ |
| ٣٦ | آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ | البقرة | ٢٨٥ | ٧٢ |
| ٣٧ | قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ | البقرة | ١٣٦ | ٧٣ |
| ٣٨ | تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ | البقرة | ٢٥٣ | ٧٤ |
| ٣٩ | إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ | المائدة | ١١٠ | ٧٥ |
| ٤٠ | وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ | روم | ٥٨ | ٧٥ |
| ٤١ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً | البقرة | ٢٠٨ | ٧٦ |
| ٤٢ | ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم | البقرة | ٨٥ | ٧٦ |
| ٤٣ | وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ | الانعام | ٢٥ | ٧٨ |
| ٤٤ | وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ | البقرة | ٤ | ٧٩ |
| ٤٥ | وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ | البقرة | ٤ | ٨١ |
| ٤٦ | أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ | المؤمنون | ١١٥ | ٨١ |
| ٤٧ | تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ | المعارج | ٤ | ٨١ |
| ٤٨ | يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي | السجدة | ٥ | ٨١ |
| ٤٩ | لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ | حشر | ٢٠ | ٨٣ |
| ٥٠ | يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ | المنافقون | ٨ | ٨٣ |
| ٥١ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ | المائدة | ٧٨ | ٨٤ |
| ٥٢ | وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ | البقرة | ١٠٢ | ٨٥ |
| ٥٣ | الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي | البقرة | ٢٧٥ | ٨٦ |
| ٥٤ | وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ | التوبه | ٦٥ | ٨٨ |
| ٥٥ | أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ | البقرة | ٢٥٨ | ٩١ |
| ٥٦ | ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا | المؤمنون | ١٤ | ٩٢ |
| ٥٧ | وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ | النحل | ١٨ | ٩٢ |
| ٥٨ | أم تريدون أن تسئلو رسولكم كما سئل موسى من قبل | البقرة | ١٠٨ | ٩٨ |
| ٥٩ | ربنا ظلمنا أنفسنا و ان لم تغفرلنا و ترحمنا لنكونن من الخاسر | اعراف | ٢٣ | ٩٩ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٦٠ | فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ | البقرة | ٣٧ | ٩٩ |
| ٦١ | إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا | البقرة | ٢٦ | ١٠١ |
| ٦٢ | وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَيُجَادِلُ الَّذِينَ | الكهف | ٥٦ | ١٠٢ |
| ٦٣ | وَقَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِي أُنزِلَ عَلَى الَّذِينَ | آل عمران | ٧٢ | ١٠٣ |
| ٦٤ | وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ | البقرة | ١٠٢ | ١٠٥ |
| ٦٥ | ان الله لا يغفر أن يشرك به شيأ و يغفر ما دون ذالك | النساء | ٤٨ | ١٠٧ |
| ٦٦ | مَّا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ | البقرة | ١٠٥ | ١٠٧ |
| ٦٧ | فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ | فصلت | ١٣ | ١٠٨ |
| ٦٨ | يا أيها الذين آمنو اطيعو الله و اطيعو الرسول | النساء | ٥٩ | ١٠٨ |
| ٦٩ | وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا | الحج | ٧٢ | ١٠٩ |
| ٧٠ | وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ | فصلت | ٢٦٠ | ١٠٩ |
| ٧١ | وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ | البقرة | ٤٣ | ١١١ |
| ٧٢ | وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ | النور | ٥٦ | ١١١ |
| ٧٣ | إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا | النساء | ١٤٢ | ١١٣ |
| ٧٤ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ | البقرة | ١٨٣ | ١١٥ |
| ٧٥ | وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ | المؤمنون | ٤ | ١١٨ |
| ٧٦ | فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا | آل عمران | ٩٧ | ١٢٠ |
| ٧٧ | و لله على الناس حج البيت من الستطاع اليه سبيلا | آل عمران | ٩٧ | ١٢١ |
| ٧٨ | قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ | الفتح | ١٦ | ١٤٨ |
| ٧٩ | وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ | المائدة | ٥ | ١٥٠ |
| ٨٠ | إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا | النساء | ١٣٧ | ١٥٣ |
| ٨١ | فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ | التوبة | ٥ | ١٥٣ |
| ٨٢ | قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا إِن يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِن يَعُودُوا | الأنفال | ٣٨ | ١٥٨ |
| ٨٣ | يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا | الحجرات | ١٣ | ١٨٢ |
| ٨٤ | وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ | الأسراء | ٧٠ | ١٨٢ |
| ٨٥ | لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ | البقرة | ٢٥٦ | ١٨٥ |
| ٨٦ | فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ O لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ | الغاشية | ٢١ ، ٢٢ | ١٩٠ |
| ٨٥ | فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا | الشورى | ٤٨ | ١٩٠ |
| ٨٦ | وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ | الكهف | ٢٩ | ١٩٠ |
| ٨٧ | وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا | يونس | ٩٩ | ١٩١ |
| ٨٨ | ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ | النحل | ٢٥٦ | ١٩١ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٨٩ | إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ | المائدة | ٣٣ | ١٩٣ |
| ٩٠ | مَّن كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ | الأسراء | ١٨ | ١٩٤ |

# د نبوي احاديثو لړليک


| ګڼه | د حديث متن | مخګڼه |
|---|---|---|
| ١ | مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ | ١ |
| ٢ | أَتَشْفَعُ فِى حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ | ٢١ |
| ٣ | مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ | ٢٤ |
| ۴ | لاَ يَحِلّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إلاّ فِي إحْدَى ثَلاَثٍ | ٣١ |
| ۵ | فَقَالَ نَاسٌ : نَحْنُ لاَ نُصَدِّقُ مُحَمَّدًا ، فَارْتَدّوا كُفّارًا ، فَضَرَبَ اللّهُ أَعْنَاقَهُمْ مَعَ أَبِي جَهْلٍ | ٣١ |
| ۶ | لَيْسَ لَكِ عَلَيْهِمْ نَفَقَةٌ وَلاَ سُكْنَى ، وَلَيْسَتْ لَهُ فِيكِ رَدّةٌ ، وَعَلَيْكِ العِدّةُ » فانتقلى الى ام | ٣٢ |
| ٧ | لاَ يَحِلّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إلَهَ إلاّ اللّهُ وَأَنّي رَسُولُ اللّهِ إلاّ بِإحْدَى ثَلاَثٍ | ٣٣ |
| ٨ | أَنّ امْرَأَةً يُقَالُ لَهَا: أُمُّ مَرْوَانَ , ارْتَدّتْ عَنِ الإِسْلاَمِ | ٣۴ |
| ٩ | و الله لأجاهدنهم ما استمسك السيف في يدي | ٣۵ |
| ١٠ | أَعْرِضْ عَلَيْهِمْ دِينَ الحَقِّ , وَشَهَادَةَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلا اللَّهُ | ٣۶ |
| ١١ | و عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين | ٣٨ |
| ١٢ | مَنْ خَالَفَ دِينُهُ دِينَ الْمُسْلِمِينَ فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ | ۴٣ |
| ١٣ | من شهد أن لا اله الا اللّهُ وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا و صَلّى صَلاَتَنَا وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا فهو المُسْلِمُ | ۴۴ |
| ١۴ | رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ وَعَنِ الْمَجْنُونِ | ۴۵ |
| ١۵ | وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَلَمْ يُجِزْنِى وَعَرَضَنِى يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً | ۴٨ |
| ١۶ | إِنَّ هَذَا الْحَدَّ بَيْنَ الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ | ۵٠ |
| ١٧ | أَنَّ أَعْمَى كَانَتْ لَهُ أُمُّ وَلَدٍ تَشْتُمُ النَّبِيَّ ﷺ | ٩٣ |
| ١٨ | أَنَّ يَهُودِيَّةً كَانَتْ تَشْتُمُ النَّبِيَّ ﷺ | ٩٣ |
| ١٩ | كنت عند أبى بكر رضى الله تعلى عنه فتغيظ على رجل فاشتد عليه فقلت تأذن لى | ٩۶ |
| ٢٠ | اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ ، قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، وَمَا هُنَّ ؟ قَالَ « الشِّرْكُ بِاللَّهِ | ١٠٧ |
| ٢١ | من اطاعني فقد اطاع الله و من عصاني فقد عصى الله | ١٠٨ |
| ٢٢ | عُرَى الإِسْلاَمِ وَقَوَاعِدُ الدِّينِ ثَلاَثَةٌ عَلَيْهِنَّ أُسِّسَ الإِسْلاَمُ مَنْ تَرَكَ مِنْهُنَّ وَاحِدَةً | ١١١ |
| ٢٣ | أَنَّ أَوَّلَ مَا يُنْظَرُ فِيهِ مِنْ عَمَلِ الْعَبْدِ الصَّلاَةُ | ١١٢ |
| ٢۴ | إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِى الصَّلاَةُ ، مَنْ حَفِظَهَا أَوْ حَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ | ١١٢ |
| ٢۵ | بَيْنَ الرَّجُلِ ، وَبَيْنَ الشِّرْكِ أَوِ الْكُفْرِ ، تَرْكُ الصَّلاَةِ | ١١٢ |
| ٢۶ | أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلاَةَ يَوْمًا فَقَالَ : مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ | ١١٣ |
| ٢٧ | العهد الذى بيننا و بينهم الصلاة ، فمن تركها فقد كفر | ١١۴ |
| ٢٨ | وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ | ١١۶ |
| ٢٩ | مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ ، وَلاَ مَرَضٍ لَمْ يَقْضِهِ صِيَامُ الدَّهْرِ وَإِنْ صَامَهُ | ١١۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ٣٠ | بنى الاسلام على خمس شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ و أن مُحَمَّد رسول الله ، و اقام الصلاة | ١١٨ |
| ٣١ | أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ الحَجَّ فَحُجُّو | ١٢٠ |
| ٣٢ | مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلاَ عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا | ١٢١ |
| ٣٣ | فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ | ١٢٥ |
| ٣٤ | قُلْ لِخَالِدٍ لاَ يَقْتُلَنَّ امْرَأَةً وَلاَ عَسِيفًا | ١٢٦ |
| ٣٥ | نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ | ١٢٦ |
| ٣٦ | لا تقتلو امرأة و لا وليدا | ١٢٩ |
| ٣٧ | لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلاَ يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ | ١٣٩ |
| ٣٨ | يُسْتَتَابُ الْمُرْتَدُّ ثَلاَثًا | ١٥٣ |
| ٣٩ | لاَ أَجْلِسُ حَتَّى أَقْتُلَهُ قَضَاءُ اللَّهِ وَرَسُولِهِ | ١٥٣ |
| ٤٠ | فَأَمَرَ أَنْ تُسْتَتَابَ , فَإِنْ تَابَتْ , وَإِلاَّ قُتِلَتْ | ١٥٩ |
| ٤١ | فَهَلاَّ حَبَسْتُمُوهُ ثَلاَثًا وَأَطْعَمْتُمُوهُ كُلَّ يَوْمٍ رَغِيفًا وَاسْتَتَبْتُمُوهُ لَعَلَّهُ يَتُوبَ أَوْ يُرَاجِعَ أَمْرَ اللَّهِ | ١٦٠ |
| ٤٢ | لاَ أَجْلِسُ حَتَّى أَقْتُلَهُ قَضَاءُ اللَّهِ وَرَسُولِهِ | ١٦٢ |
| ٤٣ | لاَ يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُونَ حَتَّى يُقَالَ هَذَا خَلَقَ اللَّهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللَّهَ فَمَنْ وَجَدَ | ١٧٠ |
| ٤٤ | ان اللَّه عز وجل تجاوز عن أمتي عما صدمت به انفسها ما لم تعمل او يتكلم به | ١٧١ |
| ٤٥ | لاَ يَحِلّ قَتْلُ مُسْلِمٍ إِلاَّ فِي إِحْدَى ثَلَاثِ خِصَالٍ | ١٨٠ |

# د ژباړل شوو اعلامو لړلیک

| کڼه | علـــــلم | مخکڼه |
|---|---|---|
| ۱ | علامة جمال الدين ابن منـظور محمّد بن مكرم بن علي الفضل | ۲۴ |
| ۲ | علاء الدين أبي بكر بن مسـعود الكاســـــاني الحـنفي | ۲۵ |
| ۳ | وحبة بن مصطفى الزحيلي | ۲۵ |
| ۴ | عبدالرحمن بن محمّد بن أحمد بن قدامة | ۲۶ |
| ۵ | قاضي عياض بن موسى ابوالفضل الأندلسي | ۳۷ |
| ۶ | عبدالرحيم سيد سابق قشقري | ۴۳ |
| ۷ | محمّد بن احمد الشربينى شمس الدين | ۴۴ |
| ۸ | منصور بن يونس بن ادريس بهوتي | ۴۵ |
| ۹ | امام محمّد بن الحسن بن فقد الشيباني | ۴۵ |
| ۱۰ | محمّد بن احمد ابو منصور السمرقندي | ۴۵ |
| ۱۱ | محمّد بن احمد بى ابى سهل السرخسي الحنفي | ۴۸ |
| ۱۲ | اسحاق بن راهوية بن ابراهيم بن مخلد | ۴۸ |
| ۱۳ | امام أبو يوسف يعقوب بن ابراهيم بن حبيب | ۴۹ |
| ۱۴ | عمر بن عبدالعزيز بن مروان بن الحكم الاموي | ۵۰ |
| ۱۵ | عبدالرحمن بن عمرو بن يُحمد الاوزاعي | ۵۶ |
| ۱۶ | عمرو بن العاص بن وائل أبو عبدالله السهمي القرشي | ۱۱۳ |
| ۱۷ | احمد بن علي بن محمّد ، أبو الفضل شهاب الدين ابن حجر عسقلاني | ۱۵۴ |
| ۱۸ | عبدالله بن قيس بن سليم أبو موسى اشعري | ۱۵۴ |
| ۱۹ | أبو محمّد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الظاهري | ۱۵۴ |
| ۲۰ | عبدالملک بن عبدالعزيز بن جريح ، أبوالوليد و أبو الخالد | ۱۵۵ |

# د مأخذونو لړلـــــيک

**القرآن الكريم**


**تفاســـير:**

**عزيزُ التفاسير**: مؤلف: أبو حذيفه مولوى سلطان عزيز "عزيز" ، ناشر دارالكنوز العلمية

**تفسير ايوبي حنفي**: مؤلف: مولانا مُحَمَّد عبيدالله الايوبى "الحنفي" ، طبع مكتبة القرائة والتجويد

**تفسير يسير** مشهور په **فوقُ اليسير**: تصنيف: مولوي مُراد علي صاحب ، طبع مكتبه القرآن والتفسير

**د قرآنكريم ژباړه**: مؤلف: مولوى قيام الدين "كشاف" ، د افغانستــان د اســـلامي جمهوريت د علماؤ د شورا رئيس

**نور مـــنابـع:**

1. **ابن عابدين**: مُحَمَّد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الدمشقي ، ناشر: دارلفكر لطباعة والنشر ، بيروت ، د چاپ كال ۱۴۲۱ هـ ق
2. **اتحاف الجماعة بما جاء فى الفتن والملاحم وأشراط الساعة**: محمود بن عبد الله التويجري ، ناشر: موقع رسالة الاسلام http://www.resaltalislam.org
3. **اختلاف الفقهاء**: مُحَمَّد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي ، أبو جعفر الطبري ، ناشر: دارالكتب العلمية ، موقع مكتبة المدينم الرقمية ، http://www.raqamiya.org
4. **اسعاف المؤمنين بنصرة خاتم المرسلين**: مُحَمَّد بن صالح بن مُحَمَّد العثيمين
5. **اسلامي عقيده**: پوهندوى مولوي مُحَمَّد شريف عثماني ، د ننګرهار پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي استاد
6. **أسنى المطالب فى شرح روض الطالب**: شيخ الإسلام / زكريا الأنصاري ، دار النشر : دار الكتب العلمية ، بيروت ، لومړى چاپ ، ۱۴۲۲ هـ
7. **اصول الدين**: جمال الدين احمد بن مُحَمَّد بن محمود بن سعيد ، الناشر: دار البشائر الاسلامية ، بيروت ، لومړى چاپ
8. **اطراف الغرائب والافراد**: أبى الفضل مُحَمَّد بن طاهر المقدسى ، دارالكتب العلمية
9. **اعتقاد أهل السنة**: للامام أبوبكر بن قاسم الرحبى
10. **أعلام السنة المنشورة لاعتقاد الطائفة الناجية المنصورة**: حافظ بن أحمد الحكيمي ، تحقيق حازم القاضي ، ناشر: وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد - المملكة العربية السعودية ، دويم چاپ ، ۱۴۲۲ هـ ق
11. **الابطال النظرية الخلط بين دين الاسلام**: أبوبكر بن عبد الله أبو زيد ، ناشر: لومړى چاپ ۱۴۲۱ هـ
12. **الاحكام**: على بن أحمد بن سعيد بن حزم الظاهري
13. **الارواء الغليل**: للالباني
14. **الاشباه والنظائر**: شيخ زين العابدين بن ابراهيم بن نجيم ، ناشر: دارالكتب العلمية ، بيروت ، لبنان

15. **الاعتقاد والهداية الى سبيل الرشاد على مذهب السلف و أصحاب الحديث:** أحمد بن الحسين البيهقي ، ناشر: دار الأفاق الجديدة ، بيروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۰۱ ه
16. **الأعلام:** قاموس تراجم الأشهر الرجال والنساء من العرب والمستعربين والسمتشرقين ، دارالعلم للملايين ، لخير الدين بن محمود بن مُحَمَّد بن علي بن فارس الزركلي الدمشقي ، ۱۵ چاپ ، کال ۲۰۰۲ م ، بيروت ، لبنان
17. **الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** په دغه نوم باندې څو علماؤ کتابونه ليکلي دي او د ارتداد د موضوع څخه يې پکې يادونه کړې ده ، چې مونږ ترې د دغه کتاب په څېرنه کې ترې ګټه اخيستې او د هر عالم د کتاب حواله مو بېله ورکړې ده:
**الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** للامام اهل السنة أحمد بن حنبل
**الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** للامام عبدالله بن مُحَمَّد
**الاقتصاد فى أن الكفر يكون باالقول او الفعل:** شيخ احمد بن ابراهيم بن عيسى السديرى
**الاقتصاد فى أن الكفر يكون بالقول او الفعل:** سليمان بن مُحَمَّد بن عمر البجيرمى ، ناشر: دار كتب معرفة ، بيروت ، دويم چاپ ، ۱۴۰۴ ه
**الاقتصاد فى أن الكفر يكون بالقول او الفعل:** مُحَمَّد بن احمد المعروف بالشيخ عليش ، دار معرفة ، بيروت
**الاقتصاد في أن الكفر يكون باالقول أو الفعل:** منصور بن يونس البهوتى حنبلى
18. **الاقناع:** مُحَمَّد بن احمد الشربيني شمس الدين ،
19. **الأم:** لأبو عبدالله مُحَمَّد بن إدريس الشافعي ، ناشر: دارلمعرفة ، بيروت ، ۱۳۹۳ ه
20. **البحر الرائق شرح كنز الدقائق شرح كنز الدقائق:** زين الدين بن ابراهيم بن مُحَمَّد ابن نجيم الحنفى ، ناشر: دارالمعرفة ، بيروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۲۲ ه
21. **البيان والتحصيل والشرح والتوحيد ولتعليل لمسائل المستخرجه:** لأبو وليد مُحَمَّد بن أحمد بن رشد القرطبى ، دارالغرب الاسلامى ، بيروت ، لبنان ، د چاپ کال ۱۴۰۸ ه ق
22. **الثمر المستطاب:** مُحَمَّد ناصرالدين الباني ، ناشر غراث للنشر ، لومړی چاپ
23. **الجامع الصغير** : للامام محمد بن حسن الشيبانى ، ناشر: دار معرفة ، بيروت ، لومړی چاپ
24. **الجامع الصغير:** لعبدالحى لكنوى ، ناشر: دار معرفة ، بيروت
25. **الجامع الصغير و زيادته:** مُحَمَّد ناصر الدين البانى ، الناشر: المكتب الاسلامي
26. **الجمع بين الصحيحين البخارى و مسلم:** مُحَمَّد بن فتوح الحميدي ، ناشر: دار ابن حزم ، لبنان ، بيروت ، دويم چاپ ، ۱۴۲۳ ه ق
27. **الحاوى الكبير الماوردي:** علامة أبو الحسن علي بن مُحَمَّد بن حبيب الماوردى ، ناشر: دار الفكر . بيروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۱۹ ه ق
28. **الخرشي:** أبو عبد الله مُحَمَّد بن عبد الله الخرشي ، د چاپ کال ۱۳۱۷ه ق. شرح على مختصر خليل (حاشية الخرشي) ناشر: بولاق. المطبعة الاميرية
29. **الدر المختار:** ناشر: دارالفكر ، بيروت ، د چاپ کال ۱۳۸۶ ه ق
30. **السلسلة الصحيحة المجلات كاملة:** مُحَمَّد ناصر الدين الباني
31. **السنن الكبرى للنسائي:** حافظ أبى عبدالرحمن احمد بن شعيب بن على ابن سنان النسائي ، ناشر:

دار کتب معرفة ، بیروت
32. **الشرح الکبیر**: شمس الدین أبی الفرج عبدالرحمن بن الشیخ لالمام العامل الزاهد أبی عمر مُحَمَّد بن أحمد بن قدامة المقدسي ، ناشر: دارلمعارف ، القاهرة
33. **الشفاء فی تعریف حقوق المصطفی**: لأبوالفضل عیاض بن موسی بن عیاض بن عمون الیحصبي السبتي ، ناشر: دار کتب معرفة ، بیروت ، دویم چاپ ۱۴۱۳ ه ق
34. **الصارم المسلول**: شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة الله علیه ، طبع نشر السنة ، ملتان
35. **العقیدة الطحاویة**: للامام ابي جعفر احمد بن مُحَمَّد الطحاوي الحنفی
36. **الفتاوی العالمکیریة المعروفة بالفتاوی الهندیة**: للعلامة الهمام مولانا الشیخ نظام و جماعة من علماء الهند الاعلام وبهامشه فتاوی قاضیخان والفتاوی البرازیة ، طبع دارالاحیاء التراث العربی
37. **الفقه الاســـلامي و أدلته**: لاستاذ الدکتور وهبة الزحـیلی ، عضو المجامع الفقهیة العالمیة ، ناشر: مکتبة علوم اسلامیة ، بشاور
38. **الفقه الأکبر**: للامام الأعظم أبی حنیفة النعمان بن ثابت الکوفي ، ناشر: دار کتب معرفة ، بیروت
39. **الفوائد الفقهیة فی تراجم الحنفیه**: لمحمد عبدالحی اللکنوی ، المکتبة الحقانیة ، بشاور
40. **القاموس الفقهي لغة و اصطلاحا**: لسعدي أبو حبیب ، المتوفی ۱۳۹۷ ه ، دارالفکر د مطبعې چاپ ، کال ۱۴۲۴ ه ق ، دمشق ، سوریه
41. **المبسوط**: لشمس الدین أبو بکر مُحَمَّد بن أبی سهل السرخسي ، ناشر: دارالفکر للطباعة والنشر والتوزیع ، بیروت ، لبنان ، لومړی چاپ ، ۱۴۲۱ ه ق
42. **المحلی**: علی بن أحمد بن سعید بن حزم الظاهري ، ۴۵۶ ه ق ، لومړی چاپ
43. **المخلص الفقهي**: لصالح بن فوزان بن عبد الله الفوزان ، ناشر : دار العاصمة ، الریاض ، المملکة العربیة السعودیة ، لومړی چاپ ، ۱۴۲۳ ه ق
44. **المستدرك علی الصحیحین**: مُحَمَّد بن عبدالله أبو عبدالله الحاکم النیسابوري ، ناشر: دارالکتب العلمیة ، بیروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۱۱ ه ق
45. **المسند الموضوع الجامعة لکتب العشرة**: صهیب عبدالجبار ، مسکن مدینة المنورة
46. **المعجم الکبیر**: سلیمان بن أحمد بن أیوب القاسم الطبرانی ، ناشر: مکتبة العلوم والحکم ، الموصل ، دویم چاپ ، ۱۴۰۴ ه ق
47. **المعجم صغیر**: أبی القاسم بن أحمد الطبرانی ، ناشر: مکتبة العلوم والحکم ، الموصل ، دویم چاپ ، ۱۴۰۴ ه ق
48. **المغني**: أبی مُحَمَّد عـبدالله بن احـمـد بن مُحَمَّد الشهیر ابن قدامة المقدسي ، القاهرة ، مکتبة القاهرة. ناشر: دارالفکر ، بیروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۰۵ ه ق
49. **المفصل فی شرح حدیث من بدل دینه فاقتلوه**: علي بن نایف الشحود
50. **الموسوعة الفقهیة**: وزارت الاوقاف والشئون الاسلامیة ، الکویت ، الناشر: دارالسلاسل ، الکویت ، دویم چاپ ، ۱۴۰۴ ه ق

51. **الموطا:** لامام مالک بن أنس أبو عبدالله الأصبحي ، ناشر: داراقلم ، دمشق ، لومړی چاپ ، ۱۴۱۳ هـ ق
52. **الوجيز فى اصول الفقه:** دکتور عبدالکريم زيدان ، ناشر: مکتبه فاروقيه ، د چاپ کال ۲۰۰۴ م
53. **الهداية فى شرح البداية:** أبي الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغيناني ، المکتبة الرشيديه ، د چاپ کال ۱۴۳۵ هـ
54. **بدائع الصنائع فى ترتيب الشـرايع:** للامام علاء الدين أبى بكر بن مسـعود الكاسـاني حنفى رحمة الله عليه المقلب بمُلک العلماء ، ناشر: دار الکتب العلمية ، بيروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۰۶ هـ ، او ناشر : دار العلم للملايين ، پنځلسم چاپ.
55. **بلوغ المرام من أدلة الأحكام:** أحمد بن علي بن مُحَمَّد الكناني العسقلاني ، أبو الفضل شهاب الدين ابن حجر عسقلاني ، لأحمد بن علي بن مُحَمَّد الكناني العسقلاني ، شرح بلوغ المرام ، ناشر: انترنيت, موقع الشبكة الاسلامية.
56. **په اسـلام کې د ښـځو حـقوق:** د افغانستان اسلامي جمهوريت ، د ارشاد حج او اوقافو وزارت رسمي رساله
57. **تاريخ الأمم والملوك:** مُحَمَّد بن جرير الطبري أبو جعفر ، ناشر: دارالکتب العلمية ، بيروت ، لومړی چاپ ، کال ۱۴۰۷ هـ ق
58. **تاريخ الخلفاء:** جلال الدين عبدالرحمن ابن ابى بكر السيوطى ، طبع مكتبة خير كثير ، دريم چاپ ، ۱۴۰۹ هـ ق
59. **تاريخ الطبرى:** أبي جعفر مُحَمَّد ابن جرير الطبري ، المتوفى سنة ۳۱۰ هـ ق ، طبع دارلكتب العربي سنة ۱۳۵۷ هـ ق ، لومړی چاپ
60. **تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف:** جمال الدين أبو الحجاج يوسف بن عبدالرحمن المزى ،ناشر: دارالکتب لأيلامى و الدارالقييمة
61. **تحفة الفقهاء:** علاء الدين السمرقندي ، ناشر: دار الکتب العلمية ، بيروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۰۵ هـ ق
62. **تسـهيل الطـحاوي شرح عقيدة الطـحاوي:** مولانا مفتى احســان الله شـائق ، د جامعة الرشيد د عاليه درجې استاد او د دارالافـتاء مشر
63. **تشـريع الجنائي الاسلامي مقارنا باالقانون الوضعي:** عبدالقادر عودة ، ناشر: دارالکتب العلمية
64. **تهذيب شرح عقيدة الطحاويه:** دکتور مُحَمَّد صلاح الصاوي
65. **جامع الحديث:** أبو نعيم آحمد بن عبدالله بن أحمد بن اسحاق بن موسى بن مهرا الأصبهاني ، الناشر: دارالوطن للنشر ، الرياض ، لومړی چاپ ، کال ۱۴۱۹ هـ ق.
66. **حاشيه ابن عابدين:** فقه أبو حنيفة ، مؤلف: مُحَمَّد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الدمشقي ، ناشر: دارلفکر لطباعة والنشر ، بيروت ، ۱۴۲۱ هـ ق
67. **حاشية الجمل على المنهج:** لشيخ الاسلام ذکريا ، ناشر: دارالمعرفة ، بيروت
68. **حاشية البجيرمي على شرح منهج الطلاب** (التجريد لنفع العبيد): لسليمان بن عمر بن مُحَمَّد البجيرمي ، ناشر: المکتبة الإسلامية ، دريم چاپ
69. **حاشية الجمل على المنهج:** لشيخ الاسلام ذکريا ، ناشر: دارالمعرفة ، بيروت

70. **حاشية الرملي**: شمس الدين محمَّد بن ابي العباس احمد بن حمزة بن شهاب الدين الرملي ، ناشر: بيروت. دار الفكر. دريم چاپ ۱۴۰۸ ه ق
71. **حاشية قليوبي**: شهاب الدين أحمد بن أحمد بن سلامة القليوبي ، ناشر: دارلفكر ، ۱۴۱۹ ه ق
72. **حقوق بشر مقايسوي**: دوكتور شريعتي ، د سلام پوهنتون د حقوقو د پوهنځي رئيس او استاد.
73. **د اسلام عقيدوي نظام**: شيخ القرآن والحديث محمَّد ضياء الله حكيمى
74. **د اسلامي عقيدې اساسات**: پوهندوى مولوى محمَّد شريف رحماني
75. **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۱۰ ه ش كال اساسي قانون)
76. **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۵۵ ه ش كال اساسي قانون)
77. **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۵۹ ه ش كال اساسي قانون)
78. **د افغانستان اساسي قانون** (د ۱۳۸۲ ه ش كال اساسي قانون/اوسنى اساسي قانون)
79. **د افغانستان اساسي نظامنامه** (د ۱۳۰۳ ه ش كال اساسي قانون)
80. **د افغانستان د جزا قانون**: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ، د عدليې وزارت ، رسمي ګڼه.
81. **د ايمان اركان حقيقت او نواقض**: دكتور محمَّد نعيم ياسين ، ژباړه: مولوى فريد احمد صمدي
82. **د بشر حقوق**: دوكتور فيض الرحمن فيضي ، د حقوقو او سياسي علومو استاذ ، د چاپ كال ۱۳۷۹
83. **د بشر د حقوقو نړيواله اسلامي اعلاميه Universal Islamic Declaration of Human Rights**
www.ketabtoon.net/article/show/139211
84. **د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه Universal Declaration of Human Rights**
www.ketabtoon.com//books/204
85. **د حقوقي اصطلاحاتو قاموس**: د كابل پوهنتون ، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځى ، د چاپ كال ۱۳۸۷ ه ق
86. **د عبدالرحمن بابا ديوان**: عبدالرحمن بابا رحمة الله عليه ، د پښتو ژبې صوفي او خوږ ژبى شاعر ، د چاپ كال ۱۳۸۵ ه ق
87. **رد المختار على الدر المختار** شرح تنوير الأبصار فقه أبو حنيفة (حاشيه): ناشر: دارلفكر لطباعة والنشر ، بيروت ، ۱۴۲۱ ه ق
88. **الدر المختار**: ، ناشر: دارالفكر ، بيروت ، ۱۳۸۶
89. **رسائل ابن حزم**: على بن أحمد بن سعيد بن حزم الظاهري
90. **رفع الحاجب عن مختصر ابن الحاجب**: لتاج الدين أبي النصر عبد الوهاب بن علي بن عبد الكافي السبكي ، ناشر: عالم الكتب ، لبنان ، بيروت ، لومړى چاپ ، ۱۴۱۹ ه
91. **سبل السلام فى شرح بلوغ المرام**: للامام محمَّد بن اسماعيل الامير اليمينى الصنعانى ، ناشر: دارالحديث ، مصر ، لومړى چاپ
92. **سنن ابن ماجه**: لأبي عبدالله محمد بن يزيد ابن ماجة القزويني ، ناشر: دارالفكر ، بيروت
93. **سنن أبي داؤد**: لأبو داؤد سليمان بن الأشعث بن شداد الازدي السجستاني ، ناشر: دارالكتاب العربي ،

بيروت
94. **سنن الترمذی:** لامام ابو عيسى مُحَمَّد بن عيسى بن سورة السلمي الترمذي ، ناشر: دار احياء التراث العربي ، بيروت ، ١٣٩٥ هـ ق
95. **سـنن الدار القـطـنى:** للامام شيخ الاسلام أبو الحسن على بن عمر بن أحمد بن مهدى القطني البغدادى ، ناشر: دارامعرفة ، بيروت ، ١٣٨٦ هـ ق
96. **سنن الصغرى للبيهقي:** للامام الحافظ العلامة أبوبكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسرو جردى البيهقي ، ناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة فى الهند ببلدة حيدرآباد ، لومڑى چاپ ، ١٣٤٤ هـ ق ، المتوفى سنة ٤٥٨ هـ ق
97. **سنن الكبرى للبيهقي:** لامام الحافظ العلامة أبوبكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسرو جردى البيهقي ، ناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة فى الهند ببلدة حيدرآباد ، لومڑى چاپ ، ١٣٤٤ هـ ق
98. **سـنن الـنسـائي الكبرى:** لحافظ أبي عـبدالرحـمن احـمـد بن شـعيب بن على ابن سـنان الـنسـائي ، ناشر: مكتب المطبوعات الاسلامية ، حلب ، دويم چاپ ، ١٤٠٦ هـ ق
99. **شرح اعانة الطالبين على حل الفاظ فتح المعين لشرح قرة العين بهمات الدين:** للأبي بكر ابن السيد مُحَمَّد شطا الدمياطى ، الناشر: دارالفكر للطباعة و النشر والتوضيع ، بيرت
100. **شرح السنة:** للامام البغوي
101. **شرح العقيدة الطحاوية:** خالد بن عبدالله بن مُحَمَّد المصلح
102. **شرح الممتع على زاد المستقشع:** مُحَمَّد بن صالح بن مُحَمَّد العثيمين ، ناشر : دار ابن الجوزي ، لومڑى چاپ ، ١٤٢٢ هـ ق
103. **شرح زاد المستقنع:** منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن ادريس البهوتى ، ناشر: دروس صوتية قام بتفريغها موقع الشبكة الإسلامية
104. **شرح كتاب الفقه الأكبر:** للامام الهمام ناصر السنة و قامع البدعة الملا على القاري الحنفى
105. **شعب الإيمان-البيهقى:** أبو بكر أحمد بن الحسين البيهقي ، **ناشر:** دارالكتب العلمية ، بيروت ، لومڑى چاپ ، ١٤١٠ هـ ق
106. **صحيح ابن حبان:** مُحَمَّد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي ، ناشر: مؤسسة الرسالة ، بيروت ، دويم چاپ ، ١٤١٤ هـ ق
107. **صحيح البـــخارى:** للامام أبو عـبدالله محمد بن اســماعيل بن ابراهيم بن المغيرة الجعفى البخـارى ، ناشر: دار ابن كثير ، اليمامة ، بيروت ، دريم چاپ ، ١٤٠٧ هـ ق
108. **صحيح فقه السنة و أدلته و توضيح مذاهب الأئمة:** لامام أبو مالك كمال بن السيد سالم ، ناشر ، المكتبة الرشيدية ، د چاپ كال ١٤٣٤ هـ ق
109. **صحيح مسلم:** لامام مسلم أبو الحسن بن الحجاج القشيري النيشاپوري ، ناشر: بيروت, دار احياء التراث العربي
110. **صحيح و ضعيف سنن أبى داؤد:** شيخ مُحَمَّد ناصر الدين البانى

111. **طبقات الفقهاء**: ابراهيم بن على بن يوسف الشيرازى ، دار الرائد العربى ، بيروت ، لبنان ، دويم چاپ ، د چاپ کال ۱۴۱۳ هـ ق ،
112. **عمدة القاري شرح صحيح البخاري**: لعلامة بدر الدين العيني الحنفي ، ناشر: ملفات و ورد من متلقى أهل الحديث او دارالفكر ، بيروت ، دويم چاپ ، د چاپ کال ۱۴۲۷ هـ ق
113. **فتح الباري شرح صحيح البخاري**: لأحمد بن علي ابن حجر ابو الفضل العسقلاني ، ناشر: بيروت ، دار الفكر.
114. **فتح القدير، شرح البداية**: لمحمد بن علي بن مُحَمَّد الشوكاني ، ناشر: دار ابن كثير ، دمشق ، لومړی چاپ ، کال ۱۴۱۴ هـ ق
115. **فقه السنة** ، السيد الياف الحافظ مُحَمَّد عبدالرحيم القارئ القشقرى ،طبع دارالكتب العربى ، بيروت
116. **قليوبي**: لشهاب الدين أحمد بن أحمد بن سلامة القليوبي ، ناشر: دارلفكر ، د چاپ کال ۱۴۱۹ هـ ق
117. **كتاب السير**: لعبدالغنى الغنيمى الدمشقى الميدانى ، ناشر: دارالكتاب العربي ، دريم چاپ ۱۴۰۵
118. **كشاف القناع**: منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن ادريس البهوتى ، لومړی چاپ
119. **كفري الفاظ او د هغو احكام**: مؤلف: مولانا مفتي عبدالشكور قاسمي ، ژباړه: ډاكتر كفايت الله وردك
120. **كـنـز العـمال فى سـنـن الأقوال والأفعال**: للعـلاءالدين على بن حسام الدين المتقى الهندى البرهان فوري ، طبع مكتبة التراث الاسـلامى سـنة ۱۳۹۰ هـ ق ، ناشر: مؤسسة الرسالة ، پنځم چاپ ، ۱۴۰۱ هـ ق
121. **لسان العرب**: للامام العلامة محمد بن مكرم بن منظور الأفريق المصري ، المتوفى سنة ۷۱۱ هـ ، طبع دار الاحياء التراث العربى ، مؤسسة التاريخ العربى ، بيروت ، لبنان ، ۱۴۰۱۳ هـ ق ، دويم چاپ
122. **مختصر اختلاف العلماء**: لأبي بكر أحمد بن علي الجصاص الرازي ، د چاپ کال ۳۷۰ هـ ق
123. **مسند ابي يعلى**: لأحـمد بن علي بن المثنى التميمى الموصلى ، حافظ من علماء الحديث ، ناشر: دار معرفة ، بيروت
124. **مسـند احمد بن حنبل**: لامام أبي عـبدالله احمد بن مُحَمَّد بن حنبل حلال بن أسد ، ناشر: مؤسسة الرسالة ، دويم چاپ ، د چاپ کال ۱۴۲۰ هـ ق
125. **مسند الطيالسى**: لسليمان بن داؤد أبو داؤد الفارسي البصري الطيالسي ، من كبار حفاظ الحديث ، ناشر: دارامعرفة ، بيروت
126. **مصنف عبدالرزاق**: لأبو بكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحمير اليماني الصنعاني ، ناشر: المكتب الاسلامي ، بيروت ، دويم چاپ ، دچاپ کال ۱۴۰۳ هـ ق
127. **موارد الظمان الى زوائد ابن حبان**: نورالدين علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي ، ناشر: دارالكتب العلمية
128. **نظام حقوقي افغانســـتان**: دوكتور عبدالحى علمي ، عضو كميته بين المللي حقوقي ، د چاپ کال ۱۳۷۸
129. **نهاية المحتاج الى شرح المنهاج**, ناشر: بيروت. دار الفكر ، الباب الثالث فى الشهادة على الدم
130. **نيل الأوطار**: مُحَمَّد بن علي بن مُحَمَّد بن عبدالله الشوكاني ، ناشر: دار معرفة ، بيروت ، لومړی چاپ ، ۱۴۱۳ هـ ق
131. **The preaching of Islam** مؤلف: تي ډبلو آرنولډ
132. **Literacy History of Presia,** Vol No. 1 مؤلف: اي جي براون

133. **A Short History of Islam**
134. **Statistic of the increase of major religions in the world,** Reaer's Digest 'Almanac' year book 1986
135. **The Plain Truth, magazine**

**د انترنت ويبپاڼې Internet Websites**

1. www.al-islam.com
2. www.ketabton.com
3. www.nytimes.com

د دغه تحقيق او څېړنې په ترڅ کې مو برسېره پر پورته مأخذونو ، د لاندې کتابونو څخه هم استفاده کړې ده ، کوم چې په مکتـبة الشــاملة کې موجود ؤ ، اما په مکتبة الشاملة کې د دغه کتابونو د مؤلفينو په اړه کوم معلومات نه ؤ موجود ، چې مونږ هم دلته د نومړو کتابونو د نومونو په ذکر کولو باندې بسنه کوو ، دغه کتابونه په لاندې ډول سره دي:

أبحاث هيـئة كبار العلـماء ، احـــكام التعامل مع غير المســــلمين ، آداب المفـــتى والمستفتى ، اعانة المستفيد بشرح كتاب التوحيد ، اعلاء السنن ، أعمال الجوارح ، أقوال ذوى العرفان فى أن لعمال الجوارح ، الاختيارات العلمية ، الارشاد الى صحيح الاعتقاد والرد على اهل الشرک والالحاد ، الاسراء والمعراج ، الانصاف ، الإيمان حـقـيقته خوارمه نواقـضـه عند أهل الســـنة والجماعة ، الايمان بالكـــتب ، البحر الذخار ، التكفير حكمه و ضوابطه والغلو فيه ، السنى المطالب فى شــرح روض المطالب ، الـفـــقه القدمى الامامى ، الفقه المالكى ، الكلام بتوضيح نواقض الاسلام ، تحفة المحتاج فى شرح المنهاج ، تفسير احـــــكام القرآن ، تفسير قرطبي مالكى ، تكملة حاشية رد المختار ، تيســـير الأصـول الى قواعد الأصول و معاقد ، زاد المعاد ، فتاوى الغدى ، كفاية الخيار ، مسند الصحابه فى الكتب التسعة.

وَمن اللَّهِ التوفِيق

## Summary or Succinct

The research of my mastery thesis is the **Orders of Apostasy in Islamic Jurisprudence and Afghan Law**, and is important for Muslims to know.

I selected this thesis because there were not books and researches in Pashto language, This research is consist of index, preface, prolusion, four chapters and result, each chapter has its relevant subjects and has been divided in to separate argumentations, each argumentation has different objects and each object has relevant subjects.

1. **Prolusion**: As the orders of apostasy in the Islamic Jurisprudence and Afghan Law has been explained in this research, and apostasy is one of the Islamic lawful limits, so it has been considered necessary to explain the Islamic lawful limits first, and then reveal or introduce the place of apostasy on it.
2. **First Chapter**: In this chapter, the definition, pillars or elements, conditions or terms of correctness of apostasy and the historical duration of the apostasy has been explained.
3. **Second Chapter**: This chapter has been identified for the causes of apostasy, in which, causes related to belief or trust, causes related to speech, causes related to action and causes related to crack of legal actions.
4. **Third Chapter**: The third chapter has been separated for the orders of apostasy in which the orders of apostasy have been explained in the Islamic jurisprudence and Afghan Law.
5. **Fourth Chapter**: This chapter has been separated for the objections of human rights chanters, who chant/slogans against the punishment of the apostasy, and rational and copied reasons against their slogans and criticize.
6. **End**: The important results of topic were mentioned at the end of this research.

Islamic Republic of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Salam University

Faculty of Sharia

Law and Jurisprudence Department

Master Degree Program


# Orders of Apostasy
# In Islamic Jurisprudence and Afghan Law

Research at the end of Master Degree issuance


Researcher: Wahidullah

Noblesse (Monitoring): Dr. Najibullah "Saleh"



Year: 1397

Islamic Republic of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Salam University

Faculty of Sharia

Law and Jurisprudence Department

Master Degree Program

# Orders of Apostasy

# In Islamic Jurisprudence and Afghan Law

Research at the end of Master Degree issuance

Researcher: Wahidullah

Noblesse (Monitoring): Dr. Najibullah “Saleh’

Year: 1397